(د اصحابو کرامو د عدالت د نظریې)

# حقوقي کره کتنه

لیکوال:

استاد احمد حسین یعقوب اردنی

(د اصحابو كرامو د عدالت د نظريې)

# حقوقي كره كتنه

ليكوال:

استاد احمد حسين يعقوب اردنی

بسم الله الرحمن الرحیمن

د کتاب ځانګړنې:

نوم: **(د اصحابو کرامو د عدالت د نظریې)** حقوقي کره کتنه

لیکوال: حقوقپوه استاد احمد حسین یعقوب (اردني لیکوال).

ژباړن:

مخونه:

شمېر:

## فهرست


حقوقي کره کتنه ...... ۱۳

لومړۍ برخه ...... ۱۳

د «صحبة» او «صحابه» مانا ...... ۱۴

۱-د صحابه لغوی مانا: ...... ۱۴

۲-د اصحابو اصطلاح ...... ۱۶

۲-اهل سنت او د اصحابو عدالت ...... ۲۲

د اهل سنتو د نظريي کره کتنه ...... ۲۷

د«صحابه» د کلمې په لغوي او اصطلاحي ماناوو کې اتفاق ...... ۲۷

د اصحابو د ويشنې گټه ...... ۲۹

د حاکم په مستدرک کې د اصحابو طبقات يا پوړۍ ...... ۳۲

په اسلام کې د غوراوي نظام ...... ۳۵

له دوو لوريو څخه د اهل سنتو دليل رد دی ...... ۳۸

د اهل سنتو د دليل نيمگړتيا ...... ۴۰

د اصحابو د عدالت د نظريي رد ...... ۴۳

له قرآن کريم سره د صحابه وو د عدالت د نظريې ټکر ...... ۴۶

د ټولو اصحابو د عدالت نظريه له نبوي سنتو سره اړخ نه لگوي ...... ۵۰

تاريخي بهير د اصحابو د عدالت له نظريي سره په ټکر کې دی ...... ۵۴

د اصحابه د عدالت نظريه د اسلام له روح سره اړخ نه لگوي ...... ۵۹

اصحاب او قانون ايښوونه ...... ۶۴

شيعه او د ټولو اصحابو د عدالت نظريه ...... ۶۶

۲-څوک د شيعه و له ليد لوري اصحاب دي؟ ...... ۶۶

۳-اساسي اختلاف ...... ۶۷

۴-اصحابو ته د شيعه و دعا ...... ۶۷

۵-د شيعه و مشهوره دعا ...... ۶۸

د اصحابو د عدالت په نظريه کې تفکر ته بېلگې ...... ۷۱

د حضرت ابن عباس څرگندونې ...... ۷۱

د ستر صحابي؛ حضرت حذيفه بن يمان (رض) شهادت او وصيت ...... ۷۱

حضرت زبیر (رض) او ښه عاقبت ..........................................................................................۷۲
حضرت طلحه (رض) او ښه عاقبت ..........................................................................................۷۳
د حضرت عمار یاسر (رض) پایله ..........................................................................................۷٤
د جناب امیر معاویه دلیل ..........................................................................................۷٤
جناب امیر معاویه او د حضرت عثمان (رض) وژونکي..........................................................................................۷۵
د جناب امیر معاویه په باب د حسن بصري رحمة الله علیه نظر ..........................................................................................۷۵
د جناب امیر معاویه سترې ویاړنې ..........................................................................................۷٦
د عادلو اصحابو د پېژندنې سمه لار ..........................................................................................۷۷
د اصحابو په عدالت کې وروستی خبره ..........................................................................................۷۹
د ټولو اصحابو عدالت ..........................................................................................۸۳
د عدل د پېژندنې لار..........................................................................................۸٤
د عدالت کونجي..........................................................................................۸۵
عادل اصحاب ..........................................................................................۸۵
د ټولو اصحابو د عدالت د نظریې تاریخي جرړې ..........................................................................................۸۸
د اسلام سیاسي نظام..........................................................................................۱۰۳
د اسلام د سیاسي نظام ساده توب..........................................................................................۱۰۸
د صحابه وو د عدالت د نظریې د مطرح کونې موخه..........................................................................................۱۱٤
د جناب امیر معاویه باب امام شافعي رحمة الله علیه لیدلوری..........................................................................................۱۱۹
د جناب امیر معاویه په اړه د حسن بصري رحمة الله علیه خبره ..........................................................................................۱۲۰
د گردو اصحابو د عدالت نظریه اموي رنگ لري..........................................................................................۱۲۰
د نظریې فقهي جرړې ..........................................................................................۱۲۲
دوه مرجع ..........................................................................................۱۲۳
۱-اهل سنت: او د ټول اصحابو مرجعیت..........................................................................................۱۲۳
د اصحابو پر مرجعیت د اهل سنتو دلیل ..........................................................................................۱۲٤
۲- د اهل بیتو او ډاډمنو اصحابو مرجعیت ..........................................................................................۱۲٤
د اهل بیتو پر مرجعیت د شیعه وو دلیل..........................................................................................۱۲۵
د ټولو اصحابو د عدالت له مفکورې هیلې..........................................................................................۱٤٦
له غیر مستقیمې لارې د علي مرجعیت ..........................................................................................۱۵۲

د فرهنګ پراختیا یا د فقاهت او فتوا د کړۍ پراختیا ........ ۱۵۴

دریېمه برخه ........ ۱۵۷

مرجعیت ........ ۱۵۸

د مرجعیت مانا او مفهوم ........ ۱۵۸

د مرجعیت او عقیدې تړاو: ........ ۱۵۹

د عقیدې او مرجعیت تر منځ توپیر ........ ۱۶۱

د مرجعیت حکمت ........ ۱۶۲

عقیده (دین) ........ ۱۶٤

د دین او عقیدې مانا: ........ ۱۶٤

د اسلامي عقیدې امتیازات ........ ۱۶۵

څوک مرجع ټاکي؟ ........ ۱۶۸

د شرعي مرجع مهمې دندې ........ ۱۶۸

مرجعیت د پېغمبر پر ژوندون ........ ۱۷۲

تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته مرجعیت ........ ۱۷۲

څوک تر پېغمبر وروسته مرجع ده؟ ........ ۱۷۶

د اهل سنتو لید لوری ........ ۱۷۶

د ځیناستی د نه ټاکنې مفکوره بنسټ نه لري ........ ۱۷۷

د اهل سنتو په نزد تر پېغمبر وروسته مرجع ........ ۱۷۹

د اهل سنتو له نظره، واکمن مرجع ده: ........ ۱۸۰

په مرجعیت کې ځیناستي ........ ۱۸۱

ډله ییز مرجعیت ........ ۱۸۳

د اهل سنتو له نظره د مراجعو د کړنو څرنګوالی ........ ۱۸٤

تر پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وروسته مرجعیت د چا دی؟ ........ ۱۸۶

د شیعه وو نظر: ........ ۱۸۶

ب –مرجعیت په الهي ویناوو کې: ........ ۱۸۷

هغه مرجع چې خدای وټاکله: ........ ۱۸۹

ډله ییز مرجعیت او شیعه ........ ۱۹۵

له مرجعیته د شیعه و د لاروی پایله ........ ۱۹۸

بدلي مرجعيت ........................................................................................................................ ۱۹۹
څلورمه برخه ........................................................................................................................ ۲۱۳
سياسي مشري ........................................................................................................................ ۲۱٤
۱ – د ټولنې د حرکت قوانين او ضوابط: ........................................................................ ۲۱٤
۲ – له سياسي مشر توب سره د الهي دين تړاو: .................................................................... ۲۱٤
د سياسي مشرتوب ځانگړنې: ............................................................................................ ۲۱٦
سياسي مشري ........................................................................................................................ ۲۲۰
علي د مسلمانانو ښاغلی او د متقيانو امام دی .................................................................. ۲۲۹
د علي الهی واده........................................................................................................................ ۲۳٦
د پېغمبر صلی الله عليه و آله د ځايناستي ځانگړنې ............................................................ ۲٤۳
د ځايناستي د ټاکنې مراسم ................................................................................................ ۲٤٥
حجة الوداع ........................................................................................................................ ۲٤٥
د خم غدير اختر ................................................................................................................ ۲٥۱
د امام په نصب دين بشپړ او نعمت تمام شو .................................................................. ۲٥۳
امام څوک دی؟ ........................................................................................................................ ۲٥۷
په اهل بيتو کې د امامت د انحصار حکمت .......................................................................... ۲٥۹
د امام په ټاکنه کې د امت ونډه ............................................................................................ ۲٥۹
د شرعي مشرۍ د منځه وړو تاريخي لاملونه ........................................................................ ۲٦٤
۱ – قريشي کورنۍ: # ................................................................................................................ ۲٦٤
۲ – سياسي جوړښت: ................................................................................................................ ۲٦٤
۳ – د شته جوړښت د منځه وړو لپاره هڅې: ........................................................................ ۲٦٤
٤ – د نبوت اوازې: ................................................................................................................ ۲٦٥
٥ – د نبوت اعلان: ................................................................................................................ ۲٦٥
٦ – له پېغمبره صلی الله عليه و آله څخه د بني هاشمو ساتنه: ................................................ ۲٦٥
۸ – جگړه د سياسي جوړښت، ساتنې ته وه نه د بوتانو پاسوالي: ............................................ ۲٦۷
۹ – په بني هاشمو کې نبوت يو الهي تقدير و: .................................................................... ۲٦۷
۱۰ – امويانو هڅه کوله چې د بني هاشمو د نفوذ مخه ډب کړي: ............................................ ۲٦۸
۱۲ – خپلوي د خلافت بنسټ دی: ............................................................................................ ۲٦۹

۱۳ – د انقلاب څپانده او غښتلې څپې:............................................................ ۲۶۹
له خلافته د بني هاشمو د منع پایلې.................................................................... ۲۷۲
د اوړېدنې سریزې ........................................................................................ ۲۷۶
۱ – له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره په مرګونې حال کې: ..................................... ۲۷۶
د مقابلې لومړنۍ پایلې:.................................................................................. ۲۷۹
۲ – د ستر او نوي ځواک را پنځېدنه: ................................................................. ۲۷۹
دوه ورته پېښې: ........................................................................................... ۲۸۱
د اهل بیتو څنډې ته کول: ................................................................................ ۲۸۵
د قدرت ترلاسه کول:..................................................................................... ۲۸۷
دوه ټاکنې: ................................................................................................. ۲۸۸
شرعي جامې:.............................................................................................. ۲۸۹
۹ – د فاروق موخې:....................................................................................... ۲۸۹
ارماني حل لار: ............................................................................................ ۲۹۰
د حل لارې په لټه کې: .................................................................................. ۲۹۰
فاروق دا نظریه ومنله او بشپړه پریکړه:............................................................ ۲۹۱
د (ولي) پر ضد د قریشو یو والی؛ لکه د (نبي) پر ضد یې یو والی:........................... ۲۹۲
د قریشو دسیسه او د بني هاشمو مصیبت ........................................................... ۲۹۳
څیرکه دسیسه: ............................................................................................. ۲۹۳
د دسیسې لومړۍ پایله:................................................................................... ۲۹٤
د بني هاشمو د ماتې لپاره دسیسه ...................................................................... ۲۹۵
د موخو د بریا لاملونه: .................................................................................... ۲۹۵
مناسب فرصت:............................................................................................ ۲۹٦
د ماتې غوره وزله:........................................................................................ ۲۹٦
د سقیفې غونډه ............................................................................................ ۲۹۷
بې ځوابه پوښتنې ........................................................................................... ۲۹۷
چا د سقیفې خبر راووړ؟................................................................................. ۲۹۸
د دوو انصاري تنو خبره: ................................................................................ ۲۹۸
موضوعي څېړنه او د تصادف نفې.................................................................... ۲۹۹

د درېيو تنو مهاجرينو راتلل:........................................................................ ۳۰۳
په سقيفه کې ګډونوال ......................................................................................... ۳۰۶
د انسان ستره فکري پانګه ...................................................................................... ۳۰۷
د سقيفې په غونډه کې شرعي دلايل .......................................................................... ۳۰۸
په سقيفه کې دشته انصارو دليل .............................................................................. ۳۰۸
په سقيفه کې د درېيو تنو مهاجرينو کړنې ................................................................ ۳۰۹
د درېيو تنو مهاجرينو شرعي دلايل:......................................................................... ۳۱۰
په سقيفه کې د انصارو پر خلاف د حضرت ابوبکر (رض) د استدلال لنډيز ..................... ۳۱۰
په سقيفه کې د انصارو پر خلاف د حضرت عمر (رض) د استدلال لنډيز ......................... ۳۱۰
د انصارو ځواب:.................................................................................................. ۳۱۰
له درېيو دې يو تن خليفه وي:................................................................................ ۳۱۱
ړومبی بيعت کوونکی ........................................................................................... ۳۱۱
د خليفه نصب او ورسره بيعت.................................................................................. ۳۱۱
د همکارۍ بدله:.................................................................................................... ۳۱۲
د خبر خپرېدل او بيعت کول:.................................................................................. ۳۱۲
د پېغمبر د ځايناستي او نوي رژيم ترمنځ نا انډوله مخامخېدنه ..................................... ۳۱۳
د انصارو د لومړي بيعت کوونکي قضاوت:................................................................. ۳۱٤
سياسي خوځښت: ................................................................................................ ۳۱٤
د وژنې ګواښ ..................................................................................................... ۳۱٤
د فاطمې (رض) پخلاینې ته هڅې.............................................................................. ۳۱۵
د ابوبکر (رض) هوډ .............................................................................................. ۳۱٦
د علي پرخلافت د قريشو د خپګان لامل ..................................................................... ۳۱۷
له پېښېدونکي چار ډار:.......................................................................................... ۳۱۸
عادلانه وېش: ..................................................................................................... ۳۱۸
د قريشو خېلونه د يوې کورنۍ په څېر دي:................................................................. ۳۱۸
بني هاشم له ټولو سياسي حقوقو بې برخې شول.......................................................... ۳۲۱
ولې يې بني هاشم پر چارو نه ګومارل؟..................................................................... ۳۲۱
پټ راز، رابرسېرېږي:............................................................................................ ۳۲۲

د فاروق اعتراف: ..... ۳۲۳
د شعار په وفا کې افراط: ..... ۳۲۳
ايا دا يو الهي شعار و؟ ..... ۳۲٤
فاروق ولې په دې شعار پسې و؟ ..... ۳۲٤
له اهل بيتو سره د فاروق چلن: ..... ۳۲۵
د دوه لارې پرسر: ..... ۳۲۷
حکومت او مخالفان ..... ۳۲۸
مخالفين د دوه لارې پر سر ..... ۳۲۹
امت ته دوه لارې دې: ..... ۳۲۹
خلک په دوو ډلو وويشل شول: ..... ۳۲۹
دويمه ډله: شيعه ..... ۳۳۰

## څو خبرې

الف: د ليکوال په اړه: استاد احمد حسين يعقوب د اردن د هېواد اوسېدونکی دی، چې پر ۱۹۳۹ ز (۱۳۱۸ ل) د اردن په جرش ولايت کې زيږېدلی دی. د (العتيبة) د مشهور ټبر له يوه خېله دی، چې اوس هم په اردن، حجاز او نورو هېوادونو کې مېشت دي.

استاد يعقوب د (عمان) په پوهنتون کې د ماسترۍ زده کړې کړې دي.

د اردن په عدليه چارو کې پر وکالت بوخت دی او څه له پاسه شلو کالو راهيسې د اسلام په عقيدتي او تاريخي مسايلو کې په څېړنه بوخت دی، چې کتابونه يې دادي:

النظام السياسي فی الاسلام، نظرية عدالة الصحابه او مرتکزات الفکر السياسي.

دا کتاب، چې لولئ د نظرية عدالة الصحابه، ژباړه ده، چې په فارسي (محمد قاضی زاده) او (مالک محمودی) په جلا جلا ډول ژباړلی دی او موږ له دواړو ژباړو څنې په ګټنې پښتو ته را اړولی دی.

ب - ددې کتاب ځانګړې دادي:

۱ - دې کتاب له بيخه د جاهلي نظام او اسلامي نظام توپيرونه څرګند کړي.

۲ - د مسلمانانو ترمنځ د اختلاف آريز ټکي يې شنني دي.

۳ - پخپله ليکوال سني مذهبه دی؛ خو پکې يې د حقوقو له اړخه مسايل ارزولي او چې څه يې د پوهېدونو له مخې پرحق وو، ويلي يې دي.

٤ - په اسلامي نړۍ کې د وحدت د منځ ته راتګ لپاره په ديني مدارسو او د پوهنځيو په نصاب کې شاملول د دغسې کتابونو يو اړين چار دی؛ نو ځکه موږ د پوهنې او لوړو تحصيلاتو له وزارتونو غواړو، چې وړانديز مو په پام کې ونيسی.

۵ - کره کتنه يو بنسټيز عملي چار دی، داچې له حقوقي پلوه په پښتو ژبه کې داسې کتاب کتاب نشته؛ نو ځکه د حقوقي مسالو د څېړنې زده کړيالانو ته بې ګټې نه دی.

په درنښت

# حقوقي کره کتنه

## لومړۍ برخه

د «صحابة» او «صحبة» د کليمو مانا

۱-د «صحبت» او «صحابه» مانا او مفهوم

۲-اهل سنت او د اصحابو د عدالت نظريه

۳- له اصله د دې نظريې رد

۴-شيعه او د ټولو اصحابو د عدالت نظريه

۵-د اصحابو د عدالت په نظريه کې د انديښې لپاره بېلګې

۶-د عادلو اصحابو د پېژندنې سمه لار

## د «صحبة» او «صحابه» مانا

### ۱-د صحابه لغوی مانا:

### الف-د ژبې په سرچینو کې

د «اصحاب» او «صحابه» کلمې د صَحِبَ، یَصْحَبُ له فعل څخه اخستل شوي چې سر چینه یې «صُحبة» د «صاد» (ضم) په زور فتح دی او «صاحَبَ»؛ یعنې معاشرت یې وکړ، ناسته پاسته یې وکړه، ملګرتوب او لاروي یې وکړه.

او «صاحب» د معاشر، مطیع، ملګري او لاروي پر مانا دی یا هغه دی چې د یو څیز پالندوی یا ساتونکی وي.

او هم د «اصحاب» اصطلاح هغې ډلې ته ویل کېږي، چې د یوه مذهب یا کوم وګړي لاروي کوي. لکه چې ویل کېږي: د امام جعفر صادق رحمة الله علیه اصحاب (لارویان)، د امام ابو حنیفه اصحاب (لارویان)، او د امام شافعي اصحاب (لارویان)او په څېر یې.

چې «صَحِبَ» د «افتعال» باب ته یووړل شي (؛نو) ویل کېږي «اصطحب» او «اصطحب القوم»؛ یعنې قوم یو له بل سره ملګرتوب او معاشرت وکړ او «اصطحب البعیر» یعنې اوښ رام شو[1].

### ب- په قرآن کریم کې

خدای تعالی قرآن په عربي ژبه نازل کړی دی او یوه ځانګړنه یې دا ده چې یوازې د دې ژبې ډاډمنه مرجع ده؛ ځکه قرآن الهي کلام دی، چې د عربي ژبې په پټو او ژورو رازونو، یقیني پوهه لري. په قرآن کریم کې په ټول کې (۹۷) ځل د «تصاحبنی»، «صاحبهما»، «صاحبه»، «صاحبة»، «اصحاب» او «اصحابهم» کلمې راغلي دي.

د یادونې وړ ده چې په ګرد قرآن کې د «صَحابه»- د صاد په زور- او «صُحبة»- د صاد په پېښ- له کلمې سره نه مخ کېږو.

---

[1] د صحب د کلیمې او مشتقاتو په اړه یې د زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ: لسان العرب، تاج اللغة، تاج العروس، معجم الوسیط، قاموس المحیط او مختارات الصاح.

## پ-آیات او لغوي مانا

هغه مهال چې «اصحاب» او د دې کلمې کورنۍ تر څېړنې لاندې نیسو؛ نو پوهېږو چې دا کلمې د لغوي مانا لپاره وضع شوي چې په وړاندې برخه کې مو ورته اشاره وکړه؛ نو ځکه کله شونې ده چې د «صحبة» اصطلاح د یوې مانا او کله د ډېرو ماناوو لپاره وکارول شي او شونې ده چې د یوې ځرګندې مانا او بېلګې لپاره وي چې د خیر ټول اړخونه راونغاړي او شونې ده چې په ډېرو ناوړو ځایونو کې وکارول شي چې په دې بڼه کې د شر ټول اړخونه رانغاړي.

## ت-صُحبة او کارونه یې

د «صُحبه» د کلمې د مانا او مشتقاتو په اړه، چې مو څه وویل؛ نو ورته په پاملرنې سره، باید ووایو: چې کله «صُحبه» او مشتقات یې د دوو مؤمنانو ترمنځ وي[1] او کله د اولاد او مور او پلار تر منځ وي، چې د عقیدې له پلوه یې مخالف وي[2] او کله د دوو همسفرو[3] او کله د تابع او متبوع ترمنځ[4] او کله د مؤمن او کافر ترمنځ وي[5].

او کله عامې مانا ته کارول کېږي، چې شر هم پکې رانغاړل کېږي، لکه له نورو کافرانو سره د یوه کافر مصاحبت[6] یا له خپل کافر قوم سره د یو پیغمبر مصاحبت[7] چې پیغمبر هڅه کوي ښو

---

[1] کهف ۷٦ آیت: «قَالَ إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا»

[2] لقمان ۱۵ آیت: «وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ»

[3] نساء ۳٦ آیت: « وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا» باید ووایو چې ابن کثیر په خپل تفسیر (۱۱ ۴۹۴ مخ) کې د مجاهد له خولې څنې «صاحب بالجنب» پر همسفر تفسیر کړی دی.

[4] توبه ۴۰ آیت: « إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ »

[5] کهف/ ۳۴ او ۳۷ آیتونه: [وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا (کهف/۳۴ آیت) قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجُلًا(کهف/۳۷)]

[6] قمر، ۲۹ آیت: « فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَى فَعَقَرَ»

[7] نجم ۲ آیت: «مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى » سبا ۴٦ آیت: « قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ أَنْ تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَى وَفُرَادَى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِكُمْ مِنْ جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ »

ته يې راوبولي او قوم يې زيار باسي چې هغه د بې لارۍ کندې ته راکاږي او کله (صحبه - ملګرتوب) اختياري نه بلکې اضطراري وي[1] او کله «صُحبه» يو فاسد فعل او صفت ته کارول کيږي، چې يو تن په فاسد چار پسې ځي او دا لار يې نيولې وي[2].
او کله «صحبه» د يوې عقيدې له سياسي مشر څخه مطلق اطاعت او لاروي وي، لکه د رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) له سياسي مشرۍ ځنې د نبوي کورنۍ مطلق اطاعت او په دې لار کې يې مهمې سرښندنې او د آنحضرت (صلى الله عليه وآله وسلم) د نېکو او غوره اصحابو لاروي.
نو ځکه بايد ووايو: (په ضم) د «صحبه» محور، يو رانغاړونکی محور دی، چې پر عقيده، مشرۍ او لوړو اهدافو او فکرونو ولاړ دی، چې مشر او لارويان يې هڅه کوي، چې په يوه ټاکلې ټولنه کې يې پلي کړي[3].

**۲-د اصحابو اصطلاح**

ابن حجر عسقلاني شافعي رحمة الله عليه د اصحابو په تعريف کې وايي:
«هغه ته صحابي ويل کيږي، چې د اسلام جناب رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) يې ليدلی وي، ايمان يې پرې راوړی وي او له نړۍ څخه مسلمان تلی وي. »

**الف-د ابن حجر تشريح:**

دا وايي لاندې وګړي، د هغوی په ليکه کې دي، چې جناب رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) يې ليدلی دی:
۱-چاچې ورسره (لږه يا ډېره) ناسته پاسته کړې وي.
۲-چاچې [پېغمبر ليدلي وي]. . . که روايت يې ترې کړی وي يا نه.
۳- چاچې [هغه ليدلی وي]، جګړې ته ورسره تللی وي يا نه.
۴-چاچې آنحضرت (صلى الله عليه وآله وسلم) ليدلی وي، که څه هم ناسته پاسته يې ورسره نه درلوده.

---

[1] يوسف ۳۹ آيت: «يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ»
[2] ذاريات ۵۹ آيت: «فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ»
[3] پر ۱۹۹۱ او ۱۹۹۲ کلونو کې د اردن په اللواء مجله کې مې د مقالو لړۍ ولولئ.

۵-هغه چې د کومې نیمګړنې له لامله لکه ړوند توب، د جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د لیدو وس نه درلود.
«ایمان یې راوړی وي» له دې جملې څخه یې لاندې ګټه پورته کېږي:
۱-هغوی چې د اسلام د جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) له بعثت وړاندې لیدلی وي لکه د کتابیانو (یهودو او نصاراوو) مؤمنان، اصحاب نه دي.
۲-هغوی چې د آنحضرت (صلی الله علیه وآله وسلم) تر بعثت وړاندې، هغه لیدلی وي او پوهېده، چې ژر به پر رسالت مبعوث شي لکه د راهب «بحیراء» په څېر چې صحابي کېدل یې بحث غواړي.
۳-هر مکلف؛ که انسان یا پیری وي؛ خو چې ایمان یې پرې راوړی وي صحابي شمېرل کېږي.
۴-«ابن اثیر» پر «ابی موسی» پر ځای او سمه نیوکه کړې، چې یو شمېر پېریان یې د اصحابو له لیکې ایستلي دي.
۵-ابن حزم رحمة الله علیه ویلي دي: څوک که له صحابي توب څخه د پېریانو د وتو ادعا وکړي؛ نو پر امت یې دروغ تړلي؛ ځکه خدای تعالی په قرآن مجید کې ویلي چې یو شمېر پېریانو پر جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) ایمان راوړی او قرآن یې ترې اورېدلی دی؛ نو ځکه دا ډله اصحاب دي.
٦-امام فخر رازي په «اسرار التنزیل» کتاب کې وایي، چې د اسلام پېغمبر پرښتو ته کوم ماموریت نه درلود او پېغمبر یې نه دی. البته له دې نظریې سره مخالفت شوی او شیخ تقی الدین سبکي معتقد دی چې جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) پرښتو ته هم دنده درلوده او یو شمېر دلایل یې هم راوړاندې کړي دي.
۷-«له نړۍ مسلمان مړ شوی وي» له جملې څخه ګټه اخستل کېږي چې: هغوی چې پر جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ایمان راوړی وي؛ خو وروسته مرتدان شوی وي او په ارتداد کې له نړۍ څخه تللي وي، اصحاب نه دي (له ارتداد څخه خدای ته پناه وړو) چې شمېر یې ډېر لږ دی لکه عبید الله بن جحش، د «ام حبیبة» مېړه، چې دواړه مسلمانان شول او حبشې ته یې هجرت وکړ او هلته نصراني شو او د ارتداد په حال کې ومړ[1] او لکه عبد الله بن اخطل، چې ځان یې د کعبې په پرده کې رانغښتلی و، ووژل شو[2].

---

[1] سیرة النبي [اسد الغابة: ۵۳۷/۵ مخ]
[2] تاریخ الخمیس: ۲/۹۰-۹۱ مخونه

۸-هغوی چې مرتدان شوي، خو تر مړینې مخکې، اسلام ته راستانه شوي، ؛ نو اصحاب دي، که بیا جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ته ورغلي وي یا نه او دا خبره بیخي سمه ده.

د هغوی په باب خو بیخي اختلاف نشته چې اصحاب دي، چې اسلام ته له راستنېدو روسته جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) ته ورغلي وي؛ خو که نه وي ورغلي، ځیني یې په اړه خبرې لري او معتقد دي، چې اصحاب نه دي.

دا خبره سمه نه ده؛ ځکه اهل حدیث یوه خوله دي، چې «ابن قیس» (مرتد شو خو د ابوبکر (رض) په زمانه کې بیا مسلمان شو) صحابي دی، چې احادیث یې په خپلو صحاحو او مسانېدو کې راوړي دي.

## ب- د دې تعریف ارزونه

هغه وایي: د اصحابو چې کوم تعریف وشو، د بخاري او د ده استاد احمد بن حنبل او لارویانو ته یې د منلو وړ دی. بې له دې تعریف څخه، نور نادر تعریفونه یې هم شته [چې په لنډو یې را اخلو]: ځیني معتقد دي، هغوی اصحاب شمېرل کېږي چې له لاندې څلورو ځانګړنو څخه یوه یې ولري:

۱-چاچې د اوږدې مودې لپاره جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) درک کړی وي.

۲- چې چا یې روایات او خبرې حفظ او یادې کړې وي.

۳- د هغو وګړیو په کتار کې وي، چې له جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) سره جګړې ته تللی وي.

۴-هغه چې د جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) په څنګ کې شهید شوی وي.

ځیني د صحابې کېدو سموالي ته په دوو شرطونو قایل دي:

۱-بلوغ

۲-له جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) سره ناسته پاسته، که څه هم د لږې مودې لپاره وي. ځیني یو شرط هم په پام کې نه نیسي او وایي: چاچې جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) لیدلی وي صحابي دی، البته په دې شرط چې د تمییز او تشخیص عمر ته رسېدلی وي. که نه څوک چې د تمییز او تشخیص خاوند نه وي، سمه نه ده، چې لیده کاته او درک کول ورپورې وتړو، داسې یو تن له دې امله چې جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) یې لیدلی دی، صحابي دی او له دې امله چې جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) یې لیدلی دی (دا چې د تمییز عمر ته رسېدلی نه دی) صحابي نه شمېرل کېږي او تابعي

دی. چاچې جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) تر رحلت وروسته او له ښځېدو څخه مخکې لیدلی وي (لکه شاعر ابوذؤیب هذلي) نو په دې باب څه ګړ پړ شته چې ایا صحابي دی که نه، او په نظر رسي، چې صحابي نه دی.

**پ-د صحابه وو د پېژندنې لارې**

د یو وګړي صحابي کېدنه له څو لارو پوهېدای شو:

۱-تواتر.

۲-استفاضه او شهرت.

۳-د یو صحابي یا تابعي وینا، چې مثلاً- پلاني جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) لیدلی دی.

۴-چې پخپله یو تن (که عدالت یې جوت وي) ووایي: زه صحابي یم؛ «آمِدي» او نورو د عدالت شرط پرېکنده ګڼلی او ویلي یې دي: وګړی باید عادل وي، چې صحابي وي؛ یعنې لومړی باید عادل وي او که وروسته ووایي، صحابي یم، منو یې او که د عدالت له جوتولو مخکې یې دا خبره (؛ زه صحابي یم) ومنو لازمه یې دا ده، چې د دې خبرې له منلو یې مو عدالت ثابت کړی وي؛ ځکه ټولیزه قاعده لرو چې ګرد اصحاب عادل دي. نو لومړی خبره یې چې وایي: زه صحابي یم، په دې مقام او منزله ده، چې ووایي، زه عادل یم او دا خبره یې نه منل کېږي او تر دې اوچته خو دا چې، له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله سره یې د هم عصري توب ادعا ده، چې تر نبوي هجرت یوسل او لس کاله وروسته اعتبار لري او له همدې امله عالمانو، تر دې تاریخ وروسته د چا د اصحابي کېدو ادعا منلې نه ده، او هغوی چې دغسې ادعا کړې دروغجن ګڼل شوي دي؛ ځکه د پېښې ظاهر یې دروغجنتوب راښيي او د «آمِدي» د کلام غوښتنه ده چې:

څوک چې یوازې پخپله خپل حال او وضع معرفي کوي؛ نو صحابي توب یې نه جوتېږي.

ت-ټول خلک اصحاب دي

دا یو ډاګیز واقعیت دی، چې د جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) له بلنې او تبلیغ څخه، داسې یو دولت او واکمني جوړه شوه، چې جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) یې د لسو کالو په شاوخوا کې پخپله مشري کوله او په دې موده کې یې د اسلامي حکومت ستنې ټینګې کړې او خلکو ته یې عقاید، حقیقت او اسلامي روح پوره څرګند کړ او په ټولو اړخونو کې یې عملي پلی کړ. چې څه د عمو مو د منلو دي او قانوني بنه یې هم اخستې ده، دا ده چې د دولت ارکان (چې هر دولت وي) دا دي:

۱-ملت
۲- هغه ټاټوبی چې خلک پکې مېشت دي.
۳-هغه ځواک چې دا ملت اداره کولای شي.
که د صحابي توب لپاره د «ابن حجر عسقلاني» تعریف ومنو [نو متوجه کېږو چې] یو څوک په دوو څیزونو صحابي کېدای شي:
۱-له جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) سره لیده کاته (که دا لیده کاته له خبرو اترو سره وي یا یوازې لیدل وي)؛ نو د دې تعریف له مخې، چاچې رسول الله صلی الله علیه و آله لیدلی یا جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) هغه لیدلی؛ نو دغسې یو څوک صحابي دی، که څه هم تي خور ماشوم وي؛ ځکه لیدل په جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) پورې تړي نه ماشوم او ویل کېږي جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) لیدلی دی.
۲-پر جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ایمان. که د صحابي په تعریف کې د «ابن حجر» نظر ومنو، لازم دي، چې پر دې ټینگار وکړو، چې دغسې یو تن به واقعاً او له زړه نه ایمان راوړی وي او پر دغسې یو واقعیت پوهېدل د بشر له وسې پوره نه ده. ښه وه، چې ابن حجر ویلي وای: مؤمن یا په ایمان تظاهر وي؛ ځکه دا غوځه خبره ده، چې د منافقینو سره «عبدالله بن ابی» له اصحابو څخه دی. او هغه چې د ده د وژلو غوښتنه یې وکړه؛ نو نبي صلی الله علیه و آله ورته وویل: پر ځان مې قسم، چې تر څه وخته په مور کې وي، ناسته پاسته یې ښه گڼو[1].
په پای کې د یو چا د صحابي توب لپاره لازم نه دي، چې هغه واقعي او حقیقي مؤمن وي، بلکې کافي ده، چې ځان ایماندار وښيي او پر همدې حال ومري [او مرتد نه شي]؛ ځکه جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) د وگړیو د ایمان له حقیقت او واقیعت سره څه کار نه درلود، او هغه یې خدای ته پرېښود.
جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) د خپل نبوت د تبلیغ او بلنې په ترڅ کې په خپلې واکمنی کې، د جگړو پر مهال، له هغه سره د خلکو د بیعت پر وخت، د حج او عمرې پر سفرونو کې، د «مکې» په سوبه کې، په تېره په حجة الوداع کې او پر ټول «جزیرة العرب» باندې د برلاسی په عصر کې ټولو خلکو ته یې دا لاره چاره برابره کړې وه، چې رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ووینې. پر لسم هجري کال د «مکې» او «طایف» عموم خلک مسلمانان شوي وو او له جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) سره حجة الوداع ته تللي و.

[1] ابن سعد، طبقات: ۶۵۱۲ مخ

د اوس او خزرج د ټبرونو ځينو وويل: د جناب نبي کريم (صلی الله عليه وآله وسلم) د ژوند په وروستي کال د دوی د ټبرونو ټول وګړي مسلمانان شوي وو او د جناب نبي کريم(صلی الله عليه وآله وسلم) د وفات پر مهال هيچا د کفر اظهار نه کاوه[1].
ان ماشومان په اصحابو کې وشمېرل شو (د هغې خبرې له مخې چې د ماشومانو په اړه وويل شوه)؛ ځکه په زيات احتمال، جناب نبي کريم (صلی الله عليه وآله وسلم) [د هغې زمانې] ماشومان ليدلي دي؛ ځکه چې ماشوم به نړۍ ته راغی؛ نو د خوند، تبرک، نوم ايښوونې او دعا لپاره به يې جناب نبي کريم (صلی الله عليه وآله وسلم) ته راوست؛ نو له دې کبله په زيات احتمال جناب نبي کريم (صلی الله عليه وآله وسلم) خپل معاصر ماشومان ليدلي دي او په دې باب ډېر راويات راغلي چې د بېلګې لپاره:
«ماشومان به يې جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله ته راوستل او جناب نبي کريم(صلی الله عليه وآله وسلم) به يې په حق کې دعا کوله»
«هر زيږېدلی ماشوم به يې جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله ته راوست[2]»
د دې حقيقت په پام کې نيولو سره چې د جناب رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) په دولت کې د حاکم او محکوم ترمنځ ټول توپيرونه له منځه ولاړل او جناب نبي کريم (صلی الله عليه وآله وسلم) په کوڅو او سرکونو کې ګرځېده او خپلې چارې يې پخپله کولې او په اسلامي حکومت کې هر وګړي کړای شو، چې ورسره ووينې، خبرې اترې وکړي يا ورسره ناسته پاسته وکړي؛ (نو) بايد وويل شی چې د پېغمبر صلی الله عليه و آله په زمانه کې ګرد ملت صحابي و.
او په دې توګه ګرد امت له خپل مشر او واکمن سره ملاقات او ليده کاته کړي ليدلي يې دی او يا يې خبره اورېدلې ده او يا يې ورسره ناسته پاسته او ملاقات کړی دی.
نورې اسلامې فرقې له اهل سنتو سره د صحابي په لغوي او اصطلاحي ماناوو کې هم لوري دي؛ خو د عدالت په صفت او ځانګړنه کې يو له بل سره اختلاف لري؛ ځکه اهل سنت يې پر عموميت قايل دي او وايې، چې بې استثنا ټول اصحاب عادلين دي. ګورئ چې ځينې اسلامې فرقې (شيعه) وايي؛ عدالت شرعي مستلزمات او مشخصې ځانګړنې او صفات لري چې که په

---

[1] الاصابة فی تميز الصحابه: ۷، ۸ او ۱۶ مخونه
[2] ابن حجر عسقلاني شافعي، الاصابه فی تمييز الصحابه، ۷، ۸ او ۱۶ مخونه.

چا کې وي؛ نو عادل دی او که و يې نه لري؛ نو عادل نه دی او د دې مدعا لپاره له کتاب او سنتو دلايل راوړي، چې وروسته به يې ووايو.

## ۲- اهل سنت او د اصحابو عدالت

ټول اهل سنت د ګردو اصحابو پر عدالت قايل دي او د ابن حجر عسقلاني د تعريف له مخې يوازې نوښتګر او بدعتيان له دې عقيدې سره مخالف دي، پر پاکۍ يې عقيده واجب ده؛ ځکه جوته شوې چې دوی ټول جنتيان دي او يو يې هم جهنم ته نه ځي[1] او له اصحابو څخه مطلب؛ ټول اصحاب دي؛ پر هماغه مانا چې د ابن حجر د تعريف په تحليل کې مو وويل.

## د اهل سنتو دليل

خطيب ويلي دي: د اصحابو عدالت په لاندې چارو جوت او څرګندېږي.

الف: اصحاب خدای توثيق کړي دي.

ب: خدای يې له پاکۍ خبر کړي يو.

ج: هغوی خدای غوره کړي دي.

او د پورته چارو دليل لاندې قرآني آيتونه دي:

۱-آل عمران، ۱۱۰ آيت: «كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ»

۲-بقره، ۱۴۳ آيت: «وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا»

۳-فتح، ۱۸ آيت: «لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا »

۴-توبه، ۱۰۰ آيت: «وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ»

۵-انفال، ۶۴ آيت: «يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللَّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ »

۶-حشر، ۸ آيت: «لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا وَيَنْصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ»

## د اهل سنتو په نزد د اصحابو د عدالت معنی او مفهوم

[1] الاصابة فی تمييز الصحابة ۱: ۹او ۱۰ مخونه

د اهل سنتو پر وړاندې د اصحابو عدالت پر دې مانا دی، چې که څوک له جناب نبي مکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) سره معاصر یا یې په وخت کې نړۍ ته راغلی وي [عادل دی] او نه ښايي دروغجن یې وګڼو او ویناوې یې واړوو. د دغسې یو تن سپکاوی روا نه دی، که څه هم په زرګونو تنه یې وژلي او ډېر ګناهونه یې هم کړې وي. نو پر دې بنسټ د امویانو د لومړې طبقه ټول وګړي لکه ابوسفیان او اولاده یې او ټول مروانیان لکه مروان (چې جناب نبي مکرم شړلی و) او اولاده یې، په اصحابو کې دي او مغیرة بن ابی شعبه او زوی یې عبد الله (چې د جناب نبي کریم د وفات پر مهال یې عمر د لسو کالو په شاوخوا کې و او په عین حال کې ډېر روایات ورپورې تړل شوي دي، چې له پېغمبر څخه یې روایت کړي او په یوه ټولګه کې یې راټول کړي، چې «رښتوني پاڼې؛ صحیفه صادقه» ورته وایي) ټول عادلین دي او روایات یې سم دي، که څوک هم د حضرت علي او اهل بیتو په سپکاوی او د عبدالرحمن بن ملجم په ستاینه کې وي. دا ډول روایات باید ومنو او نه منل یې روا نه دي؛ ځکه راویان یې عادل دي او عادل انسان په لوی لاس دروغ نه وایي.

هغوی چې د جناب امیر معاویه بن ابوسفیان په دېرش کلنې واکمنۍ کې یې لاروي کړې او د هغه ملاتړ یې کړی دی، دوی ټول پر حق او سمه لار دي، حتی هغوی چې حضرت حسن بن علي مسموم کړی او حضرت حسین او یاران یې وژلي او په کوفه او نورو ځایونو کې یې بې شمېره ګناهونه کړي دي، په دې دلیل، چې (په ګومان یې) پېغمبر صلی الله علیه و آله ویلي دي: «اصحاب مې د ستوریو په څېر دي؛ په هر یوه پسې چې ولاړ شئ، سمه لار مو موندلې ده[1]»

[البته] حدیثپوهانو، دا حدیث کمزوری ګڼلی؛ نو ځکه دې مدعا ته کوم دلیل نشته او ابن تیمیه هم رد کړی دی[2].

## د دې نظریې د مخالفت سزا

چې څوک پر دې نظریې عقیده نه لري؛ نو لږه سزا یې دا ده چې وایي:

که څوک مو ولید چې د رسول الله صلی الله علیه و آله یو صحابي سپکوي؛ نو پوه شئ، چې هغه کافر او بې دینه دی.

---

[1] آرا علماء المسلمین فی التقیه: ۸۱او ۸۲ مخونه

[2] هماغه مصدر له محب الدین خطیب او المنتقی ذهبی له نقل څخه

او په بل ځای کې وايي: چې څوک د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله یو صحابي (ان بې له نوم اخستو) سپک او توهین کړي؛ نو کافر دی او خپله د سپکاوي وړ دی[۱]. او بیا وايي: چې څوک د جناب نبي مکرم (صلی الله علیه و آله و سلم) په اصحابو کې خوګانې لټوي یا یې سپکاوی کوي؛ نو خواړه ورسره مه خورئ، په لوښي یې اوبه مه څښئ او چې ومړ جنازه یې مه کوئ[۲].

## د اهل سنتو د دې سختنیونې او سرسختی راز څه دی؟

[په ځواب کې به ووايي: ] راز یې دا دې، چې رسول الله صلی الله علیه و آله حق دی او چې څه قرآن راوړي هم حق دي، چې دا ټول اصحابو رارسولې دي او چې څوک یو تن صحابي سپکوي، مطلب یې دا دی، چې پر پیغمبر او قرآن د شاهدانو او ګواهانو په سپکاوی پیغمبر او قرآن له ډګره وباسي، چې وکړای شي د قرآن او سنتو پر بطلان کرښه راکاږي، دا ډول وګړي پخپله د سپکاوي وړ او بې دینه دي[۳].

## یادونه

له اصحابو د اهل سنتو منظور، هماغه وګړي دي، چې ابن حجر د اصحابو په تعریف کې راوړي دي، چې له حضرت خدیجې، حضرت علي، حضرت زید بن حارثه او حضرت ابوبکر څخه پیل او پر هغه وروستي ماشوم پای مومي، چې جناب نبي مکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) یې لیدل یا جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله لیدلی دی.
مناسبه ده، چې د ابن حجر د اصحابو د تعریف تحلیل ته ور وګرځو:
مازري د برهان په شرح کې وايي: «د ټولو اصحابو له عدالت څخه زموږ (اهل سنتو) منظور دا نه دی، چې یوه ورځ جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله څوک لیدلی یا کله ده له حضرت سره لیده کاته کړي او یا یوازې د یو چار لپاره ورغلی؛ نو هغه به صحابي او عادل وي؛ بلکې مطلب مو هغه کسان دي، چې د پیغمبر ملاتړي وو او په هغې (قرآني) رڼا پسې تللي وي، چې پر نبي صلی الله علیه و آله نازله شوې وه، هغوی بریالي دي[٤]»

---

[۱] الاصابه ابن حجر عسقلانی.... ۱۱ ،۱۰، ۱۷ او ۱۸ مخونه
[۲] ذهبي، کتاب الکبائر ۲۳۸ مخ. آراء علماء المسلمین مرتضی رضوی، ۸۵ مخ
[۳] الاصابه ابن حجر عسقلانی ۱۱\۱۷ او ۱۸ مخونه
[٤] د اعراف سورت له (۷-۵) آیتونه اقتباس دی چې وايي:.... وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ....

**د دې هڅې رد**

د دې خبرې ځواب دا دی: کوم قید[1] چې د صحابي په تعریف کې وویل شو د غالبیت او اکثریت له باب څخه دی، که نه له صحابه نه مراد هغه دی، چې حقیقتاً یا شان له مخې په انفاق او د خدای په لار کې په جګړې ستایل شوی وي. او د مارزي خبره نه یوازې دا چې پلویان نه لري؛ بلکې یو شمېر پرې نیوکه کوي. شیخ صلاح علاني ویلي: مازري یوه عجیبه خبره کړې چې ډېری وګړي، چې په صحابیتوب او راوي مشهور دي د عدالت له حکم څخه وباسي لکه وائل بن حجر، مالک بن حویرث، عثمان بن العاص او نور وګړي چې د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله حضور ته تللي او ډېره لږه موده ورسره و، دغسې هغه چې یو حدیث ترې روایت کړی او له جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله سره یې د درنګ مقدار نامعلوم دی (لکه قبائیلي اعراب) له صحابیتوبه غورځوي.

نو ځکه، معتبره وینا هماغه جمهور کلام دی، چې د مازري قید نه لري او پر عمومیت قایله ده[2].

**ددې تعمیم د پټو سترګو مساوات**

د اهل سنتو د رای له مخې، اصحاب د عدالت له پلوه ټول یو له بل سره مساوي او په پایله کې ټول عادل دي. [او د دې نظر له مخې] چې څوک جهاد ته نه وي تللی له مجاهد سره مساوي دی. یوه د ناپوه په څېر دی او چاچې په خپله خوښه ایمان راوړی، د هغه په څېر دی، چې یوازې د ځان د بچېدو لپاره مسلمان شوی دی. په اسلام کې مخکښان د هغوی په څېر دي، چې راوروسته مسلمانان شوي دي او انفاق کوونکی د کنجوس په څېر دی. ګناهګار او سرغړونکی، د سپېڅلي او سر ایښوونکي په څېر دی او تنکی بالغ ځوان د پوره بالغ سړي په څېر دی. هغه چې په ټولو جګړو کې د مسلمانانو پر خلاف جنګېدلی، کټ مټ د مسلمان مجاهد په څېر دی.

[1] دا کلمه د الاصابه کتاب ته په پامنیوي ژباړل شوې ده.
[2] الاصابه ابن حجر عسقلانی ۱/ ۱۹ مخ

د دې نظريي له مخې علي کرم الله وجهه چې په گردو جگړو کې گډون درلود، کټ مټ د ابوسفيان په څېر دی، چې د اسلام او مسلمانانو پر ضد يې د ټولو جگړو مشري کوله او هم د جناب امير معاويه بن ابوسفيان په څېر دی.
حمزه سيد الشهداء (رض) چې [د اسلام په لار کې] شهيد شو، کټ مټ د خپل وژونکي «وحشي» په څېر دی.
عثمان بن عفان (رض) ته چې جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله د جنت زيری ورکړی، کټ مټ د خپل تره او د اموي خلفاوو پلار حکم بن العاص په څېر دی، چې پيغمبر صلی الله عليه و آله او دواړو يارانو يې شړلی و او پيغمبر صلی الله عليه و آله ده او اولاد ته يې ښېرا کړې او له مديني يې وشاړه[1].
او عبدالله بن ابی سرح به کټ مټ د ابوبکر (رض) په څېر وي، چې پر خدای يې دروغ وتړل او مرتد شو او رسول الله صلی الله عليه و آله يې د وژنې حکم وکړ که څه هم ځان يې د کعبې په پرده کې رانغاړلی وي[2].
او په پای کې د منافقينو مشر عبدالله بن ابی به کټ مټ د عمار ياسر (رض) په څېر وي.
دوی به ولې يو له بل سره برابر او مساوي نه وي؟ ټول اصحاب دي؛ ټول عادل او جنتيان دي او لکه چې وويل شو دوی بيخي دوزخ ته نه ځي.

**پوښتنه او پايله**

دا عقل مني چې پوه د ناپوه په څېر وي؟ چاچې جهاد نه وي کړی د مجاهد په څېر وي؟ چې څوک په خپله خوښه مسلمان شوی وي، کټ مټ له ډاره د مسلمان شوي په څېر وي؟
ايا معقوله ده چې وژونکی او وژل شوی سره برابر وي؟ ايا په اسلام کې مخکښ له کلونو وروسته له مسلمان شوي سره برابر دی؟ ايا انفاق کوونکی له کنجوس سره مساوي دی؟ ايا سرغړونکی او سرايښوونکی يو له بل سره مساوي دي؟ ايا واقعي مؤمن له ريا کار ايماندار سره په يوه مرتبه کې دی؟ ايا مؤمن د منافق په څېر دی؟ ايا دا عقل مني چې جناب امير معاويه دې د علي کرم الله وجهه په څېر وي؟

---

[1] ابن قتيبه، معارف، ۴۱، ۵۴ او ۱۳۱ مخونه. کنز العمال ۱۱ \ ۳۵۸ او ۳۶۱ مخونه.
[2] ابن قتيبه، معارف، ۴۱، ۵۴ او ۱۳۱ مخونه. [تاريخ الخميس ۲ \ ۹۰ مخ]

شرع، عقل او منطق دا مساویتوب نه مني، دا یو بربنډ ظلم او ناوړه ګډوله ده، چې عقل ترې تښتي او سالم او روغ رمټ انساني فطرت یې نه مني[1].

## د اهل سنتو د نظریې کره کتنه

### د «صحابه» د کلمې په لغوي او اصطلاحي ماناوو کې اتفاق

ټولې اسلامي فرقې د «صحابه» د کلمې لغوي او اصطلاحي ماناوې مني، چې د «صحابه» په اصطلاح کې ټول هغه کسان رانغاړل کېږي، چې اسلام یې راوړی او یا یې ځان مسلمان ښوولی دی، له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله څخه یې کومه خبره اورېدلې یا یې ورسره ناسته پاسته کړې یا یې [یوازې] لیدلی دی.

خو د اسلامي فرقو د اختلاف جرړه د «اصحابو عدالت» په عمومیت کې ده، حال دا چې اهل سنت معتقد دي، چې ګرد اصحاب عادل دي؛ خو نورې اسلامي فرقې دا عمومیت نه مني.

### د نظریاتو نژدېوالی

اهل سنت اصحابو ته پر یوې پراخې مانا معتقد دی، چې له امله یې د پېغمبر صلی الله علیه و آله د هېواد ټول وګړي او مسلمانان رانغاړل کېږي او دوی هغه لومړني وګړي دی چې د قرآن مخاطب دي او په شان کې یې قرآني احکام او لارښوونې نازلې شوي دي چې چا به اسلام مانه او د خدای پر وحدانیت او د پېغمبر صلی الله علیه و آله پر رسالت به یې ګواهي ورکوله، مسلمان ورته ویل کېده او د پېغمبر صلی الله علیه و آله د واکمنۍ یو تن وګړی به و.

جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله د وګړیو له باطن سره کوم کار نه درلود او هغه یې خدای ته پرېښووه؛ ځکه خدای دی، چې د ټولو پر پټو او ښکاره و باخبر دی او هغه دی چې د سترګو په خیانت او چې څه په سینو کې پټوي (په ټولو) پوهېږي[2] او یوازې خدای دی، چې د اسلام په منلو اجر او ثواب ورکوي؛ نو له همدې امله جناب نبي مکرم په ظاهره بساینه کوله او د وګړیو دننه او باطل یې خدای ته پرېښود او د انسان چلن او کړه وړه یې راټولنکي، د خدای لورنې او پر ده باندې د اسلامي ټولنې اغېز ته ورپرېښوول کېدل او همداراز د پېغمبر صلی الله

[1] احمد حسین یعقوب، النظام السیاسي فی السلام، ۱۰۶ مخ.
[2] د مؤمن سورت له ۱۹ آیته اقتباس: يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ.

علیه و آله یا د ځایناستي په مشرۍ یې د ایمان او کفر ترمنځ د جګړو په باب چلن یې په لید لوري پورې تړاو درلود.
سره له دې چې په قرآن کې ډېر آیتونه شته چې د اسلام د پلازمېنې (مدینې) او چاپېریال منافقین یې سخت غندلي او د هغوی رازونه او کینې یې رابربنډې کړي، واقعیات یې راسپړلي او د هغو کسانو وګړني حالات یې په ګوته کړي چې ځانونه یې په اصحابو کې شمېرل او ان په ډېرو یې حد هم عملي شوی و؛ خو په عین حال کې هیڅ وخت جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله یو منافق ته هم نه ویل، چې ته منافق یې؛ بلکې دعا یې کوله چې خدای دې د خپلو بندګانو خوګانې پټې کړي، سم او هدایت دې یې کړي.
اسلامي شریعت ښو او بدو چارو ته ځانګړنې ټاکلي دي؛ نو چاچې دغسې ځانګړنې درلودې؛ نو خدای یې له خپلې ډلې سره محشور او راپاڅوي.
د دې ځانګړنو شرح د عمل په ډګر کې د انسان چلن ته ورپرېښوول شوې ده.
د پېغمبر صلی الله علیه و آله په ژوند کې له کفر او بې دینۍ سره د حضرت چلن تم نه شو. انسان د طبیعت له مخې چې څه یې په زړه کې وي په ځنډ یا ژر په خپلو کړو وړو او چلن کې رابربنډوي، د نبي صلی الله علیه و آله په وفات، هر مسلمان وګړي خپل واقعي مقام د تقوی په کړۍ یا د فساد په کړۍ پېژانده [او ځان یې ښه پېژانده] او ټولو مسلمانانو د یو بل درجې او مرتبې پېژندلې.
سره له دې چې اسلامي ټولنه او په تېره د مدینې منورې ټولنه یو صحابي ټولنه وه او هر یو تن یې د صحابي لغوي او اصطلاحي عنوان درلود؛ خو څوک له الهي مکر څخه خوندي دی او څوک پوهېږي، چې د چارو پای به یې څه شي [چې دغسې ده] نو اصحاب په دوو لویو ډلو ویشو:

**۱-ستر اصحاب:**

غوره اصحاب، هغه ستر شخصیتونه دي، چې د حکومت مرکزي هسته او زړې وه او کافرانو سخت ځورولي وو، تر دې چې حق برلاس شو؛ دوی [ډېر ژر] په حق ورسېدل او د خدای له رسول او هغه یې لاروي وکړه، چې د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله پرې ډاډ و، په داسې حال کې مړه شول، چې د خدای په رسۍ کې منګولې ښخې کړې وې. ټولې اسلامي ډلې د دې شمېر کسانو د عدالت په باب یوه خوله دي او یوه مسلمانه ډله هم له دې نظریې سره مخالفت نه کوي.

**۲-نور اصحاب:**
دوی یو له بل سره توپیر لري، خدای ترې ښه خبره دی. په دې ډله کې کوچنیان او منافقین شته، خدای شري منافقین (سره له دې چې ځانونه یې مسلمانان ښودل او د اهل سنتو په کچې ورته اصحاب ویل کېږي) د دوزخ په خورا ټیټه پوړۍ کې هستوګن کوي.

**د اصحابو د ویشنې ګټه**
د سترو او غورو اصحابو پېژندنه ډېر اهمیت لري؛ ځکه دوی دي، چې له «امام» سره «ځانګړی» بیعت کوي، دوی د «شورا» (اهل حل وعقد) له ارکانو څنې دي.
غوره اصحاب دي، چې د اسلام احکام پلي کوي او د امام د واکمنۍ مرکزي هسته او زنې وي.
غوره اصحاب دي، چې خلک د قرآن منلو، د شریعت پلي کولو او عمومي بیعت اخستو ته چمتو کوي. خلک باید د دوي په خوښې خوښ او په خپګان یې خپه وي (دوی د تشخیص کچې دي).
که چار په همدې ښه پر مخ ولاړ شي، هم پخپله او هم امت ژغول کېږي که نه دواړه به پر شا تللي وي او هلاکېږي او چې څوک زورور و، قدرت به ولکه کړي.
د دې ویش ګټه دا ده، چې له تېرو بې پلوه په ځیر څېړنه ولرو او د هغو اختلافاتو پر راز پوه شو چې د مسلمانانو ترمنځ رادبره شوي دي، د ګډو وډو نظریاتو او د دولت د راپرځېدو لامل یې و مومو. دا چار یې د راتلونکي د غوړیدو او ټینګو ګامونو د اخستو لپاره د یوې سرېزې په توګه کوو البته چې د سپیڅلي شرع د موخو په چوکاټ کې وي.
دا د بیا یووالي او د اسلامي دولت راتګ ته یوازېنۍ لار ده، چې لازم دي د شرع له مخې جوړ شي او دوام و مومي او ارمانونه یې پلي کړي او بیا ونه نړېږي.
[باید پام مو وي چې] د غوره اصحابو پېژندنه یو لازمي او اړین چار دی؛ ځکه وړ او لایق وګړي باید وپېژندل شي، چې حساسې څوکۍ ورسپارل شي خدای تعالی وایي:
إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا (نساء/۵۸)
طبري په خپل تفسیر (۱۴۵\۵ مخ) کې په دې آیت کې «امانت» «وړ ته د ولایت» په ورسپارلو مانا کړی دی او دا هله کېږي، چې ستر او غوره وګړي وپېژندل شي او اصحاب لومړۍ ډله وه، چې دا آیت یې واورېد او له «اهل» مطلب بې له غوره اصحابو بل څوک کېدای شي؟

**غوراوی، یو الهي سنت دی**

غوراوی او ارزونه، یو الهي سنت او د ژوند یوه طریقه او د پرمختګ یوه انګېزه ده. د ژوند طبیعت ایجابوي، چې د خلکو ترمنځ په قدرت، ځواک، امکاناتو پوهې او درک کې توپیرونه وي.

د سیاسي عدالت د پلي کولو او ښه کاریتوب لپاره او دا چې د شریعت ارمانونه عملي شي، باید وړ وګړي په مناسبو مناصبو کې وګومارل شي، چې د دې چارو د تشخیص کچه د شرعي «تفاضل» (غوراوي) په نظام ولاړه ده؛ ځکه غوره توب یو امتیاز او الهي انګېزه ده او ښځپله غوراوی یوه شرعي کچه ده.

## پر غوراوي شرعي دلیل

په اسلامي شریعت کې د غوراوي کچه او محتوا پرځای شوی او شته، خدای تعالی وایي:

لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا (نساء۹۵) ؛ (هېڅکله له جهاده) بې عذره ناست مؤمنان، له هغو مجاهدینو سره برابر نه دي، چې د الله په لار کې یې په خپلو مالونو او ځانونو (جهاد کړی)، الله پر کورناستیو (؛ چې جهاد یې پرېښی دی) د مجاهدینو درجه لوړه کړې، چې په مال و سر یې جهاد کړی او الله له دې هرې یوې ډلې سره (د نېکو کړنو په مقابل کې یې) د نېکې بدلې ژمنه ورکړې ده؛ خو مجاهدین یې (له جهاده) پر کور ناستیو په سترې بدلې غوره کړي دي.

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَلَكِنِ اخْتَلَفُوا فَمِنْهُمْ مَنْ آمَنَ وَمِنْهُمْ مَنْ كَفَرَ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلُوا وَلَكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ (بقره/۲۵۳) ؛ له دې رسولانو مو ځینې پر ځینو غوره کړي او له دوی (یو) څوک و، چې الله ورسره خبرې کړې او د ځینو یې مرتبې اوچتې کړې (لکه اولواالعزمه پېغمبران) او عیسی د مریمې زوی ته مو روښانه نښې ورکړې وې او په سپېڅلي روح (روح القدس) مو مرسته ورسره وکړه (؛ خو ددې پېغمبرانو مقام او فضیلت د امتونو د اختلاف خنډ نشو. ) او که د الله خوښه وای (؛ نو) تر دوی روسته خلکو به، چې ښکاره نښې ورته راغلې وې، په خپلو کې جګړه کړې نه وای (؛ خو الله خلك اړ کړي نه دي او دوی یې د نېکمرغۍ پر لار په تلو کې ازاد پرېښي دي)؛ خو دا امتونه ول، چې یو له بل سره یې شخړې وکړې، ځینو ایمان راووړ او ځینې کافر شول (او جګړې راولاړې شوې او بیا) که الله غوښتل؛ نو په خپلو کې به نه

جنګېدل؛ خو الله چې څه غواړي (د حکمت له مخې يې) کوي (او هېڅوك د يوه څيز منلو ته نه اړ باسي)

تفضيل اوغوراوی ان په کورنۍ او خپلوانو کې شته؛ ووينئ چې خدای بني اسرائيلو ته وايي:

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ (بقره/۴۷) ؛ بني اسراييلو (د يعقوب اولادې)! هغه نعمتونه مې درياد کړئ، چې درلورولي مې وو او (همداراز درياد کړئ) تاسې ته مې (ستاسې) پر (همپېرو) نړيوالو فضيلت (او غوراوی) درکړی و.

وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَى بَعْضٍ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا (اسرا/۵۵) ؛ او ستا پالونکي ته په اسمانونو او ځمکه کې چې هرڅه دي، ډېر ښه معلوم دي (او په رښتيا ستا د وړتيا په پار، پر نورو مو غوره کړی يې؛) موږ ځينې پېغمبران پر ځينو نورو غوره کړي او ((داوود)) ته مو ((زبور)) ورکړ.

وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ (انعام/۸٦) ؛ او (همداراز) موږ اسماعيل، ايسع، يونس او لوط ته (لار وروښووله) او ټول مو پر نړيوالو غوره کړي ول.

انْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَلَلْآخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَاتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا (اسراء/۲۱) ؛ وګوره! چې ځينو ته مو (په دنيا کې يې د هلو ځلو له لامله) پر ځينو نورو غوراوی ورکړی او هرومرو د آخرت درجې ډېرې سترې او غوراوی يې ډېر دی.

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ الَّذِينَ أَنْفَقُوا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (حديد/۱۰) ؛ او پر تاسې څه شوي، چې د الله په لار کې لګښت نه کوئ، حال دا چې د اسمانونو او ځمکې ميراث يوازې الله ته پاتې دی (او څوك څه له ځان سره نه وړي)؟ ! هغوی چې تر بريا (د مکې تر سوبې) مخکې مال لګولی او جنګېدلي دي، له هغوی سره برابر نه دي (چې تر بريا روسته يې لګښت کړی دی)، مقام يې تر هغوی لوړ دی، چې تر سوبې روسته يې لګښت کړی او جنګېدلي دي او الله له ټولو سره د غوره (بدلې) ژمنه کړې او څه چې کوئ، الله پرې خبر دی.

جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله وايي: «چې څوک يو تن پر يوې ډلې وګوماري او بيا تر دې غوره تن و مومي (او د هغه پر ځای يې ونه ګوماري؛ ) نو د خدای او استازي سره يې خيانت کړی دی[۱]»

---

[۱] (د بيهقي سنن)

تفضيل او غوراوی د غوره وګړي د پېژندنې لپاره دی او د هغه چا پېژندنه يو اړين چار دی، چې د حساسو منصبونو د نيونې وړتيا لري.

### د اصحابو طبقات

دا بربنډه ده، چې اصحاب له شرعي، عقلي او واقعي پلوه په يوه درجه کې نه وو ځينې يې صادق او رښتين وو، چې دوی هم په خپل رښتيتوب کې پوړۍ درلودې. ځينې اصحاب له جسمي پلوه غښتلي وو، چې دوی هم په خپل غښتلتوب کې درجې درلودې. يوه ډله يې کمزورې وه، چې دوی هم په خپلې کمزورۍ کې درجې درلودې. يو شمېر اصحاب منافقين وو، چې دوی هم په نفاق کې په يوه درجه کې نه وو. د پېغمبر صلی الله عليه و آله وينا ته ځير شئ، چاچې په مدينه کې د منافقينو د مشر عبدالله بن ابی د وژنې غوښتنه وکړه نو په ځواب کې يې ورته وويل: «پر ځان مې قسم، چې تر هغې مو په منځ کې وي، مصاحبت او ملګرتوب يې ښه بولم[1]» نو د دې نص او د اهل سنتو د کچو له مخې د منافقانو مشر؛ عبدالله بن ابی، يو صحابي دی.

که د اهل سنتو نظريه ومنو؛ نو ژوند او فکر دواړه له خوځښته غورځي او فکري پر ټپه ولاړ حالت به رادبره شي، سره له دې چې اهل سنت يوه خوله دي يا يې دا يو خوله توب خپور کړی، چې ګرد اصحاب عادلين دي؛ خو په عين حال کې اعتراف کوي، چې دا عموميت غير واقعي او غير منطقي دي او د شرع له منظور سره په ټکر کې دی او ښايي دوی چې اصحاب پر څو طبقو او پوړيو ويشلي دي، پر دې اعتراف يې يو ستر ګواه وي؛ ځکه په يوې ځانګړې طبقې کې د يو اصحابي شتون په سياسي او حقوقي برخو کې يې شرعي دندې ټاکي او دا يوه اجتهادي مساله نه ده؛ ځکه سپېڅلې شرع په قرآن او سنتو کې د دې پوړيو يا طبقاتو ځانګړنې ښوولې دي؛ نو ځکه «ابن سعد» اصحابو ته پر پينځو پوړيو يا طبقو قايل دی او حاکم په خپل مستدرک کې پر دولسو پوړيو يا طبقو ويشلي دي.

### د حاکم په مستدرک کې د اصحابو طبقات يا پوړۍ

لومړۍ پوړۍ يا طبقه: هغوی چې تر هجرت وړاندې په مکه کې مسلمانان شوي لکه راشدين خلفا.

---

[1] ابن سعد، طبقات: ١٦ ٦٥ مخ

دويمه پوړۍ: د دارالندوه اصحاب[1].
درېيمه پوړۍ: هغوی چې حبشې ته مهاجرت کړی.
څلورمه پوړۍ: د لومړۍ عقبې اصحاب[2]
پينځمه پوړۍ: د دويمې عقبې اصحاب[3]
شپږمه پوړۍ: د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله تر هجرت وروسته، لومړني مهاجرين چې په مدينه کې ورسره يوځای شول.
اومه پوړۍ: بدريان
اتمه پوړۍ: هغوی چې د بدر غزا او د حديبيې د سولې ترمنځ يې مدينې ته هجرت کړی دی
نهمه پوړۍ: د بيعت رضوان وګړي[4]
لسمه پوړۍ: هغوی چې د حديبيې د سولې او د مکې د سوبې ترمنځ مدينې ته هجرت کړی لکه خالد بن وليد او عمرو بن العاص
يولسمه پوړۍ: ازاد شوي؛ يعنې هغوی چې د مکې د سوبې پر ورځ مسلمانان شوي، لکه ابوسفيان او جناب امير معاويه.
دولسمه پوړۍ: هغو کوچنيانو او ماشومانو چې د مکې د سوبې پر ورځ جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله ليدلی دی.
لومړنۍ مسلمانه حضرت خديجه (رض) او وروسته ترې علي کرم الله وجهه دی.
جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله د دوشنبې پر ورځ په رسالت راولېږل شو او علي کرم الله وجهه د سې شنبې پر ورځ اسلام راوړ، وروسته ترې زيد بن حارثه (رض) او ورپسې ابوبکر (رض) مسلمان شو.[5]

---

[1] قصی بن کلاب بن مرة چې د مکې والي و، نو يو ځای جوړ کړ، چې خلکو پکې مشورې او جرګې کولې، چې دار الندوه يادېږي.
[2] د مکې او منی ترمنځ يو ځای دی، هلته يو جومات دی او شيطان پکې ايشتل کېږي. د بعثت پر يولسم کال دلته له رسول اکرم (ص) سره د اوس د ټبر شپږ تنه مخ شول او له حضرت سره يې بيعت وکړ، دا په اسلام کې لومړی بيعت و، بل کال د بيعت کوونکيو شمېر اويا تنو ته ورسېد، چې په دويم بيعت مشهور دی.
[3] د مکې او منی ترمنځ يو ځای دی، هلته يو جومات دی او شيطان پکې ايشتل کېږي. د بعثت پر يولسم کال دلته له رسول اکرم (ص) سره د اوس د ټبر شپږ تنه مخ شول او له حضرت سره يې بيعت وکړ، دا په اسلام کې لومړی بيعت و، بل کال د بيعت کوونکيو شمېر اويا تنو ته ورسېد، چې په دويم بيعت مشهور دی.
[4] ځينو اصحابو په حديبيه کې تر يوې ونې لاندې له رسول الله (ص) سره بيعت وکړ.
[5] سيوطي، تاريخ الخلفا، ۲۷۷ مخ

د بني ساعدو د څپرګي په غونډه کې انصارو ته د مهاجرینو استدلال دا و، چې مهاجرین لومړني وګړي دي، چې د ځمکې پر مخ یې خدای لمانځلی دی (په ایمان کې ړومبیتوب) او د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله کورنۍ او خپلوان دي او تر هغه وروسته خلافت ته تر ټولو وړ دي او چې څوک د خلافت په اړه ورسره شخړه وکړي نو ظالم دی او هم عربان دا نه مني، چې خلافت دې د انصارو شي، حال دا چې پیغمبر یې بې له انصارو څنې دی. هغوی غواړي، چې خلافت پر هماغه ټبر کې وي، چې نبوت پکې و.
د عمر (رض) خبرې ته ځیر شئ چې یې وویل: څوک په خلافت او د محمد په میراث کې راسره شخړه کوي حال دا چې موږ یې کورنۍ او خپلوان یو. دا وینا کټ مټ د شرعي «تفاضل» منل دي او په پایله کې له بیخه د ګردو اصحابو د عدالت نظریه ردوي.
انصارو دا پیاوړی استدلال ومانه او و یې ویل: چې داسې ده؛ نو موږ یوازې له علي کرم الله وجهه سره بیعت کوو[1].
که د غوراوي قانون د یوې وسیلې په توګه د امت په اړینو چارو کې د ښه پوه، ښه غوره او وړ شخصیت د کارونې لپاره نه وای؛ نو شونې نه وه، چې دې پایلو ته ورسوو، او د غوراوی (تفاضل) نظام د طبیعت له مخې د «ټولو اصحابو عدالت» له وینا سره په ټکر دی؛ ځکه که دا خبره سمه وي؛ بیا خو د تفاضل نظام شتون ته څه اړتیا نه وه، او نه د دې لارې وهل لازم و؛ ځکه ټول اصحاب یو له بل سره مساوي او یو رنګ دي.

[1] طبري تاریخ: ۱۷\۱۹۸ مخ. ابن قتیبه، الامامة و السیاسیه: ۱۲\۳۲۶ مخ.

# په اسلام کې د شوراوي نظام

د اختلافاتو او ځانمنې واکمنۍ د مخنيوي او زورور ته په ټيټه کتو (چې ځان پر اسلامي امت وتپي) اسلام په څرګنده د شوراي نظام پنځه بنسټيز ارکان ښوولي چې د فضيلت او عدالت لارې په نښه شي او د خير ښېګڼو د مرتبو لپاره يو پوله وي. دا پنځګوني ارکان د يو مسلمان وګړي موقعيت څرګندوي او د ارزښت ونډه يې ټاکي. په ټول کې دا ارکان د وګړيو په مراتبو او کراماتو پورې اړوند د هر پوښتنې شرعي ځواب دی او په پای کې دا ټولګه په هر څار کې د اعلم، افضل او خورا وړ د پېژندنې يوازېنۍ لار ده.
که داسې وي چې بې استثنا ټول اصحابان عادل وي او ترمنځ يې توپير نه وي؛ نو په اسلام کې د شوراوي نظام د رادبره کولو انګيزه څه ده؟ او د حدودو تشريع او د احکامو وضع څه انګېزه درلوده؟

## د شوراي ارکان

د الهي عقيدې د احکامو له تحليل څخه څرګندېږي چې شوراوی پنځه رکنه لري، چې د شرعي کچو په حکم دي:
لومړی او مهم رکن: د پېغمبر صلی الله عليه و آله سپېڅلي خپلوان؛ دوی ته تر پېغمبر وروسته د شرعي پرېکوني نص له مخې د اسلامي ټولنې سياسي او ديني مشري ورتر غاړې ده. ولې يوازې همدوی؟ دا ځکه چې دا يو کرامت، عزت او ورکړه ده چې خدای يې چا ته وغواړي ورکوي يې.
ولې خدای پر محمد صلی الله عليه و آله وحې رانازل کړه او رسالت ته يې غوره کړ؟ ولې يوازې محمد صلی الله عليه و آله ولې يوازې موسی عليه السلام وټاکل شو؟ دا د خدای په لاس کې يو چار دی. د نبوي نص له مخې، د پېغمبر سپېڅلي خپلوان، د کړۍ مرکز او د ژغورنې بېړۍ ده. د لورنې ور او د هدايت ستوري دي. هغوی لومړني اسلام ته رامات شوي او خورا پرهيزګاران او پوهان دي. تر ټولو ډېر پر کړاوونو اخته شوي او دوستي يې پر ټولو فرض او واجب ده. د دې کورنۍ مشر په هر وخت کې امام او د امت مرجع ده؛ لومړی پېغمبر دی او بيا کتاب؛ لومړی لارښود او بيا هدايت دی.
خدای څه وخت کوم رسالت بې له استازي څخه رالېږلی دی؟ ايا دا شونې ده، چې د کتاب نزول دې پر کوم بنده نه وي؟ د پېغمبر اهل بيت يې د ولايت مقام او مرکز دی. ډېر ژر به دا مطلب په خپل ځای کې جوت کړو.

دویم رکن: په ایمان کې مخینه
دریم رکن: پرهیزګاري او تقوی
څلورم رکن: پوهه
پینځم رکن: خپلې ځیناستي ته د پیغمبر یا شرعي مشر ارزونه (چې د شرعي کچو له مخې ټاکل شوې ده)؛ هغه چې اسلامي امت په خوښې، رغبت، مینه، بې له څه زور زیاتي، بې له ټګی برګی او دسیسي ورسره بیعت وکړي.

## پردې کچو حکم

دا شرعي کچې دي چې یوازې د اسلام له متن څخه اخستل شوي او په هر چا کې د عدالت ځانګړنې راښیي. پر دې کچو ټول سره یو خوله دي او داسې یو حجت او دلیل دی چې د خلافت په تاریخي نظام کې یې یو دلیل هم سیالي کړای نه شي. د بېلګې په توګه د بني ساعده په څېرګي کې انصارو ته د ابوبکر (رض)، عمر (رض) او ابو عبیده[1] (رض) استدلال ته ورګرځو؛ انصارو ته یې وویل: چې دوی محمد ته غوره او وړ دي؛ ځکه:
۱-عرب نه غواړي، چې بې له کورنۍ یې بل څوک د خلافت ذمه وار شي.
۲-د محمد کورنۍ او ټبر یې میراث، قدرت او دولت ته یې وړ دی (او دا کچه کټ مټ خپلوي ده) او و یې ویل: (په هغه زمانه کې) د پیغمبر کورنۍ او ټبر لومړني وګړي وو، چې د ځمکې پر مخ یې د خدای عبادت وکړ (او دا کچه په ایمان او تقوی کې مخینه ده). . . .
بیا د ډالیو په ویش کې د عمر (رض) دود دی چې ډېری یې دا کچې په پام کې نیولي دي.

## پوښتنې

که ګرد اصحاب عادل وو او په عمومي توګه جنتیان دي او یو یې هم دوزخ ته نه ځي او خدای د درجې او مرتبې له مخې یو له بل سره مساوي کړي دي؛ نو د کوم لامل له مخې انصار خلافت ته و نه رسېدل او ولې یې ډېرو په خپلې خوښې غاړه کېښوده چې درې ګوني مهاجرین دې د مسلمانانو مشران شي؟ که خدای اصحاب یو له بل سره مساوي کړي وای؛ نو څنګه عادل خلیفه [حضرت عمر (رض) ] د ډالیو په ویش کې ټولو ته په یو رنګتوب او مساوات قایل نه شو، حال دا چې دوی اصحاب او ټول عادلین وو او یو تر بله یې هیڅ توپیر نه درلود؟ ولې

---

[1] احمد یعقوب، نظام سیاسي در اسلام، ۱۰۱ مخ.

یوازې پر ځینو یې شرعي حدود پلي شول؟ ایا عادل او پاک سړی چې جنت ته تلل یې تضمین شوي غلا کوي؟

تاسې (اهل سنت) د دین په احکامو کې تر لومړي او دویم خلیفه ښه نه پوهېږئ، تاسې خو یې فقه دلیل او حجت گڼئ؛ نو تاسې هر یو باید خپل ځان د دې پوښتنو ځوابونو ته چمتو کړئ.

ایا تراوسه په پټو سترگو تگ د ژغورنې وسیله وه؟ خدای خبر کړي یو، چې دا ډول لاروي خو انسان [نابودۍ او] دوزخ ته راکاږي. خدای راته د عقل نعمت راکړی، چې د اسلامي شریعت او موخو د پېژندنې لپاره یې وکارو[1].

---

[1] احمد یعقوب، نظام سیاسي در اسلام، ۱۰۱ مخ.

۳- له بېخه د دې نظريي رد

## له دوو لوريو څخه د اهل سنتو دليل رد دی

**لومړی: شهادت او شهود**

څرګنده ده، چې قرآن وحې ده او څه چې پېغمبر صلی الله علیه و آله راوړي د دې وحې بيان او شرح او له توابعو يې ده او خدای تعالی يې د تاريخ په اوږدو کې د ساتنې ضامن دی.
[خدای تعالی پخپله وايي: ]
إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ (حجر/۹)
نو ځکه د قرآن ساتنه په الهي ضمانت تضمين شوې ده او په اصحابو پورې تړاو نه لري؛ له همدې کبله دين خوندي او پايدار دی او شهود ته اړتيا نه لري او خدای يې پخپله شاهد او د پايدارۍ ضامن دی. وروسته تر دې چې دين د خدای له لوري بشپړ شو او «نعمت» تمام شو؛ نو جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله رحلت وکړ؛ نو ځکه پخپله پېغمبر صلی الله علیه و آله پر مسلمانانو شاهد او ګواه و او مسلمانان په هرې زمانې کې پر خلکو ګواهان دي او دا چې قرآن د خدای له لوري نازل شوی دی، هيڅوک (چې هر څوک وي) پرې څه ورزياتولای او يا ترې کمولای نه شي، يا يکې څه ادلون بدلون راولي؛ ځکه ترتيب او جوړښت يې الهي دی. او چې پر پېغمبر صلی الله علیه و آله به يوه ټولګه آيتونه نازلېدل؛ نو د خدای په امر به په ځانګړې ځای کې ايښودل کېدل، داسې چې د آنحضرت تر وفات وروسته، قرآن پوره ليکل شوی او همدغسې تنظيم شوی و، (لکه د ځينو ورونو په ګومان) بلکې کښل شوی، منظم او په ترتيب و. نو ځکه د ټولو اصحابو عادل والی يې پر ساتنې او پايدارۍ څه نه ورزياتوي او د ځينو اصحابو پر عدالت قايلېدل يې هم ثبات او پايدارۍ ته کوم زيان رسولای نه شي.
که وغواړي چې د ټولو اصحابو د عدالت د جوتو لپاره له قرآن او ساتنې يې ګټنه وکړي؛ نو په دې چار څه مخونه ورکولای نه شي؛ ځکه د قرآن ساتنه يوه الهي لورنه ده او محمد صلی الله علیه و آله، آل او رښتونو اصحابو ته يې وياړ دی چې پر حضرت راټول شوي دي او که د پېغمبر ټبر، د قريشو مشرانو ته ورتسليم کړی وای؛ نو ښکاره ده، چې حضرت د نورو پېغمبرانو په څېر وژل کېده او د پېغمبر خپلوان، بني هاشم د محاصرې په ترڅ کې په رنځ او کړاو کې نه راګېرېدل.
او دلته پوښتو: هغه مهال چې بني هاشم د ابی طالب په دره کې محاصره شول او له سختې لوږې څخه يې د ونو پاڼې او واښه خوړل او کوچنيانو يې له سختې تندې شګې څټلې؛ نو

اصحاب چېرې وه؟ ایا د بشر عدالت یا الهي عدالت دا مني چې محاصره شوي له محاصره کوونکی سره برابر او مساوي وي؟
مَا لَکُمْ کَیْفَ تَحْکُمُونَ (صافات/۱۵۴)
مَا لَکُمْ کَیْفَ تَحْکُمُونَ (قلم/۳٦)
**دویم:**
دا چې وايي: د اصحابو سپکوونکي کافر او بې دینه دي، چې دا خبره له بېلابېلو لوریو سمه نه ده؛ ځکه د اسلام دین (چې وروستی آسماني دین او تر ټولو ادیانو بشپړ دی) داسې تشریع شوی چې هر څوک یې د خپلې وسې او پوهېدنې (فهم) له مخې درک کولای شي او هغه غوره پوهېدنه او درک دی چې د شرع له غوښتنې او موخو سره یې اړخ لګولی وي او داسې وي چې پوهېدنه او درک یې کټ مټ د خدای اراده وي؛ خو دا چار نه یوازې دا چې خورا ستونزمن دی؛ بلکې یو تخصصي او کارپوهیز چار دی، که نه له کتابونو سره د پېغمبرانو د رالېږلو او هدایت ته د لارښوونکیو لپاره څه انګېزه نه وه او اصولاً د الهي مشرانو له شتون موخه څه وه؟ او په دې بنه کې اسلام یو څیز دی او زموږ د خپل فرهنګ له مخې پوهېدنه او درک ترې یو بل څیز دی.
د نظر اختلاف او د پوهېدنې او درک توپیر، څه کفر او بې دیني نه ده. په خپله اصحابو کې داسې کسان وو، چې په پېغمبر کې به یې خوګانې لټولې او د حضرت پر عدالت یې نیوکې کولې. د «ابن الخویصره» خبرو ته پام وکړئ [چې د ولجو د ویش پر مهال یې] حضرت ته وویل: «محمده! منصف (عادل) وسه، په دې ویش کې دې د خدای رضا په پام کې و نه نیوه» خو جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ورته دا ونه ویل، چې ته کافر او بې دینه یې، یا منافق یې، یوازې یې ورته وویل: «پر تا افسوس، که زه منصف (عادل) نه وسم؛ نو څوک عادل دی؟»[1]
ایا صحابي کېدنه تر نبوت پورته یوه مرتبه ده؟
دا چې د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله په څېر یو تن وايي: زه بشر یم او جایز الخطا؛ نو څنګه عدالت غځوئ او ټول اصحاب عادل ګڼئ او چې څوک په دې اړه درسره بحث کوي؛ نو زندیق او کافر یې ګڼئ؟

[1] صحیح بخاري۴: ۲۰۰ مخ. کنزالعمال ۱۱: ۲۰۲ مخ.

# د اهل سنتو د دلیل نیمګړتیا

د اهل سنتو اجماع، یا یې پر اجماع تظاهر او ځان ښوونه، پر دې ولاړه ده چې پېغمبر حق دی او قرآن هم حق دی او څه چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله خلکو ته راوړي، موږ ته د اصحابو له لارې رارسېدلي دي؛ نو ځکه اصحاب د دې ټولو مسایلو ګواهان دي او هغوی چې اصحاب توهین او سپکوي (چې هر څوک وي) موخه یې دا ده، چې زموږ شهود له ډګره وباسي، کتاب او سنت بې ارزښته او باطل کړي؛ نو ځکه کافران دي[1].

**ځغلنده کتنه**

**لومړی: (د بحث) ګېوډول**

ټول مسلمانان؛ سني او شیعه یوه خوله دي، چې پېغمبر، قرآن او کوم احکام یې چې راوړي حق دي، ټول مسلمانان اسلام ته یو ډول منسوب دي او ټولو یې پېټی پر اوږو کړی دی. دین هم له دوو ارکانو څخه جوړ شوی دی، چې مسلمانان پرې یوه خوله دي او دا دي:

۱-پېغمبر او د حضرت ویناوې، کړنې او تاییدات؛

۲-د خدای کتاب؛ قرآن.

او یوازینې اختلاف، د دین د موخې په پیدا کېدو دی؛ نو ځکه نه ښایي چې لید لوري له دین سره ګډې شي. نو ځکه دین هماغه زنې یا مرکزي هسته ده، چې زموږ لید لوري ورباندې څرخي او تل دا ادلون بدلون او خوځېدو په حال کې دي؛ نو له همدې لامله، دین یو څیز دی او زموږ پوهېدنې ترې بل څیز دی او د وګړیو او ډلو ترمنځ دا لید لوري توپیر لري، ځکه د دوی علمي درجه، د پوهېدو ځواک، درک او له ځانمنۍ او هوا وهوس له ډډې کولو وس یې سره توپیر لري.

که خلکو ته له الهي نص څخه یو ډول اخېسته او پوهېدنه ګټوره وای؛ نو خدای پخپله دا چار پر خپله پر خلکو تپه او له آره اجماع او پوهېدو ته کومه انګېزه نه وه. دا چې موږ له یو ټاکلي نص څخه په یو څه پوهېږو او بل ترې زموږ د پوهېدنې په څېر یوهېدنه نه لري او هر یو مدعي وي، چې پوهېدنه یې سمه ده او د شرع مطلب همدا دی؛ نو په دې بڼه کې ورباندې لازم دي چې دا مطلب دوه درې ځل په ځیر وځېړي، چې د پوهېدو یو ګډ ټکي ته ورسي؛ ځکه یو شرعي نص یو منظور لري، چې هماغه د خدای اراده او غوښتنه ده او که بې له دې نور څه

[1] الاصابة فی تمییز الصحابه: ۱۰۱۱، ۱۷ او ۱۸ مخونه.

ووايو؛ نو درز او اختلاف مو پر رسميت پېژندلی دی او هره ډله به په خپلو مقاصدو پسې ځي او حال دا چې د اسلامي امت مصلحت په يووالي کې دی نه په اختلاف کې.
که چارې مو يوازې د خدای د رضا لپاره وي او شخصي ګټې په پام کې نه وي، څه توپير لري، چې د چا ليد لوری سم وي، مصلحت په دې کې دی، چې د خدای تعالي واقعي منظور تر لاسه او عمل پرې وکړو. نو دا سمه نه ده چې خپلې پوهېدنې له دين سره ګډې کړو او بيا ووايو: دا پوهېدنه، هماغه د دين اصلي مطلب دي او هغوی چې زموږ رايه ونه منله يا يې خوښه نه کړه جزا ورته وټاکو او د لاروی له پولي واوړو او د قانون ايښوونې تر حده ورسوو، چې يوازې په خدای تعالی پورې ځانګړی دی، او د کفر فتوا ورکړو او ووايو، څوک چې اصحاب توهينوي، ورسره همسفر کېږئ مه، پر جنازه يې لمونځ مه کوئ؛ چې دا ډول ويناوې دين نه مني او د منلو نه دي. دا بې له نص څخه سزا او بې اجازې د نورو په چارو کې لاسوهنه ده او له بيخه بې ارزښته او باطله ده.

**دويم: پر ياد پاتې کېدونکې خبرې**

۱-اسلام يوه اصطلاح ده، چې ټاکلې مانا لري او دوه بنسټيز ارکان لري:
(الف) پېغمبر؛ ويناوې، کړنې او تاييدات يې
(ب) له نظري او عملي پلوه قرآن کريم؛ خو يوه بشپړه حقوقي ټولګه ده چې خدای تعالی پر خپل پيغمبر صلی الله عليه و آله نازله کړې ده او حضرت خلکو ته ويلې ده.
«اسلام» يو الهي دين دی، چې خلکو ته تشريع شوی او ټاکلې او خپلواکه مانا لري.
۲-عزتمنو اصحابو، چې له دې دين څخه لاروي کړې او د بلنې او واکمنی په اړخونو کې يې د پېغمبر صلی الله عليه و آله پلوي کړې؛ نو دوی يوازې د اسلام د دين لارويان دي؛ نه دا چې پخپله دين او يا د دين برخه وي.
۳-مسلمانان هغوی دي، چې د اسلام د دين لارويان دي او ايمان يې پرې راوړی؛ خو دوی پخپله اسلام نه دي؛ بلکې لارويان يې دي او څرګنده ده چې د عقيدې او دهغې د لارويانو، د قانون او خلکو ترمنځ او د قاضي او مراجعينو ترمنځ يې زيات توپير شته.

**درېيم: چتر حمايت**

مخکې مو وويل چې د اسلام او مسلمانانو مصلحت په دې عملي کېږي، چې د شرعې په مقصد وپوهېږو، چې هماغه د خدای مطلب دی او غوښتی يې دی او پر دې مطلب پسې لټه، کار پوهی او ځانګړي استعدادونو ته اړتيا لري او پر هغه مطلب پوهېدل او خبرېدل د ټولو

موخه ده؛ خو ځيني خلک ځان تر خپلې وړتيا پورته بولي او انګېري چې دا مقام يې حق دی، بيا د خوښې يا زور او ډار اچونې له لارې هڅه کوي، چې دا اجتهاد او نظر پر خلکو وتپي او پر شرعي حقيقت د پوهېدو مخه ډب کوي او اعلانوي چې نظر يې کټ مټ حقيقت او دين دی او چې څوک ورسره مخالفت وکړي؛ نو زنديق او کافر دی.

حق يې نه درلود، چې دغسې ادعا وکړي؛ ځکه هغوی يو څه او اسلام او دين بل څه دي او له رای او اجتهاد سره يې مخالفت له دين سره مخالفت نه دی. نو له يوه روايت څخه په بېلابېلو پوهېدو کې زما او ستا ترمنځ اختلاف، د دې لامل نه ګرځي، چې تا کافر او ما سپيځلې مرجع کړي؛ ځکه دا يوه بې اجازې امتياز ورکونه او بې دليله غندنه ده او د دې امت برلاسو ته چوپړتيا ده او دې اختلافاتو ته لمن وهل دي، چې دا زنديق دی، هغه رافضي دی، دا شيعه دی، هغه سني دی، دا جعفري دی، هغه حنفي دی دا کافر دی او هغه زنديق.

پاک فطرت له دې ډول کليمو کرکجن دی او ان کتابيان يې هم له ويلو ډډه کوي. دا ډول خبرې له تنګ نظرۍ راولاړې شوي، چې د اسلامي وروری له اصولو او د اسلام له ټوليز روح سره په ټکر کې دي او خدای پوهېږي چه تعصب څومره زيانمن او کرکه راپاروونکی دی.

ذهبي د «ډاډمنو راويانو» په رساله کې کښلي: ابوعمرو بن عبدالبر وايي: له محمد بن وضاح روايت شوی چې و يې ويل له يحيى بن معين (چې د جرح او تعديل له سترو مشرانو ځنې دی، چې د رجالو په باب يې خبره حجت او دليل دی) څخه مې د شافعي په اړه وپوښتل، و يې ويل: ډاډمن نه دی؛ خو ابوحاتم او نسايي، جعفر بن محمد الصادق ډاډمن ګڼلی؛ خو بخاري په خپلو اسنادو کې راوړی نه دی. (په دې باب د اراء المسلمين فی التقية کتاب ولولئ) وينئ چې يحيى بن معين چې په اصطلاح ستر او مشهور سړی دی، انګېري چې شافعي ډاډمن نه دی او هم بخاري، امام جعفر صادق په خپلو اسنادو کې راوړی نه دی او په علمي درجه کې يې تر دې خورا ټيټ وګڼي په خپلو اسنادو کې راوړي حال دا چې امام صادق د پېغمبر د اهل بيتو د مذهب رئيس او د څلورګونو مذاهبو د رئيسانو ښوونکی او استاد وه. امام صادق يو حکيم عالم و، چې په ښوونځي کې يې څلورو زرو تنو فقهاوو او حديثپوهانو زده کوونکي وو او تر دې خورا مهم، چې د شيعه و شپږم امام دی [چې نسب يې دا دی] جعفر بن محمد بن زين العابدين بن حسين، بن علي بن ابی طالب.

امام صادق د داسې اوچت نسب په درلودو د بخاري په سند کې ځای نه لري او بخاري په خپلو اسنادو کې راوړی نه دی او د اعتماد او ډاډ وړ يې نه دی؟ سره له دې چې د اهل سنتو د نظر له مخې، اهل بيت په اصحابو کې شمېرل کيږی او اصحاب هم ټول عادل دي خو په عين حال کې بخاري د اهل بيتو له رواياتو ډډه کړې ده.

# د اصحابو د عدالت د نظريي رد

اهل سنت پر دې عقيده دي (چې بې استثنا) ټول اصحاب عادل دي، لکه چې وروسته به يې ثابته کړو، دا نظريه زور ورو او برياليو سياست پوهانو د يو ځانگړي منظور لپاره رامنځ ته کړې، [او په ځانگړي چل ول يې] ساده خلکو ته داسې ور پر ذهن کړې، چې دا نظريه د اسلام د دين يوه نه بېلېدونکي برخه ده او چې څوک يې په اړه شکمن شي او يا يې تر پوښتنې گروېگنې لاندې ونيسي؛ نو زنديق گڼل کېږي. د حقيقت له مخې له پېغمبر صلى الله عليه و آله سره مصاحبت او ملگرتوب يو ستر شرف او لوړه رتبه ده او د اصحابو د لغوي او اصطلاحي مانا له مخې (چې ټول اهل سنت يې مني) د جناب نبي مکرم صلى الله عليه و آله د زمانې ټول مسلمانان پکې رانغاړل کېږي؛ په دې مانا هغوی چې د جناب نبي کريم صلى الله عليه و آله په واکمنۍ کې ژوند کاوه اصحاب وو؛ ځکه له مصاحبت څخه مطلب درې څيزونه دي:
۱-له پېغمبر صلى الله عليه و آله سره ليده کاته.
۲-پر پېغمبر صلى الله عليه و آله رښتونی ايمان.
۳-په پورته حالاتو کې مړينه.
واقعي مؤمنان او منافقين (چې ايمان يې په زړه کې ننووتی نه و او په ظاهر يې ځان مسلمان ښوده) په يوه درجه کې نه وه، چې وويل شي ټول عادل وو؛ بلکې په منځ کې يې داسې وگړي وو، چې په ريا او ځان ښوونې يې ځانونه مسلمانان ښوول؛ خو په باطن او دننه کې يې کفر او سرغړونې ځای نيولی و. دوی د منافقينو ډله وه، چې د حضرت رسول پر ژوندونې او تر وفات وروسته يې شتون درلود؛ قرآن کريم ويلي، چې دوی پر خپل نفاق ټينگار درلود، خيانت يې کړی، ژمنه يې ماته کړې، احاديث يې جوړ کړي، فتنې راولاړې کړي، پېغمبر صلى الله عليه و آله يې ځورولی او واقعيات يې اپوټه او سرچپه ښوولي دي.
د اسلام بيرغ ورځ تر ورځې رپېده، تر دې چې د جناب نبي کريم صلى الله عليه و آله برکتي واکمنۍ ټول جزيرة العرب راونغاړه او عظمت يې ټولو ته څرگند شو او وروسته تر دې چې خدای دين بشپړ او نعمت يې تمام کړ، پېغمبر وفات شو؛ خو منافقين هماغسې پر خپل حال وو. مسلمانان د ايمان او سرښندنې له پلوه په يوه درجه کې نه و.
د هک اريانۍ ځای دی چې!
څرنگه بې سرېزې او يا په سياسي سريزې يو دم هر مسلمان تن عادل شو؛ په دې دليل چې اصحاب دي او د خدای رسول هغوی ليدلي دي يا يې حضرت ليدلی دی، ايمان يې پرې راوړی او يا يې په ريا ايمان پرې ښوولی دی او په دې حال مړ شوي دي. دا نظريه د (ازاد

کړای شویو د زماني یعني) اموي خلفاوو په عصر کې رامنځته شو او مخکې تر دې چې اصحاب (د تېرې اصطلاح له مخې) له نړۍ ولاړ او د چارو پای یې څرګندې شي رادبره شو. یعنې مخکې تر دې چې له ښه پای او عاقبت څخه یې خبر شي، عادلین یې وګڼل.

**دا نظریه له بېخه باطله ده**

**د بطلان دلایل یې**

۱-دا نظریه د قرآن له آیتونو سره په ټکر کې ده.

۲-دا عقیده له نبوي سنتو (وینا، کړنو او تاییداتو په اړخونو کې) سره اړخ نه لګوي.

۳-د چارو واقعیت دا نظریه نه مني.

۴-دا نظریه د اسلام له ټولیز روح، له ښه عاقبت او د ژوند له موخې سره په ټکر کې ده.

د دې دلایلو توضیح

الف- له قرآني نصوصو سره یې اړخ نه لګول:

**نفاق**

د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله په زمانه کې نفاق پراختیا و موندده او منافقین د یو واقعي قدرت په توګه رامنځ ته شول، چې حساب پرې کېده.

منافقین یوه ډله وه، چې په ظاهره یې ایمان راوړی و؛ خو په ټګۍ او ټوکو یې شهادتین وایه او د مسلمانانو خبرې یې کارولې.

خدای تعالی وایي:

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ (بقره/۸)

ظاهري چلن یې د مسلمانانو په څېر و او هڅه یې کوله چې پېغمبر صلی الله علیه و آله او مؤمنانو ته وښیي چې مؤمنین دي.

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَى شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ (بقره/۱۴)

منافقینو یوازې خبرې نه کولې؛ بلکې کړنې هم درلودې، لکه لمونځ یې کاوه، نفقه یې ورکوله؛ خو په یوه پلمه به جهاد ته نه تلل او په خوله به یې د ایمانداری ادعا تکراروله او ویل یې: «موږ مؤمنان یو»؛ خو د انسان کړه وړه، د هغه دننه او باطن ژر یا وروسته راڅرګندوي؛ خو د نیتونو حساب له خدای سره دی.

جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله د وګړیو ظاهر او کړو وړو ته یې اهمیت ورکاوه او د هغوی له باطنو سره یې څه کار نه درلود او هغه یې خدای ته پرېښود؛ حضرت یو پاک صاف، مهربان د ښو خویونو خاوند او د بشپړ انسان یوه بېلګه وه؛ خو دا چې منافقین له خپلې پولې واوړېدل [او لږ لږ یې خپل منافقت رابرسېره کړ]؛ نو قرآن مجید د آیتونو په رالېږلو د هغوی دننه رابرسېره او رسوا یې کړل، چې له دې څنې لاندې آیتونه دي:

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ (بقره/۸)؛ څینې خلك وايي: ((پر الله او د آخرت پر ورځې مو ایمان راوړی))؛ خو دوی مؤمنان نه دي.

يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ (بقره/۹)؛ له الله او مؤمنانو سره یې ټګي راخستې؛ خو (په حسي درک) نه ورڅېرېږي (چې له الله او مؤمنانو سره ټګي نه)؛ بلکې له ځانونو سره ټګي کوي.

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَى شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ (بقره/۱۴)

إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَى مُدَّتِهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ (توبه/۴)؛ خو بې له هغو مشرکانو، چې تړون یې درسره کړی او د هېڅ شي کمی یې درسره نه دی کړی (خپلې ژمنې یې پوره کړې) او نه یې ستاسې پر ضد د چا ملاتړ کړی؛ نو تاسې (هم) د تړون د مودې تر پوره کېدو وفا ورسره وکړئ؛ څکه الله متقیان خوښوي.

وَمَا مَنَعَهُمْ أَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَى وَلَا يُنْفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ (توبه/۵۴)؛ او د دوی د خیراتونو او لګښتونو د نه منل کېدو یوازېنی لامل دادی، چې دوی پر الله او استازي یې کافران شول او زړه ماتي نمانځه ته راځي او (د الله په لار کې) په ناخوښۍ خیرات ورکوي.

لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ (توبه/۴۷)؛ که (جهاد ته) درسره وتلي وای؛ نو بې له شرارته به یې څه نه وو ورزیات کړي او ستاسې ترمنځ یې فتنې اچولو (او درز او نفاق پیدا کولو) ته لمن وهله او په تاسې کې د دوی څري هم شته او الله ظالمان ښه پېژني.

وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ وَمَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ (توبه/۵۶)؛ او دوی پر الله قسمونه خوري، چې درسره یو؛ خو درسره نه دي؛ بلکې ډارنه ډله ده (چې د خپلو خوالو د را برسېرېدو له وېرې دروغ وایي).

وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ ائْذَنْ لِي وَلَا تَفْتِنِّي أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ (توبه/۴۹)؛ او ځینې یې وايي: ((اجازه راکړه (چې په جهاد کې برخه وانخلم) او په (ګناه او) فتنه کې مې مه غورځوه!)) پوه شئ! چې دوی (همدا اوس) په [ګناه او] فتنه کې لوېدلي او بېشکه دوزخ کافران رانغاړلي دي.

**پرېکنده الهي فرمان**

خدای تعالی چې مسلمانانو ته د منافقینو حقیقت او واقعیت رابربنډ کړ او باطن یې ورته راوسپړه؛ نو بیا یې د هغوی د جنایاتو په اندول (چې پر خلکو او خدای یې دروغ تپل) عادلانه او پرېکنده فرمان صادر کړ او پېغمبر ځان مؤظف کړ، چې د دې الهي فرمان مضمون او د صدور دلایل او علت یې ورته اعلان کړي.
قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَنْ يُتَقَبَّلَ مِنْكُمْ إِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ (توبه/۵۳) ؛ وواېه: ((که په خوښه څه ولګوئ که په ناخوښه؛ نو هېڅکله درځنې نه قبلېږي (؛ ځکه) چې تاسې سرغړانده ډله واست.))
ولې داسې وشو؟ او ولې یې په اړه دغسې پرېکنده حکم نازل شو؟ دا ځکه چې منافقانو له خدای او مؤمنانو سره ټګي برګي کوله او د ایمان ادعا یې یوازې دروغ او ټوکې وې او د ایمان له ادعا سره سره پر خدای او استازي یې کافر وو.
پیغمبر، الهي فرمان او د صدور علت یې خلکو ته څرګند کړ او حقیقت یې ټولو خلکو ته روښانه کړ؛ خو حضرت د بېساري خوی له امله د ښښنې دعا ورته کوله او له خدایه یې هدایت ورته غوښته خو د خدای څرګند ځواب ورته راغی چې:
قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَنْ يُتَقَبَّلَ مِنْكُمْ إِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ (توبه/۸) ؛ څنګه ترون وي، چې که درباندې لاسبري شي؛ نو نه مو د خپلوۍ پار ساتي او نه د ژمنې؟ (تش) په خوله مو خوشحالوي؛ خو زړونه یې (پر ژمنې درېدل) نه مني او ډېری یې سرغړاند دي.

## له قرآن کریم سره د صحابه وو د عدالت د نظریې ټکر

لومړی مثال:
خدای وايي:

وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ (توبه/۷۵) ؛ او ځینو يې له الله سره ژمنه وکړه: ((که له خپلې لورنې څه ورکړي؛ نو هرومرو به صدقې او زکات ورکوو او له صالحانو (او شاکرانو) به شو.))

فَلَمَّا آتَاهُمْ مِنْ فَضْلِهِ بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوْا وَهُمْ مُعْرِضُونَ (توبه/۷۶) ؛ خو چې الله په خپل فضل شتمن کړل؛ نو کنجوسي يې وکړه او له خپلې ژمنې يې پوره مخ واړاوه.

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ (۷۷) ؛ نو په پایله کې له الله سره د ژمنماتۍ او دروا‌غجنۍ له لامله، الله د مخامخېدو تر ورځې پر زړونو يې د نفاق (داغ) کېښنود.

دا آیت د ثعلبه صحابي په باب نازل شوی، چې بې وزلی و او له جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله يې وغوښتل چې د شتمن کېدو دعا ورته وکړي، جناب نبي مکرم ورته وویل: ثعلبه! افسوس دربانديې، تر ډېر نعمته چې شکر يې پوره کولی نه شې، لږ نعمت ښه دی چې شکر يې پوره کولی شې.

ثعلبه وویل: پر هغه خدای قسم چې ته يې په حق رالېږلی يې، که د شتمنېدو دعا راته وکړې؛ نو د حق خاوند ته به يې حق ورکړم. د پیغمبر په دعا، خدای ورته ډېره شتمني ورکړه او چې بیا جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ترې زکات وغوښت؛ نو ثعلبه يې له ورکړې ډډه وکړه او زکات يې باج اخستنه (جزیه) وبلله.

جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله وفات شو او ثعلبه ژوندی و، زکات يې د وخت خلیفه حضرت ابوبکر ته ولېږه؛ خو حضرت ابوبکر وانه خست او د حضرت عمر د خلافت پر مهال يې، عمر (رض) ته ولېږه او هغه هم وانخست تر دې چې د درېیم خلیفه عثمان (رض) په زمانه کې هلاک شو[1].

## دویم مثال:

خدای تعالی وايي:

أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسْتَوُونَ (سجده/۱۸) ؛ ایا مؤمن د سرغړاند په څېر دی؟(هېڅکله) برابر نه دي.

[1] شوکاني، فتح القدیر ۲: ۱۸۵ مخ. ابن کثیر دمشقي، تفسیر ۲: ۳۷۳ مخ. بغدادي، خازن تفسیر ۲: ۱۲۵ مخ. حسن بن مسعود، لغوي تفسیر ۲: ۱۲۵. طبري، تفسیر: ۱۳۱\۶ مخ.

أَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ جَنَّاتُ الْمَأْوَى نُزُلًا بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (سجده/١٩) ؛ هغوی چې ايمان راوړی او (ښې) چارې يې کړې دي (جنتي) باغونه يې هستوګنځی دی، چې د مخکېنيو کړنو له لامله (ور) وړاندې کېږي.

وَأَمَّا الَّذِينَ فَسَقُوا فَمَأْوَاهُمُ النَّارُ كُلَّمَا أَرَادُوا أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ (سجده/٢٠) ؛ خو د سرغړاندو هستوګنځی اور دی او هر ځل چې وتل ترې غواړي، ورستنول کېږي، ورته ويل کېږي: ((د هغه اور عذاب وڅکئ، چې ترې منکر وئ!))

له مؤمن څخه مراد، علي بن ابی طالب او له فاسق څخه مراد وليد بن عقبه دی[1] چې د درېيم خليفه په زمانه کې د کوفې والي و او د جناب امير معاويه او زوی يې يزيد په وختونو کې د مديني والي شو.

**درېيم مثال:**

خدای تعالی وايي:

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَى إِلَى الْإِسْلَامِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (صف/٧) ؛ او تر هغه لوی ظالم څوك دی او سره له دې، چې د اسلام لوري ته بلنه ورکول کېږي (؛ خو بيا هم) پر الله دروغ ورتړي؟! او الله ظالمانو ته سمه لار نه ورښيي.

دا آيت د عبدالله بن ابی سرح په شان کې نازل شوی، چې د درېيم خليفه په زمانه کې د مصر والي و او د حلبيه سيرت ليکوال وايي: هغه پر خدای دروغ وتړل او پېغمبر (ص) يې د وژنې امر وکړ، که څه هم د کعبې په پرده کې رانغاړل شوی وي.

د مکې د سوبې پر ورځ، حضرت عثمان (رض) جناب نبي مکرم ته راوست او شفاعت او «امان» يې ورته وغوښت، پېغمبر څو شېبې چوپ شو، چې ښايي يو تن يې د مخکني امر له مخې ووژني؛ خو چا دا چار ونه کړ او پېغمبر امان ورکړ[2].

---

[1] حاکم حسکاني حنفي، شواهد التزيل ١: ٤٤٥ مخ. ابن مغازلي شافعي ٣٢٤، ٣٧٠ او ٣٧١ مخونه. طبري تفسير ٢: ١٠٧ مخ. کشاف تفسير٣: ٥١٤ مخ. خوارزمي مناقب ١٩٧ مخ. ابن ابی الحديد معتزلي شافعي ۴: ٨٠ او ٢٩٢|٦ مخ.

[2] حلبيه سيرت، د مکې د سوبې باب.

**د درې ګونو مثالونو تحليل**

**۱-د دې درېيو تنو په اړه د خدای حکم**

په لومړي مثال کې: خدای د ثعلبه په دننني نفاق او دروغجنتوب حکم کړی دی.

په دويم مثال کې: خدای څرګنده کړې چې وليد بن عقبه فاسق او دوزخي دی او د تېښتې او ژغورنې لار پرې تړل شوې ده.

په درېيم مثال کې: خدای ويلي چې عبدالله بن ابی سرح پر خدای دروغ تړلي او د قرآن د اړونې هڅه يې کوله، خدای په خورا ظالمانو کې شمېرلی او خدای ظالمان بيخي سمې لارې ته نه سيخوي.

**۲-د دې درېيو تنو په باب د اهل سنتو حکم:**

دا درې تنه (ثعلبه، وليد او عبدالله) له لغوي او اصطلاحي پلوه د مصاحبت شرايط لري او په اصحابو کې ګڼل کېږي؛ او که اصحاب وي؛ نو عادلين دي او که عادلين وي؛ نو دروغجن ګڼل يې روا نه دي، هغوی پاکلمني او جنتيان دي او له دې درېيو تنو يو هم دوزخ ته نه ځي. ولې داسې نه وي، حال دا چې عبدالله بن سرح د عثمان (رض) له لوري د مصر والي او وزير يې و، او وليد بن عقبه هم د کوفې والي شو (يوه ورځ يې) د ګهيځ لمونځ څلور رکعته وکړ او (و يې ويل) که نور هم غواړئ، چې و يې کړم، دا لومړی د حضرت عثمان (رض) وزير او بيا د جناب امير معاويه له لوري د مدينې والي شو.

هو، که څوک دې درېيو تنو ته سپکاوی وکړي؛ نو زنديق او بې دينه دی او نه ښايي څوک خواړه ورسره وخوري او نه يې په لوښي اوبه وڅښي او که ومړ؛ نو جنازه يې هم ونه شي.

**۳-د تاييد وړ**

په دې دوو ځايونو کې کوم يو د تاييد وړ دی؟ د خدای کتاب او احکام يې، يا تقليد او په پټو سترګو تګ؟ و دا ده چې د ګردو اصحابو د عدالت نظريه د موضوع له پلوه باطله ده؛ ځکه له قرآني آيتونو او الهي احکامو سره په ټکر کې ده.

لومړی مثال: ذوالثدیه (د لاس پر ځای یې یوه بوټۍ غوښه درلوده) یو صحابي و، چې د ډېر عبادت له کبله خلک ورته هک اریان وو، جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ویل: «په تن کې یې شیطان د لېښې یوه نښه ده»

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله یې د وژنې لپاره ابوبکر (رض) ولېږه، ابوبکر (رض) یې چې عبادت ولید، له وژنې یې ډډه وکړه او راستو شو. بیا یې عمر (رض) ورپسې ولېږه، حضرت عمر (رض) هم (په یوه پلمه) له وژنې یې ډډه وکړه او راستون شو. بیا نو جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله دا دنده علي کرم الله وجهه ته وسپارله، علي یې په لټه کې شو، خو یې ونه موند[1] ذوالثدیه د خوارجو مشري کوله او د نهروان پر ورځ علي وواژه[2].

دویم مثال: یو شمېر اصحاب په یوه کور کې راټول شول، چې د اسلام پېغمبر ته خلکو د راماتېدو مخنیوی وکړي، په دې اړه یې سلا مشورې او برنامې جوړې کړې، جناب نبي مکرم چې له دې پېښې خبر شو، امر یې وکړ، چې هغه کور وسوځوي[3].

درېیم مثال: د قزمان بن الحارث په نامه یو تن په مېړانه د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله تر خوا جګړه کوله. یارانو یې وویل: پلانی څومره ښه دفاع رانه کوي. جناب نبي مکرم وویل: هغه دوزخي دی، چې سخت ټپي شو او پر ځمکه راولوېد، ورته یې وویل: ابا الفیداق! جنت دې مبارک شه.

ده وویل: جنت؟! د حرملو جنت!! (د یو بوټي نوم دی) پر خدای یوازې د خپل کورني حسب و نسب له مخې مې جګړه وکړه[4].

**څلورم مثال:**

حکم بن العاص، د امیة عبد شمس زوی، د حضرت عثمان بن عفان (رض) تره او د مروان بن حکم پلار دی، چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله هغه او چې څوک یې په صلب کې و [یعني مروان] ښېرا ورته وکړه او و یې ویل: پر امت مې دې له هغه افسوس وي چې په راتلونکي کې به ترې رامنځ ته شي [یعني حکم]

---

[1] الاصابه فی تمییز الصحابه ۱: ۴۳۹ مخ.
[2] سید مرتضی رضوي اراء مسلمین.
[3] ابن هشام سیرت ۲۳۵۱۳ مخ.
[4] الاصابة ۲۳۵۱۳ مخ.

[يوه ورځ] عايشې ام المؤمنين مروان ته وويل: ګواهي ورکوم چې نبي صلی الله عليه و آله ستا پلار ته ښېرا وکړه او ته يې په صلب کې وې. جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله طايف ته نژدې د مرج ښار ته وشړه او مدينې ته راننوتل يې پرې حرام کړل. د جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله تر وفات وروسته، حضرت عثمان (رض) له حضرت ابوبکر (رض) څخه مدينې ته يې د راتلو اجازه وغوښته؛ خو ابوبکر (رض) ورسره ونه منله بيا يې د عمر (رض) په خلافت کې دا غوښتنه له حضرت عمر څخه وکړه، چې ده هم ورسره ونه منله؛ خو چې پخپله حضرت عثمان (رض) خليفه شو په خورا عزت يې مدينې ته راستون کړ او يو لک درهمه يې ورکړل او زوی يې مروان خپل سلاکار وټاکه، چې ورپسې همدا مروان د حضرت عثمان (رض) د وژنې او د راشده خلافت د منځه تلو لامل شو. خلکو، مروان د باطلو د رسۍ په نامه ياداوه [او وروسته چې خليفه شو] د مسلمانانو خليفه يې ورته وايه. يو شاعر وايي:

لَحا اللّه قوماً أمّروا خَيطَ باطل على النّاسِ يُعطى مَن يشاء و يَمنَعُ

«له هغو خلکو خدای ته پناه، چې د باطلو رسۍ يې د خدای پر مخلوقاتو واکمنه کړه، ورکړه او نه ورکړه يې په خپله خوښه ده»

پينځم مثال: دولسو تنو منافقو اصحابو په مسلمانانو کې د درز اچولو لپاره يو جومات جوړ کړ او وروسته يې ادعا وکړه، چې دا چار يې د خدای د رضا لپاره کړی دی.

شپږم مثال: د جناب نبي مکرم ښېرا

حلبي په يوه روايت کې وايي، چې جناب نبي مکرم ځينې اصحابو ته ښېرا کړې او ويل يې: خدايه پلانی او پلانی لعنت کړې[1].

بخاري له سالم او دی يې له پلاره روايتوي چې له حضرت يې اورېدلي، چې حضرت د ګهيځ په لمانځه کې په دويم رکعت کې تر رکوع او د «سمع الله لمن حمده» تر ويلو وروسته يې ويل: خدايه پلانی او پلانی لعنت کړې.

سيوطي (هم) ويلي، چې احمد بن حنبل، بخاري، ترمذي، نسايي، ابن جرير او بيهقي په دلايل کې له عبدالله بن عمر (رض) څخه روايتوي، چې جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله د احد د جګړې پر ورځ وويل: خدايه! پر ابوسفيان، ابوسفيان، حرث بن هشام، سهيل بن عمرو او صفوان بن اميه باندې لعنت وروه.

---

[1] حلبيه سيرت ۲: ۲۳۴ مخ.

بیا سیوطي ویلي، چې ترمذي دا حدیث روایت کړی او سم یې ګڼلی دی. او همداراز ابن جریر او ابن حاتم له ابن عمر (رض) روایتوي، چې پېغمبر څلورو تنو ته ښېرا کوله او تل یې د ګهیځ په لمانځه کې ویل: خدایه! په پلاني او پلانۍ لعنت ووروه.
نصر بن مزاحم منقري له څو لارو له برأ بن عازب (رض) روایتوي: یوه ورځ جناب نبي مکرم ته، ابوسفیان او جناب امیر معاویه راتلل، پېغمبر وویل: خدایه پر وړاندې وروسته لعنت ووروې، خدایه پر «قیص» [پر ملا کړوپ] لعنت ووروې، د برأ زوی له خپل پلار څخه پوښتنه وکړه چې «قیص» څوک دی؟ ورته یې وویل: جناب امیر معاویه[1] نصر د حدیث په پای کې له علي بن الاقمر (رض) څخه روایتوي، چې جناب نبي مکرم ورته وکتل (ابوسفیان سپور و، جناب امیر معاویه او ورور یې ورسره وو، یو لارښود و او له بل سره د سپرلۍ پړی و) او و یې ویل: خدایه پر درېیو وانیو لعنت ووروې (سپور، پړی په لاس او لارښود) ورته مې وویل چې تا پخپله دا خبره له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله اورېدلې ده؟ و یې ویل: هو، که دروغ ووایم کوڼ دې شم[2].

**محمد بن ابوبکر (رض) جناب امیر معاویه ته په لیک کې کښلي:**

وینم، چې ځان له علي سره پرتله کوې، هغه درسره ډېر توپیر لري. تر ټولو رښتینو یې نیت خالص و تر ټولو یې زامن غوره، تر ټولو یې مېرمن غوره او غوره تره یې درلود. ورور یې جعفر و، چې د موته په غزا کې خدای ورسره معامله وکړه او تره یې حمزه د احد د عزا د شهیدانو ښاغلی دی. (سیدا الشهداء) یوازې پلار یې د جناب نبي مکرم (حقیقي او واقعي) ملاتړی و او مور یې یاران وو خو ته ملعون د ملعون زوی یې، تا او پلار دې تل د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله پر ضد دسیسه جوړوله او هڅه مو کوله چې د خدای رڼا تته کړئ. ته او پلار دې وئ چې خلک او ټبرونه مو د اسلام پر ضد راپارول. پیسې مو ورکولې، پلار دې پر همدې حال ومړ او ته یې ځایناستی شوې[3].
جناب امیر معاویه ورته اوږد ځواب ورکړ او دهغه خبرې یې رد کړې؛ خو د ځان او پلار ملعون والی یې رد نه کړ.

---

[1] وقعة صفین، ۲۱۷ مخ.
[2] په دې کتاب کې اقعیس لیکل شوی. وقعة صفین ۲۲۰.
[3] مروج الذهب ۳: ۱۴.

**د مثالونو تحلیل**

له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله چې مونږ شپږ ګوني مثالونه روایت کړل، په غوڅه توګه د ګردو اصحابو د عدالت له نظریي سره مخالفت لري؛ ځکه:

هغه به عادل نه وي، چې جناب نبي مکرمصلی الله علیه و آله یې د وژنې حکم کوي، هغه وګړي به عادل نه وي، چې پېغمبر صلی الله علیه و آله امر کوی چې کور وربانديې وسوځوئ هغه به عادل نه وي، چې جنت د حرملو بن ګنې او حسب او نسب او کورنۍ لپاره جنګېږي.

هغه به عادل نه وي، چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله هغه او په صلب کې ځاځکی ته یې لعنت ویلی وي او هغوی په عادلینو کې نه شمېرل کېږي چې اسلام ته د زیان رسولو لپاره جومات جوړوي (مسجد ضرار).

ځکه د دې ډول وګړیو پر عدالت معتقد کېدل له نبوي سنتو سره ټکر لري؛ ځکه نبوي سنت په دې ډول عدالت عقیده نفې کوي او بلخوا هغوی چې په پټو سترګو روان دي، بې فکره دا ډول عدالت ثبوتوي.

باید وګورو چې په دوی کې کومه نظریه ومنو. نبوي سنت یا د پټو سترګو تګ!

[البته] د ربښتینو او غوره اصحابو په عدالت کې څه اختلاف نشته؛ خو د اختلاف جرړه د عدالت پر عمومیت کې ده چې ګنې ټول اصحاب عادلین دي. نبوي سنت د عدالت له عمومیت سره اړخ نه لګوی او په ټولیزه توګه ورسره په ټکر کې دی.

## تاريخي بهير د اصحابو د عدالت له نظريي سره په ټکر کې دی

**لومړی مثال:**

جناب امير معاويه د جناب رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) د يارانو په وژنه، سوځولو او ورته په کنځلو د خلکو بيعت تر لاسه کړ. پر شام په شل کلنې واکمنۍ کې يې هغه شتمني راټول کړه، چې د شرعي ځانګړو لګښتونو لپاره په پام کې نيول شوې وه، ناوړه ګټه يې ترې پورته وکړه او د خپلې واکمنۍ د ټينګېدو په لار کې يې ولګوله.

جناب امير معاويه د «رزق البيعة» په نوم يوه نوې ډالۍ دود کړه چې د نوي خليفه د ټاکنې پر مهال پوځيانو ته ورکول کېده. هغه مهال چې خپل بې باکه او فاسد زوی ته يې وصيت وکښه او په زور يې له خلکو ورته بيعت واخيست او د جناب نبي مکرم (صلى الله عليه وآله وسلم) پر اصحابو يې امير کړ؛ بيا نو خلکو ته ښه په ډاګه شوه، چې د جناب امير معاويه اصلي موخه د واکمنۍ ترلاسه کول و.

جناب امير معاويه بن ابوسفيان خپل زوی يزيد ته سپارښتنه وکړه، که مدينوال دې پر ضد راپاڅي؛ نو مسلمة [مسلم] بن عقبه يې ځپنې ته ورولېږه، مسلمة چې مدينې ته روان شو؛ نو د اصحابو يو نوم لړ ورسره و چې دا ټول ووژني.

مسلمه په مدينه (د اسلام پلازمېنه) کې فجيع او خورا ناوړه چارې وکړې او داسې کړه او وړه يې وکړل، چې د اسمان چغې هم پورته شوې. [ په دې وحشيانه يرغل کې ] مروان بن حکم د لارښود او بولندوی په توګه امر کاوه او عقبه او لښکرو يې امر پر ځای کاوه او په سخت زړې يې ټولوژنه وکړه او د جناب امير معاويه د وصيت پايله دا شوه چې:

۱-ټول بدريان (هغوی چې د بدر په غزا کې يې ګډون درلود) ووژل شو.

۲-د قريشو او انصارو اوه سوه تنه ووژل شول.

۳-لس زره تنه موالي (ازاد کړای شوي مويان) او اعراب ووژل شو.

دا پېښه پر۶۳ س وه او د «حره» په پېښه مشهوره شوه، په دې ترڅ کې و، چې عبدالله بن عمر (رض) وويل: چې څوک بريالی شو، موږ ورسره يو. دا خبره يې راوروسته د يو ټوليز قانون او بنسټ په توګه رامنځ ته شوه. همدې عبدالله بن عمر (رض) د صفين په جګړې کې ځان ګوښه کړ.[1]

---

[1] (د الامامة و السياسة کتاب وګورئ)

**درېيم مثال:**
جناب امیر معاویه پر څلوېښتم هجري کال بسر بن ارطاة له درېیو زرو تنو سره مدیني ته ولېږه. بسر پر منبر خلک په وژنه وګواښل، تر دې چې مدینوال له جناب امیر معاویه سره بیعت کولو ته چمتو شول. [بسر تر بیعت اخستو وروسته] مکې ته ولاړ او ورپسې یمن ته. عبیدالله بن عباس، د یمن والي و، [د بسر له راتلو چې خبر شو؛ نو] دا سیمه یې پرېښووه؛ خو د هغه دوه کوچني زامن عبدالرحمان او قاسم یې له خپل ماما سره ووژل.
بسر په جرف [یمن ته نژدې یو سیمه ده] کې د همدان د ټبر زیات شمېر نارینه ووژل، او په صنعاء کې یې هم زیات وګړي له تېغه تېر کړل او چې څوک به یې اورېده چې د علي کرم الله وجهه پلوی دی؛ نو واژه یې[1]. بسر په مدینه او د دوو جوماتونو ترمنځ ډېر کسان ووژل.

**څلورم مثال:**
روایت شوی چې امام حسن بن علي خپلې مېرمنې جعدې [د اشعث بن قیس کندي لور] مسموم کړی دی. جناب امیر معاویه ورته ویلي و، که حسن بن علي مسموم کړې؛ نو سل زره درهمه به درکړم او هم به دې یزید ته نکاح کړم، چې دې وعدو جعده د امام حسن وژنې ته وهڅوله. جناب امیر معاویه د امام حسن تر وفات وروسته، جعدې ته یو لک درهمه ولېږل او له یزید سره د واده په هکله یې ورته ولیکل: یزید راته ګران دی چې ژوندی وي، که نه ورته مې په نکاح کولې [خو ډارېږم چې د امام حسن په څېر به یې ووژنې]. او هم روایت شوی چې امام حسن د وفات پر مهال وویل: زهرو یې ووژلم، هغه (جناب امیر معاویه) خپلې هیلې ته ورسېد؛ خو له جعدې سره یې چې د یزید د واده په باب کومه ژمنه کړې؛ وفا به پرې ونه کړي او خبره یې دروغ ده[2].
له عباس بن عبدالمطلب (رض) یې په یوه روایت کې ویلي، چې جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: د ټولو پیغمبرانو څوځات له خپلې تومنې (او صلب) دی؛ خو زما د علي له صلب څخه دی.
[چې په دې توګه جناب امیر معاویه د پیغمبر صلی الله علیه و آله څوځات وواژه]
جناب امیر معاویه د حضرت خالد بن ولید زوی عبدالرحمان هم وواژه، جناب امیر معاویه چې د خپل ځایناستي په باب له شامیانو سره مشوره وکړه؛ نو خلکو وویل: موږ پر عبدالرحمان

---

[1] مروج الذهب ۳: ۲٦ مخ.
[2] مروج الذهب ۲: ۴۲۷ یا ۴۷۷ مخ.

خوښ یو، دا خبره پر جناب امیر معاویه سخته پرېوته او مسموم یې کړ. همدغسې له عبدالرحمان بن ابوبکر (رض) سره یې همدغسې چار وکړ.

**پینځم مثال: ستره خوشحالي**

محمد بن جریر طبري په څو لارو له فضل بن عباس بن ربیعه څخه روایتوي [.... چې د امام حسن له رحلت سره په یوه وخت کې عبدالله بن عباس له یوې ډلې سره د جناب امیر معاویه د لیده کتو لپاره په شام کې و] حضرت عبدالله بن عباس وایي: په جومات کې وم، چې جناب امیر معاویه پر «شنې ماڼۍ» کې تکبیرونه وویل، شاوخوا یې هم تکبیر ووایه [چې په جومات کې ناستو هم واورېدل] او دوی هم تکبیر ووایه.

د فاختې په نوم یوې ښځې [د قرظه بن عمر نوفل لور] له خپلې کړکۍ سر رابهر کړ او و یې ویل! خدای دې خوشحاله کړه، څه خبره شوې چې دومره خوشحالي کوې؟ جناب امیر معاویه وویل: حسن بن علي مړ شوی دی.

ښځې وویل: «انا لله و انا الیه راجعون» بیا یې وژړل او و یې ویل: د مسلمانانو ښاغلی او د رسول الله د لور زوی له نړۍ ولاړ. جناب امیر معاویه وویل: فاختې! ښه چار دې وکړ، وړ وه، چې پر مړینه یې وژاړې. ابن عباس له دې خبرې خبر شو، پاڅېد او جناب امیر معاویه ته ورغی، جناب امیر معاویه ورته وویل: د عباس زویه! خبر شوی یې چې حسن مړ شوی دی؟

ابن عباس وویل: نو ځکه خوشحالي او تکبیر وایې؟

و یې ویل: هو[1].

**شپږم مثال:**

د یو تن صحابي عمرو بن سعد بن وقاص په مشرۍ یو لښکر له امام حسین سره د جګړې لپاره کربلا ته روان شو، یرغل یې پرې وکړ او امام یقین وکړ، چې وبه وژل شي. امام د ژوند تر وروستۍ شېبې دفاع وکړه، چې ووژل شو.

د مذحج د ټبر یو تن د امام وژنه پر غاړه واخسته، د امام سر یې له تنې جلا کړ او ابن زیاد ته ورغی او دا شعر یې ووایه:

«رکاب مې له سرو سپینو ډک کړه؛ ځکه چې یو سپېڅلی سلطان مې وواژه. د غوره مور او پلار او اوچتې کورنۍ بچی مې د تورې په ګوذار وواهه»

---

[1] مروج الذهب ۲: ۴۷۸- ۴۷۹ مخونه.

په «انساب الاشراف» کې د بلاذري د روایت له مخې د امام، چپن او ښې لې یې راوایستې او عمر سعد پر دې هم بسیا ونه کړه او د اسحاق بن هبیره حضرمي په مشرۍ یو ډلې ته امر وکړ، چې په اسونو د امام تنه لتاړه کړي.
عمر سعد د جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) څوځاته د تندې په حال کې وواژه، حال دا چې په څو قدمۍ کې یې فرات بهېده چې اوبه یې څارویو هم څښلې؛ خو عمر سعد د پیغمبر پر کورنۍ منع کړې وې، نبوي کورنۍ یې ووژله او [په خپل گومان کوفې ته] بریمن راستون شو.

**اووم مثال:**
حضرت حسن (رض) له جناب امیر معاویه سره د کتو پر مهال [کوفیانو ته] وویل: ... کوفیانو! که بې له دې درېیو چارو (زما د پلار وژنه، پر کاروان مې یرغل او پر خېټه مې د تورې گوذار) تاسې بل څه نه وای کړي؛ نو همدا راته بس وې، چې بې واکه شم او له (نارچارۍ) له جناب امیر معاویه سره بیعت وکړم[1].
امام حسن چې خلیفه شو؛ نو له کوفې بهر یې په مدائن کې له دولس زره تنیز لښکر سره تم شو. دلته یو شمېر یارانو یې د شپې شپې په غلچکي برید کې کاروان لوټ کړ او له امام څخه جلا شول او ځان ته یې پرېښود، ان یوې ډلې هوډ درلود، چې و یې نیسي او جناب امیر معاویه ته یې وسپاري او ځینو خو هوډ نیولی و، چې و یې وژني.

**د تېرو مثالونو تحلیل**
د بدریانو وژنه، سوځول او له منځه وړل او بې علته په یوه ورځ کې د مدینې منورې د یولسو زرو تنو وژل، یو چار دی چې له عدالت سره اړخ نه لگوي. د کوچنیانو او د علي کرم الله وجهه د پلویانو وژنه، د عدالت له ادعا سره په ټکر کې ده.
د امام حسن په زهرو وژل، د امام حسین وژنه او پاکه تنه یې په اسونو لتاړول، د نبوي کورنۍ پر مخ د فرات د اوبو بندول او وژل یې یو مخې له عدالت سره په تضاد کې دي.
دا ډول چارې چې لږې هم نه دي، د هغوی ادعا ردوي، چې وایي: «ټول اصحاب عادل او جنتیان دي او یو یې هم دوزخ ته نه ځي»؛ ځکه که دا نظریه ومنو؛ نو هغوی ته به مو اجازه ورکړې وي چې الهي محارم یې سپک کړي دي. د امام حسن مسمو مول، د امام حسین وژنه،

---

[1] مروج الذهب ۲: ۴۳۱ مخ.

د اهل بیتو له منځه وړل او د غوره اصحابو پوپنا کول ښه او د خدای د خوښې هڅې ګڼلای نه شو؛ بلکې دا یوه دښمني ده چې څوک دا چارې کوي په ګردو عقلي او دیني کچو عادل نه دی. دا [وحشي] کړنې له یوې عقلي او شرعي کچې او هم د بشر له جوړو کړای شویو قوانینو سره اړخ نه لګوي او هر قوماندان ان که بوتپالی هم وي؛ نو د پلار په غیابو کې یې د کوچنیانو له وژنې ډډه کوي.

ښکاره ده چې د یمن والي د کوچنیو زامنو وژنه د جناب امیر معاویه او زوی پر واکمنی یې هیڅ اغېز نه درلود؛ د کوچنیو وژنه د ټولو موازینو او کچو له مخې یو وحشیانه چار دی، چې مخونه ورکول کېدای نه شي. ایا عقل مني چې څوک دې دا ډول کړنې وکړي یا امر وکړي، چې دغسې چارې وکړئ؛ خو بیا هم یو عادل صحابي وي؟ ایا عقل دا مني، چې خدای به دغسې یو تن جنت ته بوځي؟ هو شونې ده، چې په تقلید، هر ناشونی چار، شونی شي؛ خو دغسې یو څیز د سپېڅلې شرع د بنسټونو له مخې شونی نه دی.

نو دلته دي چې [باید ووایو]، ټولې پېښې چې د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله تر رحلت وروسته راپېښې شوي د ټولو اصحابو د عدالت نظریه ردوي؛ ځکه څه چې پېښ شوي له عدالت سره په ټکر کې دي، وروسته به جوت کړو چې:

۱-دغسې یوه نظریه د سیاسي موخو او غرضونو لپاره طرح شوې.

۲-دا نظریه د دې لپاره رامنځ ته شوې چې د حق حکومت پر ضد پاڅون ته مخونه ورکړي او د نا اهله او ناوړه حکومت ته د ورپرېښوو لپاره لاره چاره برابره کړي او خدای پر خپلو چارو غالب او برلاس دی؛ البته وروسته خلکو دا نظریه د جامو د مود په څېر یو بل ته ولېږدوله.

# د اصحابه د عدالت نظریه د اسلام له روح سره اړخ نه لګوي

خدای تعالی، مرګ و ژوند، ځمکه او چې څه ورباندې دي؛ یوازې د بندګانو د ازمېښت لپاره پنځولي، چې معلوم شي د چا کړنه غوره ده. دلیل مو دا آیتونه دي:
إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً (کهف/۷) ؛ په حقیقت کې څه چې د ځمکې پرمخ دي، موږ یې ښکلا ګرځولي، چې و یې ازمېیو، کوم یو یې نېکچاری دی.
الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ (ملک/۲) ؛ هغه [ذات] چې مرګ او ژوند یې پیدا کړی، چې و مو ازمېیي، چې له تاسې کوم یو خورا نېکچاری دی او هغه ناماتی (او) ډېر بښونکی دی.
نو ژوند د انسانانو د ازمېښت لپاره د یو ډګر په توګه پنځول شوی او چې څه په ژوند کې دي، د ازمېښت لپاره یوه وزله ده، د ا ازمېښت له عقل او تمیز سره مل په یو مکلفیت پیلېږي او په مړینه پای ته رسي. که فرضاً ټول اصحاب عادل وي او جنتي او یو یې هم جهنم ته نه ځي؛ نو باید ووایو چې اصحاب د ازمېښت له کړی دباندې دي او امتحان ته یې کومه انګېزه نشته چې دا خو د ژوند له موخې سره اړخ نه لګوي او د الهي ازمېښت د بهیر د تمېدو لامل ګرځي او د اسلام له روح سره په تضاد کې یو چار دی؛ ځکه خدای وایي: «انسان په زیان کې ده؛ خو هغوی چې ایمان راوړی او ښې چارې یې کړي او یو بل ته یې د حق سپارښتنه او د صبر سپارښتنه کړې وي» [د عصر له سورت څخه اخستنه ده]
د مسلمان قدر او عزت په دې کې دی، چې د عمر تر پایه د الهي لارښوونو پابند وسي او په دې لار کې په ډېرې لږې کوتاهۍ، د اسلام له کړی وځي او د خدای د غوسې لامل ګرځي او همېشه کچه د چار پای ده؛ ځکه که یو مسلمان په ټول عمر کې د الهي احکامو او لارښوونو پابند وسي؛ خو تر مړیني یو ورځ مخکې کافر شي؛ نو مخکېني کړه وړه یې ورته ګټور نه دي.
پر جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله د خدای له لورونو ځنې یوه دا هم وه، چې له راتلونکیو پېښېدونکیو پېښو یې پوره خبرتیا درلوده؛ نو ځکه یې په حجة الوداع کې عمو مو مؤمنانو ته وویل: «هسې نه چې تر وفات وروسته مې بېرته کافر شئ او یو له بل سره دښمني وکړئ»
دا وینا په لغوي او اصطلاحي دواړو ماناوو سره اصحابو ته متوجه وه.
بخاري له ابن عباس او دا یې له حضرت نبي صلی الله علیه و آله روایتوي، چې و یې ویل: تاسې په قیامت کې لغړ او پښېبل محشورېږئ، ځینې اصحاب مې ښي او ځینې کیڼ لوري ته راښکودل کېږي، وایم: اصحاب مې دي، اصحاب مې دي. ویل کېږي: هغه مهال چې دې پرېښي، مرتد شوي او پر شا تللي دي.

نو د صالح بنده خبره وايم، چې و يې ويل: «او تر هغه وخته چې په منځ کې يې وم، پرې گواه يم»
مسلم دا حديث په څه ادلون بدلون روايت کړی: «جناب نبي مکرم ووېل: يو شمېر اصحاب مې راځي؛ نو چې ومې پېژندل، له مخې مې راښکودل کېږي، وايم: اصحاب مې دي. ويل کېږي، نه پوهېږې چې دوی ستا تر وفات وروسته څه کړي دي. »
بخاري روايتوي چې حضرت صلی الله عليه و آله ووېل: هغه مهال چې [د قيامت پر ورځ] ولاړ يم، يوه ډله وينم او پېژنم يې، يو تن زما او د هغوی له منځه وځي، او ورته وايي: ځوو.
وايم: چېرې؟ وايي: جهنم ته.
وايم څه يې کړي؟ وايي: ستا تر وفات وروسته مرتدان شوي او له دين څخه اوړېدلي، يوازې لږ شمېر يې ژغورل کېږي.
په بل روايت کې راغلي چې جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله ووېل: يو ډله اصحاب مې د حوض تر غاړې راځې؛ خو د اوبو له څښلو يې مخنيوی کېږي. وايم: خدايه! اصحاب مې دي. خدای تعالی وايي: ته نه پوهېږې، چې تر تا وروسته يې څه وکړل، تر تا وروسته مرتد شول او د مخکېنيو دين ته واوړېدل.
او له سهل بن سعد يې روايت کړی، چې جناب رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) ووېل: [د قيامت پر ورځ] ماته داسې ډلې راځي، چې پېژنم يې او ما هم پېژني او بيا مو تر منځ بېلتون راځي.
ابوحازم ويلي دي: نعمان بن ابی عياش دا روايت رانه واورېد او و يې پوښتل تا پخپله همدغسې له سهل څخه اورېدلي دي؟
ومې ويل: هو، و يې ووېل: دا حديث مې له ابوسعيد خدري (رض) هم اورېدلی چې ورزياته يې کړه او و يې ويل: جناب رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) ووېل: نو وايم، چې هغوی له ما څخې دي.
ويل کېږي: نه پوهېږې چې ستا تر رحلت وروسته يې څه وکړل؟ وايم: پر هغوی مرگ، چې تر ما وروسته يې تغييرات رادبره کړل.
بخاري د ابن عباس د حديث يوه برخه روايتوي، چې پکې راغلي دي: يوه ډله اصحاب مې وينم، چې کيڼ لوري (جهنم) ته يې بوځي. وايم: اصحاب مې دي، اصحاب مې دي. ويل کېږي: له هغې ورځې چې ترې جلا شوی يې مرتدان شوي دي.
ابو يعقوب د عمر په مسند کې د دې حديث په څېر روايت کړی. بخاري د حديبيه په باب کې د علا بن مسيب او دا يې له خپل پلار څخه روايتوي چې، يوه ورځ مې براء بن عازب وليد

او ورته مې وویل: ښه چارې، د جناب نبي مکرم ملګری وې او تر ونې لاندې دې ورسره بیعت وکړ. براٴ وویل: وراره نه پوهېږې چې د حضرت صلی الله علیه و آله تر وفات وروسته مو څه وکړل. [بخاري] د عبدالله له خولې او دا یې له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله څخه روایتوي چې و یې ویل: زه تر تاسې وړاندې د کوثر ډند ته ځم او هلته تاسې ته منتظر یم. یو شمېر نارینه مو له ډند څخه شړل کېږي او له ما یې بېلوي؛ وایم: خدایه! اصحاب مې دي. ویل کېږي: نه پوهېږې چې دوی ستا تر وفات وروسته څه کړي؟ بخاري وایي: دا حدیث عاصم له ابی وائل څخه روایت کړی او ویلي یې دي: [دا حدیث] حصین له ابی وائل او دې له حذیفه (رض) او دې له حضرت رسول (صلی الله علیه وآله وسلم) روایت کړی دی.
او [هغه] د حضرت ابوبکر (رض) له لور اسماٴ بي بي څخه روایت کړی چې جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: [د قیامت پر ورځ] د ډنډ پر غاړه درېږم چې ووینم، کوم یو مو ما ته راځي [ ناڅاپه وینم] یوه ډله رانه لرې کوي. وایم: خدایه! دوی له ما او زما له امت څخه دي. ویل کېږي: پوهېږې چې تر تا وروسته یې څه کړي؟ پر خدای قسم، نژدې و، چې پر څټ ولاړ شي [تر اوسه ژغورل شوي نه دي پر شا ګرځي]
بخاري ویلي دي: ابن ملیکه تل ویل: خدایه، تا ته له دې څخه پنا دروړم چې بېرته لومړي حالت ته واوړو او په دین کې بې لارې شو.
د لنډو لپاره مو له بخاري او مسلم روایتونه راوړل؛ خو ډېرو معلوماتو لپاره دا کتابونه وګورئ[1].

**تحلیل**

د جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) له خولې مو چې کوم احادیث راوړل، جوته شوه، چې د هغه مبارک صلی الله علیه و آله تر وفات وروسته، یوې ډلې اصحابو د دین په احکامو کې ادلون بدلون راوړی، بیا نو مرتدان شوي او دوزخ ته به ځي.
د دې احادیثو راویان بخاري او مسلم دي، چې لارویان او پلویان یې روایات تر قرآن وروسته سم بولي.
نو دا وینا [؛ چې ګرد اصحاب عادل، او ټول جنتیان دي او یو یې هم دوزخ ته نه ځي] له دې پرېکنده او متواترو احادیثو سره څنګه اړخ لګولای شي؟

[1] سید مرتضی رضوي، آرا علما والمسلمین فی التقیه و الصحابه و صیانة القران کریم، ۱۰۰ مخ. امام احمد حنبل: ۵۰۱۵ او ۲۳۵۱۱ مخ.

د اصحابو د ژوند حالاتو او وضعیت ته په کتنې سره پایله ترلاسه کولای شوچې د اصحابو عدالت نظریه له دې احادیثو سره سر نخوري او اصولاً دا نظریه باطله ده؛ ځکه د ژوند له موخې (ازمېښت) سره په ټکر کې ده او د اسلام له روح سره په ټکر کې ده، چې سم ژوند له ښو کړنو، همېشني وصیت او صبر سره په تړاو کې بولي او د دې ټولو چارو پای له ښه عاقبت سره ده.

**د دې نظریې بطلان**

د ابن ابی الحدید معتزلي شافعي د نهج البلاغې په شرح کې راغلي دي:

ابن عرفه (په نفطویه مشهور او یو نامتو ستر حدیثپوه و) روایت کړی، ډېری احادیث چې د اصحابو په فضایلو کې روایت شوي، د امویانو په عصر کې د دوی د خوښې لپاره جوړ کړای شوي دي، چې دا چار یې د بني هاشمو د ځپنې لپاره کاوه. چې یو جعلي حدیث یې په حضرت انس بن مالک پورې تړلی، چې له جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) څخه روایتوي: «پر هغه دې د خدای، پرښتو او گردو خلکو لعنت وي چې یو تن صحابي مې کنځي، چې څوک یې خوگانې لټوي یا یې سپکوي؛ نو یو ځای خواړه ورسره مه خورئ، په لوښي یې اوبه مه څښئ، چې ومري جنازه یې مه کوئ»

دا روایت په همدې بڼه روایت شوی او د اصحابو ترمنځ په توپیرهم قایل شوی نه دی.

**ټکی:**

علي کرم الله وجهه د څرگند نص له مخې د خدای ولي، د جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) ورور، د اهل بیتو مشر او د لدني علم د ښار ور دی. لږ تر لږه یو صحابي گڼل کېږي او د نورو اصحابو په څېر دا لقب لري. اوس نو چې څوک حضرت علي کنځي حکم یې څه دی؟

جناب امیر معاویه تر خپلې واکمنۍ لاندې دا چار کاوه، د جناب امیر معاویه او لارویانو یې حکم څه دی چې حضرت علي یې کانځه؟ ایا دوی هم په پورته حدیث کې رانغارل کېږي؟

د جناب امیر معاویه ځینو خپلوانو او شاوخوا یې ورته یې وویل، چې د حضرت علي او لارویانو له کنځلو لاس واخله، و یې ویل: پر خدای قسم، تر هغې ترې لاس نه اخلم، چې په دې کنځلو کې ځوانان زاړه او کوچنیان ځوانان شي.

جناب امیر معاویه، ابی سمرة بن جندب صحابي ته پینځه لکه درهمه ورکړل، چې له پېغمبر صلی الله علیه و آله څخه یو روایت نقل کړي چې د بقرې ۲۰۴ او ۲۰۵ آیتونه د علي بن ابی طالب په شان کې نازل شوي دي.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ (بقره/۲۰۴) ؛ د دنیوي ژوند په اړه دې د ځینو خلکو خبرې اریانوي (په ښکاره ښه مینه ښرګندوي) او څه یې چې په زړه کې وي، الله پرې ګواهوي؛ خو دی سخت ځېلي جګړه مار دی؛

وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ (بقره/۲۰۵)؛ (ښه یې داده) چې پسې شا شو (یا د چارو متولی شي)، پر ځمکه د فساد په خپرولو کې هڅه کوي، کښتونه او څاروي له منځه وړي او (سره له دې چې پوهېږي) الله فساد نه خوښوي.

او د بقرې ۲۰۷ آیت [وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ؛ او له خلکو هغه دی، چې د الله د رضا د تر لاسه کولو لپاره ځان پلوري او الله پر خپلو بندګانو خوږمن دی ] د عبدالرحمان بن ملجم په شان کې نازل شوی؛ ځکه چې علي کرم الله وجهه یې وژلی دی.

دا نظریه ولې د دوو تنو اصحابو تر منځ په توپیر قایله ده؟ دا څه عامه نظریه ده، چې پر یوې ډلې یې تطبیقوی او پر بلې نه.

هر عقلمن پوهېږي، چې حضرت علي او آل ته یې کنځل د زمانې چارواکیو پر خلکو وتپل او خلک له ډار یا خپلې خوښې د جناب امیر معاویه له دولت سره په دې ګناه کې شریک شول.

# اصحاب او قانون ایښوونه

د اصحابو او د تابعينو د لومړی پوړی یا طبقې په عصر کې، د اصحابو نقش او ونډه یوازې دا وه، چې د جناب نبي مکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) ویناوې او کړنې روایت کړي. هغوی د راویانو په لټه کې وه، چې له ربښتیتوب څخه یې ډاډمن شي او ان ځینو ته یې په دې باب قسم هم ورکاوه. یوې ډلې د ځینو راویانو، له روایاتو څخه ډډه کوله؛ ځکه چې پر جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) یې دروغ تړل، چې د حضرت عمر (رض) همسا ورته په څار کې وه.

تر دې عصر وروسته، دا چې نظریات ډېر او سیمې او ښارونه هم ګڼ میشتي شول؛ نو د ویناوو او کړنو د روایت دود هم پراختیا و مونده او د صحابي رایه او فتوا یې هم راواخسته او که یوه مساله به رادبره شوه چې په اړه به یې په قرآن او نبوي سنتو کې څرګند نص نه و؛ نو د صحابي نظر به یې د حکم د سند په توګه کاراوه، چې تر کتاب او سنتو وروسته د قانون ایښوونې د آرونو یا اصولو درېیم رکن وشمېرل شو.

ښايي تر شافعیانو، د درې ګونو مذاهبو (حنفي، مالکي او حنبلي) عالمان او مشران خورا متعصب وي، سره له دې چې امام ابوحنیفه سخت د قیاس د دود پلوی و او د خدای تر کتاب وروسته یې غوره آر یا اصل ګاڼه؛ خو د ټکر پر مهال یې د صحابي نظر غوره ګاڼه. ترې روایت شوی: که د یوې مسالې لپاره مې پر قرآن او نبوي سنتو کې ځواب ونه موند، د اصحابو نظر ته مراجعه کوم او که د اصحابو نظریاتو هم یو له بل سره توپیر درلود؛ نو پخپله خوښه یو غوره او کاروم؛ خو د تابعي په نظر د صحابي له نظره نه تېرېږم. د ابن قیم په «اعلام الموقعین»کتاب کې راغلي چې: د امام احمد حنبل له نظره د احکامو آرونه پنځه دي: لومړی:

**نص دویم: د اصحابو فتوا.**

د اهل سنتو او تشیع ترمنځ څومره واټن دی؛ تشیع وایي: په قانون ایښوونه او تشریع کې پر سنتو ډډه وهل جایز نه دي؛ خو دا چې هغه سنت د قرآن له آیتونو سره همغږي او توافق ولري؛ ځکه هر څه په قرآن کې په څرګنده عربي ویل شوي، چې هر عرب پرې پوهېدای شي؛ خو د پیغمبر سنت د یوې ډلې له لارې روایت شوي، چې د تېروتنې او خطا احتمال یې شته او پخپله ځینو اصحابو د ځینو روایات نه منل او هر یو د خپل اجتهاد له مخې کړنې کولې. کله یې پر یو بل ناوړه تورونه لګول او د یو بل د وینې تویېول یې روا بلل.

په هر حال، اهل سنتو ته تر کتاب الله وروسته د اصحابو وینا، نظریات او اجتهادات د قانون اېښوونې له مهمو آرونو یا اصولو څخه گڼل کېږي او په عین حال کې، مطلق احکام یې محدود او مقید کول او عمومیات یې. . . . لکه چې دا نظریات او اجتهادات یې راکېوتې وحې ده، چې باطل ورننوتلای نه شي.

څرگنده ده، د اصحابو په سپېڅلتیا کې دومره غلو او له حد څخه تېرېدل یوازې د عصمت مقام یې راښیي او ان دا ځانگړنې هغه منافقان او مشرکان هم رانغاړي، چې د مجبوریت له مخې ځانونه مسلمانان ښیي. دا ډول غلو د فقهي مذاهبو د راپیدا کېدو په عصر کې راښکاره شوه، چې د اهل بیتو د امامانو او لارویانو پر وړاندې یې د یوې وزلې په توگه کاروله.

امامانو د رښتني اسلام احکام له خپل نیکه علي کرم الله وجهه په میراث کې وړي و؛ ځکه هغه خو د علم د ښار ور و. امامانو تل ویل: کومې خبرې چې کوو، له کتاب الله سره به اړخ لگوي او که کوم حدیث راپوری وتړل شو، چې له کتاب الله سره اړخ نه لگوي؛ نو لرې یې وغورځوئ. امام صادق وویل: زما خبره، زما د پلار خبره ده، د پلار خبره مې، زما د نیکه خبره ده او د نیکه حدیث مې، د رسول الله حدیث دی او د جناب نبي مکرم حدیث د خدای کلام دی.

# شیعه او د ټولو اصحابو د عدالت نظریه

## ۱-له اصحابو سره د شیعه مینه

سید مرتضی رضوي کاږي: شیعیان د پېغمبر اکرم له اصحابو سره مینه لري [البته] هغه اصحاب، چې د دین په ملاتړ کې یې ښه امتحان ورکړی وي او په ځان او مال یې د خدای په لار کې جهاد کړی وي.

او دا چې ویل شوی، چې شیعیان د اصحابو سپکاوی روا بولي او ټول کافر ګڼي؛ نو دا یوازې یو تور او د دروغو خبره ده او په تېپه تیاره کې د تیګو ګوذارول دي او دا تور یوازې تعصب ته سر ټیټونه او ټبریزو یا قبیلوي شخړو ته تسلېمېدل او په اوهامو او پوچو څېزونو پسې تلل دي.

## ۲-څوک د شیعه و له لید لوري اصحاب دي؟

هغوی چې د اسلام له پېغمبرصلی الله علیه و آله سره یې ناسته پاسته درلوده، یا یې لیدلی، یا یې ترې کومه خبره اورېدلې؛ نو د شیعه وو له نظره اصحاب دي. د شیعه له نظره په اصحابو کې مؤمن، منافق، عادل، فاسق، نېکچاری او بد چاري ټول رانغاړل کېږي؛ نو ځکه یوازې صحابیتوب چا ته د عدالت جامې وراغوستی نه شي؛ بلکې اصحاب د بېلابېلو مرتبو خاوندان او د کړنو له مخې جلا جلا درجې لري. موږ د دې خبرې لپاره له قرآن کریم او نبوي سنتو څخه کافي شواهد لرو او هم د خپلې وینا لپاره اسناد لرو، چې د اصحابو په کلیمه کې دا ټول یاد شوي رانغاړل کېږي.

باید څرګنده کړو، چې د اصحابو په منځ کې عادلین وه او دوی هغه وګړي وه چې له خدای سره په خپله ژمنه کې رښتین او باوفا وو. د خپلې عقیدې په لار کې ټینګ وو، ایمان یې په رګونو کې د ویني په څېر بهېدلی و. دوي په عمل کې اخلاص درلود او د کمال خورا لوړو درجو ته رسېدلي وو خدای دوی داسې ستایي:

مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا (فتح/۲۹)؛ محمد (صلی الله علیه و آله) د الله استازی دی او هغه کسان، چې ورسره دي، د کافرانو په مقابل کې ډېر سخت

(او) پخپلو کې خواخوږي دي، ته به يې تل رکوع او سجده کوونکي وينې (او په دې عبادت) د الله فضل او خوښي غواړي. پر وچوليو يې د سجدو نښې ښکاره دي. دوی په تورات کې په همدې ځانگړنو ياد شوي او انجيل کې يې بېلگه هغه کښت ته ورته دی، چې لومړی (تنکي او کمزوري) تېغونه راباسي، بيا خپله ملا ټينگه کړي، بيا کلك شي، بيا (د ښې ودې له لامله) پر خپلو ډډونو دريږي (چې) بزگران ورته هېښېږي. [همدغسې د محمد (صلی الله عليه و آله) ياران له کمزورۍ څنې ځواک ته رسي]، چې کافران يې [پر پياوړتيا او ډېرښت] له غوسې وسوځي! او الله د دوی له نېکچاريو مومنانو سره د ښښنې او سترې بدلې ژمنه کړې ده.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ (حجرات/۱۵)؛ واقعي مؤمنان ايله هغوی دي، چې پر الله او استازي يې ايمان راوړی، بيا شکمن شوي نه دي او پخپلو مالونو او سرونو يې د الله په لار کې جهاد کړی؛ همدا دوی رښتوني دي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ (توبه/۱۱۹)؛ مؤمنانو! له خدايه (او د فرمان له مخالفته يې) ووېرېږئ او له رښتينو سره اوسئ.

شيعه د دې ډلې اصحابو پر عدالت معتقد دی او د ځينو اصحابو کړنې او چلن د فکر په پوره ازادۍ تر څېړنې لاندې نيسي او هر يو د خپلو کړو وړو په تله کې تلي؛ نو چاچې له خدای او رسول سره دښمني کړې مينه ورسره نه لري او هغوی چې خپل قسمونه يې ډال کړي او خلک يې د خدای له لارې منع کړي، ځان ترې لرې ساتي. نو ځکه شيعه چې اصحاب يو له بل څخه بېلوي او ترمنځ يې پر توپير قايل دي؛ نو دا دود يې د کتاب الله، نبوي سنتو او سلف صالح له دود سره اړخ لگوي.

### ۳-اساسي اختلاف

اهل سنت عقيده لري، چې صحابي په لغوی او اصطلاحي مانا، گرد اصحاب عادل دي؛ خو شيعه پر دې عقيده دي، چې يوازې هغه اصحاب عادل دي، چې د عدالت ځانگړنه ولري.

### ۴-اصحابو ته د شيعه و دعا

شيعه چې په خپلو کتابونو کې د اصحابو لپاره کومې دعاگانې لري او وايي يې؛ نو جوتوي چې دوی له اصحابو سره خالصه مينه لري. شيعه د ټولو پيغمبرانو لارويانو په تېره د جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله اصحابو او لارويانو ته دعا کوي، چې دا دعاوې يې له سپېڅليو امامانو څخه په ميراث کې وړې.

### ۵-د شيعه و مشهوره دعا

په سجاديه صحيفه کې اصحابو ته د امام زين العابدين دعا خورا مشهوره ده:

اللَّهُمَّ وَ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ وَ مُصَدِّقُوهُمْ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ بِالْغَيْبِ عِنْدَ مُعَارَضَةِ الْمُعَانِدِينَ لَهُمْ بِالتَّكْذِيبِ وَ الاشْتِيَاقِ إِلَى الْمُرْسَلِينَ بِحَقَائِقِ الْإِيمَانِ فِي كُلِّ دَهْرٍ وَ زَمَانٍ أَرْسَلْتَ فِيهِ رَسُولاً وَ أَقَمْتَ لِأَهْلِهِ دَلِيلاً مِنْ لَدُنْ آدَمَ إِلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ آلِهِ مِنْ أَئِمَّةِ الْهُدَى، وَ قَادَةِ أَهْلِ التُّقَى، عَلَى جَمِيعِهِمُ السَّلَامُ، فَاذْكُرْهُمْ مِنْكَ بِمَغْفِرَةٍ وَ رِضْوَانٍ. اللَّهُمَّ وَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ خَاصَّةً الَّذِينَ أَحْسَنُوا الصَّحَابَةَ وَ الَّذِينَ أَبْلَوُا الْبَلَاءَ الْحَسَنَ فِي نَصْرِهِ، وَ كَانَفُوهُ، وَ أَسْرَعُوا إِلَى وِفَادَتِهِ، وَ سَابَقُوا إِلَى دَعْوَتِهِ، وَ اسْتَجَابُوا لَهُ حَيْثُ أَسْمَعَهُمْ حُجَّةَ رِسَالَاتِهِ. وَ فَارَقُوا الْأَزْوَاجَ وَ الْأَوْلَادَ فِي إِظْهَارِ كَلِمَتِهِ، وَ قَاتَلُوا الْآبَاءَ وَ الْأَبْنَاءَ فِي تَثْبِيتِ نُبُوَّتِهِ، وَ انْتَصَرُوا بِهِ. وَ مَنْ كَانُوا مُنْطَوِينَ عَلَى مَحَبَّتِهِ يَرْجُونَ تِجَارَةً لَنْ تَبُورَ فِي مَوَدَّتِهِ. وَ الَّذِينَ هَجَرَتْهُمُ الْعَشَائِرُ إِذْ تَعَلَّقُوا بِعُرْوَتِهِ، وَ انْتَفَتْ مِنْهُمُ الْقَرَابَاتُ إِذْ سَكَنُوا فِي ظِلِّ قَرَابَتِهِ. فَلَا تَنْسَ لَهُمُ اللَّهُمَّ مَا تَرَكُوا لَكَ وَ فِيكَ، وَ أَرْضِهِمْ مِنْ رِضْوَانِكَ، وَ بِمَا حَاشُوا الْخَلْقَ عَلَيْكَ، وَ كَانُوا مَعَ رَسُولِكَ دُعَاةً لَكَ إِلَيْكَ. وَ اشْكُرْهُمْ عَلَى هَجْرِهِمْ فِيكَ دِيَارَ قَوْمِهِمْ، وَ خُرُوجِهِمْ مِنْ سَعَةِ الْمَعَاشِ إِلَى ضِيقِهِ، وَ مَنْ كَثَّرْتَ فِي إِعْزَازِ دِينِكَ مِنْ مَظْلُومِهِمْ. اللَّهُمَّ وَ أَوْصِلْ إِلَى التَّابِعِينَ لَهُمْ بِإِحْسَانٍ، الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ لِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ خَيْرَ جَزَائِكَ. الَّذِينَ قَصَدُوا سَمْتَهُمْ، وَ تَحَرَّوْا وِجْهَتَهُمْ، وَ مَضَوْا عَلَى شَاكِلَتِهِمْ. لَمْ يَثْنِهِمْ رَيْبٌ فِي بَصِيرَتِهِمْ، وَ لَمْ يَخْتَلِجْهُمْ شَكٌّ فِي قَفْوِ آثَارِهِمْ، وَ الِائْتِمَامِ بِهِدَايَةِ مَنَارِهِمْ. مُكَانِفِينَ وَ مُوَازِرِينَ لَهُمْ، يَدِينُونَ بِدِينِهِمْ، وَ يَهْتَدُونَ بِهَدْيِهِمْ، يَتَّفِقُونَ عَلَيْهِمْ، وَ لَا يَتَّهِمُونَهُمْ فِيمَا أَدَّوْا إِلَيْهِمْ. اللَّهُمَّ وَ صَلِّ عَلَى التَّابِعِينَ مِنْ يَوْمِنَا هَذَا إِلَى يَوْمِ الدِّينِ وَ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ وَ عَلَى ذُرِّيَّاتِهِمْ وَ عَلَى مَنْ أَطَاعَكَ مِنْهُمْ. صَلَاةً تَعْصِمُهُمْ بِهَا مِنْ مَعْصِيَتِكَ، وَ تَفْسَحُ لَهُمْ فِي رِيَاضِ جَنَّتِكَ، وَ تَمْنَعُهُمْ بِهَا مِنْ كَيْدِ الشَّيْطَانِ، وَ تُعِينُهُمْ بِهَا عَلَى مَا اسْتَعَانُوكَ عَلَيْهِ مِنْ بِرٍّ، وَ تَقِيهِمْ طَوَارِقَ اللَّيْلِ وَ النَّهَارِ إِلَّا طَارِقاً يَطْرُقُ بِخَيْرٍ. وَ تَبْعَثُهُمْ بِهَا عَلَى اعْتِقَادِ حُسْنِ الرَّجَاءِ لَكَ، وَ الطَّمَعِ فِيمَا عِنْدَكَ وَ تَرْكِ التُّهَمَةِ فِيمَا تَحْوِيهِ أَيْدِي الْعِبَادِ لِتَرُدَّهُمْ إِلَى الرَّغْبَةِ إِلَيْكَ وَ الرَّهْبَةِ مِنْكَ، وَ تُزَهِّدُهُمْ فِي سَعَةِ الْعَاجِلِ، وَ تُحَبِّبَ إِلَيْهِمُ الْعَمَلَ لِلْآجِلِ، وَ الِاسْتِعْدَادَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَ تُهَوِّنَ عَلَيْهِمْ كُلَّ كَرْبٍ يَحِلُّ بِهِمْ يَوْمَ خُرُوجِ الْأَنْفُسِ مِنْ أَبْدَانِهَا وَ تُعَافِيَهُمْ مِمَّا تَقَعُ بِهِ الْفِتْنَةُ مِنْ مَحْذُورَاتِهَا، وَ كَبَّةِ النَّارِ وَ طُولِ الْخُلُودِ فِيهَا وَ تُصَيِّرَهُمْ إِلَى أَمْنٍ مِنْ مَقِيلِ الْمُتَّقِينَ.

« خدايه! د انبياوو پر لارويانو او هغوی چې په باطن کې ايمان راوړی، درود او سلام ووايه. هماغه مهال، چې منکرانو، پيغمبران دروغجن کړل؛ خو هغوی په لېوالتيا، د ايمان له حقيقت سره، وريوځای شول. خدايه! د هر پېر خلکو ته دې خپل استازي ورولېږل او هر يوه ته دې

دلیل ورکړ، له حضرت آدم (علیه السلام) نه د حضرت محمد (صلی الله علیه و آله وسلم) تر پېره، چې ټول د هدایت او تقوا مشران ول، پر هغوی هم درود او سلام ووایه او له ځانه یې په مغفرت او خوښۍ یاد کړه.
خدایه! د حضرت محمد (صلی الله علیه و آله وسلم) پر هغو پتمنو او صمیمي یارانو او هغوی چې سختۍ ګاللي او په غوره بڼه یې د هغه ملګرتیا کړې، درود او سلام ووایه او هم پر هغوی چې په ایمان راوړو او د هغه د بلنې په منلو کې تر نورو مخکښان وه او هغه مهال یې د هغه د رسالت دلایل اورېدل او منل یې.
او پر هغوی درود ووایه، چې د هغه د دین د حقایقو ځرګندولو لپاره، له خپلو مېرمنو او زامنو تېر شول او ان له خپلو پلرونو او یا زامنو سره یې د آنحضرت(صلی الله علیه و آله وسلم) د نبوت د مقام د تثبیت لپاره غورځې پرځې او مبارزه وکړه او د رسول الله صلی الله علیه و آله د شتون له لامله بریالي شول.
خدایه پر هغوی درود ووایه، چې د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) ربښتوني مینوال وه او د آنحضرت د دوستۍ په لار کې، یوې سوداګرۍ ته پر تمه ول، چې هېڅکله تاوان پکې نشته او پر هغو کسانو، چې کله له رسول الله صلی الله علیه و آله سره یو ځای شول؛ نو ټبرونه او خپلوان یې ترې لرې شول او چې د رسول الله صلی الله علیه و آله تر سیوري لاندې شول؛ نو خپلوانو یې پردي وګڼل.
نو ای خدایه! هر هغه څه یې چې ستا په پار له لاسه ورکړي؛ نو په ثواب کې یې مه هېروه او داچې دوی لامل شوي، چې خلک دې دین ته رامات شي او ستا له استازي او نورو سره یې د اسلام لپاره دعوت کړی؛ نو د خپلې رضا له مقامه یې خوښ کړه او داچې ستا د رضا لپاره یې هجرت کړی او له خپل وطنه لرې شوي او پراخه او هوسا ژوند یې په تنګسه کې شوی، وړ لاسباړه او اجر ورکړه او هغوی چې دې د دین په سرلوړۍ کې هڅاند ول او ځانونه یې له مظلومیته را وایستل او د دینوالو د ډېروالي لامل شوي، اجر ورکړه.
خدایه! غوره ثوابونه دې د رسول الله ربښتینو اصحابو ته ځانګړي کړه؛ هماغوی چې ویل یې: پالونکیه! موږ له خپلو هغو ورونو سره وبښه، چې په ایمان راوړو کې تر موږ مخکښان ول؛ هماغوی چې اصحابو ته ورلېواله شول او په ګروهو او کړنو کې پرې ګروهن شول.
هغوی چې په خپله لیدانه او اندنه کې د اصحابو د هدایت او نېکمرغۍ له لارې، په لاروۍ کې دوه زړي نه شول، حال داچې مرستندویان، مینوال او د اصحابو په هدایت، هدایت شوي ول او په دې باب سره یوه خوله ول او هېڅکله یې هغوی د روایاتو او احکامو په رانقلولو کې تورن نه کړل.

خدایه! د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) پر تابعینو، مېرمنو، څوځات او پر هر هغه چې ستا اطاعت یې کړی، له ننه تر قیامته پورې درود ووایه؛ داسې یو درود، چې په پار یې ستا له سرغړونې په امان کې شي او په جنت کې پراخه ځای ورکړه او پرې نه ږدې، چې شیطان یې تېر باسي او په هر هغه ښه کار کې یې مرسته وکړې، چې له تا یې مرسته غوښتې او هغوی د شپې او ورځې له پېښو وساته؛ خو داچې ښېګڼه یې پکې وي.

داسې یو درود، چې لامل شي، څه چې له تاسره دي، ورته یې د هیلې، ډاډ او تمې لامل شي او څه چې دې له مخلوقاتو سره دي او خپلو بندګانو ته دې ورکړي، دوی نورو ته اړ نه کړي، چې په پایله کې دوی په لېوالتیا ستا پر لوري شي او له خدایه یې وېرونکي کړې او په عین حال کې چې پراخه ژوند لري، داسې یو چار وکړې، چې په دنیا پورې زړه تړلي نه وي او د آخرت لپاره کړنو او د مرګ چمتوتیا ته یې ځوبمن کړې.

خدایه! حالت یې داسې کړې، چې د ځلکدن پر مهال یې هره ستونزه وراسانه وي او تر مرګ روسته پړاوونه؛ لکه ازمېښتونه او کړاوونه؛ لکه اور ته ورغورځېدل او تلمېشتېدل پکې ورمعاف کړې او هغوی هوسا او د متقیانو هستوګنځي ته ور واستوې. »

# د اصحابو د عدالت په نظریه کې تفکر ته بېلګې

## د حضرت ابن عباس ښکارندونې

جناب امیر معاویه له ابن عباس (رض) څخه پوښتنې وکړې، چې یوه یې د اصحابو په اړه وه، ابن عباس په ځواب کې ورته وویل:

جناب امیر معاویه! د خدای پر خپل پیغمبر صلی الله علیه و آله باندې یوه لورنه دا وه چې داسې اصحاب او یاران یې ورکړي وو چې دوی به رسول الله صلی الله علیه و آله تر خپلو ځانونو او مالونو ړومبی ګاڼه او پر هرو شرایطو کې یې د هغه په لار کې سرښندنه کوله. هغوی د دین د معارفو (نښو) د پراختیا لپاره پاڅون وکړ او په ښه نیت یې مسلمانانو ته هڅه وکړه، تر دې چې د اسلام لارې هوارې او وزلې یې پیاوړې شوې او الهي نعمتونه راښکاره شو او د خدای دین پایداره شو او د دین بیرغونه هسک شول او په همت او سرښندونو یې شرک وځپل او خوار شو، مشران یې ورک شول او نښې یې له منځه ولاړې، تر دې چې د خدای اراده برلاس او کافران مغلوب شول. پر دې پاکو تنو او ځانونو دې صلوات، درود او الهي برکتونه وي. دوی په ژوند کې د خدای له دوستانو څنې وو او تر مرګ وروسته له ژوندیو څخه دی [او بیخي نه مري.] دا ښکلي خلک د خدای د بندګانو خیر غواړي وو او آخرت ته له ورسېدو مخکې په اخرت کې مېشت شول.

دلته، جناب امیر معاویه د ابن عباس (رض) خبرې پرې کړې او و یې ویل: د عباس زویه! [خبرې لنډې کړه او] نورې خبرې وکړه[1].

## د ستر صحابي؛ حضرت حذیفه بن یمان (رض) شهادت او وصیت

حذیفه بن یمان (رض) پر ۳۶ س په کوفه کې ناروغ و، چې د حضرت عثمان (رض) له وژنې او له علي کرم الله وجهه سره د خلکو له بیعت څخه خبر شو. خپلو شاوخوا وګړیو ته یې وویل: اذان وکړئ چې خلک جماعت لمانځه ته چمتو شی او له لاسه مې ونیسئ چې جومات ته ورشم، تر لمانځه وروسته یې پر منبر د خدای د ستاینې او پر پیغمبر صلی الله علیه و آله تر درود ویلو وروسته وویل: خلکو! [اورېدلي مې دي چې] مسلمانانو له علي کرم الله وجهه سره بیعت کړی دی؛ تاسې هم پرهیزګار وسئ، د علي ملاتړي شئ، پر خدای قسم علي له پیل څخه

---

[1] مروج الذهب ۳: ۶۵، ۶۶، ۴۲۵ او ۴۲۶ مخونه.

تر پايه پر حق و. په رښتيا چې علي تر پېغمبر صلى الله عليه و آله وروسته د زمانې غوره تن دی، بيا يې خپل ښی لاس پر کيڼ لاس کېښود او و يې ويل: خدايه! شاهد وسه چې [له لرې مې] له علي سره بيعت وکړ. بيا يې دواړو زامنو؛ صفوان او سعد ته وويل: کور ته مې بوځئ او تاسې علي ته په بيړه ولاړ شئ؛ ځکه ډېرې جگړې به ورپېښې شي، چې ډېر خلک به پکې ووژل شي. [زامنو] هڅه وکړئ چې د علي تر مشرۍ لاندې شهيدان شئ؛ ځکه پر خدای قسم چې پر حق دی او مخالفين يې پر باطلو دي.

حضرت حذيفه (رض) تر دې وينا اوه يا څلويښت ورځې وروسته ومړ. او نېکچارو زامنو يې د پلار د وصيت له مخې په علي پسې ملا وتړله او د صفين په جگړه کې شهېدان شول[١].

**حضرت زبير (رض) او ښه عاقبت**

[په جمل جگړه کې] حضرت علي ځان ته، سر لوڅ او بې وسلې د رسول الله صلى الله عليه و آله پر غاتره سپور خپلو مخالفانو ته ورغی او غږ يې کړ: زبيره! راشه. زبير (رض) وسلوال ورغی. عايشه ام المؤمنين له پېښې خبره شوه او د زبير (رض) مېرمنې اسمأ ته يې وويل: کونډه شوې. [ولې زبير علي ته ورغی؟] او چې عايشې (رض) ته وويل چې علي سرلوڅ [او بې وسلې] راغلی؛ نو ارامه شوه.

حضرت علي او حضرت زبير يو بل په غېږ کې ونيول. حضرت علي ورته وويل: زبيره! پر تا افسوس ولې دې له کور راسره د جگړې لپاره راوتلی يې؟ زبير (رض) وويل: د عثمان (رض) کسات اخستو ته. علي کرم الله وجهه وويل: خدای دې هغه ووژني، چې د عثمان په وژنه کې يې ډېره ونډه درلوده. ايا ياد دې دي، چې پر هغه ورځ دې په «بني بياضه» ځای کې له جناب نبي مکرم صلى الله عليه و آله سره ليده کاته وکړل او هغه پر خپلې سپرلی سپور و او ته ورسره وې. جناب نبي مکرم صلى الله عليه و آله راته په موسکا شو او زه هم ورته په موسکا شوم؟ تا وويل: يا رسول الله! علي له تکبر او وياړنې لاس نه اخلي. جناب نبي مکرم صلى الله عليه و آله درته وويل: علي تکبر نه لري. زبيره! ايا علي دې ښه ايسي؟ ودې ويل: هو، پر خدای قسم. پېغمبر صلى الله عليه و آله درته وويل: پر خدای قسم ژربه ورسره جگړې ته ورشې او ظالم به يې.

زبير وويل: استغفرالله (له خدايه ښښنه غواړم)، پر خدای قسم که دا خبره مې ياده وای؛ نو له کوره نه راوتم.

---

[١] مروج الذهب ٣: ٦٥، ٦٦، ٤٢٥ او ٤٢٦ مخونه.

علي زبیر ته وویل: [لاس واخله او] جګړه پرېږده.
زبیر (رض) وویل: اوس خو جګړه د پیل په درشل کې ده، څنګه یې پرېښوواى شم. پر خداى دا خو یو ننګ دى، چې نه یې منم. حضرت علي ورته وویل: زبیره! مخکې تر دې چې له ننګ او اور سره مخ شي جګړه پرېږده او ستون شه.
زبیر (رض) جګړه پرېښووه او له ډګره ووت او د تلو پر حال یې ویل: «عار مې پر بل اور غور کړ، علي یو مطلب راته ووایه، چې منکر ترې نه یم، چې هغه په دین او دنیا کې عار و.»
په پاى کې زبیر (رض) پر ګناه له اخته کېدو وژغورل شو او جګړه یې پرېښووه؛ خو عمروبن جرموز ورسره ونښت او و یې واژه[1].

## حضرت طلحه (رض) او ښه عاقبت

بیا حضرت علي، طلحه (رض) ته وویل: ابا محمده! ولې مې جګړې ته راغلى یې؟ حضرت طلحه وویل: د حضرت عثمان کسات اخلم.
حضرت علي وویل: خداى دې هغه ووژني چې د عثمان (رض) په وژنه کې ډېر برخمن و. طلحه! ایا د رسول الله خبره دې زما په اړه اورېدلې نه ده، چې و یې ویل: خدایه د علي دوست، دوست وګڼه او دښمن یې دښمن. او ته لومړى تن وې [چې په خم غدیر کې] دې بیعت راسره وکړ او بیا دې مات کړ، حال دا چې خداى وايي:
إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ فَمَنْ نَكَثَ فَإِنَّمَا يَنْكُثُ عَلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا (فتح/۱۰)؛ په حقیقت کې څوك چې له تا سره بیعت کوي، یوازې له الله سره بیعت کوي او د لاسونو له پاسه یې د الله (د قدرت) لاس دى؛ نو چاچې ژمنه ماته کړه؛ نو ایله یې پر خپل زیان ماته کړې ده او څوك چې له الله سره کړې ژمنه پوره کړي؛ نو ژر به ستره بدله ورکړي.
طلحه (رض) د دې خبرو تر اورېدو وروسته وویل: استغفرالله (له خدایه ښښنه غواړم) بیا یې جګړه پرېښووه.
حضرت زبیر (رض) چې جګړه پرېښووه، مروان وویل: زبیر له جګړې لاس پر سر شو، طلحه به هم دا چار وکړي، پر ما بې توپیره ده، چې کومې لورې ته غشي غورځوم. غشی یې خوشې کړ او طلحه (رض) په مټ کې په رګ ولګید، راولوېد او له سخت درده تاوېده راتاوېده او ویل یې: «په پښېمانېدو پښېمانه شوم، د صبر کاسه مې ډکه شوه ځان او مور و پلارته مې

---

[1] مروج الذهب ۲: ۴۰۰ مخ.

افسوس، د کسعی د پښېمانۍ په څېر پښېمانه شوم، په ګومان مې چې د جرم د اولادې خوښي مې غوښته» د عبدالملک په نوم یو بل تن حضرت طلحه (رض) پر تندي ټپي کړ او دواړو ټپونو له لامله ومړ.

### د حضرت عمار یاسر (رض) پایله

حضرت عمار یاسر [د صفین په جګړه کې] وویل: داسې څېرې وینم چې د باطل پالو تر شکمنېدو پورې له جګړې لاس نه اخلي. پر خدای قسم که موږ تر هجر [د یو ښار نوم چې د کجورو ډېر بڼونه لري] پورې پر شا وتمبوي بیا هم موږ پر حق او هغوی پر باطلو دي. بیا یې پر دښمن یرغل وکړ او له ډګره راستون شو اوبه یې وغوښتې. د بني شیبان د ټبر یوې ښځې ورته د شیدو او شاتو د شربت لوښی ورکړ او حضرت عمار دوه ځل تکبیر ووایه: نن به د نېزو تر ګوذارونو لاندې د خپلو دوستانو لیده کاتو ته ورشم. هغه رښتین پیغمبر، رښتیا ویلي و، له دغسې یوې ورځې یې خبر کړی وم، نن کټ مټ هماغه ورځ ده. جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ورته ویلي و چې ظالمه ډله به دې ووژني او وروستي خواړه به یې د شیدو او شاتو شربت وي.

عمار (رض) وویل: خلکو! څوک تر تورو لاندې جنت ته تلل غواړي؟ پر هغه قسم چې ساه مې د هغه په واک کې ده، د قرآن د تاویل پر سر به ورسره وجنګېږم لکه چې په صدر اسلام کې د قرآن د تنزیل پر سر ورسره وجنګېدو. بیا یې برید وکړ او ویل یې: مخکې د قرآن د رښتینتوب د ثابتولو لپاره جنګېدو او نن یې د تاویل او تفسیر د جوتولو لپاره، هغه جګړه چې سرونه پکې پرې شوي او دوست له خپل دوسته غافل شي، یا دا چې حق خپلې لارې ته راوګرځي.

بیا نو دوو تنو ابوالعادیة او ابن جون، حضرت عمار شهید کړ او د جامو د غنیمت پر سر یې بې اتفاقه شول او له صحابی عبدالله بن عمرو بن عاص څخه یې قضاوت وغوښت.

### د جناب امیر معاویه دلیل

جناب امیر معاویه له امام او شرعي مشر څخه سرغړونه وکړه او له حضرت علي څخه یې د عثمان (رض) وژونکیو نیونه غوښته.

امام ورته وویل: اطاعت مې وکړه او د خلکو شکایت را پرېږده، چې ترمنځ یې په عدل پرېکړه وکړم؛ خو جناب امیر معاویه د امام خبره ونه منله او د عثمان (رض) د وژنې له مسلې یې واکمنۍ ته د رسېدو لپاره یوه وزله جوړه کړه، چې په دې چار کې بریالی هم شو او د مسلمانانو

د واکمن په نامه یې پر خپل سر د سلطنت تاج کېښود. خلکو هم، ځینو به زور او ځینو په خپله خوښه ورته غاړه کېښووه.

**جناب امیر معاویه او د حضرت عثمان (رض) وژونکي**

جناب امیر معاویه [د حضرت عثمان تر وژنې کلونه کلونه وروسته] مدینې ته ولاړ او له حضرت عثمان کره ورغی، د حضرت عثمان (رض) لور عایشې بي بي وویل: پلاره! او په ژړا شوه. جناب امیر معاویه وویل: وریرې! خلکو مو اطاعت وکړ، موږ هم امان ورکړ. موږ [په ظاهره کې] زغم ته مخه کړې چې پسې شا یې غوسه او کینه ده؛ د خلکو د اطاعت پسې شا هم کینه پرته ده او خلک هم تول وسلوال دي که له خلکو سره وعده ماته کړو، هغوی هم دا چار کوي. [وریرې] نه پوهېږې چې دا مو په گټه ده یا زیان. که ته د امیرالمؤمنین د تره لور وسې، تر دې درته غوره ده، چې د مسلمانانو د نېکنامې او عزت په توگه مطرح شې[1].

**د جناب امیر معاویه په باب د حسن بصري رحمة الله علیه نظر**

طبري روایت کړی چې حسن بصري رحمة الله علیه تل ویل: جناب امیر معاویه څلور [ناوړې] چارې کړې، که یوازې یوه یې هم کړې وای؛ نو گناهکاربدو ته یې بس وه.
الف: پر خلکو یې احمقان وروتپل او له امت سره بې مشورې یې واکمنې ونیوه حال دا چې تراوسه په ولس کې اصحاب او با فضلیته خلک وو.

ب: شرابخور زوی یې خپل ځیناستی کړ، چې وربښمینې جامې یې اغوستې او طبل او طنبور یې غږاوه.
ج: زیاد [ابن ابیه] یې په ځان پورې وتړه [چې گنې ورور یې دی] سره له دې چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ویلی دي: اولاد په خپل پلار پورې اړه لري او ډبره د زناکار برخه ده.
د: د حجر او یارانو وژنه یې، پر جناب امیر معاویه دې د حجر او اصحابو یې د وژنې له امله افسوس وي، پر جناب امیر معاویه دې د حجر او اصحابو یې د وژنې له امله افسوس وي.

[1] البیان والتبیین ۳: ۳۰۰ مخ.

**د جناب امیر معاویه سترې ویاړنې**

جناب امیر معاویه، دې عادل صحابي؟! په خپلو کړو وړو بسیا ونه کړه او د خدای د ولي، حضرت علي په کنځا لګیا شو او ملت هم په دې ناوړه چار کې ورسره مل شو[1] او ټولو دولتي مامورینو یې د جناب امیر معاویه د خوشحالۍ لپاره په علي کرم الله وجهه پسې کنځلې کولې[2].

---

[1] طبري تاریخ، د ۵۱ کال پېښې. ابن اثیر تاریخ ۲۰۲ او ۲۰۹ مخونه.

[2] طبري تاریخ ۵: ۱۶۷ او ۱۶۸ مخونه. ابن اثیر تاریخ ۳: ۴۱۳ مخ. حاکم مستدرک ۱: ۳۸۵ مخ او ۲: ۳۸۵ مخ. ابن ابی الحدید د نهج البلاغې شرح ۱: ۳۵۶ او ۳۶۱ مخونه. سیوطي تاریخ الخلفا ۱۹۰ مخ. العقد الفرید ۴: ۳۶۵ مخ او . . . . .

# د عادلو اصحابو د پېژندنې سمه لار

ډېری تاریخپوهانو ویلي، د بدر غزا تر پیل مخکې (چې د مسلمانانو او کفارو لومړی وسلواله نښته وه) د «شرک» لښکر د ابوجهل په قومندانۍ د مسلمانانو پر وړاندې خپلې لیکې منظمې کړې او د «ایمان» لښکر هم د حضرت محمد صلی الله علیه و آله په قومندانۍ جګړې ته چمتو شو. ابوجهل اسمان ته لاسونه پورته کړل او دعا یې وکړه: «خدایه! چې په موږ کې څوک له تا لرې او خپلوۍ اړیکه یې پرې کړې وي همدا نن یې له منځه یوسه. . . .
په همدې وخت کې حضرت هم خپل لاسونه اسمان ته پورته کړل او له خدایه یې وغوښتل: «خدایه! که دا مؤمنه ډله له منځه ولاړه شي؛ نو تر دې وروسته به ونه لمانځل شې. خدایه! خپله کړې وعده دې راسره پوره کړه. »

## په دې دعاوو کې ځیرنه

د دواړو ډلو [مشرانو] لاسونه اسمان ته پورته کړل.
دواړه قومندانان وایي: خدایه.
دواړه حق شعار وایي.
ابوجهل انګېري چې تر ټولو خدای ته ډېر نژدې دی او تر ټولو زړه سواندی دی او حضرت محمد صلی الله علیه و آله ټینګار کوي چې که څوک یې لاروي وکړي د حق ملاتړی دی او دا د خالق او مخلوق ترمنځ د اړیکې غوره وزله ده. جناب نبي مکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) څرګندوي چې د ده او د خدای ترمنځ یې څه وعدې شته.

**پوښتنه:**

که دواړه پر حق وي؛ نو ولې جګړه کوي؟ که دواړه د خدای په لار کې ګامونه اخلي؛ نو ولې یې اختلاف پر جګړې اوړي؟ په تېره چې د خدای لار او حق یو دی، چې نېغه لار ده.

**احتمالات:**

د یوازې موضوعي څېړنې د کچو له مخې، درې احتماله شته:
الف: دواړه پر حق وي، چې دا یو ناشونی څیز دی؛ ځکه د حق لار یوه ده او هغه یو یقیني لار ده، چې د خدای سیده لار ده؛ نو لازم دي، چې یو په هغه بل پسې ولاړ شي.
ب: یو پر حق او بل پر باطلو وي، چې دا یو منطقي او شونی څیز دی.

ج: دواړه پر باطلو وي او څرګنده ده، چې دغسې یو څیز د پیغمبر په اړه یو منطقي چار نه دی، چې دلیل او معجزه لري.

**د حل لار:**

حقیقت او واقعیت ته د رسېدو لپاره لازم دي چې:

الف: حق وپېژندل شي.

ب: باطل وپېژندل شي.

ج: حقوال د حق په وزلو په نښه شي.

د: بې لارې د حق په وزلو په نښه شي.

دې [مهم] ته د رسېدو لار

۱-دې حق ته د حق پر شتون سربېره د حقوقي نظام شتون

څرنګه چې حق هماغه اسلام دی او اسلام؛ قرآن او سنت دی او سنت درې اړخونه لري: وینا، کړنې او [نبوي] تاییدات. د قرآن آیات او نبوي سنت دواړه هغه حقوقي ټولګه ده، چې باطل ورسره ګډېدای نه شي (د فصلت له ۴۱ آیته اخستنه) دا حقوقي نظام یو الهي څیز دی.

۲-هغه عقل چې پر الهي حقوقي نظام پوه شي.

۳-بې تعصبه او بې پرې کړنه، داسې چې د مسلمان موخه، د شرع په چوکاټ کې عمل کوي او هوډمن وي، چې د دې حقوقي نظام شرعي مطلب د اسلام له متن او جوهر څخه ترلاسه کړي.

۴- پیغمبر یا شرعي مشر ته چې عقلي پوهېدنه ور وړاندې شي چې د نظریاتو د اختلاف په هواري کې یې نظر وروستی نظر وي. دغسې یو څوک د هغو خلکو په نزد د څواکونو همغږي کوونکی او د ازاد اندنې لارښوونکی دی چې حق غواړي او ورته د رسېدو په لټه کې یې وي. داسې یو تن د نبوت په عصر کې، پخپله پیغمبر دی او د نبوت تر زمانې وروسته، ولي او صالح امام دی، چې د شرع له مخې ټاکل شوی وي. دغسې یو تن د حق او باطل ترمنځ یوه واقعي کچه ده. هغوی چې د محمد (صلی الله علیه و آله وسلم) لار نیولې او د هغه اوامر یې منلي وو پر حق وو او هغوی چې پر ځای یې په نورو پسې تللي وو؛ نو پر باطلو دي، ان که قرآن له یادو وایي، لمونځونه کوي او روژې نیسي، جوماتونه جوړوي؛ ځکه په هره زمانه کې ولایت او موالات له حق څخه د باطل د پېژندنې یوازېنۍ ثابته کچه ده.

**مخنیوونکي عوامل یا خنډونه**

۱-هوی، ځانپالنه: هغه لامل دی چې چارې اړوي او متون د خپلو ځاني غوښتنو له مخې تفسیروي.

۲-په پټو سترګو تګ: انسان داسې اندنې رامنځ ته کوي چې د خپل نظر او رامنځ ته شویو اندنو ترمنځ یې ډېر واټن دی او په عین حال کې تعدیل او ادلون بدلون پکې نه مني.

۳-خپلسري: هر مقلد او لاروی انګېري، چې یوازې د ده رایه او فتوا سمه ده او چې څوک یې له رای سره مخالفت وکړي؛ نو د شیطان پلوی دی. له خپل مخالف سره سخت او توند چلېږي او سر سخت دښمن یې بولي.

۴-د شرعي ولایت لرې کونه یا بدلونه: چې مسلمان له شرعي ولایت څخه مخ واړوي او د بریمن یا فاتح کس یا د بل پلوی شي.

## د اصحابو په عدالت کې وروستۍ خبره

وړاندې مو وویل چې د لغوي او اصطلاحي مانا له پلوه د «اصحابو» په اصطلاح کې ټول هغه کسان رانغاړل کېږي چې پېغمبر یې لیدلی وي او ایمان یې پرې راوړی وي او یا یې په ایمان ځانښوونه او تظاهر کړی وي او په ایمان یا تظاهر یې له نړۍ سترګې پټې کړې وي او د اهل سنتو له لید لوري، ټول اصحاب عادل دي.

خو شیعه معتقد دي: عادل هغه دی چې خدای او پېغمبر عادل ګڼلی وي او د مؤمن یوازېنی ورک شوی څیز شرعیه حقیقت دی، چې د لټولو په لټه کې یې دی او سپېڅلې شرع یې د ورپېژندو وزلې ورته ټاکلي دي، مسلمان یې دې راسپړنې ته ورسیخ کړی او دې موخې ته د ورسېدو لپاره یې د اندنې ځواک ورډالۍ کړی او مرستندوی شوی یې دی، البته دا چارې هله وي، چې مسلمان په ځاني غوښتنو پسې ولاړ نه شي.

دا چې پېغمبر تر ټولو انسانانو غوره دی او د اهل سنتو په ګومان، بشر دی چې شونې ده تېر وځي؛ نو څه څیز به د دې خنډ او مانع شي چې یو کوچنی چې پېغمبر یې لیدلی یا پېغمبر هغه لیدلی [په راتلونکي کې] تېر نه وځي او یا دروغ ونه وایي؟ کوم یو شرعي دلیل دی چې عقل، انسان له فکر کولو منع کړي او د انسان د څېړنې خنډ شي؟ [په دې ترڅ کې] داسې خلک وو چې وژنې او غلاوې یې کړي، دروغ یې ویلي، زنا یې کړې او ان د پېغمبر اکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) تر وفات وروسته محکمې ته راغوښتل شوي؛ نو حقایق باید څرنګه وڅېړل شي؟

عدل څنګه رامنځ ته شي او امت څنګه د تېرو له تجربو ګټه پورته کړي چې تېر نه وځي او سمه لار ووهي.
نو باید ووایو چې: شیعه د رښتونو اصحابو پر عدالت ایمان او عقیده لري او په هر لمانځه کې ورته دعا کوي؛ خو د نورو اصحابو په باب باید ووایو: کوم څیز چې هغوی عادل کولای شي، په واقع کې د شرعې په کچو یې کړنې دي. شیعه معتقد دي چې د ګردو اصحابو عدالت (د اهل سنتو په مانا) یوه پوره سیاسي نظریه ده چې د آزاد کړای شویو (طلقاء) د واکمنۍ په عصر کې رادبره شوې، بنسټ یې د هغوی تر څارنې لاندې ایښوول شوی او تبلیغاتي وزلې یې ورته چمتو او پایښتې کړي او راتلونکیو نسلونو دا تفکر دا طریقه په بېلا بېلو نیتونو او موخو ومنله.
شیعه معتقد دي، ځینو فقهاوو چې د دې نظریې پر خلاف (چې ګڼې ګرد سره اصحاب عادل دي) کومې سزاګانې ټاکلي؛ نو دا د نص او دلیل پر بنسټ نه دی، څوک حق نه لري، چې یو مسلمان ته بې له نص او شرعي دلیل څخه سزا ورکړي [او باید وویل شي] د شرعي کچو له مخې دا ډول سزاګانې ظلم او باطلې دي، چې پایله یې د امت درز دی او د دې لامل کېږی چې امت د تېرو له تجاربو څخه بې برخې پاتې شي او ګټه ترې ونه کړي او د کارونو د پای په اړه له فکر کولو ولوېږي، چې ولې امت داسې یو د ګړنګ غاړې ته راښکودل شو او په پای کې کومه سزا چې په پام کې ورته نیول شوی، د دې لامل کېږي، چې د راتلونکي په باب راته خنډونه پیدا شي او د ړنا او بصیرت له مخې د امت د یووالي مخه ونیول شي.

**ګډوډي**

که ګرد اصحابان عادل وو؛ نو ولې پکې فتنې راولاړې شوې؟ او که [په رښتیا] ټول عادلین وو؛ نو ولې په اسلامي امت کې بې اتفاقي راغله؟ که عموم اصحاب عادلین وای؛ نو ولې یې ځینو ځینې ووژل؟ عادل انسان خو یوازې په حق بل وژني او که ټول اصحاب عادل وای؛ نو ولې د امت مشري نا اهلو ته وسپارل شوه، ولې خلافت د سلطنت او غنیمت په بڼه واوخوت او د برلاس په لاس کې ولوېد؟ د ټولو اصحابو پر عدالت عقیده، ګډوډي، د خلکو په سترګو کې شګې اچول او انساني عقلونو ته قلف وراچول دي؛ ځکه محاله ده، څوک چې جنګېږي ټول دې پر حق وي.
حق، وژنه نه مني او له فتنې سره مخالف دی، حق، د بې اتفاقۍ خلاف دی او د دې خنډېږي، چې مشري نااهله ته وسپارل شي.
اوس د زرو کالو تر تېرېدو وروسته وایو: هغه امت تېر شو، اوس یې باید له سره پیل کړو، بې له دې چې پوه شو څوک د حق خاوند و او چا د حق لاروي کوله، چې ورپسې ولاړ شو،

څوک پر باطلوو او چا له هوا و هوس او ځاني نوښتنو لاروي کوله، چې له لارې يې ځان وساتو.
د دې وړانديز مانا دا ده، چې د څه له پاسه زرو کلونو له تجربې ګټه پورته نکړو او ژوند له صفر څخه پيل کړو، لکه چې له آره کومه تجربه نه لرو. دا هماغه ګډوډي ده، چې ډېرو ترې ګټه پورته کړې او چارې يې اپوټه ښوولې دي او يا يې حقايق له خلکو پټ ساتلي دي. اوس له دې ګډوډيو او پټولو سره سره مصلحت مو څه دی؟ ايا د يو زرو درې سوه او نوي کالو د تجربو له منځه وړل مو په مصلحت دي؟ په تېره دا چې ګډوډي، پټول او د تجربو ګوذارول د اسلام د دين د مصلحت په نامه شوي او د اسلام د ضيف او خالص دين په زيان تمام شوي دي.

## د شرعي راسپړنې پر لور يوه پېښه

يوې ډلې تر مودې سرګردانۍ او لالهاندۍ وروسته پاڅون وکړ او دريم خليفه حضرت عثمان بن عفان (رض) يې په دې ګومان وواژه چې د خپلو دوو ملګرو صديق او فاروق (رضی الله عنهما) له لارې او سيرت څخه اوړېدلی دی. د خليفه تر وژنې وروسته مدينوالو له علی کرم الله وجهه سره بيعت وکړ، ورپسې د نورو ښارونو خلکو هم بيعت وکړ او يوازې د شام والي (جناب امير معاويه) او خلکو يې بيعت ونه کړ؛ ځکه جناب امير معاويه په خپل ګومان غوښتل چې د خليفه وژونکي قصاص کړي. نوي خليفه علی کرم الله وجهه ورته وويل: ته هم اطاعت وکړه ژر به يې د وژونکيو په اړه په حق قضاوت وکړم. جناب امير معاويه دا خبره ونه منله او په شام کې پاتې شو او د امام پر خلاف يې په دسيسې جوړونې لاس پورې کړ او د جګړې اعلان يې وکړ او په دې چار يې د اسلامي حکومت ارکان ولړزول او امت يې ډلبندۍ ته چمتو کړ او د شام شتمني او عايدات يې په غير شرعي لارو ولګول. چار يې تر دې ورساوه چې په رښتيا په اسلامي امت کې درز ولوېد، وينې وبهېدې، تر دې چې امام شهيد شو او جناب امير معاويه په غصب واکمني تر لاسه کړه، حال دا چې په امت کې مخکښ اصحاب وو، چې د اسلام لپاره له جناب امير معاويه او پلار سره يې جنګېدلي وو.
جناب امير معاويه د عثمان (رض) د وژونکيو کسات هېر کړ يا يې ځان پرې ناګار کړ. وصيت يې وکړ، چې تر مړينې وروسته يې زوی، يزيد ځايناستی وي، حال دا چې د حسن بصري رحمة الله عليه د وينا له مخې، يزيد شرابخور او همېشه نشه و، بېزوپال و او طبل يې واهه.
له هغه مهال وروسته د حکومت او دولت ترلاسه کول يو غنيمت وګڼل شو، چې په فاتح پورې ځانګړی شو او له هغه وخت څخه برلاسي او بريا يوه شرعي وزله شوه (موږ له بريالي سره يو).

# د ټولو اصحابو عدالت

د علي کرم الله وجهه او جناب امیر معاویه په لیکو کې اصحاب وو، ټول عادل او یو یې هم دوزخ ته نه ځي، ټول جنتیان او د رای خاوندان وو، نه ټېروتل او د اهل سنتو د نظر له مخې، چې څوک پکې خوګانې لټوي یا یې توهینوي؛ نو زندیق او کافر دی؛ له دې تن سره خواړه خوړای نه شئ او په لوښي یې اوبه څښلای نه شئ او که ومړ جنازه یې کړای نه شئ، چې څومره دې زړه غواړي اصحاب وستایئ، چې د دغسې ستاینې وړ دي؛ خو که ووایې چې یو اصحابي ګناهګار دی؛ نو کافر یې.

دا ناسمه او غلطه مفکوره د یو حقیقي دود او سنت په بڼه واوړېده او انګېرل شوه چې دا د خدای او رسول قانون دی.

## منطقي دود

د بحث د علمي دود د کچو له مخې، درې احتماله لرو:

۱-ټول پر حق وي؛ یعنې علي کرم الله وجهه او لارویان یې او جناب امیر معاویه او لارویان یې او دغسې یو احتمال او انګېرنه ناشونې ده؛ ځکه حق یوازې یوه یقیني لار لري.

۲-ټول پر باطلو وي؛ یعنې علي کرم الله وجهه او لارویان یې او جناب امیر معاویه او لارویان یې. دا احتمال هم ناشونی دی؛ ځکه علي کرم الله وجهه د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله د نص له مخې د خدای ولي دی او د پیغمبر د نص له مخې «علي له حق سره دی او حق له علي سره دی چې چېرې وي حق ورسره دی»[1]

## ۳-پوښتنه

که ټول پر حق وو، نو ولې پر اختلاف اخته شول او یو له بل سره وجنګېدل او داسې کېدای نه شوه چې اختلاف یې د جګړې تر حده ونه رسي او پر شرعې کچو هوار شي او په زرګونو تنه ونه وژل شي؟

---

[1] (د خوارزمي د مناقبو اتم څپرکی وګورئ)

**پايله**

نو ځکه بايد يو پر حق او بل پر باطلو وي او دا يو ډول خوش باوري او لنډ فکري ده چې ټول عادل دي، نه تېروځي؛ ځکه د چا وژنه بې له شرعي دليل څخه سمه نه ده او په لوی لاس وژنه، په ملت کې درز اچول او د امام پر ضد راپاڅېدل يوه ګناه ده.

څوک چې په ګومان او شک يا د مصلحت يا ځاني غوښتنو له مخې د انسانانو وژنې ته دوام ورکوي، دغسې يو تن عادل کېدای نه شي او په پايله کې دا احتمال شته چې دروغ ووايي، تېروځي او ګناه وکړي. او د صحابيت ټوليز چوکاټ د دې ناوړه چارو مانع نه دی؛ ځکه صحابي کېدل، پېغمبري نه ده (چې عصمت ولري او له تېروتنې څنې خوندي وي].

## د عدل د پېژندنې لار

۱-د دې حق لپاره د يو حق نظام درلودل او د يوې حقوقي ټولګې شتون، چې د چارو او نيتونو زياته برخه رانغاړي.

حق او حقوقي ټولګه شته چې دا قرآن او سنت دي (سنت؛ وينا کړنې او نبوي تاييد) او په ټول کې دوی يو حقوقي نظام جوړوي چې باطل بيخي ورننوتای نه شي. دا ټولګه، د خدای دين دی، هغه دين چې له وحې او الهي لارښوونې څنې اخستل شوی او خدای خپلو بندګانو ته غوره کړی دی.

۲-د يو مشر او شرعي امام شتون، چې ټول نظريات واوري او د اختلاف په هواري کې يې نظر، وروستۍ خبره وي او دا مشر د څواکونو همغږی کوونکی او د حق پر لور د خلکو لارښوونکی او د خلکو پالندوی دی. پېغمبر صلی الله عليه و آله د خپل نبوت په زمانه کې د خلکو ولي او پالندوی او تر ځان وروسته يې حضرت علي وټاکه او و يې ويل: «هغه تر ما وروسته ستاسې مشر او ولي او پالندوی دی، هغه تر ما وروسته د هر مؤمن او مؤمنې پالندوی دی، د چاچې زه ولي او پالندوی يم، دا علي يې مولا او اختيار من دی، خدايه! د علي دوستان دوست او دښمنان يې دښمن وګڼه» (د خوارزمي د مناقبو څلوارلسم څپرکی وګورئ)

دا يو حقيقت دی چې په ګرده نړۍ کې څوک ترې منکرېدای نه شي ان پخپله جناب امير معاويه هم، چې راوروسته به يې جوته کړو.

۳-بې پلوي او بې تعصبه کېدل: که پېښې بې تعصبه او په پوره بې پرېتوب وڅېړل شي او د مسلمان موخه الهي موخه وي.

۴-هغه عقل چې حقوقي نظام درک او پر پېښو یې تطبیق کړای شي او پایله یې د مسلمانانو مشر او ولي ته ور وړاندې کړي.

## د عدالت کونجي

علي کرم الله وجهه د خورا سمو روایاتو له مخې لومړنی مسلمان، د خدای ولي، د پېغمبر ورور او د پېغمبر د دوو سبطو پلار دی، علي د زهرای بتول مېړه او د شرک پر ضد د پوځي عملیاتو بولندوی یا قوماندان و. حضرت علي د اسلام بې ساری مخکښ جنګیالی او د اسلام د دښمنانو وژونکی و، د پېغمبر صلی الله علیه و آله د نص له مخې، صدیق اکبر او فاروق اعظم و (چې په راتلونکې بحثونو کې به یې جوته کړو) حضرت علي د ابوطالب زوی و. ابوطالب تر هجرت وړاندې د پېغمبر ملاتړی او د هاشمي کورنۍ مشر و؛ هغه نارینه چې عربي ټبرونو پوره درې کاله د ابوطالب په دره (شعب ابوطالب) کې په دې موخه محاصره کړی و، چې بني هاشم پېغمبر وروسپاري او یا یې له ملاتړ څخه لاس واخلي.
خو جناب امیر معاویه ازاد کړای شوی، د ازاد کړای شوي ابوسفیان زوی دی. ابوسفیان د اسلام د مخالفې جبهې مشر و او په ټولو جګړو کې له پېغمبرصلی الله علیه و آله سره جنګېده او هڅه یې کوله چې پېغمبر ووژني.
جناب امیر معاویه د ځیګر خورې هندې زوی دی، چې په چل یې سید الشهدا، حمزه (رض) شهید کړ او په وژنه یې بسیا ونه کړه، ګېډه یې ورڅیرې او تنه یې ورمثله (مثله یعنې د مړي د بدن د غړیو پرې کول) کړ. جناب امیر معاویه او پلار یې تر خپلې وسې وسې له اسلام سره جګړه وکړه، تر دې چې پېغمبرصلی الله علیه و آله مکه سوبه یا فتح کړه او دواړه په دام کې راګیر شول او بې د اسلام له منلو یې بله چاره نه درلوده. جناب امیر معاویه د هغو کسانو په شمېر کې و، چې مرسته ورسره کېده او زکات ورکول کېده، چې له اسلام سره یې مینه پیدا شي.

## عادل اصحاب

ټول هغه کسان چې له علي کرم الله وجهه سره وو او دا یې خپل پالندوی ګاڼه، عادل اصحاب وو، چې د خدای په فضل او احسان د پېغمبر صلی الله علیه و آله د یارانو پرېکنده اکثریت وو او هغوی چې له حضرت علي سره مخالفت وکړ لکه زبیر او طلحه (رضی الله عنهما)، چې وروسته پښېمانه شول او توبه یې وایسته او تر مرګ وړاندې په پوره خوښۍ ورستانه شول. د اسلام شرافت ته همدا بس دي، چې له انصارو یوازې دوه تنه جناب امیر معاویه ته ورغلل او

دريیم به پکې ونه گورې او که ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) ژوندي وای؛ نو د حضرت علي ملاتړ یې کاوه او عمر (رض) و چې د حضرت علي په اړه یې وویل: علي زما او ستا او د هر مؤمن او مؤمنې مولا دی (د خوارزمي د مناقبو څوارلسم څپرکی وگورئ).
خدایه! له عادلو اصحابو خوشاله وسه او زموږ او د اسلام له لوري ورته بدله ورکړه، چې وړ یې دي.
او هغوی چې له جناب امیر معاویه او پلار سره یې وو، چې زموږ د بحث موضوع ده، دوی (په لغوي او اصطلاحي مانا) د اصحابو یوه کوچنۍ ډله وه، چې همدې کوچنۍ ډلې ته د ټولو اصحابو د عدالت نظریه طرح شوې، چې واقعیت ته مخونه او شرعي رنگ ورکړي، چې ژر به یې څرگنده کړو.

**ناخبره خلک**

مسعودي په مروج الذهب کتاب کې لیکي: روایت یې کړی، د شام یو مشر او د نظر خاوند وپوښتل شو، دا خطیب چې پر منبر پر ابوتراب لعنت وایي د چا زوی دی؟
په ځواب کې یې ورته وویل: لکه چې یو فتنه گر غل دی. او بیا لیکي: جاحظ ویلي دي: یو تن چې اهل سنت و او حج ته روان و، حال دا چې بیت الله الحرام ورته تشریح کېده، وامې ورېدل چې یې ویل: چې هلته ورسېدم څوک راسره خبرې کوي؟
[مسعودي زیاتوي] یو دوست مې ویل: یو تن مې ولید، چې پر پېغمبرصلی الله علیه و آله درود وایي او راته یې ویل، د محمد په باب څه وایې، ایا خدای مو دی؟ د ثمامة بن اشرس په نوم یو تن وایي: یوه ورځ د بغداد په بازار کې تېرېدم، ومې لیدل چې یوه ډله له یوه سړي څخه راتاوه ده، له سپرلۍ راکوز شوم او ډلې ته مې ځان ور ورساوه، وینم چې د یو سړي رانجه په لاس کې دي او خلکو ته د رنجو ځانگړنې وایي: دا د سترگو د هر درد دوا ده. چې ورته مې وکتل، یوه سترگه یې خوږېده او بله یې کړوپه تللې وه، ورته مې وویل: سړیه! که رښتیا وایې، خپلې سترگې دې پرې ورغوه. و یې ویل: ناپوهه! دلته د خپلو سترگو علاج وکړم؟ سترگې مې په مصر کې معیوبې شوې دي. ترې راتاوو خلکو وویل: رښتیا وایي او ځان مې په سختۍ د څپلیو له گوذارونو خلاص کړ.
[مسعود لیکي: ] یو عالم ویل: یوه ورځ مې له یوې ډلې سره د حضراتو ابوبکر، عمر، علي (رضی الله عنهما) او جناب امیر معاویه په باب په علمي دود خبرې اترې درلودې، ډله ډله خلک راتلل او زموږ خبرو ته یې غوږ نیوه یوه ورځ یو یې چې تر ټولو عقلمن او ږیره یې اوږده وه، وویل: څومره د علي او جناب امیر معاویه په باب خبرې کوې؟ ورته مې وویل د

علي په اړه څه وايي؟ و يې ويل: ایا علي د فاطمې پلار نه دی؟ ورته مې وويل: فاطمه څوک ده؟ و يې ويل: د پيغمبر مېرمن، د عايشې لور او د جناب امير معاويه خور.
ومې ويل: د علي کيسه راته وکړه؟
و يې ويل: د صفين په جګړه کې د پيغمبر تر څنګ ووژل شو.[1]

**دوی د جناب امير معاويه لارويان وو**

له جناب امير معاويه څخه د شاميانو لاروي تر دې بريده ورسېده چې صفين ته د تلو پر مهال يې د جمعې د ورځې لمونځ پر چهارشنبې وکړ او چا پرې نيوکه ونه کړه، شاميانو د جناب امير معاويه لار کې خپل سرونه ځار کړل او د هغه يې ډېر درناوی کاوه او د حضرت عمار ياسر په باب يې د عمرو عاص خبره ومنله چې حضرت علي وژلی دی؟ ځکه حضرت علي د خپل ملاتړ لپاره له خپل کوره يې رابهر کړی و. او لنډه دا چې شاميان د جناب امير معاويه په اطاعت کې تر دې بريده مخکې ولاړل، چې د جناب امير معاويه د امر له مخې د حضرت علي سپکاوی يې خپل دود کړ تر دې چې کوچنيان پر دې دود لويان او زاړه پرې مړه شول[2].
ایا دا د حقيقت په ويلو کې د عادلو اصحابو دود دی؟ ایا واقعاً دا حضات علي و، چې حضرت عمار ياسر يې وواژه؟ ایا له ديني چارو څخه د خلکو خبرول او د پيغمبر د درنو يارانو په باب معلومات ورکول د عادلو اصحابو پر همدغسې دود ترسره کېدل؟

---

[1] وګورئ: مسعودي، مروج الذهب ۳: ۳۹-۴۱ مخونه.
[2] (تېره سرچينه)

**دويمه برخه**

## د ټولو اصحابو د عدالت د نظريي تاريخي جرړې

د نظريي تاريخي جرړې

د نظريي سياسي جرړې

د نظريي له مطرح کولو څخه موخه

د نظريي فقهي جرړې

د نظريې له طرحې انتظار

**۱- د نظریي تاریخي جرړې**

د دې نظریي ټبریزې با قبیلوي جرړې چې نبوت او خلافت دې سره یو ځای نه وي

**الف- د قریشو ټبرونه یا قبیلې**

د قریشو ټبر له (۲۵) خېلونو څخه جوړ شوی و[۱] چې د شرع د نص له مخې اشراف او خورا غوره یې د بني هاشم بن عبد مناف کورنۍ وه[۲].

تر بني هاشمو وروسته په فضلیت او عظمت کې په ترتیب سره بني عبدالمطلب بن عبد مناف، بني الحارث بن عبد مناف، بني امیه بن عبد شمس بن عبد مناف او بني نوفل بن عبد مناف وو.

دا خېلونه تر پلار یې (عبدمناف) وروسته د قریشو مشران وو او مصلحان یې ورته ویل. دوی قریشو ته د امنیت تر خوندیینې وروسته لومړني کسان وو، چې تر حرم بهر نورو ځایونو ته وکوچېدل. بني هاشم د شام له پاچایانو، عبدشمس له نجاشي، نوفل له اکا سره [د ایران پاچایان چې پر هغه مهال یې «کسری» ورته ویل) او عبدالمطلب د حمیر له پاچایانو ورته امان او تضمین واخست. او پر نورو عربانو د سیادت او ویاړنې له امله د دې خېلونو شخصیتونو ته «زرین جامونه» ویل کېدل[۳].

**ب- سیاسي جوړښت:**

د قریشو فرعي کورنیو په یو ډول سیاسي جوړښت ته لار مونده او د شرافت د ځانګړنو له مخې یې سیاسي مسوولیتونه [لکه مشري، بیرغچي، د دارالندوه د راغونډېدو او کنفرانسونو ځای]، حاجیانو ته د اوبو ورکړه او مېلمستیا یې، د استازیو لېږل او داسې نور یې تر منځ وېشل کېدل. په دې جوړښت کې کورنیو ته ټاکل شوې سیاسي برخه یو شونی لوړ مقام او منصب و، چې تر لاسه کولای یې شو؛ او هم ورته څرګنده شوې وه، چې د ټبر د سیاسي ادارې لپاره دا یو غوره شونې جوړښت دی؛ ځکه په دې تولګه کې غالب او مغلوب نشته؛ په دې توګه د سیاسي منصبونو شریک قدر د قریشو د ګردو کورنیو حقوق او ګټې تضمینولې؛ نو ځکه د یوې کورنۍ هم خوښه نه وه، چې پکې بدلون راشي؛ ځکه د بدلون پایله یې ناڅرګنده وه او ښايي په پام کې نیول شوې موخې یې ترې ترلاسه نه شي؛ نو ځکه د خدای د کور اداري نظام او د پالنې

---

[۱] مسعودي، مروج الذهب ۲: ۲۹۱ مخ

[۲] حلبیه سیرت ۱: ۳ او ۴ مخونه. ابن ابی الحدید، د نهج البلاغې شرح ۲: ۱۵۶ او ۱۸۵ مخونه.

[۳] ابن سعد، طبقات ۱: ۷۵ مخ

چارې يې د دې سياسي جوړښت په سيوري کې تنظيم شوې وې؛ نو ځکه د قريشو ټول خېلونه ترې خوشحاله وو او دا نظام د وخت په تېرېدو د يوې سياسي عقيدې په بڼه او له نيکونو يې ورته پاتې ميراث شو؛ نو ځکه د چا مخالفت ورسره جايز نه ګڼل کېده.

## پ- د سياسي جوړښت د تغيير لپاره هڅې

په وچکاليو او تنګلاسۍ کې، يوازې هاشم د مکيانو په چوپړ کې و، خلکو ته يې خواړه ورکول؛ نو ځکه يې د «بطحا» د سيمې پلار ورته وايه، په خوشحاليو او خپګان کې يې دسترخوان غوړېدلی و، مسافر يې پالل او ډارول شويو ته يې پناه ورکوله[1].

د هاشم ښو چارو په امية بن عبد شمس کې کينه راوپاروله او په ښو چارو کې يې ورسره سيالي پيل کړه، خو ترسره يې نه کړې او قريشو ټپسوری کړ. اميه له هاشم څخه وغوښتل چې وياړنې يې وڅېړل شي، چې کوم يو يې غوره دی؟ هاشم له دې وړانديز څخه ډډه وکړه؛ خو اميه ټينګار کاوه او شرط يې کېښود که څوک يې بايلي پنځوس اوښان به حلالوي او له مکې به د لسو کالو لپاره وځي هاشم ورسره ومنله، دواړه منځګړي ته ورغلل او د هاشم په غوړاوۍ پرېکړه وشوه. اوښان حلال شول او اميه شام ته ولاړ چې دې چار د لومړي ځل لپاره د هاشم او اميه په کورنيو کې د دښمنۍ تخم وشينده.

ښايي اميه ځکه دې چار ته اړ شوی و، چې له هاشم سره يې کينه درلوده او ډار ورسره و، چې شته وضع به واړوي؛ ځکه پر هغه مهال د مکې مشري د عبد شمس پر غاړه وه او طبيعي وه د هاشم په څېر د يوه ستوري ځلېدل به په اسانۍ نظام يو مخې ولړزوي او د عبد شمس کورنۍ به خواره کړي[2].

## ت- د نبوت انګازه

په مکه کې انګازه خپره شوې وه، چې ژر به د عبدمناف له کورنۍ څخه يو پېغمبر راشي. ابوسفيان له دې انګازې څخه خورا په تشويش کې و او مينوال و، چې دا پېغمبر به «امية بن ابی صلت» وي. ابوسفيان ډاډمن و، چې دا پېغمبر به د مکې سياسي نظام واړوي او د مکې مشري به يې له لاسه ووځي، او دا چې د مکې مشري د بني اميه و په لاس کې ده؛ نو دا پېغمبر د اميه کورنۍ ته ستر خطر دی؛ خو د دې روحي دباوونو تر زغملو وروسته يې ځان پر دې

[1] طبري تاريخ ۲: ۱۸۰ مخ. حلبيه سيرت ۱: ۵ مخ. ابن سعد طبقات ۱: ۷٦ مخ
[2] حلبيه سيرت ۱: ۱۵ مخ

ډاډه کړ چې انګازه خو په ډاګه وایي چې: پیغمبر له بني عبد مناف څخه دی، چې په دې کورنۍ کې بې له «امیة بن صلت» څخه بل څوک د نبوت وړ نشته نو ځکه کوم پیغمبر ته چې سترګې پر لار دي؛ یوازې پخپله دی.

### ث- د نبوت اعلان

حضرت محمد صلی الله علیه و آله (چې د هاشم له کورنۍ دی) اعلان کړه: کوم پیغمبر چې خلک ورته سترګې پر لار دي، هغه دی، چې د خدای له لوري د عربو لارښوونې ته په ځانګړې توګه او په عمومي توګه د بشري ټولنې هدایت ته رالیږل شوی دی او معجزه یې د خدای کلام دی. یو ډېر لږ شمېر کسان چې په پوهې او لوړ نظر پیژندل شوي وو، او هغوی چې کمزوري کړای شوي وو، ورپسې ولاړل.

### ج- له پیغمبر څخه د بني هاشمو ملاتړ

بني هاشمو په ټول وس له پیغمبر څخه ملاتړ وکړ، د قریشو مشری، پیغمبر په وژنه وګواښه او ډنډوره یې کړه چې محمد وژل شوی دی، په دې پسې ابوطالب بني هاشم راټول کړل او هر یوه ته یې تېره توره ورکړه؛ بیا نو له بني هاشمو او د مطلب له کورنۍ سره قریشو ته ورغی؛ چې ورنژدې شو، په لوړ غږ یې ورته وویل؛ پوهیږئ چې د کوم چار هوډ مې نیولی دی؟ ویې ویل: نه، له پیښې یې خبر کړل او بیا یې ځوانانو ته وویل: توري مو راښکاره کړئ. قریشو په حیرت ولیدل چې له هر ځوان سره تېره توره ده. ابوطالب د خبرو په دوام وویل: پر خدای قسم، که محمد ووژنئ، یو مو ژوندی نه پرېږدم او جګړه تر هغې غځوم چې په موږ او تاسې کې یو هم ژوندی پاتې نه شي، د ابوطالب د دې غوځ چلن پر وړاندې ټول قریش او تر ټولو ډېر ابوجهل خړ سترګی شو[1].

### ج- په کینه یې سیاسي نظام ساته

نه دا چې له بوتانو سره یې مینه وه د ابوسفیان په مشرۍ د قریشو خېلونو د محمد صلی الله علیه و آله پر وړاندې د مقاومت ټول دودونه وکارول، نهیلي نه شول او ستړیا یې احساس نه کړه او چې نهیلي شول، بني هاشم محمد نه تسلیموي؛ نو په عمومي توګه په لاندې ټکیو یو خوله شول:

---

[1] ابن سعد طبقات ۱: ۸۰مخ

۱-له بني هاشمو سره د اړیکو پوره پرې کول: له پرېکړې سره جوخت د قریشو ټولو خېلونو لکه بني عدی او بني تمیم له بني هاشمو سره خپلې اړیکې پرې کړې او درې کاله یې د ابوطالب په دره (شعب ابی طالب) کې اقتصادي محاصره کړل او دومره یې په تنګسه کې ونیول، چې په لوږه کې به یې د ونو پاڼې خوړې او کوچنیانو به یې شګې څټلې، چې د دې واقعیت پر سموالي لکه د لمر په څېر څوک نه شکمنېږي. له دې سره سره نه محمد صلی الله علیه و آله پر ګونډو شو او نه د بني هاشمو په ملاتړ کې څه خلل راغی او خدای د قریشو پر دسیسو د بطلان لیکه راښکوده او درې کلنه محاصره ماته شوه.

۲-چې قریش خبر شول، محمد صلی الله علیه و آله په یثرب (مدینه) کې ځانته یوه هډه جوړه کړې او ډېر ژر به مکه پرېږدي؛ نو یوه خوله شول، چې و یې وژني. نو د دې موخې لپاره یې د عربو له هر ټبره یو تن وټاکه، چې په یو ډله ییز حرکت او غلچکي برید کې یې ووژني او په دې توګه وینه یې د عربو په ټولو ټبرونو کې خپره وره شي او بني هاشم له ټولو سره جګړه ونه کړای شي. دا هوډ یې ځکه ونیو، چې مکیان ډارېدل که محمد صلی الله علیه و آله یثرب ته ولاړ شي؛ نو بریالی کیږي چې په پایله کې به دووی شرف او مشري له منځه ولاړه شي.
د دسیسې د عملي کولو لپاره یې د حضرت پر کور یرغل وکړ؛ ناڅاپه یې حضرت علي د پیغمبر په بستره کې ویده و موند، د مکې مشری بیخي خپل عقل له لاسه ورکړی و او هغوی ته یې انعام ټاکلی و، چې پیغمبر ژوندی یا مړ ورته راولي. بلخوا محمد صلی الله علیه و آله له خپل ملګری سره د یو مشرک په لارښوونه او د خدای تعالی په مرسته روغ رمټ یثرب ته ورسېدل او دا یو بربنډ واقعیت دی، چې دلیل ته یې اړتیا نشته[1].

### ح- د سیاسي نظام او کینې لپاره جګړې، نه دا چې له بوتانو سره یې مینه وه

د قریشو خېلونه او اموي مشران یې د محمد صلی الله علیه و آله، بني هاشمو او د دین له ماتې نهیلي نه شول. حضرت محمد صلی الله علیه و آله، بني هاشم او د حضرت یاران هم د شرک او مشرۍ له ماتې یې نهیلي نه شول. په پایله کې عربان په درېیو ډلو وویشل شول:
یو شمېر یې له قریشو او مشرکو مشرانو سره ودرېدل، لږ شمېر یې له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله سره وو او درېیمه ډله فرصت ته سترګې پر لار وه، چې د لانجو تر پای ته رسېدو وروسته له برلاسې ډلې سره یوځای شي.

---

[1] حلبیه سیرت ۱: ۱۸۰ او ۳۳۲ مخونه

په «بدر» او «احد» کې د جګړې لمبې ژبغړاندې شوې، د قریشو مشران له یهودو سره همژمني شول او د احزابو لښکر یې جوړ کړ، او د پېغمبر پایتخت یې تر برید لاندې ونیو.
د احزابو یووالی له منځه ولاړ او قریش تر څه مودې وروسته ناڅاپه له الهي لښکر سره مخ شو، چې د شرک پایتخت مکې ته د ننوتو هوډ لري. په دې ترڅ کې د مکې مشران پر ګونډو شول او له ناچارۍ یې اسلام ومانه. د دوی په تسلیمېدو ټولو عربانو غاړه کېښووه او په دې توګه ټول جزیرة العرب د پېغمبر دولت او حکومت ته غاړه کېښووه او ډلې ډلې عربانو اسلام راوړ او مسلمانان شول.

## خ- په بني هاشمو کې پېغمبري د انکار وړ نه ده

په اموي مشرۍ د قریشو خېلونو، په ټولیزه توګه محمد صلی الله علیه و آله او دین یې ونه مانه او په ټولو وزلیو یې په مقابلې او مقاومت لاس پورې کړ، چې البته دا غبرګون یې بوتانو ته د ژمنتیا لپاره نه؛ بلکې د بني هاشمو راوړي دین ته یې غاړه نه ایښووه، چې مشري یې لاس ته ور نه شي او اوسنی سیاسي نظام دړې وړې نه شي.
په پای کې ابوسفیان مکې ته نژدې له الهي لښکر سره مخ شو. عباس، ابوسفیان خبر کړ، ابوسفیان چې د خدای لښکر ولید نو وډار شو او غړی یې سُوی شول او مقاومت یې له لاسه ورکړ. د ګوند مشر د جناب نبي کریم د رسالت په اړه له خپلو انګېرنو پرده لرې کړه او و یې ویل: د هغه په څېر مې کوم پاچا لیدلی نه دی، نه کسری، نه قیصر او نه د بني اصفر[1] پاچان.
عباس هغه پېغمبراکرم ته بوت. جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ورته وویل: ابوسفیانه! افسوس دربادې؛ ایا د دې وخت رارسېدلی نه دی چې پوه شې بې له «الله» بل د لمانځنی وړ نشته؟
ابوسفیان وویل: ګومان کوم، که له خدای سره بل خدای (هم) وای؛ نو ګټور راته نه و.
جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله وویل: ایا د دې وخت رارسېدلی نه دی، چې پوه شې، زه د خدای پېغمبر یم؟
ابوسفیان وویل: تر اوسه شکمن یم.
عباس پرې ورچغه کړه: ابوسفیانه! افسوس دربادې، مخکې تر دې چې څټ دې پرې شي، اسلام راوړه او ګواهي ورکړه، چې یوازې «الله» د لمانځنې وړ او «محمد» یې استازی دی.

---

[1] دا د یو نافیانو او فرنګیانو نوم دی، چې عربانو رومیان په دې نوم یادول. لغتنامه د هخدا.

ابوسفیان د دې جملې په اورېدو او دا چې راګیر شوی او ځان وساتي اسلام یې راوړ؛ او په زړه کې یې ویل: کاشکې پوهېدم، چې په کومې وزلې راباندې برلاس شوې؟
خدای په وحې خپل پېغمبر د ابوسفیان له دنننې حاله خبر کړ؛ نو ځکه پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله ورته وویل: د خدای له لارې درباندې برلاس شوم.
د قریشو خېلونو و موندل چې د بني هاشمو د پېغمبرۍ موضوع یو تقدیر دی، چې تېښته ترې نشته او بې پروا کېدای ترې نه شو او کوم کار یې هم له وسې پوره نه دی او که پوره وای؛ نو بیخي یې ښه نه راتلل چې پېغمبر دې له بني هاشمو څخه وي او نبوت یو نه تکراري څیز دی.
د قریشو یو خېل هم د بني هاشمو عظمت ته نه رسي، ځکه بني هاشمو تر ټولو میدان وړی دی او قریش پوه شول، چې د سیاسي نظام ستنې یې په لړزان دي او بیخي به راونړېږي. نو له همدې امله په باطن او پټه کې یې هڅه کوله، چې د بني هاشمو مخه ونیسي چې نبوت او خلافت یې دواړه نه شي او پر ټولو شرافتونو یې د برلاسی خنډ شي.

## د پرمختګ مخنیوی

د قریشو عموم خېلونه په دې باور وو، چې هاشمي پېغمبر، هغه سیاسي نظام یو مخې لړزولی، چې د مکې ټبرونو تر منځ یې د شرف منصوبه ویشلي وو. نو ځکه بې له عبدالمطلب څخه، نورو خېلونو د پېغمبر له منلو ډډه وکړه او یوازې همدوی له بني هاشمو سره ودرېدل؛ خو بني امیه و تر نورو ډېر د بني هاشمو د پرمختګ پر وړاندې مقاومت وکړ، چې څو علته یې درلودل:
۱-له بني هاشمو سره یې اوږده دښمني وه ان تر اسلام له مخه.
۲-په بني هاشمو کې د پېغمبرۍ د ټینګښت په بنه کې، امویان مشري له لاسه ورکوي.
۳-بني هاشمو د بني امیه و مشران وژلي وو، لکه چې عقبه، ولید او شیبه په ترتیب سره حضرت حمزه، حضرت علي او حضرت ابوعبیده وژلي وو؛ نو ځکه امویانو نه یوازې دا چې دوی یې ښه نه ایسېدل؛ بلکې په زړه کې یې ورته کینه وه، چې د ابوسفیان مېرمن او د جناب امیر معاویه مور هندې د دې کینې یوه برخه رابرسېره کړه؛ ځکه نه یوازې یې د حضرت حمزه پر وژنې بسیا ونه کړه؛ بلکې د هغه پاکه تنه یې مثله[1] کړه؛ خو د لاندې دلایلو له مخې یې ونه کړای شو، چې په ډاګه د نبوت او خلافت د یو ځای کېدو مخالفت وکړ:
۱-د پېغمبر صلی الله علیه و آله بریا
۲-د اسلام رڼا هرې خوا خپره شوې وه

[1] مثله کول؛ یعني د مړي د غړیو لکه غوږ، پوزې او . . . . پرې کول.

۳-په ځنډ امويانو اسلام منل
۴-او د اسلام پر ضد يې د خپلو جګړو رايادول

**د- پراخېدونکې څپه**

دا وينا چې «دا نه ښايي چې له بني هاشمو سره دې نبوت او خلافت دواړه وي» د يوې پراخې فکرې څپې په توګه واوړېد چې د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله پر ژوندونې (د حضرت مبارک شتون، شرعي واکمنۍ يې او د پېغمبر تر مشرۍ لاندې د ر ښتينو اصحابو د يووالی له لامله) دا څپه کابو کړای شوې وه او څه مجال يې نه درلود، چې راښکاره شوې وای؛ خو که له هغو درې ګونو عناصرو څخه يو يې هم له منځه تله، لکه ژر د واکمنۍ د مشرعيت لړزېدنه او يا د رښتونو اصحابو د شمېر لږېدنه؛ نو برلاس وګړي قدرت تر لاسه کاوه.

**ذ-د سپېڅليو خپلوانو ځايناستي**

چې هغه درې تنه مهاجرين د بني ساعده و څېرګي ته ورغلل او په لاندې دلايلو يې انصارو ته استدلال وکړ، چې د خلافت وړ دي:

حضرت ابوبکر (رض) وويل: موږ د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله خپلوان يو او تاسې مو په دين کې وزيران او د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله وزيران ياست.

حضرت عمر (رض) وويل: په يوه غلاف کې دوه توري نه ځايېږي. پر خدای قسم عرب به راضي نه شي، چې تاسې د امير په توګه غوره کړي او حال دا چې پېغمبر له تاسې څخه نه دی او هغوی يې بايد تر لاسه کړي، چې پېغمبر له هغوی څخه دی موږ دلته د خپلو مخالفانو پر وړاندې څرګند دليل لرو؛ ځکه موږ د پېغمبر خپلوان يو او چې څوک له موږ سره د واکمنۍ او ميراث په اړه شخړه کوي يا په باطلو کې ډوب شوي يا ګناهکار دی او يا يې ځان هلاک کړی دی[1]. ټولو انصارو وويل: موږ يوازې له علي سره بيعت کوو او علي هم هلته نه و[2]. خو چار په بيړه د حضرت ابوبکر پر ګټه پای ورسېد او حضرت علي راوبلل شو چې له حضرت ابوبکر سره بيعت وکړي.

حضرت علي وويل: زه تر تاسې خلافت ته وړ يم او حق مې دی. نه يوازې دا چې درسره بيعت نه کوم؛ بلکې بايد تاسې راسره بيعت وکړئ. تاسې په دې دليل له انصارو خلافت ترلاسه کړ، چې ګڼې د پېغمبر خپلوان ياست او اوس غواړئ، چې له موږ اهل بيتو څخه يې غصب کړئ؟!

---

[1] ابن قتيبه، الامامة و السياسة ٦ مخ.

[2] طبري تاريخ ۳: ۱۹۸ مخ. ابن ابی الحديد، د نهج البلاغې شرح ۲: ۲٦٦ مخ.

ایا تاسې د انصارو پر وړاندې ادعا ونه کړه، چې محمد صلی الله علیه و آله له موږ څخه دی او موږ دې چار ته وړ یو؟ او هغوی هم قانع شول او د چارو واګې یې درپرېښودې. زه هم هماغه دلیل درته راوړم، چې تاسې انصارو ته راوړی و. موږ د پېغمبر پر ژوندونې او تر وفات وروسته یې [تر بل هر چا] ورته وړ یو. . . .

**ر- انقلاب او اوړېدنه**

حضرت عمر (رض) د مرګ په کټ کې د اسلامي امت د راتلونکې په فکر کې و او چارې یې له بېلا بېلو کونجونو څېړلې، [خپلو شاو خوا ته یې] وویل: که [حضرت] ابوعبیده ژوندی وای، خلیفه کاوه مې او چارې مې ورسپارلې. که [حضرت]معاذ بن جبل ژوندی وای، خلیفه کاوه مې. که [حضرت] خالد بن ولید ژوندی وای، خلیفه کاوه مې، او که د ابی حذیفه مریی، سالم ژوندی وای خلیفه کاوه مې.

سالم یو مریی و او عربي جرړه یې نه درلوده، حضرت معاذ یو انصاري و او د سقیفې پر ورځ جایز نه وه، چې یو انصاري تن په مشرۍ وټاکل شي، حضرت خالد له بني مخزوم ټبر څخه و او د اصحابو له لسمې پوړۍ څنې و؛ ځکه د حدیبې د سولې او د مکې د سوبې تر منځ په زماني واټن کې مدینې ته مهاجر شوی و. یوه ورځ حضرت عمر (رض) د خپل خلافت په زمانه کې ابن عباس (رض) ته وویل: د عباس زویه! پوهېږې چې تر پېغمبر وروسته، کوم څېزونه لامل شو، چې بیعت درسره ونه شو؟

ابن عباس (رض) وویل: خوښه مې نه وه، چې ځواب ورکړم؛ نو ومې ویل: که نه پوهېږم؛ نو د مؤمنانو امیر خو پوهېږي.

حضرت عمر (رض) وویل: ښه یې نه ایسیده، چې د نبوت په څېر خلافت هم درسره وي او پر خپل قوم وویاړئ؛ نو قریشو د ځان لپاره خلافت غوره کړ، چې یو سم او بریالی چار و.

ابن عباس (رض): که د خبرو اجازه وي او راباندې په غوسه کېږې نه؛ نو یو مطلب وایم.

حضرت عمر (رض):ووایه.

ابن عباس (رض): دا چې وایې قریشو ځان ته خلافت غوره کړ او بریالي شول، که قریشو دا ټاکنه له دې امله کړې وي، چې خدای انتخاب کړې وه؛ نو سم چار یې کړی او د منلو وړ ده؛ خو دا چې وایې نه یې غوښتل چې نبوت او خلافت دې زموږ وي؛ نو خدای تعالی ناخوښه قوم داسې ستایلی:

ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ (محمد/۹)؛ دا ځکه چې د الله نازل شوي څيزونه یې بد وګڼل؛ نو الله یې (هم) کړنې تس نس کړې.

حضرت عمر (رض): د ابن عباس زویه! افسوس، ستا په اړه داسې څیزونه رارسېدلي، چې ښه مې نه راځي په باب یې درنه اقرار واخلم او پایله کې پر وړاندې مې ستا عزت راکم شي.
ابن عباس (رض): که هغه حق وو؛ نو نه ښايي، چې ستا پر وړاندې مې عزت راکم شي او که نا حق وو؛ نو زما په څیر یو تن به باطل له ځانه لرې کړي.
حضرت عمر (رض): اورېدلي مې دي، چې وایې: خلافت یې د کینې له امله په زور رانه واخېست.
ابن عباس (رض): دا چې وایې په ظلم یې رانه واخست؛ نو دا خو یو حقیقت دی، چې پوه او ناپوه ټول پرې پوهېږي او ټولو ته په ډاګه شوی ده او دا چې وایې د کیني له مخې، [پوهېږې چې] له آدم علیه السلام سره کینه وشوه او موږ هغه اولاده یو، چې کینه ورسره شوی.
حضرت عمر (رض): افسوس، افسوس، همېشه مو زړونه له کینې ډک دي.
ابن عباس (رض): امیرالمؤمینه چوپ شه، هغه زړونه داسې مه یادوه، چې خدای ترې هر ډول چټلي لرې کړې ده او پاک کړي یې دي[1].
مسعودی په مروج الذهب کې د ابن عباس او عمر (رضی الله عنهما) تر منځ شوې خبرې اترې راختسي. له دې خبرو اترو څخه ګټه پورته کېږي چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله په زمانه کې چې په سینو کې کوم فکري او هیجاني څپه کابو کړای شوې وه، د راشدینو خلفاوو د دولت په رامنځ ته کېدو سره راښکاره شوه او موږ کټ مټ دا خبرې اترې را اخلو:

## کټ مټ خبرې

عبدالله بن عباس (رض) وایي: حضرت عمر (رض) راپسې یو تن راولېږه او و یې ویل: د عباس زویه! د حمص ښار والي مړ شوی او ښه سړی و، او دغسې خلک ډېر لږ دي، هیلمن یم، چې ته هم له همدغسې خلکو یې؛ خو په زړه کې مې درته څه خیری دی، چې ځورولی یې یم. ستا څه نظر دی؟
عباس (رض): نه یې منم چې د زړه خواله دې راته ونه وایې.
عمر (رض): - ولې پرې ځان پوهوې؟
عباس (رض): ښه مې راځي چې پوه شم که داسې یو څیز وي، چې باید پر ځان وډار شم چې ځان ترې وساتم او که دروغ وي او داسې کوم څیز نه وي او پوهېږم چې زه یې وړ نه یم، هلته ځم؛ ځکه ته همېشه په چارو کې بېړه کوې.

---

[1] ابن اثیر، الکامل فی التاریخ ۳: ۲۴ مخ. بغداد تاریخ ۲: ۹۷ مخ. ابی الحدید، د نهج البلاغې شرح ۳: ۱۰۷ مخ.

عمر (رض): د عباس زویه، ډارېږم چې مرگ مې راورسي او ته پر خپل چار بوخت وسې خلک ځان ته راوبولې او بې له تاسې نور څوک درپسې در نه شي، جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله مې لیده، چې چارې یې نورو ته ورپرېښووې او کوم چار یې در نه کړ.

عباس (رض): بلې، کله همداسې و؛ نو په اند دې رسول الله صلی الله علیه و آله ولې داسې کول؟

عمر (رض): پر خدای قسم نه پوهېږم، ایا پېغمبر درته د کار له سپارلو کنجوسي کوله او حال دا چې تاسې یې وړتیا درلوده یا له دې ډارېده، کوم عزت او درناوی چې ورسره لرئ، له امله یې درسره بیعت وشي؛ نو بیا به هغه پوښتنې گروېگنې درنه کېږي، چې درنه به کېدې. خپل نظر مې ووایه، ستا څه نظر دی؟ [چې] تېر شو، [په پای کې یې] منې؟

عباس (رض): نه

عمر (رض): ولې

عباس (رض): ځکه که و یې منم؛ خو په زړه کې دې راته خیری وي؛ نو د سترگو اغزی به دې یم [او همېشه راباندې بدگومانه یې]

عمر (رض): نو ووایه چې څوک د هغه ځای لپاره وټاکم؟

عباس (رض): داسې یو تن وټاکه چې دواړه پر یو بل ډاډمن وسئ[1].

حضرت عمر (رض) چې د مسلمانانو پر مصلحت خورا حریص و، غوښتل یې چې ان تر مرگ وروسته هم بني هاشم واکمني تر لاسه نه کړي او پر خلکو برلاس نه وي. لنډه دا چې: دا نظریه په یوه پراخه څپه واوړېده، چې په څرگنده یې خپل ځان مطرح کړ او د یو عمومي نظر په توگه ومنل شوه او واکمنو رژیمونو ته یې امنیت او آرامي ورډالۍ کړه او د خلکو غوڅ اکثریت باور کړه، چې په دې مفکورې د بني هاشمو د ویاړنې مخه ونیول شي او نورو خېلونو ته هم برخه ورکړو، چې خلافت سره لاس په لاس کړي او دا په بني هاشمو کې د نبوت پر مقابل کې یا یې عوض او بدل وي.

او یا د حضرت عمر (رض) د تعبیر له مخې دا د قریشو د بریا ښکارندوی وي. رژیم ته د ابوسفیان جلبول او کوم مالونه چې له خلکو څخه د زکات په نوم راټولېدل، ابوسفیان ته یې ورکول او زوی یې یزید د شام عمومي بولندوی یا قوماندان ټاکل او بل زوی یې جناب امیر معاویه د هغه یو بولندوی ټاکل او د یزید تر وفات وروسته جناب امیر معاویه د شام د والي ټاکل کېدل؛ نو دا د واکمن رژیم او ازاد کړای شویو ترمنځ یو مضبوط تړون و.

---

[1] مسعودی، مروج الذهب ۲: ۲۵۳ مخ.

دواړو ګډ سیاست درلود او هغه دا چې «پرېنږدئ، چې نبوت او خلافت دې د بني هاشمو وي».

په دې تړون شخړه پای ته ورسېده او پر بني هاشمو د منع دا برنامه پوره شوه، چې د نبوت او خلافت دواړه ځواکونه دې ورسره نه وي. په دې توګه د پېغمبر پاکه کورنۍ ان له هغو امتیازاتو بې برخې کړای شوه چې په جاهلیت کې ترې برخمنه وه او یو مخې د سیاست له ډګره وایستل شول. عباس (رض) او بني هاشمو ته د حضرت عمر (رض) خبرو ته ځیر شئ:

پر خدای قسم، موږ د اړتیا له مخې درته راغلي نه یو؛ خو دا مو نښه نه ایسېدل، چې تاسې پر هغه څه نیوکه وکړئ، چې ټولو خلکو منلی او په پایله کې چار هم پر تاسې او هم پر هغوی سخت او ستونزمن شي.

په پای کې بني هاشمو ته سپکاوی تر دې بریده ورسېد چې ان عبدالله بن زبیر هوډ ونیو که بني هاشم د خیر په ډله کې شامل نه شي [او معتقد ورسره نه شي] کورونه یې له اوسېدونکیو سره وسوځوئ او د دې چار مانا دا شوه، هر ټبر چې بني هاشم د ابی طالب په دره کې درې کاله محاصره کړي وو او د پېغمبر وژنې ته یې استازي لېږلي وو، تر بني هاشمو یې برخه ډېره شوه او تر بني هاشمو د اسلامي دولت ریاست ته د دې ټبرونو وګړي وړ وو.

د مسلمانانو ریاست او پالندوینه هر چا ته روا؛ خو عملا بني هاشمو ته ناروا وه.

دا ټولې چارې له دې امله وې، چې بني هاشم ونه کړای شي نبوت او خلافت دواړه ورسره وي او یا د نېکۍ جزا بې له نېکۍ ده؟ [1]

**م- له خلافت څخه د بني هاشمو د بې برخې کېدو لپاره شرعي مخونه.**

دا مفکوره له هر اړخ جاهلي وه او له شرعي نصوصو او له هغو سیاسي نظامو سره یو مخې په ټکر کې وه، چې له الهي عقیدو یې اخستل شوي وو.

د حضرت داود علیه السلام، زوی حضرت سلیمان علیه السلام پېغمبر شو او له واړو سره نبوت او خلافت هم وو. پېغمبرانو او زامنو ته یې حکم، پېغمبري او کتاب ورکړای شو او چا هم نیوکه ونه کړه؛ ځکه دا چارې د خدای په لاس کې دي او خلافت هم په لومړي سر کې یو دیني منصب او هم یو دنیوي منصب دی او خلیفه د پېغمبر قایم مقام (او ځایناستی) دی.

د نبوت له خورا مهمو چارو ځنې بیانول، څرګندول او حکم کول دي او دا پوره فني او کار پوهېزه چارې دي او چې څوک د اسلام د سیاسي نظام له بنسټیزو ارکانو څخه خبر وي، په

---

[1] د الرحمان سورت له ٦٠ آیت اخستنه.

ډېره لږه ځیرنه يې پام کېږی، چې دې مفکورې (نبوت او خلافت دې له بني هاشمو سره نه وي) بيخي د اسلام سياسي نظام راوپرځاوه او د اسلام له منځپانګې يې تس نس کړ او عملا يې له اسلامي سياسي نظام څخه د بشر په لاس په جوړ شوي نظام واړو، چې يوازې د بڼې او ظاهر له مخې يې توپير درلود او مهمه خو دا چې د دولت مشرتوب او رياست غنيمتي بڼه خپله کړه، چې څوک برلاسې کېده؛ نو يوازې همغه ترې ګټور کېده. تر بريا وروسته برلاس او غالب تن د پېغمبر پر ځای کېني او د اسلام جامې اغوندي او خليفه کېږي. که يو ازاد کړای شوی په خپل ټول زور له اسلام سره جنګېدلی وي او له ناچارۍ مسلمان شوی وي او غالب شي، پر هغه مهاجر به امير وي چې په ټولو غزاګانو کې يې ګډون درلود او هغه مهاجر يوازې عادي هېوادوال او ښاري ګڼل کېږي. [نو دا دی چې] ناپوه خبرې کوي او پوه چوپ کېږي، هغه چې مسلمان محاصره کړې رامخې ته کېږي او محاصره شوې شاته لوېږي.
دا ټولې چارې نورو ټبرونو ته د امتياز ورکولو او بني هاشم له خلافت څخه د بې برخې کېدو لپاره وشوې يا په خورا دقيق تعبير تر اسلام مخکې سياسي نظام ته د ورستنېدا لپاره ترسره شوې؛ خو په نويو جامو کې، هغه جاهلي سياسي نظام په يو ډول د شرف د منصبونو پر ويش ولاړ و، چې هر ټبر خپله برخه له دې منصبونو ترلاسه کوله؛ خو په دې مفکوره کې ټبرونو د دولت مشري لاس په لاس کوله او په عين حال کې په شرف او منصبونو کې هم برخوال وو.
خو د اسلام د سياسي نظام پورې اړونده الهي لارښوونې يوه بله موضوع ده ځکه اسلامي احکام په مکه کې تر اسلام له مخه له سياسي نظام سره همغږی نه و.

## ن- د دې مفکورې پايلې

### لومړۍ پايله: د توپيرونو او غوراويو له منځه تلل

دې مفکورې د هغو کسانو ترمنځ توپير له منځه يووړ او يو له بل سره يې مساوي او برابر کړل چې په ټول زور له اسلام سره جنګېدلي وه چې روسته راګېر او له ناچارۍ مسلمانان شول او د هغوی ترمنځ چې په اسلامي ټولو غزاګانو کې يې فعال ګډون درلود او تر هغوی د پېغمبر ملاتړي وو، چې خدای خپل دين ته عزت ورکړ او اسلامي حکومت ټينګ شو؛ ځکه ټول مسلمانان ول او له سياسي اړخ يې ترمنځ کوم توپير نه وه، ټول مسلمانان او جنتيان وو، هغه هاشمي چې درې کاله د قريشو په محاصره کې و، کټ مټ د هغه په څېر و، چې د محاصرې پر مهال مشرک و او د بني هاشمو په محاصره کې يې ګډون درلود، ايا دا وګړی مسلمان شوی نه دی؟ ايا داسې نه ده چې اسلام مخکېني ګناهونه پاکوي؟ که حمزه سيدالشهدا نړۍ ته راستون شي، له عملي او سياسي اړخ کټ مټ د خپل وژونکي وحشي په څېر دی. [په دې

مفکورې] وژونکی او وژل شوی کټ مټ سره برابر شول، مهاجر د ازاد کړای شوي په څېر شو، ناپوه لکه پوه شو او که ناپوه بريالی شي، نه يوازې لازم دي چې پوه له سياسي پلوه په ناپوه پسې ولاړ شي؛ بلکې اپوټه که يو هاشمي پوه لکه علي کرم الله وجهه شتون لري او يو انصاري د هغه هم ليکی يا ترې ټيټ يې په څنګ کې وي؛ نو انصاري پوه پر هاشمي پوه ړومبی دی.

## دويمه پايله: د اختلاف د تخم کرل او وده يې

تر هغه وخته چې د مهاجر او ازاد کړای شوي، وژونکی او وژل شوي ترمنځ توپير نه وي د محاصره کوونکي او محاصره شوي ترمنځ څه امتياز نه وي او هر څوک حق لري، چې پر اسلام وپوهېږي او خلک پر خپلې پوهېدنې راټول کړي، پايله يې دا کېږي چې بېلابېلې مراجع، مفاهيم او فکري ډلې رامنځ ته کېږي او هره ډله ګومان کوي، چې پر حق ده؛ نو ځکه ځينې ډلې شمال، ځينې سهيل، ځينې ختيځ او ځينې لويديځ ته ځي او پينځمه يوې بلې لوري ته او هغه مرجع نه موندل کېږي، چې خبره يې شرعي يقيني حجت وي او د ټولو د منلو وړ وي. په دغسې وضع کې د اختلاف تخم کرل کېږي او په مناسبه او حاصل خيزه ځمکه کې وده کوي. که علي کرم الله وجهه يوه خبره وکړي او که يو ازاد کړای شوی خبره وکړي هغه چې دا دواړه خبرې سنجوي نو هغه اورېدونکی دی؛ ځکه په عمل کې د علي او ازاد کړای شوي تر منځ کوم توپير نشته. دواړه په جنت کې دي، دواړه مسلمانان او اصحاب دي؛ يعنې په عمل کې د علي د خبرې لپاره هيڅ شرعي غوراوی نشته.

دا څنګه شونې ده، چې له دوو مساوي او يو رنګي وګړيو د يوه خبره پر بل غوره کړو؟

حال دا چې دواړه عادلين دي (؛ نو) څنګه يو له بله په توپير وانګېرل شي؟ [لکه چې] دا د سرو يوه ټوټه ده، چې له هر پلوه له بلې ټوټې سره مساوي او يو رنګې ده، هر يوه غوره کولای شي؛ خو هسې نه چې د دواړو تر منځ پر توپير قايل شې؛ نو ځکه رامنځ شوی جوړ جاړی او سازش، يو ظاهري جوړ جاړی و، چې په سيوري کې يې درز او بې اتفاقي وده کوي او لويږي، چې ژر يا وروسته پر سرطان اوړي، چې د مسلمانانو يووالی له منځه وړي او امت له شرعي چوکاټه يو ناڅرګند او پېچلي برخليک ته راکاږي.

## درېيمه پايله: بې له بني هاشمو څخه، حکومت د ټولو حق دی

په مطلق ډول هيڅ څيز د دې خنډ کېدای نه شي، چې يو مسلمان وګړی د اسلامي دولت مشر شي، په دې شرط چې دولت تر لاسه کولای او پرې مسلط شي او ټول خلک يې اطاعت

وکړي او په زور يې خپل مطیع کړي؛ خو په دې شرط چې له بني هاشمو څخه نه وي؛ ځکه نبوت په هغوی پورې ځانگړی و او همدا امتیاز یې بس دی.
دې حق، قدرت او د دولت رياست ته د رسېدو تمه پر يو وحشتناک کابوس او ټکان ورکوونکي وزلې واړوله، چې له امت څخه يې ارامي او راحت لرې او د قدرت وربیو ته يې د ازمېښت ډگر کړ، چې دا چار د دې لامل شو، چې شرعي سياسي نظام په ټپه ودرېږي.
خو دا چې د دولت دا رئيس له کوم ټبر څخه وي، پوهه يې څومره وي، دين او مذهب يې څه وي؟ په اسلام کې يې مخينه څومره وي؟ پر کو مو وگړيو به حکومت وکړي؟ دا ټولې چارې په دويمه درجه کې اهميت لري او له عملي اړخ څه ارزښت نه لري او د استناد وړ نه دی؛ ځکه برلاس او بريالی وگړی وړونکی دی او د مغلوب د رضايت ترلاسه کول، يو بل څيز دی.
څه څيز د دې مانع کېږي چې يزيد بن جناب امير معاويه (چې په فساد او فجور مشهور و) د اسلامي دولت رياست ته ونه رسي او حال دا چې د دولت د رئيس زوی دی؟ او څوک حسين بن علي (چې د روايت له مخې د جنتي ځوانانو يو ښاغلی، د پېغمبر ښه بوين گل او د دې امت شرعی امام دی) له دې منع کوي، چې د يزيد د واکمنۍ يو وگړی دې نه وي؟ او له هغوی څنې وي، چې يزيد يې واکمن وي. دواړه (حسين بن علي او يزيد بن جناب امير معاويه) مسلمانان او جنتيان دي. قابل مجرم يزيد په جنت کې دی او مقتول امام حسين هم په جنت کې دی، دواړه اصحاب دي!!! چې څوک پر دې مفکورې گوتنيوی کوي؛ نو زنديق او کافر دی، څوک ورسره خواړه نه خوري، په لوښي يې اوبه نه څښي او پر جنازه يې لمونځ نه کوي.

## څلورمه پايله: د چارو گډوډېدل

چارې سره گډې وډې شوې، گډوډي رامنځ ته شوه، حق و باطل سره گډ شول، خير له شر سره يو ځای شو، خواږه تراخه سره گډ شول او ورپسې د مخکې په څير شو، هغوی چې تر بعثت کلونه وروسته مسلمانان شول، د لومړينو مسلمانانو په څېر شول، مجاهد او مبارز پر کور ناستي او جهاد ته د نه تللي په څير شو.
رښتين مسلمانان له منځه ولاړل او په ښارونو کې خپاره واره شول او د جناب امير معاويه د تعبير له مخې د گوتو په شمېر شول؛ د اسلام سياسي نظام راونړېد، نېکچاري او خوبان پر څټ پاتې شول او بد چاري را دمخه شول او د چارو پای له خدای سره ده.

## ۲-د نظريي سياسي جرړې

# د اسلام سياسي نظام

### الف- د اسلام له واقعيت سره د موجوده وضع توپير

د اسلام په سياسي تاريخ کې، چې د جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله تر وفات وروسته د عثماني دولت تر پايه کوم سياسي نظام پلی شوی، په ټوليز ډول يې له الهي سياسي نظام سره توپير درلود، چې متعال خدای د مسلمانانو د تنظيمولو لپاره پر خپل مخلص بنده محمد صلی الله عليه و آله نازل کړی و. د دې توپير د شتون پر ټينګار سربېره بايد دا ټکی څرګند کړو چې د دې اختلافاتو حجم په هرې واکمنۍ او زمانې کې توپير درلود. مناسبه ده چې دا مطلب تر څېړنې لاندې ونيسو او که په ټټو سترګو له تګ څخه لاس واخلو؛ نو دا توپير به له يوه ځيرکه هم پټ پاتې نه شي؛ ځکه که د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله تر وفات وروسته د اسلام سياسي نظام د «منځپانګې او الهي قالب» په دواړو اړخونو کې پلی شوی وای؛ نو مسلمين پر لاندې ستونزو نه اخته کېدل:

۱-اسلامي حکومت [او خلافت] له منځه نه تله

۲-ګډوډۍ نه پېښېدې او وژنې نه ترسره کېدې

۳-اسلامي امت نه بې اتفاقه کېده

۴-اسلامي برکتي پراختيا، په اوسنۍ کړۍ کې نه تم کېده، بلکې ټوله نړۍ يې رانغاړله او نړېوال کېده او د بشري تاريخ په بهير کې يې بنسټيزې اړونې رامنځ ته کولې.

ويلز، انګليسی فيلسوف، چې يو معاصر مشهور متفکر دی «په عمومي تاريخ کې تجربه» نومې کتاب کې وايي:

«که اسلام د خپل لومړني سيرت او جوړښت له مخې خپل يون ته دوام ورکړی وای؛ نو دا ټولې ګډوډۍ او فتنې به نه پېښېدې او ګرده نړۍ يې سوبه کولای شوه.[1] » د لويديځ پوهان پر دې باور دي او هم د معلوماتو کچه يې دا ده، چې د خلافت نظام کټ مټ هماغه د اسلام اصلي سياسي نظام دی او بيا انګېري، دا خلافت هماغه څه دي، چې بيا يې پلي کول غواړي، حال دا چې د خلافت تر جوړښت وړاندې، د نبي اکرم (صلی الله عليه و آله و سلم) په زمانه

---

[1] (وګورئ: محمود ابورية، شيخ المغيره: ۱۷۳ مخ)

کې د اسلام سیاسي نظام پوره عملي شوی و؛ ځکه د خلافت مانا یعنې د پېغمبر ځایناستي؛ نو ځکه که د اسلام سیاسي نظام هماغه د خلافت نظام وي؛ نو پېغمبر د کوم نظام بنسټګر دی؟ حقیقت دا دی، کوم نظام چې پېغمبر (صلی الله علیه و آله و سلم) پلی کړ، هماغه الهي اسلامي سیاسي نظام و، چې د خلافت تر نظام وړاندې په ټولو جزئیاتو سره عملي شوی و؛ په واقع کې نبوي نظام آر او بنسټ دی او تر دې وروسته نظامونه یې څانګې او بېلګې دي، چې له دې آر سره د نژدېوالي او له یوالي په کچه ارزول کېږي.

## ب- د اسلام سیاسي نظام

د اسلام سیاسي نظام هماغه نظام دی، چې نبي اکرم (صلی الله علیه و آله و سلم) د خپلې الهې بلنې په پیل کې د هغې اړیکې له مخې یې چې له خپلو لارویانو سره درلوده پلی کړ. بیا چې د حضرت بلنه د دولت په جوړېدو واوړېده، حضرت دا نظام په خپل لس کلن مبارک عصر کې وغځاوه او عملي یې کړ. خدای د حضرت تر رحلت وړاندې دین پوره او خپل نعمت تمام کړ او ټول څېزونه، هو ټول څېزونه یې، خلکو ته ټولیز او پوره وویل.
په ځېرنه او څېړنه مو مو چې د اسلام دین یو الهي نظام دی او چمتو دی، چې په پوره جوړښت نړۍ کې د غوره او بېلګې نظام په بڼه څرک ووهي.

## ج- د اسلام د سیاسي نظام ارکان

د اسلام سیاسي نظام پر څلورو ارکانو ولاړ دی. دا ارکان، د بدن د غړیو په څېر یو له بل سره اړیکې لري، چې بېلول یې ناشوني دي، داسې چې که د دې ارکانو ترمنځ بېلتون راشي حکومتي نظام، هومره خپله اسلامي ځانګړنه له لاسه ورکوي، نظام ژر یا وروسته راپرځېږي؛ ځکه یوازې دا ارکان دي چې اسلامي نظام له نورو نظامونو بېلوي او یوازې د دې اساسي ارکانو ترمنځ پیوستون او همغږي ده، چې د نظام په عملي کولو کې مطلوبه پایله ترلاسه کوي.

## لومړی رکن: سیاسي مشري

په ټولیز ډول په الهي اندنو او له دې څنې په اسلامي اندنه کې، سیاسي مشري د خدای له لوري ټاکل کېږي، یا نېغ په نېغه د خدای له لوري ټاکل کېږي. لکه چې د حضرت داود، حضرت سلیمان او محمد (صلی الله علیه و آله و سلم) پېغمبري او مشري د خدای له لوري ټاکل شوي دي. خدای پخپله دا وګړي په پېغمبرۍ او د ایماني حکومتونو په مشرۍ غوره کړل، چې نېغ په نېغه یا په غیر مستقیم ډول الهي پیغام ابلاغ کړي، لکه چې سبحان خدای، طالوت بني

اسرائیلو ته امام او سیاسي مشر په توګه غوره کړ او په دې ترڅ کې د بني اسرائیلو یو پېغمبر دې قوم ته وویل: خدای درته طالوت د مشر په توګه ټاکلی دی. بني اسرائیلو یې په مشرۍ په دې دلیل نیوکه وکړه، چې طالوت د مشرۍ وړتیا نه لري؛ خو خدای ورته په ځواب کې څرګنده کړه، چې په ډېرو لاملونو له دغسې وړتیا برخمن دی، چې یوه یې دا، چې خدای ورته جسمي او علمي ځواکمني ورکړې ده.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (بقره/۲۴۷) ؛ او پېغمبر یې ورته وویل: ((الله "طالوت" درته واکمن ټاکلی)) و یې ویل: ((دا څنګه راباندې د واکمنېدو وړ شو، تر ده خو موږ وړ یو او دومره شتمن هم نه دی؟)) پېغمبر یې ځواب ورکړ: ((په رښتیا الله هغه پر تاسې غوره کړی او پراخ علمي اهلیت او جسمي ځواک یې ورکړی او د الله چې چا ته خوښه شي، واکمني ورکوي. د الله احسان پراخ او (د واکمنۍ لپاره د وګړیو له وړتیا) خبر دی.))

او بیا نو لورنه او غوراوی د خدای په لاس کې دی او تر ټولو ښه خبر دی چې څوک د الهي لورونې وړ دی. یا لکه چې وینو خدای پاک، حضرت علي بن ابی طالب غوره کړ، چې د جناب نبي مکرم (صلی الله علیه و آله و سلم) تر وفات وروسته د اسلامي امت ولي او مشر وي، چې پېغمبر (صلی الله علیه و آله و سلم) هم دا ولایت په حجة الوداع کې تر یو لکو ډېرو مسلمانانو په مخ کې اعلان کړ.

### خدای د حضرت علي د مشرۍ له طرح څه موخه درلوده؟

دا څرګنده ده چې دهغو خلکو موخه، چې بې غرضه او له شهوت لرې او پاکه وي، دا ده چې مشري داسې یو کس ته وسپاري چې په یقین تر ټولو پوه، غوره او وړ وي. او دا چې په دغسې ځانګړنو د یو تن پېژندنه اسانه نه ده او پرېکنده پرېکړه کړای نه شو، چې دا یا هغه په یقین خورا پوه، غوره او وړ دی؛ نو ځکه خدای پر خپلو مؤمنو بندګانو لورېدلی او ورته یې ویلي، که په رښتیا د پورته ځانګړنو له مخې د مشرۍ د پیدا کېدو په لټه کې یاست؛ نو پلانی تن ورته مطلوب دی؛ ځکه مشري یو فني او کارپوهیز چار دی او د نبوت ځایناستي او خلافت ګڼل کېږي. پوهېږو چې د پېغمبر دنده د دیني حقایقو ویل او په پراخه سینه تر لاس لاندیو سره چلېدل دي، داسې چې د پېغمبرانو او ځایناستو لید لوری یې د الهي حقوقي ټولګې له ټولو قوانینو سره پوره اړخ ولګوي؛ نو ځکه دا ډول چارې یعنې د مؤمن ولس لارښوونه او مشري د خلکو بېلابېلو سلیقو او ناسازو خوښو ته ورپرېښوول نه شو؛ نو ځکه په پورته ځانګړو د مشرۍ

رکن له بشري نظامونو سره د اسلام د سیاسي نظام یوازېنۍ عملي توپیر دی. په واقع کې بشري نظامونو د سیاسي مشرۍ د ټاکنې مساله د خلکو خوښې او شخصي نظر ته ورپرېښې او خلک هم د خپل حدس او گومان له مخې له (نه له هغه یقینه چې د الهي دود او کړنلارې له لارې تر لاسه کېږي) خورا عالم او وړ غوره کوي.

## دویم رکن: د الهي عقیدې او مشرۍ ترمنځ پیوند

کوم کتاب چې پر کوم بنده رانازل شوی او کوم ولس چې په الهي لارښوونو کې رانغاړل شوی؛ نو هرو مرو یو لارښود ورسره و او هم الهي رسالت یوازې د پېغمبرانو په مشرۍ ترسره کېږي؛ نو ځکه له یوې لوري د کتاب، هدایت او رسالت تر منځ اړیکې شته او بلخوا د بندګۍ، لارښوونې او استازیتوب ترمنځ د بدن د غړیو په څېر اړیکې دي؛ نو باید خلکو ته هرو مرو د الهي کتاب منځپانگه، لارښوونې او رسالت توضیح او څرگند کړای شي او ورپسې یې لاروي وشي. همدغسې باید د کار له پیل څخه (د کتاب رالېږنه او د پېغمبر له لوري یې څرگندول) د پایلې تر تطبیق پورې یوه زماني محدوده وي، چې د الهي کتاب لارښوونې پکې عملي کړای شي، چې دا پخپله د شریعت حقایق روښانوي او پر موضوعیت یې هم ورزیاتوي. باید پوه شو چې د دې چار عملي کول د پېغمبرانو او ځایناستو له لوري دي. په حقیقت کې که د پېغمبرانو له لوري د کتاب رالېږنه بې گټې وای؛ نو خدای د خپل کتاب هره نسخه هر وگړي ته رالېږله؛ خو داسې نه ده؛ ځکه د شریعت عملي کول یو فني او کارپوهیز چار دی. حضرت محمد (صلی الله علیه و آله و سلم) یوازېنی کار پوه دی، چې اسلام په ټولو اړخونو کې د الهي موخو له مخې څرگند او عملي کړي او تر ټولو خلکو په کتاب، رسالت او هدایت پوه دی او د اسلامي احکامو له مخې پخپله حضرت، د دین خورا غوره څرگندوونکی او سیاسي مشرۍ ته وړ شخصیت دی او پېغمبر چې یوه تن د الهي لارښوونې له مخې د ځان د ځایناستۍ لپاره ټاکي؛ نو دغسې یو څوک به ذاتاً د دې وس او وړتیا لري چې د الهي عقیدې او سیاسي مشرۍ ترمنځ پیوستون وساتي او دوام ورکړي.

## درییم رکن: الهي حقوقي نظام

د اسلام په سیاسي نظام کې، امام یا سیاسي مشر ازاد نه دی، چې د خپل اند او نظر له مخې وچلېږي؛ بلکې باید د الهي حقوقي نظام په پولو کې عمل وکړي، داسې چې په هر چار کې یې حکم باید له الهي موخې سره اړخ ولگوي او منل او عملي کول یې پر ټولو لازم دي.

الهي حقوقي نظام د مشر يا ولس له خوا جوړ شوی نه دی؛ بلکې اصلي جوړونکی يې خدای دی، په حقيقت کې موږ ته څرګندېږي، چې د حضرت محمد (صلی الله عليه و آله و سلم) خبره د الهي وحې بيان دی او دا له بشري نظامونو سره د اسلام د سياسي نظام يو توپير دی. په بشري نظامونو کې، خلک پخپله قوانين جوړوي او ملت اړ باسي چې و يې مني، حال دا چې په اسلامي نظام کې، دا خدای دی، چې بشر ته مناسب حقوقي نظام تنظيموي، داسې چې له مخې يې حاکم او محکوم تر الهي څارنې لاندې ورته غاړه ږدي او عملي کوي يې؛ نو ځکه پر الهي قوانينو عمل کوونکي د واکمن بندګان او محکومين نه دي؛ بلکې هغوی او واکمن يې دواړه د خدای بندګان دي او د الهي احکامو په عملي کولو کې بې له پالونکي د بل اطاعت نه کوي.

**څلورم رکن: د خلکو خوښه او منل**

خلک طبعاً د يو حقوقي نظام په لټه کې دي، چې د ټولنې عمومي او شخصي موخې وټاکي او دې موخو ته د لاسرسي لارې هم څرګندې کړي. همدغسې خلک هڅه کوي چې يو سياسي مشر وټاکي، چې تر نورو پر دې حقوقي نظام ښه پوه، غوره او د ټولنې مشرۍ ته وړ وي؛ نو ځکه د خدای لطف او مهربانۍ بشر له لاسه نيولی او له دې سرګردانۍ يې ژغورلی او بشر يې متوجه کړې چې يوازې د اسلام حقوقي نظام (قرآن او نبوي سنت) يې غوښتنې پوره کولای شي. څرګنده ده چې د قوانينو پر دې ټولګه خورا پوه او د خلکو مشرۍ ته خورا وړ حضرت محمد (صلی الله عليه و آله و سلم) او د ده تر وفات وروسته، هغه دی، چې ده د خدای له لوري وړ تشخيص کړی دی او همدغسې ورپسې مشران. . . .

په هر حال که خلک د الهي حقوقي نظام دا ډول عملي کول او دا ډول مشري ومني؛ نو ژغورل شوي او د الهي لورنې ورونه ورته پرانستل شوي. او که يې ونه مني؛ نو خدای يې نه يوازې دا چې د خپلې لورنې سيوري ته نه ورسيخوي؛ بلکې پر خپل حال يې پرېږدي، چې د ګناه دروند پيټی پر اوږو کړي او پر کړمن ژوند اخته شي؛ ځکه د الهي نظام عملي کول يې ونه منل او د خدای ټاکلې مشري يې پرېښووه او په بلې پسې ولاړ.

څرنګه پوهېږې چې په الهي لیکه کې یې؟ چاچې د پالونکي د ټاکل شوې سیاسي مشرۍ لاروي وکړه، په واقع کې د خدای لاروي یې کړې؛ نو ځکه د حضرت محمد (صلی الله علیه و آله و سلم) لارویان د حزب الله په ګوند کې دي او د حضرت دښمنان او هغوی چې په نورو پسې تللي (ان که ټوله شپه پر لمونځ بوخت وي او ټول عمر روژه وي) د شیطان د ګوند غړي دي؛ ځکه د پېغمبر د ولایت منل او لاروي یې د حزب الله او حزب شیطان ترمنځ د بېلتون کرښه ده. او هم څوک چې د حضرت محمد (صلی الله علیه و آله و سلم) د ولي او ځایناستي لاروي وکړې یا یې مخالفت وکړي، نو څومره چې ورته نژدې یا لرې شوی؛ موقعیت یې د حزب الله او حزب شیطان په پرتله معلومېږي.
په حقیقت کې د رښتین او دروغجن [سم او ناسم] معلو مولو لپاره د محمدي (صلی الله علیه و آله و سلم) ولایت منل د حق کچه ده.
وینو چې د پېغمبر (صلی الله علیه و آله و سلم) په زمانه کې یوې ډلې جوماتونه جوړ کړل، لمونځونه یې وکړل، انفاق یې وکړ خو له پېغمبر سره جهاد ته له تګ یې ډډه وکړه؛ نو ځکه خدای منافقین ونو مول چې د حضرت ولایت یې سم ونه مانه.
د اصحابو د عدالت مفکوره په کومې فضا کې راوټوکېده؟
د حضرت عمر بن خطاب (رض) تر وژنې وروسته، د خلافت چارې حضرت عثمان بن عفان (رض) ته ورسېدې. حضرت عثمان (رض) ذاتاً له خپلوانو سره خورا مینه درلوده او د خلافت د ترلاسه کولو وروسته خپلوان یې په یو بل پسې ورباندې راټول شول او ده هم پخپله پرځان راټول کړل او چار تر دې ورسېد، چې امویان د خلیفه د مشاورینو یوه برخه شوه.
په ورو ورو د چارو واګې په عملي ډول د «مروان حکم» په لاس کې شوې او ان مروان، بې له دې چې له خلیفه سره څه سلامشوره وکړي، په خپل سر یې د محمد بن ابوبکر (رضی الله عنه) او یو شمېر اصحابو په وژنه لاس پورې کړ.
مروان د خلیفه په ناخبرۍ کې پر لیکونو د خلافت مهرونه لګول او د حضرت علي کرم الله وجهه په تعبیر د حضرت عثمان توره د مروان په لاس کې وه او سره له دې چې حضرت عثمان بوډا او له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره یې ډېره موده ملګرتوب درلود، خو مروان به په هر ځای کې دا توره کاروله. (په دې اړه د حضرت عثمان د وژنې په باب کې د ابن اثیر او طبري تاریخونه وګورئ)

پوهېږئ چې مروان څوک و؟ هغه د مکې د سوبې د ورځې له ازاد کړای شویو او «مؤلفة قلوبهم» څخه و. پلار یې حکم، د جناب نبي کریم (صلی الله علیه و آله و سلم) او د دوو خلفاوو ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) په زمانو کې مدینې ته د راتلو حق نه درلود؛ خو چې حضرت عثمان (رض) خلیفه شو؛ نو په عزت او درناوي یې مدینې ته راوست او یو لک درهمه یې هم ورکړل.
یو بل ازاد کړای شوی «عبدالله بن ابی سرح» و، چې د اموي واکمنۍ په غښتلتوب کې اغېزمن او د مصر د حاصلخیز هېواد والي و. عبدالله بن ابی سرح هماغه و، چې پر خدای یې دروغ وتړل او رسول الله (صلی الله علیه و آله و سلم) یې وژنه روا وبلله، که څه هم ځان یې د کعبې په پردې کې راتاو کړی وي (په دې اړه د حلبې په سیرت کې د مکې د سوبې باب وګورئ)؛ خو حضرت عثمان د مکې د سوبې پر ورځ جناب نبي کریم (صلی الله علیه و آله و سلم) ته راوست او امان یې ورته وغوښت، جناب نبي مکرم (صلی الله علیه و آله و سلم) څه وخت چوپ شو، چې ښایي په دې موده کې یې یو څوک ووژني او دا چې ونه وژل شو، پېغمبر صلی الله علیه و آله امان ورکړ.
د اموي دولت د پیدایښت یو بل لامل، د حضرت ابوبکر (رض) په زمانه کې د جناب امیر معاویه د نیالګي کرل و، چې شل کاله د شام والی و او ښه جرړې یې وځغلولې او له بیت المال څخه یې شخصي کڅوړه جوړه کړې وه، چې څنګه یې غوښتل هماغسې یې لګوله.
مروان، جناب امیر معاویه، عبدالله بن ابی سرح او ولید بن عقبه (د کوفې والی و، چې په نشه کې یې د ګهیځ څلور رکعته لمونځ وکړ) له ازاد کړای شویو (طلقا) او د ابوسفیان د ښوونځي (ګوند) له روزل شویو څخه وو. ابوسفیان (هم) پخپله هڅه وکړه، چې حضرت عثمان یې له دوده لاس وانخلي.
جوهري روایتوي، چې حضرت عثمان (رض) خلیفه شو، ابوسفیان ورته وویل: څه موده د چارو واګې له بني تیم (ابوبکر) سره وې؛ خو له چارواکۍ سره یې څه کار! بیا د ډېر لرې ټبر بني عدی (عمر) په لاس کې شوې او ورپسې خپلې اصلي ځای ته (اموي عثمان) ته راستنې شوې او حکومت د غونډوسکې په څېر یو بل ته ورګوذار کړئ.
او بله ورځ یې ورته وویل: مور و پلار مې درځار، ولګوه او د «ابوحجر» [لکه چې یو کنجوس و] په څېر کېږه مه، امویانو! چې امارت مو تر لاسه کړې د کوچنیانو د غونډوسکې په څیر یې یو بل ته لاس په لاس کړئ، پر خدای قسم چې اصلاً جنت او دوزخ نشته.

حضرت زبیر (رض) په غونډه کې ناست و، حضرت عثمان (رض) ابوسفیان ته وویل: ورک شه. ابوسفیان وویل: زویه! بل څوک خو به دلته نه وي؟ حضرت زبیر (رض) غبر کړ؛ پر خدای قسم خبره به دې پټه نه کړم.[1]

لنډه دا چې:

ابن اثیر د خپل تاریخ په دریم ټوک کې د حضرت عثمان (رض) د وژنې تر داستان مخکې لیکي: مروان وویل: مخ مو تور، له موږ څخه حکومت اخلئ؟ خلافت د حضرت عثمان د زماني په وروستیو کې یو اموي حکومت شوی و، داسې چې د هر ښار او سیمې چارواکی یا یو ازاد کړای شوی اموي او یا د امویانو یو لوبڅی و؛ نو ځکه هر خلیفه چې تر حضرت عثمان وروسته چارواکی کېده؛ یا به د امویانو د لاس وزله وه یا به د داسې یو تن په څېر و، چې په تیاره شپه کې به پر ښویه ځمکه روان و.

په سوبو پسې د نویو مسلمان شویو او هغو کسانو شمېر زیات شو، چې په یو ډول یې له حکومت څخه ګټه اخسته او دومره د هغو سترو اصحابو شمېر لږېده، چې محمدي حکومت یې پر اوږو ټینګ و، تر دې چې لومړني اصحاب د ګوتو په شمېر شول او دومره په کړاوونو کې راګېر شول چې د امام شرف الدین عاملي په تعبیر په سړه شپه کې د باران ځپلیو پسونو په څېر وو.

څرګنده ده، چې دا پېښې له ځیرک جناب امیر معاویه، پټې نه پاتې کېدې. جناب امیر معاویه د حضرت عثمان تر وژنې مخکې ځینې اصحاب ګواښلي وو چې: «تاسې په خلکو کې د ګوتو په شمېر یاست» ټولې اسلامي سیمې د امویانو او یا یې د پلویانو تر اغېز لاندې وې، چې د دې خېل مشر [هندې (د عتبه لور) روزلي] جناب امیر معاویه بن ابوسفیان یې محور و؛ ځکه د ټول شام واکمن د کړی مرکز او د امویانو وصي او پالندوی و. د حضرت عثمان کسات اخستنه یې خپل حق ګاڼه یا په بله وینا د حضرت عثمان د کسات اخستنې غبر یې ځکه پورته کړی و، چې د اموي حکومت دوام یې تضمین کړی وي؛ خو په واقع کې د حضرت عثمان د کسات اخستو مساله نه وه؛ ځکه وړاندې حضرت عمر (رض) ترې وژل شوی و او چارو خپل طبیعي بهیر واهه. نو [ویلای شو] چې یوازېنۍ مساله، د اموي حکومت د تثبیت مساله وه، حکومت یې هغه وخت پېښه ولګوله، چې حضرت ابوبکر (رض) په شام کې یزید بن ابوسفیان ته واګې ورکړې.

[1] (په دې باب وګورئ: ابن ابی الحدید د نهج البلاغې شرح: ۱، ۳۲۶ او ۳۲۷ مخونو پورې)

[په هر حال] چارې د جناب امیر معاویه او امویانو په ګټه ورسیخې شوې، تر دې چې د حضرت عثمان د زمانې په پای کې، [خلافت] په ټوله مانا په یو شاهي حکومت اوړېدلی و او دا د مروان د خبرې مانا ده چې: «مخ مو تور چې واکمني رانه اخلئ»

د حضرت عثمان د غچ خبره نه وه، د قاتلانو د مجازات مساله یې هم اصلي مساله نه وه؛ ځکه وروسته چې جناب امیر معاویه خلیفه شو د عثمان (رض) وژونکیو ته یې سزا ورنه کړه. نو ځکه مساله یوازې د واکمنۍ مساله وه او بس. جناب امیر معاویه د مؤمنانو وینې (لکه چې هیڅ ارزښت یې نه درلود) خوشې ولاړې کړې.

ایا د مروان بن حکم په امر بې ګناه محمد بن ابوبکر او نورو ورسره اصحاب (رضی الله عنهم) ونه وژل شول؟ ایا جناب امیر معاویه ابن زیاد ته ونه کښل چې: حضرمې یې ځکه وواژه، چې د علي کرم الله وجهه پلوی و؟ ایا جناب امیر معاویه، عمرو بن حمق (رض) [چې ډېرو سجدو یې تندی ټپي کړی و] ونه واژه؟ ایا جناب امیر معاویه حجر بن عدی (رض) او یاران یې ونه وژل، چې د خدای مخلص بندګان، عابدین، پر نېکیو امر کوونکي او له بدیو منع کوونکي وو؟

ایا همدا جناب امیر معاویه نه و، چې «ابن زیاد» یې پر خلکو مسلط او برلاس کړ، چې وروسته ورته وصیت وکړي، چې د خدای مخلص بندګان د کجورو په ونو کې راځوړند او و یې وژني؟

[په هر حال] د جناب امیر معاویه په لومړیتوب کې دا مهم و، چې واکمن وي او ورپسې د خپل نیکه، ماما، ماما زوی او خپل ورور غچ واخلي.

جناب امیر معاویه د جمل جګړه غنیمت وګڼله او حضرت طلحه، زبیر او ام المؤمنین عایشه بي بي یې وهڅول او ملاتړ یې ترې وکړ. حضراتو طلحه او زبیر ته یې وعده ورکړه، چې یو به د بصرې او بل به د کوفې والي کړي او چې جګړه د جګړې بلوونکیو په زیان پای ته ورسېده، پخپله یې له علي کرم الله وجهه سره جګړه پیل کړه. (په دې باب وګورئ: شیخ المضیرة استاد محمود ابو ریه ۱۷۴ او ۱۷۵ مخونه)

استاد عقاد د «الجناب امیر معاویه فی المیزان» کتاب په ٦٢ او ٦٣ مخونو کې وایي: « جناب امیر معاویه خورا چلي او ټګیجن و او هر وخت یې له ټګۍ کار اخسته خلک به یې پر یو بل شکمنول او ترمنځ به یې دښمني اچوله، چې یو بل ته بد ووینې. ان په خپلو خپلوانو کې یې هم له ټګۍ برګۍ کار اخسته. جناب امیر معاویه ته دې ډېر زور ورکاوه، چې دوه تنه دې د یوې ګروهې خاوندان او سره ملګري وي او طبیعي ده چې د سترو شخصیتونو ترمنځ سیالي وي، چې له اروا پلوه یې د دوی د بېلتون لپاره ترې ګټنه کوله. جناب امیر معاویه دې دود ته دوام ورکړ او د واکمنۍ هر غړي یې ځانته ډله جوړولای شوه چې له بلې سره مخالفه وي. که

واقعي تاريخ يې محاکمه وغواړي؛ نو يوازې د «درز اچوونکي» نوم به پرې کېږدي. يوازې د تاريخ لوستونکی دی، چې د تاريخي شخصيتونو د کړنو په ارزونه کې بايد نظر ورکړي. وينو چې ځينو تاريخپوهانو د جناب امير معاويه د واکمنېدو کال د «يووالي» پر کال نو مولی دی، ځکه اسلامي امت يې ټوټه ټوټه کړ، داسې چې که امت غوښتای چې يو شي، د يووالي پر لار يې نه پوهېدل، د جناب امير معاويه او ورپسې خلفاوو په وختونو کې خلک په ډلو ډلو وويشل شول. »

لنډه دا چې جناب امير معاويه، بسر بن ارطاة مدينې ته خپل استازی ولېږه او په خلکو کې يې ډار او ترهه خپره کړه او اصحاب يې خوار او ذليل کړل (شيخ المغيره: ۱۸۷ – ۱۸۸ مخونه) جناب امير معاويه په وژنې، ويجاړونې، سوځونې او تفرقې له خلکو بيعت واخست. دې موخې ته د رسېدو لپاره يې د حضرت رسول (صلی الله عليه و آله و سلم) اصحاب کرام (رضی الله عنهم) وکنځل او پر شام د شلو کلو په واکمنۍ کې يې چې کومې شتمنۍ راټولې کړې وې، د دې پر ځای چې په شرعي ځايونو کې يې ولګوي د خپلې واکمنۍ د ټينګولو لپاره يې ولګولې.

جناب امير معاويه د «عطاء البيعة» [له نوي خليفه سره د بيعت ډالۍ] په نوم يوه ورکړه دود کړه، چې د نوي خليفه د ټاکنې پر وخت يې پر پوځيانو وويشي.

## ځان يې پر اعلان شوي موخې ناګار کړ

جناب امير معاويه د حضرت عثمان (رض) د کسات اخستو په پلمه له شرعي خليفه څخه سرغړونه وکړه، ام المؤمنين عايشې (رض) هم په همدې موخې د مخالفت بيرغ اوچت کړ. خو چې جناب امير معاويه په زور پر مسلمانانو چارواکی شو او حکومت يې غصب کړ؛ نو د حضرت عثمان (رض) د قاتلانو په نيونه او سزا ورکولو يې لاس پورې نه کړ، ان ام المؤمنين هم ترې ونه غوښتل چې د عثمان (رض) قاتلانو ته سزا ورکړي.

**ويښتيا**

جناب امير معاويه پر اوضاع برلاس او د اسلام د پيغمبر ځيناستی شو. سره له دې چې ازاد کړای شوی او د ازاد کړای شوې زوی و، ده او پلار يې د اسلام پر ضد جګړې وکړې، تر دې چې پخپله، پلار او پلويان يې له ناچارۍ يا په خوښه يا ډار مسلمانان شول.

څرنګه دا اوښتون رامنځ ته شو؟ ولې او څرنګه حق ماتې وخوړه؟ څرنګه وروسته، مخکې او مخکې وروسته شو؟ څرنګه ازاد کړای شوی له غوره مهاجرينو څنې شول؟ څرنګه هغوی چې اسلام او مسلمانان يې محاصره کړي وو پر هغوی غوره شول چې د اسلام په لار کې يې هر ډول سرښندنې وکړې او هر ډول کړاوونه يې وزغمل؟

د هک اريانۍ ځای دی، پر هغه کال چې اسلامي شريعت ماتې ته راښکودل شو، حق امام ماته وخوړه او زور بريالی شو؛ نو دا کال يې پر عام الجماعة (د يووالي کال) ونوماوه!!!

پر همدې کال حکومت د رښتونې مسلمانانو له لاسه ووت. پښېمانۍ او خجالت ټول راونغاړل؛ خو پښېمانۍ څه ګټه نه درلوده، لکه چې امت د غفلت پر خوب ويده او له هر ځای او څيز څخه ناخبره وو، بيا په يو وحشتناک خوب له ناخبرۍ او غفلته راووتل او چې سترګې يې وغړولې او په خود راغلل؛ نو پام يې شو، چې پر اوږده خوب ويده شوي وو.

**نظريات د رواني وضع په خدمت کې**

خلک د تېرو په شننې يا تجزيه و تحليل بوخت شول او په دې ترځ کې ډول ډول اندنې او نظريات رامنځ ته شول لکه تصوف، مرجئه، جبر او د ټولو اصحابو عدالت.

امويان او پلويان يې د دې افکارو او نظرياتو تر شا ولاړ وو او د يوې وسلې په توګه يې د اموي واکمنۍ د سياست د پر مخ بېولو لپاره کارولې. هغه يې کوله چې له دې لارې د خپلو مخالفينو هڅې خنثی او تر منځ يې درز واچوي او په پايله کې د خپلې واکمنۍ ستنې ټينګې او شرعي مخونه ورکړي.

## د صحابه وو د عدالت د نظريې د مطرح کونې موخه

**۱-مخونه:**

**الف- د خلافت د غصب مخونه:**

جناب امیر معاویه ازاد کړای شوی د ازاد کړای شوې زوی او له «مؤلفة قلوبهم» څخه و. ځان يې د اسلامي حکومت رئيس يا د اسلامي هېواد پاچا و موند، ځان يې د پېغمبر د ځايناستي د چارو ترسره کوونکی او بلکې د رسول الله صلی الله عليه و آله رسمي خليفه ګاڼه، چې البته دا چار باورېدونکی او معقول نه و؛ ځکه له هيڅ عقلي او شرعي کچې سره يې اړخ نه لګاوه.
پوهېږو چې پلار يې د مخالفو ډلو مشر او د اسلام پر ضد په ټولو جګړو کې د شرک مخکښ و. ابوسفيان، زوی يې جناب امير معاويه او پلويان يې، چې ځومره يې له وسې پوره و د جناب رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) پر وړاندې ودرېدل، تر دې چې په پايله کې محاصره شو او بيا يې اسلام راووړ؛ خو افسوس چې جناب امير معاويه پر لومړنيو او رښتينيو مسلمانانو (چې د اسلام دبدبه او عزت پرې ولاړ و) ورمخې ته شو او ځان يې د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) ځايناستی ونوماوه.
لازم ده، چې دې «کودتا» ته يوه مخونه پيدا کړي، چې غوره مخونه يې د «ګردو اصحابو د عدالت» مفکوره وه؛ ځکه جناب امير معاويه او لارويان يې له معنوي او اصطلاحي پلوه په اصحابو کې شمېرل کېدل. په حقيقت کې د دې نظريې طرح او ټول پکې رانغاړل راښيي چې جناب امير معاويه د ټګی برګی يو واقعي انځور و.

**ب- د جناب امير معاويه او پلويانو يې د کړنو مخونه:**

جناب امير معاويه او ملاتړو يې پر اسلام او مسلمانانو خورا کړاوونه او ستونزې راوړې، د بېلګې په توګه [پوهېږو چې] بسر بن ارطاة او مسلم بن عقبه داسې ناوړه چارې وکړې، چې اسمان پرې وژړل او زړونه پرې ودردېدل. د «حرې» په پېښه کې يې ګرد بدري اصحاب کرام (رضی الله عنهم) ووژل ان يو تن ترې ژوندی پاتې نه شو. په دې ترخه پېښه کې اوه سوه تنه قريش او انصار ووژل شول، له نورو خلکو او مواليانو هم لس زره تنه له منځه ولاړل. او هيڅ څيز يې مخې ته ونه درېد، چې د کوچنيانو له وژنې لاس واخلي. بسر بن ارطاة په يمن کې د عبيد الله ابن عباس دوه کوچني زامن ووژل. او دا ټول بې له هغو تلفاتو څخه دي، چې جناب امير معاويه له علي کرم الله وجهه سره په جګړه کې کړي دي.

د جناب امیر معاویه او یارانو یې له سترو جنایاتو څخه یو دا دی، چې د نبوي کورنۍ د منځه وړو لپاره یې له هر ډول وزلو او چلونو کاو واخست. لکه چې جناب امیر معاویه، امام حسن (رضی الله عنه) مسموم کړ او په «الاستیعاب» کې د ابن عبدالبر د لیکنې له مخې عبدالرحمان بن ابوبکر او عبدالرحمان بن خالد بن ولید یې هم مسموم کړل. جناب امیر معاویه د مالک اشتر په مسمو مولو کې برخه درلوده او چې عمرو بن العاص یې له شهادته خبر شو و یې ویل: «خدای د شاتو لښکرې هم لري. . . . »

جناب امیر معاویه په خلکو کې درز واچو او د استاد عقاد په وینا وضع داسې شوه که د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) امت هڅه کوله چې یو شي؛ نو ناشونې وه. د جناب امیر معاویه، په دې ناوړه کړنو، د اسلام څېره ناوړه انځور شوه. داکتر احمد امین وایي: «حقیقت دا دی چې اموي حکومت یو اسلامي حکومت نه و. . . . »

څرګنده ده چې یوازې د ټولو اصحابو د عدالت مفکوره دې ډول کړنو ته مخونه ورکولای شي او بس، هلته چې جناب امیر معاویه او لارویان یې ګناهکاران وګڼو او تر دې خورا مهم که دوی ګناهکاران وي؛ نو پیغمبر اکرم (چې رښتین استازی او د خدای له لوري تایید شوی او د ځاني غوښتنو له مخې خبرې نه کوي) به نه ویل (البته په انګېرنه یې): «ټول اصحاب جنتیان دي»؛ نو جناب امیر معاویه یو خورا هڅاند صحابي دی چې خپله بدله اخلي؛ که پر حق وي او ووژل شي؛ نو ډېره بدله اخلي او که پر حق نه وي او ووژل شي یوه بدله یې پر برخه کېږي؛ نو له همدې مخې جناب امیر معاویه چې د جګړې، سولې، دفاع، اخستنې او ورکړې په حال کې وي پر حق دی؛ ځکه صحابي دی او ټول اصحاب عادلین دي.

## ۲-له ګوتنیونې څخه خوندیتوب

د ټولو اصحابو د عدالت مفکورې پر دې سربېره چې د جناب امیر معاویه له لوري د حکومت غصب ته مخونه ورکوله، د ده او اموي پلویانو کړنو ته یې هم مخونه ورکوله او د ګوتنیوي پر وړاندې یې یو ډول خوندیینه او له کنځا، ناسزا او سپکاوی یې خوندي کاوه؟! ځکه چې صحابي او عادل دی او چې څوک [ان] معمولي صحابي توهین کړي او ناسزا ورته ووایي؛ نو ستره ګناه به یې کړې وي، د اسلامي حکومت رئیس خو لا څه کوې!! او په «المیزان» کتاب کې د «ذهبي» د وینا له مخې چې څوک دغسې چار وکړي زندیق او کافر دی او نه ښایي چې خواړه ورسره وخوړل شي او چې ومړ د مړي یې جنازه ونه وشي؛ نو ځکه وینو چې د اصحابو د عدالت د طرح په څېر یو طرح هم جناب امیر معاویه ته دغسې یو خوندیتوب ورپر برخه کولای نه شو.

**۳- جناب امیر معاویه او لارویان یې**

د اصحابو د عدالت مفکورې د خپلو دښمنانو پر وړاندې د جناب امیر معاویه بریا او یا لږ تر لږه له دښمنانو سره یې د مساوات او برابرۍ انځور تامین کړ. مثلاً که د پیغمبر صلی الله علیه و آله کورنۍ ووایي، چې موږ داسې کسان یو، چې خدای هر ډول چټلی رانه لرې کړې او په خورا ښه توگه یې پاک کړي یو، جناب امیر معاویه او لارویان یې بې درنگه وایي: موږ د محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) یاران یو او عادل، او دروغ راباندې روا نه دي، نه تېرووځو، ټول جنتیان یو او یو مو دوزخ ته نه ځي. که د پیغمبر کورنۍ ووایي، چاچې راسره دښمني وکړه؛ نو له خدای سره یې کړې ده، جناب امیر معاویه او لارویان یې وایي، چې پیغمبر زموږ اصحابو په اړه ویلي: چې څوک یو صحابي وځوروي، زه یې ځورولی یم. . . . او په دې توگه حق و باطل سره گډوډ شوي، نېکچارې او بدچارې، سرایښوونکې او سرغړوونکې سره مساوي او برابرېږي.

**۴-په مسلمانانو کې درز او بې اتفاقي:**

که جناب امیر معاویه او لارویان یې پر دې بریالي شي، چې د ټولو اصحابو د عدالت عقیده تثبیت او په گردو مسلمانانو کې یې خپره کړي؛ نو یوه ډله به یې ومني او بله به یې مقابلې ته راپاځي او د دواړو لوریو په افکارو کې به د کینې او دښمنۍ منگولې ښخې شي او هر ډله به د خپلې مفکورې په اړه له تعصب څخه کار اخلي او راتلونکی کهول به یې د تقلید له مخې ومني؛ نو څوک چې د اصحابو د عدالت مفکوره مني، د جناب امیر معاویه د تایید په هوډ یې نه مني؛ بلکې هوډ یې د اصحابو تایید دی او چې څوک د ټولو اصحابو د عدالت له مفکورې سره مخالف دي، نیت یې له اصحابو سره دښمني نه؛ بلکې موخه یې د هغې بلې ډلې د ټگۍ برگۍ او سیاسي چلونو رابرسېرول دي؛ خو په هر حال دواړه ډلې به د یو بل پر وړاندې ولاړې وې او جناب امیر معاویه یې هېر کړی او په دې ترخ کې جناب امیر معاویه بې غمه د لانجمنو ډلو ننداره کوي او ان چمتو دی چې ترمنځ یې قضاوت وکړي. دا هماغه ټگي برگي ده، چې عقاد په خپل ارزښتمن کتاب «الجناب امیر معاویه فی المیزان» کې ورته اشاره کړې ده.

## ۵- د ټولو اصحابو د عدالت د عقیدې پیدایښت

«ابن عرفه» چې په «نفطویه» مشهور دی او د حدیثپوهانو له مشرانو څنې دی، روایتوي چې د اصحابو د فضایلو په اړه ډېری احادیث د امویانو په عصر کې د دې لپاره جوړ کړای شوي چې راویان امویانو ته ورنژدې او پر بني هاشمو یې ګوذار کړی وي.

دا احادیث داسې تنظیم شوي چې هر صحابي (په لغوی او اصطلاحي مانا وو) یې یوه ښه بېلګه او نېکچاری نړیوالو ته ورښوولی او پر هغه د لعنت بارانونه وروي، چې یو صحابي هم توهین کړي [1] او یا کوم ناوړه چار ورپورې وتړي.

ټول څېړونکي یوه خوله دي چې د درېیم خلیفه د ژوند په وروستیو کې حدیث جوړونه رامنځ ته شوه او د اسلام په پېغمبر صلی الله علیه و آله پورې به یې په دروغو احادیث ورتړل. له حضرت علي کرم الله وجهه سره تر بیعت وروسته، د حدیث جوړونې بهیر ډېر دود شو او مسلمانانو له علي کرم الله وجهه سره پوره بیعت کړی نه و چې د اموي شیطان لښکر راپیدا شو، چې حق (خلافت) یې له اصلي خاونده (حضرت علي) غصب کړي او په امویانو پورې یې ورځانګړی کړي. له هغه وخت وروسته پر له پسې بې شمېره پېښې وشوې، تر دې چې ځینو بیعتوونکیو له څلورم خلیفه علي کرم الله وجهه سره خپل بیعت مات کړ او د مسلمانانو د خپلمنځي جګړو په پایله کې حکومت امویانو ته په لاس ورغی. چې دا حکومت پخپله په مسلمانانو کې د درز لامل شو او یووالی یې له منځه یووړ. داسې چې د خلافت په اړه بېلابېل مذاهب او نظریات رادبره شول او هر یو د خپلو نظریاتو او اندونو د تایید لپاره په وینا او عمل کې له خپل سیال سره په لانجه کې شو. او په دې توګه حدیث جوړونه او تاویل راوټوکېد او په دې اړه هر ډلې افراط وکړ، چې د مسلمانانو ترمنځ د لا زیاتې تفرقې لامل شو. په حقیقت کې اسلام ته چا هم دومره زیان رسولی نه دی لکه په اسلام پورې تړلو بدعت ایښودنکیو او په ظاهر افراطي متدینو. له همدې کبله د مسلمانانو ذهن ککړ او خراب شو او لامل شو، چې یو شمېر زیات کسان د اسلام د دین په اړه بدګڅي شي.

د حدیث جوړونې فتنه په اموي عصر کې عامه شوه، داسې چې د احادیثو رښتین راویان لږ او دروغجن راویان ډېر شول؛ نو له همدې امله سترو اصحابو د حدیث له روایتولو ډډه وکړه او یوازې هغوی ته یې حدیث وایه چې ډاډمن وو او په ساتنه کې هڅاند وو [2].

---

[1] سید مرتضی رضوي، اراء علما المسلمین فی الشیعه و الصحابه و صیانة القرآن الکریم: ۸۵ مخ

[2] مقدمه امام محمد عبده علی رسالة التوحید: ۷-۸ مخونه. شیخ المضیره محمود ابو ریه ۲۰۱ او ۲۰۳ مخونه.

امام محمد عبده د جناب امیر معاویه حدیث جوړونې ته په اشارې وایي: یو شمېر اصحاب او تابعین یې اړ کړل چې د علي کرم الله وجهه په باب ناوړه روایت جوړ کړي چې په دې احادیثو د علي کرم الله وجهه شخصیت او عظمت ټکنی شي او جناب امیر معاویه ځان پاک او سوچه وښیي. جناب امیر معاویه د دې چار لپاره ښه مناسب انعامونه وټاکل چې د جعلي احادیثو راویانو ورته مخه کړه او د هغه د خوشحالۍ لپاره به ورتلل، چې یو یې هم حضرت ابوهرېره و.[1]

داکتر احمد امین په «ضحی الاسلام» کتاب کې وایي: «دا مورږ دې ته اړ باسي چې ووایو، دا امویان وو چې یا یې پخپله او یا یې په نورو جعلي احادیث رامنځ ته کړل چې له بېلابېلو اړخونو خپل سیاست ته خدمت وکړي او د واکمنۍ ستنې یې ټینګې شي[2]»
او په همدې لړ کې یې «ابن سمرة بن جندب» صحابي ته پنځه لکه درهمه ورکړل چې د پېغمبر له خولې روایت کړي چې د بقرې سورت ۲۰۴ آیت د علي کرم الله وجهه په شان کې نازل شوی او د بقرې سورت ۲۰۷ آیت د عبدالرحمان بن ملجم په شان کې، ځکه علي کرم الله وجهه یې وژلی و.
وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ (بقره/۲۰۴) ؛ د دنیوي ژوند په اړه دې د ځینو خلکو خبرې اریانوي (په ښکاره ښه مینه څرګندوي) او څه یې چې په زړه کې وي، الله پرې ګواهوي؛ خو دی سخت ځیلي جګړه مار دی.
وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ (بقره/۲۰۷) ؛ او له خلکو هغه دی، چې د الله د رضا د تر لاسه کولو لپاره ځان پلوري او الله پر خپلو بندګانو خوږمن دی.
حضرت ابوهرېره دوسي د جناب امیر معاویه له یارانو او مریدانو څخه و چې د پېغمبر اکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) له خولې یې تر (۵۳۷۴) ډېر احادیث روایت کړي چې بخاري ترې (۴۴۶) احادیث روایت کړي، حال دا چې له جناب نبي کریم (صلی الله علیه وآله وسلم) سره یې مصاحبت له یوه کال او څو میاشتو نه تېرېږي او کو مو سترو اصحابو کرامو (رضی الله عنهم) چې د بعثت تر پیله د وفات تر شېبې پورې د حضرت په څنګ کې وو، بخاري ترې د سلو ډېر احادیث روایت کړي نه دي چې دا دي: حضرات (ابوبکر، عمر، عثمان، عبدالرحمان

[1] مقدمه امام محمد عبده علی رسالة التوحید: ۷-۸ مخونه. شیخ المضیره محمود ابو ریه ۲۰۱ او ۲۰۳ مخونه.
[2] ضحی الاسلام ۲: ۱۲۳ مخ

بن عوف، طلحة بن عبدالله، معاذ بن جبل، سلمان، زید بن ثابت او ابی بن کعب) رضی الله عنهم، چې دا پخپله د هک اریانی ځای او تامل او درنگ وړ دی!

د جناب امیر معاویه ځانگړنې

شوکاني په "الفوائد المجموعة فی الاحادیث الموضوعة" کتاب کې وایي: «جوته شوې چې د جناب امیر معاویه د ځانگړنو په باب احادیث سم نه دي»

ابن جوزي د جناب امیر معاویه په فضایلو کې راغلي احادیث په جوړ کړای شویو احادیثو کې ثبت کړي او د بخاري د استاد اسحاق بن راهویه له خولې وایي: «د جناب امیر معاویه په فضایلو کې روایت شوي احادیث سم نه دي» امام نسایي رحمة الله علیه د جناب امیر معاویه د فضایلو په باب مشهور داستان روایتوي چې «دارقطني» وایي: نسایي حج ته تله، په دمشق کې مرگونی ناروغ شو او په دې حال کې یې وویل: مکې ته مې بوځئ؛ خو [د فلسطین] په رمله کې ومړ. له دمشق څخه له خوځېدو مخکې ملگري یې ترې وغوښتل چې د جناب امیر معاویه د فضایلو په اړه څه ووایي:

امام نسایي وویل: ایا هغه (جناب امیر معاویه) خوښ نه دی چې د گناه او ثواب له اړخه سر پر سر وي، اوس نو غوراوی او فضلیت غواړي؟ تر دې خبرې وروسته ملگرو یې هڅه وکړه، چې له جوماته یې وباسي[1].

## د جناب امیر معاویه باب امام شافعي رحمة الله علیه لیدلوری

«ابوالفدأ» له امام شافعي رحمة الله علیه څخه روایتوي چې په پټه یې «ربیع» ته ویلي و چې د څلورو تنو اصحابو شاهدي نه منل کېږي چې دا دي: جناب امیر معاویه، عمروعاص، مغیره او زیاد[2].

ښایي د همدې مسالی له امله وي چې ابن معین د امام شافعي رحمة الله علیه په اړه وپوښتل شو چې وویي: «هغه ډاډمن نه دی»

---

[1] شیخ المضیره محمود ابو ریه ۱۸۳ مخ

[2] طبري تاریخ د ۵۱ کال پېښې. ابن اثیر تاریخ ۳: ۲۰۲ - ۲۰۹ مخونو پورې. ابن عساکر تاریخ ۲: ۳۷۹ مخ. استاد ابوریه، شیخ المغیره: ۱۸۵ مخ.

## د جناب امیر معاویه په اړه د حسن بصري رحمة الله علیه خبره

طبري له حسن بصري رحمة الله علیه څخه روایتوي چې: جناب امیر معاویه څلور خویونه درلودل چې که یوازې یو یې هم درلود؛ نو ستره ګناه ورته ګڼل کېده او دا دي:

۱. پر خلکو یې ناپوهان او بې عقله برلاس کړل: داسې چې خلافت یې له خلکو سره بې مشورې ونیو او حال داچې په خلکو کې ستر او با فضلیته اصحاب وو.

۲. زوی یې یزید خپل ځایناستی کړ: هغه چې تل نشه و، ورېښمنې جامې یې اغوستې او طنبور یې واهه.

۳. له زیاد [بن ابیه] سره یې د ورورۍ ادعا: حال دا چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ویلي دي: اولاد په ښځې او مېړه پورې تړاو لري او زنا کار دې سنګسار شي. «قاعد الولد للفراش و للعاهر الحجر»

٤. د حجر بن عدی او یارانو (رضی الله عنهم) وژنه یې: پر جناب امیر معاویه دې مرګ وي، له حجر او یارانو سره یې دغسې چار وکړ.

## د ګردو اصحابو د عدالت نظریه اموي رنګ لري

سره له دې چې د دې مفکورې له مخې ټول اصحاب عادل دي او اهل بیت هم چې د پېغمبر اصحاب شمېرل شوي، عادل دي، لازم و، چې امویانو ورته له سپکاوۍ او کنځا ډډه کړې وای؛ خو وینو چې د ظالمې ډلې مشر؛ جناب امیر معاویه، د علي کرم الله وجهه پر وړاندې ولاړ دی او هماغه لار یې نیولې چې پلار یې ابوسفیان د پېغمبر صلی الله علیه و آله پر وړاندې درلوده او بیا یې زوی (یزید) د امام حسین (رض) پر وړاندې هماغه دریځ ونیو، چې پلار نیکه یې د علي کرم الله وجهه او حضرت محمد صلی الله علیه و آله پر وړاندې درلود.
جناب امیر معاویه پر واکمنۍ تر برلاسۍ وروسته، لومړی دا چار وکړ، چې په ټولو سیمو کې چارواکیو ته یې وکښل چې په لمونځونو کې او پر منبرونو علي کرم الله وجهه وکنځي او په دې یې هم بسیا ونه کړه بلکې په شام کې یې د وعظ او ویناوو غونډې په علي کرم الله وجهه پسې کنځا پای ته رسولې.

او هغو ته يې ويلي و چې په قضايې محاکمو کې د اهل بيتو او لارويانو گواهي يې ونه منئ او د اهل بيتو د پلويانو او مينوالو نو مونه د ډاليو او معاش د ويش له دفتره لرې کړئ[1].
عقاد په «جناب امير معاويه بن ابوسفيان فى الميزان» کتاب کې ليکي:
«پر جناب امير معاويه د حضرت علي کرم الله وجهه د غوراوى لپاره همدا بس ده، چې د جناب امير معاويه له لوري پر منبر کنځل کېده. »

[1] شيخ المضيرة ۱۸۰ مخ

# د نظریي فقهي جرړې

هغوی چې د ټولو اصحابو د عدالت نظریه رامنځ ته کړې، په داسې ډول یې مطرح کړې، چې له تېر، حال او راتلونکي یې پوره دفاع وکړي او په درې واړو وختونو کې یې پر چارو شرعي او قانوني پرده وي. د دې نظریي لمن یې په داسې توګه خپره کړه چې په هر ځای کې خپله ونډه ښه ترسره کړای شي داسې چې:

۱-لرې یا نژدې، [په هر ښه کې] پخپله پکې راونغاړل شي.

۲-په لرېتوب یا نژدېتوب کې یې پر شرع اغېز وي.

۳-د دښمنانو په اړه اختلافي ټکي زیات کړي.

۴-او په پایله کې دښمنان د شک، حیرت او سرګردانۍ په سمندر کې لاهو کړي.

په زړه پورې خو دا ده، چې نن د دې نظریي دوستان او تاییدوونکي، د دې نظریي شتون له جناب رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) او یارانو سره یې د دې نظریي د رامنځ ته کوونکیو مینه راښیي او له دې نظریې په دفاع کې، د دې نظریې د رامنځ ته کوونکیو له لوري (هغوی چې د مبارزې له ډګر څخه بهر وو او چې څه پېښېږي ورپورې اړه نه لري) له مخالفینو سره یې په شخړه لاس پورې کوي او هغوی چې د دې نظریي د بیا کتنې غوښتونکي دي له حضرت (صلی الله علیه وآله وسلم)او مخلصو یارانو سره یې د مینې له پلوه د ټولو اصحابو د عدالت د نظریي له رامنځ ته کوونکیو څه کم نه دي.

خو دوی غواړي چې پر شرعي او عقلي اصولو، دا مینه (په اصطلاح) یو سم بهیر ته ورسیخه کړي چې همېشه د اسلام په چوکاټ کې وي او غواړي چې په پټو سترګو تګ او له وچ کلک تعصبه ډډه وکړای شي؛ ځکه دا دود له انسانه عقل او له ګټورو خبرو اترو د برخمنېدو نعمت (چې د خدای د نېکچارو بندګانو ځانګړنه ده) لرې کوي.

**فقهي مرجعیت:**

د ټولو اصحابو د عدالت د مفکورې د سیاسي جرړو په څېړکې کې مو جوته کړه، چې د ابن عرفه (د احادیثو یو ستر عالم او امام) د نظر له مخې د امویانو په پیر کې د اصحابو په فضایلو کې ډېرې احادیث راغلي چې د جعلي احادیثو راویان له درباره سره اړیکې ټینګې کړي او بني هاشم ځپل شوي وي. همدغسې څېړونکي یوه خوله دي چې د درېیم خلیفه د زمانې په وروستیو کې او تر وژنې وروسته یې د احادیثو جوړونه پیل شوه او په دروغو یې په پیغمبر صلی الله علیه و آله پورې احادیث ورتړل او و مو ویل چې له علي کرم الله وجهه سره د بیعت

تر وخته د حديث جوړونې لمن لا پراخيده، داسې چې تر اوسه مسلمانانو له حضرت علي کرم الله وجهه سره لاسم او پوره بيعت کړی نه و چې ناڅاپه د اموي شيطان لښکر راپورته کړ چې خلافت يې له خپل اصلي خاونده غصب او امويانو ته يې وروسپاره، چې په دې زمانه کې حديث جوړونې ښه زور واخسېت، تر دې چې استاد محمد عبده وايي: «امويانو حديث جوړونې ته دومره بدله په پام کې ونيوه، چې د جوړونکيو د پاموړ شوه[1]»
خلکو ته (چې په عقايدو او فقهي دودونو کې يې يو له بل سره توپير درلود او شرعي احکامو او نورو مسايلو کې يې بېلابېل تمايلات درلودل) دا جوړ کړای شوي روايات، له عادلو اصحابو څخه له نقل شويو رواياتو سره يو ځای مرجع وګڼل شول[2].

## دوه مرجع

**۱-اهل سنت: او د ټول اصحابو مرجعيت**

هغوی چې (په لغوي او اصطلاحي مانا وو) ټول اصحاب عادل ګڼل ټول روايات يې له رښتينو او عادلو اصحابو واخستل او پرهغو رواياتو او احاديثو يې هم اعتماد وکړ چې د فتنې په پير کې جوړ کړای شوي وو او په اموي عصر کې يې وروستۍ ښه غوره کړه.
هغوی په دې باور وه چې ګرد اصحاب عادل او جنتيان دي او دا چې له عقلي پلوه محاله ده چې يو جنتي په لوی لاس دروغ ووايي د اصحابو ترمنځ پر کوم توپير قايل نه وو او له دې لامله چې د داړ وړ مرجع يې اصحاب وو؛ نو ځکه د اهلسنتو نوم پرې کېښودل شو. نو ځکه اهل سنت د اصحابو (په لغوی او اصطلاحي مانا وو) له لارې له دين سره اشنا شو او هغو اصحابو له اموي درباره ښه ګټه ترلاسه کړه چې ډېر شمېر احاديث يې جوړ کړل.
[لکه] ابو محمد بن حزم وايي: د ابی عبدالرحمان بن مخلد اندلسي مسند له حضرت ابوهرېره (۵۳۷۴) څخه احاديث روايت کړي، چې بخاري يې (۴۴۶) احاديث روايت کړي او معلومه ده چې حضرت ابوهرېره د جناب امير معاويه يو نژدې تن و او پوهېږو چې له پيغمبر صلی الله عليه و آله سره يې د مصاحبت او ناستې پاستې موده له يوه کال او څو مياشتو اوختې نه وه.
او په لنډو هر صحابي (په لغوي او اصطلاحي مانا وو) چې هر حديث روايتوي محترم او سم دی او تر هغې چې د حديث راوي يو صحابي وي، د دين برخه ګڼل کېږي؛ نو ځکه ټول اصحاب عادلين او جنتيان دي او په لوی لاس دروغ نه وايي او په ترخ کې، دا چې د حديث

[1] محمد عبده، تاريخ ۲: ۳۴۷ مخ، شيخ المضيره محمود ابوريه ۲۰۱ ـ ۲۰۲ مخونه
[2] سيد مرتضی رضوي، اراء علما المسلمين فی التقيه والصحابة و صيانة القرآن، ۸۶ مخ.

راوي ډاډمن وي ضرورتاً نه ښايي د حضرت علي او اهل بيتو په لاروي تورن وي؛ ځکه په دې بڼه کې راوي په ټوليز ډول له «ډاډمنو» څنې وځي.
هغه مهال چې يحيى بن معين، سعيد بن خالد بجلي ثقه او ډاډمن معرفي کړ، ورته وويل شو: چې هغه خو شيعه دی، معين وويل: شيعه او ډاډمن!!! په حقيقت کې خلک د لومړي پيړۍ له وروستيو مخکې د «اهل سنتو» د کلمې په باب پر څه نه پوهېدل؛ ځکه تسنن له هغو پېښو څنې وه چې وروسته رامنځته شوه[1]

## د اصحابو پر مرجعيت د اهل سنتو دليل

اهل سنت وايي: جناب نبي مکرم ويلي دي: «اصحاب مې د ستوريو په څېر دي که په هر يو پسې ولاړ شئ، هدايت مومئ، « اَصْحابِى *كَالنُّجُومِ بِاَيِّهِمْ اِقْتَدَيْتُمْ اهْتَدَيْتُمْ* »
په بل روايت کې يې ويلي: د هر يو په خبره که عمل وکړئ. . .
ابن تيميه (د حنابله وو مشر، چې په اهل سنتو کې په شيخ الاسلام مشهور دی) وايي: د حديثو عالمانو د «اصحابى کالنجوم. . . . » حديث کمزور ګڼلی او دليل نه لري (د ذهبي، د حجة المتقي د کتاب ۵۵۱ مخ وګورئ) او اجماع هم دا حديث باطل ګڼلی دی[2].

## ۲- د اهل بيتو او ډاډمنو اصحابو مرجعيت

اهل سنتو ټول اصحاب (په لغوي او اصطلاحي ماناوو) ځان ته فقهي مرجع ګڼلي دي. په مقابل کې شيعه و د اهل بيتو امامان او هغه نبوي روايات چې ډاډمنو اصحابو روايت کړي د خپلې مرجع په توګه ټاکلي دي او د خدای کتاب؛ قرآن (چې د اسلام د دين ټول آرونه او ځانګې رانغاړي) يې پرې ور زيات کړی دی.
په حقيقت کې اهل تشيع، فقه، د دين اصول او ټولې ديني ښوونې له خپل امام (په اصل کې کلمه جدهم ده) اميرالمؤمنين څخه په ميراث کې وړي. هغه امير چې پېغمبر د خپلې پوهې ور ښوولی: زه د پوهې ښار يم او علي يې ور دی، چې څوک غواړي ښار ته راننوځي؛ بايد په وره يې راننوځي» دا مرجعيت ثابت ظوابط او مقررات لري، [لکه] امامانو ويل: «موږ يوازې د قرآن له مخې خبرې کوو، هر حديث يا خبره، چې راپورې تړل کېږي؛ خو که له قرآن سره اړخ ونه لګوي؛ نو يې لرې واچوئ»

---

[1] آراء علماء المسلمين سيد مرتضى رضوى ۹۲ مخ . اضوا على السنة المحديه ۳۴۱- ۳۴۴ مخونه
[2] آراء علماء المسلمين سيد مرتضى رضوى ۹۲ مخ . اضوا على السنة المحديه ۳۴۱- ۳۴۴ مخونه

همدغسې امام صادق ويلي: خبره مې، زما د پلار خبره، د پلار خبره مې، د نيکه خبره او د نيکه خبره مې د جناب نبي مکرم وينا ده او د پېغمبر وينا د خدای خبره ده[1].

**د اهل بيتو پر مرجعيت د شيعه وو دليل**

د اهل بيتو د امامانو پر مرجعيت د شيعه وو دليل پرېکنده شرعي نصوص دي چې په قرآن کريم او سنتو (قول، فعل او تاييد) کې راغلي، چې سني او شيعه پرې يوه خوله دي.

امامان، درانه او عزتمن اهل بيت، هغه کسان دي چې خدای ترې چټلي لرې کړې او په خورا ښه توگه يې پاک کړي چې دا د قرآن د څرگند نص له مخې ده.[2]

او د شرعي نص له مخې قرآن «ثقل اکبر» او امامان «ثقل اصغر» دي او هدايت يوازې په همدې دوو ثقلونو شونی دی او له بېلاريتوبه ژغورنه په دې کې ده، چې پر دواړو به منگولې ښخوئ[3].

امامان اسلامي امت ته د نوح د بېړۍ په څېر دي، چې څوک پکې سپور شو؛ نو وژغورل شو او چې له سپرېدو يې ډډه وکړه؛ نو ډوب شو[4] چې دا هم څرگند نص دی او بيا د همدې شرعي نص له مخې، امامان يو لامل دی، چې امت په اختلاف او درز کې له اخته کېدو بچوي[5]. موږ د راغلي نص د جوتو لپاره ځينې شرعي دلايل راوړو او بيا به تول وشيو.

---

[1] آراء علماء المسلمين فى التقيه والصحابه و صيانة القرآن الكريم ۸۹ مخ

[2] [د تطهير آيت (احزاب ۳۳ آيت) په باب د طبري، خازن، فتح القدير او.... تفاسير وگورئ]

[3] صحيح ترمذي ۵: ۳۲۸ مخ. زرندي حنفي، نظم دررالسمطين ۲۳۲ مخ. شيخ سليمان قندوزي حنفي، ينابيع الموده ۳۳او ۴۴۵ مخونه. متقي هندي کنز العمال ۱۱\۱۵۳ مخ. ابن کثير تفسير ۴: ۱۱۳ مخ. مصابيح السنه بغوى ۲۰۶ مخ، جامع الاصول ابن اثير ۱۳۷ مخ، و مشکاة المصابيح ۳ / ۳۸۵، الدر المنثور سيوطى ۶ / ۷ او ۳۰۶ والصواعق المحرقه ابن حجر ۱۴۷ مخ، والمعجم الصغير طبرانى ۱ / ۱۳۵ و منتخب تاريخ ابن عساکر ۵ / ٤۳٦ و مقتل الحسين خوارزمى ۱، / ۱۰٤ والطبقات الکبرى ابن سعد ۲ / ۱۹٤ و....

[4] تلخيص مستدرك ذهبى والصواعق المحرقه ابن حجر ص ۱۸٤ و ۲۳٤ و تاريخ الخلفاء سيوطى و اسعاف الراغبين صبان شافعى ۱۰۹ مخ، نظم در السمطين زرندى حنفى ۲۳۵ مخ او کفايه الطالب گنجى.

[5] ابن حجر، الصواعق المحرقه ۹۱ او ۱۴۰ مخونه. سيوطي، احياء الميت، مسند امام احمد بن حنبل ۵/ ۹۳

**د دواړو مراجعو ونډه**

۱- د اهل سنتو پر وړاندې د مرجعیت ونډه: لکه چې وړاندې مو وویل اهل سنتو ته پر قرآن د پوهېدو مرجع د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله ټول اصحاب دي او له دې اړخ یې ترمنځ کوم توپیر نشته؛ ځکه ټول اصحاب عادلین او جنتان دي. په پیل کې د اصحابو روایاتو له سنتو یعنې ویناوو او کړنو (قول او فعل) تېری نه کاوه؛ خو دا چې بېلابېل مذاهب رامنځته شول، په ښارونو کې خپاره واره او دود شول، د روایاتو کړۍ خورا پراخه شوه او د پېغمبر او اصحابو ویناوې او کړنې یې هم راونغاړلې او په پېښو کې د اصحابو نظریات په تشریع کې د درېیمنۍ مرجع په توگه مطرح شول؛ یعنې «قرآن، سنت او د اصحابو رای» یو د بل په څنگ کې شوې. په څلور گونو مذاهبو کې حنفي، حنبلي او مالکي مذاهبو تر شافعي مذهب ډېر د اصحابو نظریاتو ته اهمیت ورکاوه او په اړه یې له تعصبه هم کار اخست.

امام ابوحنیفه ډېرې وخت په احکامو کې پر قیاس پابند و او تر قرآن وروسته یې د تشریع خورا غوره شونې کچه گڼله او گروهن و که د اصحابو د نظریاتو او قیاس تر منځ ټکر راشي؛ نو باید د صحابي نظر ته غوراوی ورکړای شي.

له امام ابوحنیفه څخه روایت شوی چې: که په قرآن یا نبوي سنتو کې کوم نص و نه مومم، د رسول الله صلی الله علیه و آله د اصحابو نظر منم او که په یوه حکم کې اصحاب بېلا بېل نظریات ولري؛ نو چې د هر یو نظر مې مناسب ولید، هماغه غوره کوم او بل پرېږدم؛ خو په هر حال د نظریاتو له پولو یې نه اوړم او د تابعینو نظریاتو ته مخه کوم نه[1].

وگورئ چې اهل سنتو د اصحابو په سپېڅلتیا او درناوي کې افراط او زیاتی کړې، داسې چې دا سپېڅلتیا له عصمت او پاکلمنۍ څه کمه نه ده. چې کله فقهي مذاهب خپاره شول؛ د اهل بیتو له امامانو سره په مبارزه کې د اصحابو په لمانځنه کې غلوه وکارول شوه؛ یعنې د اصحابو پر نظریاتو داسې عمل وشو، چې ته وا، دا اسماني وحې ده چې *د خدای د کتاب (قرآن)* «عام» احکام پرې «ځانگړي» کوي او «مطلق» یې پرې «مقید» وي.

---

[1] ابی زهره، د ابوحنیفه کتاب، ۳۰۴ مخ. امام زید ۴۱۸ مخ. اراء علما المسلمین ۸۷-۸۸ مخونه.

**۲- د شیعه وو په نزد د مرجعیت ونډه:**

شک نشته چې قرآن د هر څيز څرګندوونکی دی (تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ) او د پیغمبر اکرم له لوري پرېکوني روایات د قرآن په (حیث او) منزله دي او نه ښايي چې د احکامو په تشریع کې بې له دې پر بل څه ډاډمن شو؛ خو دا چې د قرآن په یوه آیت تایید شي؛ ځکه قرآن د هر څه څرګندوونکی دی او په عربي ژبه داسې یو کتاب دی، چې هر عربي ژبی پرې پوهېدای شي. نبوي سنت (قول، فعل او تایید يې) یوې ډلې روایت کړي، چې جایز الخطا او جایز الکذب دي. (وینو) چې ځینو حدیثي راویان، د ځینو روایات نه مني او هم هر یو پر خپل اجتهاد عمل کوي او کله یو بل سخت تورنوي او ان د یو بل وژنه يې روا بلله[1].

لنډه او وروستۍ خبره دا چې د شیعه وو واقعي سرچینې؛ یو قرآن کریم دی چې د هر څه څرګندونکی دی او بل هغه ویناوې، کړنې او تاییدات دي، چې د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله له لوري ثابت او یقیني دي هو دا ډاډمن آرونه دي او بل د جناب نبي مکرم ثابت او یقیني سنت (ویناوې، کړنې او تاییدات) دي.

**د لید لوریو اختلاف او پایلې:**

۱- اهل سنت په دې ګودر مسئالې ته ننوځي چې: د اصحابو په کلیمه کې هغه کوچنیان هم راځي چې پیغمبر يې لیدلی یا پیغمبر لیدلي، دوی ټول عادل، رښتین او جنتیان دي او یو هم دوزخ ته نه ځي او د چاچې د پیغمبر صحابیتوب ثابت شي، خبره يې سمه ده؛ ځکه عادل دی او باطل يې خبرو ته ورننوتای نشي. نو ځکه که په یوه مساله کې د اصحابو رای ډېرې شوې؛ نو مجتهد ازاد دی چې په خپلې خوښی د کوم صحابي نظر ومني او څه نیوکه پرې نشته[2].

نو ځکه که حکم بن عاص په یوې مسألې کې نظر ورکړي او حضرت ابوهرېره په همدې مسألې کې د حکم بن عاص پر خلاف نظر ورکړي او په همدې مساله کې حضرت حذیفة بن یمان (رض) درېمنی نظر ورکړي او حضرت ابوبکر (رض) څلورم نظر ورکړي؛ مجتهد واکمن دی، چې کوم یو نظر تاییدوي. دا ولې؟ دا ځکه چې دا ټول اصحاب دي او ټول عادلین دي

---

[1] داکتر محمد یوسف موسی، تاریخ الفقه الاسلامي (د الام شافعي د کتاب له ۲۲۸ مخ نه اخستل شوی). اراء علما المسلمین ۸۸ مخ.

[2] ابو زهره، امام ابو حنیفه، ۳۰۴ مخ.

او نه ښايي چې رښتينتوب يې ټکنی شي او په اصطلاح «جرح» او نيوکه پرې کېدای نه شي. خو که راوي سني مذهب نه وي، په اړه يې شکمنېدل روا دي او پر نظر يې نيوکه روا ده.
د حيرانۍ خبره خو دا ده چې اهل سنت په لغوي او اصطلاحي مانا وو ټول اصحاب په يوه درجه کې رانغاړي چې د عصمت او پاکلمنتوب تر بريده يې رسوي او يو حقيقي قانون ايښوونکی او يا يې په قانون ايښوونه کې ګډوي.
۲- په دې اړخ شيعه يو مخې د اهل سنتو مخالف دی. دوی د اصحابو مينوال دي [او هغوی اصحاب بولي] چې د دين په ملاتړ کې له ښه ازمېښته تېر شوي وي او په ځان او مال يې د اسلام په لار کې مبارزه کړې وي.
شيعه چې د جناب نبي کريم واقعي لاروايانو ته کومه دعا کوي؛ نو راښيي چې شيعه له اصحابو سره خورا اخلاص او مينه لري:
امام زين العابدين (صحيفه سجاديه ۴۳-۴۵ مخونه) اصحابو ته داسې دعا کوي:
« خدايه! د انبياوو پر لارويانو او هغوی چې په باطن کې ايمان راوړی، درود او سلام ووايه. هماغه مهال، چې منکرانو، پېغمبران دروغجن کړل؛ خو هغوی په لېوالتيا، د ايمان له حقيقت سره، وريوځای شول. خدايه! د هر پېر خلکو ته دې خپل استازي ورولېږل او هر يوه ته دې دليل ورکړ، له حضرت آدم (عليه السلام) نه د حضرت محمد (صلی الله عليه و آله وسلم) تر پېره، چې ټول د هدايت او تقوا مشران ول، پر هغوی هم درود او سلام ووايه او له ځانه يې په مغفرت او خوښۍ ياد کړه.
خدايه! د حضرت محمد (صلی الله عليه و آله وسلم) پر هغو پتمنو او صميمي يارانو او هغوی چې سختۍ ګاللي او په غوره ښه يې د هغه ملګرتيا کړې، درود او سلام ووايه او هم پر هغوی چې په ايمان راوړو او د هغه د بلنې په منلو کې تر نورو مخکښان وه او هغه مهال يې د هغه د رسالت دلايل اورېدل او منل يې.
او پر هغوی درود ووايه، چې د هغه د دين د حقايقو څرګندولو لپاره، له خپلو مېرمنو او زامنو تېر شول او ان له خپلو پلرونو او يا زامنو سره يې د آنحضرت(صلی الله عليه و آله وسلم) د نبوت د مقام د تثبيت لپاره غورځې پرځې او مبارزه وکړه او د رسول الله صلی الله عليه و آله د شتون له لامله برياليي شول.
خدايه پر هغوی درود ووايه، چې د رسول الله (صلی الله عليه و آله وسلم) رښتوني مينوال وه او د آنحضرت د دوستۍ په لار کې، يوې سوداګرۍ ته پر تمه ول، چې هېڅکله تاوان پکې نشته او پر هغو کسانو، چې کله له رسول الله صلی الله عليه و آله سره يو ځای شول؛ نو تېرونه

او خپلوان یې ترې لرې شول او چې د رسول الله صلی الله علیه و آله تر سیوري لاندې شول؛ نو خپلوانو یې پردي وګڼل.
نو ای خدایه! هر هغه څه یې چې ستا په پار له لاسه ورکړي؛ نو په ثواب کې یې مه هېروه او داچې دوی لامل شوي، چې خلک دې دین ته رامات شي او ستا له استازي او نورو سره یې د اسلام لپاره دعوت کړی؛ نو د خپلې رضا له مقامه یې خوښ کړه او داچې ستا د رضا لپاره یې هجرت کړی او له خپل وطنه لرې شوي او پراخه او هوسا ژوند یې په تنګسه کې شوی، وړ لاسباړه او اجر ورکړه او هغوی چې دې د دین په سرلوړی کې هڅاند ول او څانونه یې له مظلومیته را وایستل او د دینوالو د ډېروالي لامل شوي، اجر ورکړه.
خدایه! غوره ثوابونه دې د رسول الله ربښتینو اصحابو ته ځانګړي کړه؛ هماغوی چې ویل یې: پالونکیه! موږ له خپلو هغو ورونو سره وبښه، چې په ایمان راوړو کې تر موږ مخکښان ول؛ هماغوی چې اصحابو ته ورلېواله شول او په ګروهو او کړنو کې پرې ګروهن شول. »

**لنډیز:**
شیعه هغه عادل بولي، چې پر عدالت ستایل شوی وي او ملکه یې ولري او دا چې ټول اصحاب عادل وبولو، نه دلیل لرو او نه یې جوتولای شو؛ نو ځکه شیعه د ځینو اصحابو کړنې او چلن په خپل پرانستي او ازاد فکر سنجولي او په اړه یې ویینې کړي او هر یو د خپلې کړنې له مخې محاسبه کوي او چې څوک له خدای او رسول سره یې په مخالفت کې راولاړ شوي وي ښه یې نه ایسي او له هغوی کرکجن دي چې خپلې ژمنې یې ماتې کړي او د خدای په لار کې خنډ دي.
د اصحابو د پېژندنې په باب د شیعه و دا اندود د کتاب الله، نبوي سنتو او د حضرت رسول د څایناستو له سیرت او خوی سره په ټکر کې نه دی او له دې ځایه پر شیعه و تور او دروغ پیلېږي[1] ځکه د اهل سنتو د اند له مخې یې خپل نظر ور نه کړ او دا چې شیعه بې د اهل سنتو له لارې بله لار غوره کړې؛ نو پایلې یې هم د اهل سنتو له پایلو سره اختلاف لري.
د مراجعو ډېروالی
د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله په زمانه کې ډېری وخت د یوې مسالې په اړه بېلابېل نظریات ویل کېدل او پېغمبر په پراخ سینه اورېدل او بیا به یې د قرآني نص یا محمدي سنتو په بڼه شرعي حکم ورته وایه او ربښتینو اصحابو به مانه. او په دې توګه یې تر اختلاف وروسته

[1] اراء علما المسلمین ۱۰۰ مخ.

ټول سره یو کول او د یقین لارې ته یې راسیخول. دا ډول پېښې بیا بیا کېدې او د ګڼ شمیر نظریاتو ویل د فکرې ودې لامل و؛ ځکه خلکو یوازې یوه مرجع درلوده، چې وروستۍ خبره یې کوله او پر عدل یې پرېکړه کوله.
نو د مرجعیت یووالی هغه بنسټ دی، چې د ټولنې یووالی او د عقیدې یووالی پرې ولاړ دی او که مرجع ګڼ شمېرېزي شي؛ نو په ټولنه کې زیانمن اختلاف درز کوي چې یووالی یې له منځه ځي؛ ځکه «اختلاف» او «وحدت» دوه متضاد څیزونه دي او په دغسې شرایطو کې یو وضع رامنځته کیږي چې واکمن اړ کیږي چې د یووالی د ساتنې لپاره له خلکو د وینې او مناظرې حق واخلي.
د ټولو اصحابو د عدالت د نظریې عملي پایله دا شوه، چې ګڼ شمېرېزه مراجع رامنځته شوې او په اسلامي ټولنه کې په لس ګونو زره مراجع راښکاره شوې او هرې مرجع ځانته رایه درلوده او د مراجعو په شمېر اسلامي امت هم په ډلو ډلو ووېشل شو او هرې ډلې ویل چې د دوی د مرجع نظر سم دی چې د خدای د رضا لامل ګرځي. خو په عمل کې وینو چې څه رامخې ته شو، دا چې کله کوم واکمن نظام له شرعي پولو واوړي او تبلیغاتي وزلې یې په لاس کې ونیوې؛ نو طبعاً ټاکلي وګړي د مرجع یا مشر په توګه او یا هم د خپلې لارې ګڼ شمېرېزه مراجع تبلیغوي او ملاتړ یې کوي او دوی خلکو ته پر حق او نېکچاري یې معرفي کوي او په پراخو تبلیغاتو ورته لاس پورې کوي او په پایله کې د همدې مرجع فتوا خپرېږي او نظام یې فتوا ته ځانګړې ځلا ورکوي او په غیر مستقیم ډول د خلکو پام ور اړوي او د خلکو اعتماد پرې ورزیاتوي، که دا مراجع د دې مقام وړتیا ولري که نه.
[لکه] حضرت ابوهرېره یو ناپېژاندی صحابي و، چې د راشدینو خلفاوو په زمانه کې یې څه عمده ونډه نه درلوده او د خپل ورځني لګښت لپاره یې خدمت کاوه. له پیغمبر صلی الله علیه و آله سره مصاحبت او ناستې یې له څه له پاسه یو کال ډېر نه و خو له اموي دربار سره نژدیوالي ترې یوه مهمه مرجع جوړه کړه، داسې چې ډېر روایات یې پر حق خبرو واوړېدل او په دې دومره ډېر روایاتو کې یې یو باطل او ناسم ونه خووت حضرت ابوهرېره د سترو اصحابو نژدې اوسوه ګرایه روایات، روایت کړي. دا ولې؟ ځکه حکومتي ملاتړ ورسره و او د یوې مرجع په توګه یې وټاکه او د حکومت استازی او د مراجعو مرجع شو.

## د ګڼ شمېر مراجعو په اړه د شرع حکم

هر دین او عقیده ځانته مرجع لري. حضرت محمد صلی الله علیه و آله د اسلام یوازېنی مرجع او د مسلمانانو دیني عقیده وه؛ نو ځکه یې خبره، وروستی خبره وه او که د خدای له لوري بله

مرجع هم راښکاره کېده؛ نو دا دویمه مرجع په لومړی مرجع (چې پر دین او عقیدې ښه پوه ده) پورې نښلېده او لاروي یې کېده. د یهودو دین هم یوازې یوه مرجع درلوده، چې موسی علیه السلام و او هارون علیه السلام یې لاروی او تابع و. که موسی علیه السلام به نه و او یا د څه مودې لپاره ترې جلا کېده، هارون علیه السلام یې خلیفه او ځایناستی و؛ خو چې راستون به شو او یا یې د شتون پر مهال، هارون علیه السلام یې بیا لاروي کوله.

مسیحیت هم یوازې یو مرجع درلوده او هغه حضرت عیسی علیه السلام و. حواریون یې لارویان وو او د عیسی علیه السلام په حکم د دین په تبلیغ بوختېدل.

اړینه ده، چې هر یو درې گوني ادیان باید تر لومړنۍ مرجع (موسی، عیسی او محمد علیهم السلام) وروسته مرجع ولري، چې د هماغه لومړی مرجع له لوري او د خدای په امر ټاکل شوې وي؛ ځکه بې له مشر او مرجع د دین او عقیدې پرېښوول یو ډول ناغیړي ده، او ناشونې ده، چې پیغمبران دغسې ناغیړي وکړي چې دا د ادیانو له کمال سره هم په ټکر کې ده.

خو د اسلام د دین په باب، د شرعي پرېکنده نصوصو له مخې، د پیِغمبر اهل بیت، په تېره بیا په هره زمان کې د دې کورنۍ مشر د مسلمانانو مرجع ده. ولې د پیغمبر اهل بیت؟ ځکه:

لومړی: دا د خدای یوه لورنه ده، چې چا ته یې خوښه شي پرې یې لوروي.

دویم: دوی پیغمبر له علمي پلوه ښه پوره سمبال کړل او پیغمبر ته یې غیږ پرانستې وه او له نبوي بلنې یې د زړه له کومې لاروي وکړه. خدای راته څرگنده کړې، چې اهل بیت په هر وخت او زمانه کې تر ټولو غوره دي او دا مرجع ته، یوه اړتیا ده.

مسلمانانو ته څرگنده وه، چې د اسلام د پیغمبر صلی الله علیه و آله تر وفات وروسته، د اهل بیتو مشر علي کرم الله وجهه د مسلمانانو مرجع ده او بې شکه هر مسلمان پوهېده، چې علي کرم الله وجهه یې مولا او د هر مسلمان نارینه او ښځې مولا دی، د فاروق (حضرت عمر) وینا ته ځیر شئ: دا [ښاغلی] زما او ستا مولا او د هر مؤمن نارینه او ښځې مولا دی (هذا مولای و مولاک مو مولی کل مؤمن و مؤمنه) هو، یوازې دا شرعي مرجعیت دی.

د «شرعي مرجعیت» لرې کونه د «بدلي مرجعیت» د رامنځته کېدو لامل دی: وینئ چې د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله تر وفات وروسته، د اسلام شرعي مرجعیت بې قدرته پاتې شو او خلیفه، رسمي مرجع یا د شرعي مرجع ځایناستی شو، تر دې چې کلونه وروسته شرعي مرجع قدرت تر لاسه کړ، چې د مسلمانانو د مشر او شرعي مرجع په توگه دنده ترسره کړي؛ خو په عصر کې یې ډېرې گډوډۍ راولاړې کړې، تر دې چې شهید شو. وروسته یې زوی امام حسن چارې په لاس کې ونیوې او متوجه شو، چې فتنې او اړو دوړونه هماغسې پر خپل ځای دي او یوازې په وژنه یې پای مومي؛ نو ځکه یې له خلافته لاس واخست.

[امام] حسین علیه السلام هم په کربلا کې محاصره شو او له خپلو ملګرو سره شهید شو، او اسلامي امت بې شرعي مرجع پاتې شو.
دا چې په ټولنه کې دیني مشري د یووالی له اړینو عواملو څنې ده؛ نو اموي چارواکیو ټینګار درلود چې د خلکو دیني مرجع وي او هڅه یې کوله چې خلک قانع کړي چې یوازې بني امیه شرعي مرجع او مشران دي او طبیعي وه چې د ډېرې دنیا غواړیو مصلحت دا و چې له امویانو سره د همکارۍ له لارې خپلو مادي موخو ته ورسي.
د ټولو اصحابو د عدالت د مفکورې طرح، یوازېنۍ لار ده، چې بدلي مرجعیت رامنځ ته کولای شي:
په لغوي او اصطلاحي ماناوو د اصحابو د عدالت مفکوره دومره خپره او عمومي شوه، چې ټول اموي چارواکي یې راونغاړل، تر دې وروسته ګرد اصحاب پر عادلینو وستایل شول او دا چې شرعي مرجع عادله ده او دروغ نه وایي او دا چې اصحاب عادلین، رښتین او جنتیان دي؛ نو پایله اخستای شو، چې هر اموي واکمن هم عادل دی او د اسلامي امت د شرعي مرجع کېدنې وړتیا لري!!! او دا د راتلونکېو پېښو کونجی وه.
که دا مفکوره د واکمنو له لورې نه وه؛ نو ماتې یې خوړه:
که د ټولو اصحابو د عدالت مفکوره د عادي وګړیو له خوا مطرح شوې وه؛ نو پوره ماتې یې خوړه؛ خو دا ځیني اصحاب ول، چې د واکمنو په مادي او معنوي ملاتړ یې دا مساله مطرح کړه.
واکمنو به هغو حدیث جوړوونکیو ته ډېر انعامونه او پیسې ورکولې، چې د پېغمبر اکرم تر وفات وروسته د اسلام شرعي مرجعیت ټکنی کړي، د ټولو اصحابو پر عدالت ګروهمن یې دربار ته نژدې کړل، شتمنۍ او مقام یې ورډالۍ کړل او بیا دوی د دې مفکورې د خپرولو لپاره دولتي تبلیغاتي وزلې وکارولې.
البته طبیعي وه، چې دا شیطانتونه د سترو او ځیرکو اصحابو له سترګو پټ نه ول؛ خو دا چې لاسونه یې تړلي وو او د اسلامي امت په بې اتفاقۍ اخته او تر ظلم او دباو لاندې و؛ نو څه چار یې له لاسه پوره نه و. په عین حال کې اصحابو په وینا او عمل کې دا نظریه وغندله؛ خو دولت په پراخو تبلیغاتو دا غندنه تتېده او له منځه تله.
په دغسې یو وضعیت کې د اسلامي امت مشر او شرعي مرجع ته کنځل یو عادي چار و، چې په خلکو په زوره او له زړه نه پرې راضي نه ول او که چا به په دې باب د امویانو خبره نه منله؛ نو د حجر بن عدی پر برخلیک اخته کېده (یعنې وژل کېده) او له میاشتنۍ تنخوا بې برخې

کېده. له دې کړنو سره جوخت د بدلي مرجعيت د رامنځته کېدو لپاره په بېړه هڅې روانې وي او په ارام خاطر يې خپله لار وهله.

**بدلي مرجعيت شرعي جامې واغوستې:**

[وخت تېر شو او] ستر اصحاب مړه شول، رښتين تابعين هم له نړۍ ولاړل دلايل يې تر خاورو لاندې پټ شول او ډېر لږ دلايل يې پاتې شول؛ خو په عوض کې د بدلي مرجعيت د شرعي کيدو لپاره ټول اړين معلومات په پوره تفصيل سره پاتې شول؛ ځکه بدلي مرجعيت د دولتي اسنادو يوه برخه او د دولت ملاتړی و.

حقيقت پېژاندي چې له نړۍ ولاړل او دلايل يې پټ پاتې شول او ډېر لږ يې پاتې شول؛ نو په ظاهره دې مفکورې شرعي بڼه پيدا کړه. راتلونکيو نسلونو گومان کاوه چې دا نظريه او (جوړ کړای شوی) مرجعيت، چې د دولت له خوا رارسېدلی، هماغه الهي مرجعيت دی او له نېکونو راپاتې دی. له دې نظريې سره مقابله له دين سره مقابله انگېرل کېده، نه له نظريې ورکوونکيو سره يې او د تېرو د تقليد او د واکمنو د تبليغاتو له لامله په يو نه انکارېدونکی حقيقت واوړېده او چې چا به ورسره مقابله کوله او يا يې پر منځ ته راوړوونکيو نيوکې کولې؛ نو يو زنديق و چې نه ښايي خواړه ورسره وخوړل شي، څه يې وځنډل شي او يا يې پر جنازې لمونځ وشي. او دا چې شيعه وو د اهل بيتو په مشرۍ ورسره مقابله کوله او دا مفکوره يې نه منله؛ نو طبيعي وه چې ټولی ټکې او خوگانې پرې راپرېوتې او داسې معرفي شي، چې گڼې همدوی د دين دښمنان، کافر او مجرمين دي. هو، دا يو څيز و، چې د ټولو خلکو په اذهانو او ان د عالمانو او پوهنتوني استادانو په ذهن کې يې ځای نيولی و او دوی تاريخ د دې ليدلوري له مخې روايت او څېړه.

**د حل لار:**

بې له صبر او زغمه بله چاره نه وه؛ خو له حضرت محمد صلی الله عليه و آله د لاروۍ ځای به هيڅ څيز ونه نيسي. هو ټول خلک د رسول الله صلی الله عليه و آله پر وړاندې ودرېدل؛ خو ښې موعظې، په شرعي لارو او څرگنده دلايلو يې د تقليد پر دې څيرې او د حقيقت له مخې يې دوړي لرې کړې او په پای کې د حقيقت عاشقانو و موندله چې د حقيقت يوازېنۍ لار له جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله څخه لاروي ده.

**د شرعي مرجعيت په غيابو کې**

د شرعي مرجعيت په غيابو کې خلک په سيالو او مخالفو ډلو ټپلو وويشل شول. هر گوند او ډلې ادعا کوله چې پر حق ده او نور په باطلو دي. په زړه پورې خو دا ده، چې گرد پوهېدل، چې اسلامي امت د شرعي مشر او مرجع په شتون کې په دري اويا ډلو ويشل کېږي چې يوازې يوه يې پر حق او نورې دوزخي دي. همدغسې ښه پوهېدل چې يوازې يوه د حق لار شته، چې يوازې او يوازې ژغورنده ډله پرې روانه ده او بس او ژغورنده ډله د شرعي مرجعيت او مشرۍ تابع ده او دا ويشنه يوه مخونه وه، چې له لامله يې د ټولو اصحابو د عدالت مفکوره رادبره شوه.

**د مذاهبو ويشنه**

د شرعي مشرۍ او مرجعيت په شتون کې، چې وکړای شي د شرعي نصوصو موخې څرگندې کړي او ټوليز احکام تخصيص او پر خارجي واقعيت يې تطبيق او په ځانگړې مهارت او ځيرکۍ يې عملي کړي؛ نو مسلمانان په لس گونو فقهي ډلو وويشل شول، چې طبعاً هرې يوې ډلې ځانگړې سياسي رنگ درلود. دا فقهي ډلې پر پينځو غټو ډلو ويشل کېږي:

۱-د اهل بيتو مذهب: په ټوليز ډول وايو، چې دا له لومړيو اسلامي مذاهبو گڼل کېږي او لکه چې وبه يې وايو، د دې مذهب لارويان هماغه ژغورنده ډله ده. دا چې د اهل بيتو مذهب امام جعفر صادق ته منسوب دی؛ نو جعفري مذهب هم ورته وايي.

۲-حنفي مذهب: دا مذهب امام ابوحنيفه ته منسوب دی، فقه يې له امام جعفر صادق زده کړې او بيا يې ځانته مذهب جوړ کړ.

۳-مالکي مذهب: دا مذهب امام مالک ته منسوب دی، چې فقه يې له امام ابوحنيفه زده کړه او وروسته يې يو مذهب رامنځ ته کړ.

۴-شافعي مذهب: دا مذهب امام شافعي ته منسوب دی، چې فقه يې له امام مالک زده کړی او بيا يې ځانته مذهب جوړ کړ.

۵-حنبلي مذهب: دا مذهب امام احمد حنبل ته منسوب دی او فقه يې له امام شافعي زده کړه او د يو ځانگړي مذهب بنسټگر شو.

نو وگورئ چې امام جعفر صادق د دې مذاهبو د بنسټگرو استاد دی او هغوی هم پر دغسې استاد وياړېدل، حال دا چې عام خلک انگېري چې د جعفري مذهب لارويان بېلارې دي او فقط دوي پر سمه لار دي!

**ولې يې اهل بيت گوښي کړل؟**

د اسلام د سياسي تاريخ په اوږدو کې يې نبوي کورنۍ د لاندې موخو ترلاسه کولو لپاره گوښي کړل:

۱- گوښه کوونکيو ټينگار درلود، چې اهل بيت په زور اړ کړي چې له خدای ورکړيو ځانگړنو او امتيازاتو تېر شي.

۲-د دې ځانگړنو تاويل او مخونه او له اصلي مانا او مفهومه يې تشول.

۳-د الهي ځانگړنو په مقابله کې د جوړ کړای شويو امتيازاتو رامنځته کول او د اهل بيتو د موخو، دندو او امتيازاتو له منځه وړل.

۴-د ټولو اصحابو د عدالت مفکوره مطرح شوه، چې له دې لارې له اهل بيتو ځانگړنې او امتيازات لرې کړای شي.

۵-ان که اهل بيتو خپل امتيازات او ځانگړنې ناليدلې گڼلې وای او واکمنې فضا ته تسليم شوي هم ول، بيا هم اموي واکمنو نه خوښې کول او گواښي کول يې، دا ولې؟

٦-دا ځکه چې د دولت ناوې ښکلې او غولوونکې ده او حاکمانو په زور له خپل شرعي مېړه تښتولی ده؛ خو د ناوي زړه له خپل شرعي مېړه سره دی او يوه شېبه يې نه هېرېږي، که څه هم تنه يې د واکمنو په منگولو کې ده. دې واقعيت حاکمان د تاريخ په اوږدو کې رنځول او د لېونتوب کينه يې پکې راپارولې وه چې په هر ناوړه چار يې لاس پورې کاوه.

**د بني هاشمو ځانگړنې**

د شرعي نص له مخې، بني هاشم د ځمکې پر مخ خورا غوره کورنۍ وه، چې پالندوی يې هاشم بن عبد مناف ابن قصی بن کلاب و[1] او خدای يې په قرآن کې مينه لازمه کړې او ورباندې صلوات يې د لمانځه په ارکانو کې شمېرلی او دا د امام شافعي د وينا مانا ده چې وايي:

«د پيغمبر اهل بيتو! د خدای په نازل کړي قرآن کې ستاسې مينه فرض شوې، له عظمته مو همدا بس چې څوک په لمانځه کې درباندې صلوات ونه وايي، لمونځ يې باطل دی.[2]»

---

[1] ابن سعد طبقات ۱: ۷۵ مخ. حلبي سيرة.

[2] ابن حجر، الصواعق المحرقه د «ان الله و ملائکته يصلون علی النبي» آيت په تفسير کې. نبهانی، شرف المؤيد ۹۹ مخ او.....

د پېغمبر اهل بیت د امت ځوښا او یوه شفا ورکوونکې ونه ده، چې خلک پرې شفا مومي؛ (او د یو چا ځوځآت: اولاد او خپلوان یې دي[1]) خدای د خپل پېغمبر اهل بیت سوچه او پاک کړي او چټلي یې ترې لرې کړې ده او د احزاب سورت **۳۳** آیت (د تطهیر آیت) له چا هم پټ نه دی. پر اهل بیتو د خدای فضل او لورنه او د خدای په لار کې یې سرښندنه او جهاد د دې لامل شوي، چې پر نورو ړومبي وي، هغوی د اسلام او مسلمانانو شرعي مرجع وه او سیاسي مشري یوازې د دوی ده او دا ستر عظمت یوازې په اهل بیتو پورې ځانګړی دی.

## د دې امتیاز موخه

د خپلوۍ له امتیاز موخه یو ډول عظمت ورکونه او ستر ګڼل دي؛ خو په حقیقت کې یو مکلفیت دی، چې مانا، موخې او دندې لري. مانا یې دا ده چې د پېغمبر خپلوي د مسلمانانو د راټولېدو، ډاډ او تمرکز ټکی دی، په دوی کړۍ پوره کېږي او مرکز ټاکل کېږي او چې اسلامي امت په بې اتفاقۍ اخته شي دوی یې پر مرکزي چورلیځ راټولوي او د الهي دندې په ورښوولو، د حل مناسبې لارې وروړاندې کوي او د دې لاملېږي، چې مسلمانان ختیځ یا لویدیځو شمال او جنوب ته خپاره واره نه شي او یوازې اهل بیتو ته مخه او پرې راټول شي. نو د پېغمبر له خپلوۍ سره جوخت، هغوی د دین او مسلمانانو پېشوا او مرجع دي او له دې لارې مسلمانانو او غیر مسلمانانو ته دیني احکام څرګندوي، د مسلمانانو خبرو ته غوږ ږدي؛ بیا نو خپله رایه اعلانوي، چې له دینه خورا ښه پوهېدنه او هماغه الهي موخه ده.

## د نبوي کورنۍ دندې:

۱-د ډډې ځای او چورلیز کېدل

۲-دیني مرجعیت؛ یعنې ټولو خلکو په تېره مسلمانانو ته د دین ورښوول.

۳-اهل بیت «ثقل اصغر» او قرآن «ثقل اکبر» دی او هدایت یوازې په همدې دواړو ثقلینو تر لاسه کېږي او له بې لایتوبه هله بچېدای شو، چې پر دواړو منګولې ښخې کړو.

که امت یوازې پر قرآن منګولې ولګوي او د پېغمبر عترت او ځوځات نالیدلی وګڼي، هرو مرو بې لارې کېږي. ولې؟ ځکه قرآن درمل او عترت د امت طبیبان دي او واضح ده، چې طبابت یو فني او کارپوهیز چار دی، چې د هر چا له وسې پوره نه دی.[2]

---

[1] مختارات الصحاح، ۳۱، ۱۸۵، ۷۰او ۴۱۰ مخونه. المعجم الوسیط (۱: ۲۱ مخ) او (۲: ۵۸۸ مخ).

[2] متقي هندی، کنزالعمال ۱: ۴۴ مخ. حاکم، مستدرک ۳: ۱۴۸ مخ.

۴-د امت سیاسي مشري: چې سیاسي مشري په نبوي کورنۍ کې وي؛ نو د امت ټول وګړي پرې خوشحاله وي او مني يې. او د اختلافاتو د پرې کولو، د ټيکاو راوستو، د تمو له منځه وړو، سياليو او شخړو د يو خوا ته کېدو يوازينۍ بيسټيزه حل لار ده. سپېڅلې شرع ښوولې، چې دا مشري د چا ده او بايد څرنګه ولېږدول شي.

**د عترت د غوراوۍ لاملونه:**

ولې خدای حضرت محمد صلی الله عليه و آله په پېغمبرۍ وټاکه او ابوسفيان يې و نه ټاکه؟
دا د خدای لورنه ده، چې چا ته يې خوښه شي پرې يې لوروي.
ولې خدای ځينې پېغمبران پر ځينو غوره کړي؟ ځکه دا يوه الهي لورنه ده.
ولې خدای حضرت محمد صلی الله عليه و آله يوازې له بني هاشمو وټاکه او له بني عده، بني تيم او بني اميه يې و نه ټاکه؟
حقيقت دا دی چې غوراوی د خدای په لاس کې دی، چا ته يې چې خوښه شي ورډالۍ کوي يې؛ خو د اسلامي تاريخ له څېړنې يې ځينې علتونه مو مو:
۱-متعال خدای څرګنده کړې، چې نبوي کورنۍ خورا غوره او اوچت خلک دي او د بندګانو مصلحت په دې کې دی، چې غوره وګړي يې مشري وکړي او دا ټکی مو مخکې ثابت کړی و.
۲-د قريشو ټول خېلونو، چې د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وژنې ته ملا تړلې وه؛ نو بني هاشمو وګواښل. ابوطالب ورته وويل: پر خدای قسم که «محمد» ووژنئ يو تن به مو ژوندی پرېنږدم ان که موږ او تاسې ټول مړه شول او چې ډنډوره شوه، چې «محمد» وژل شوی؛ نو ورته څرګنده شوه، چې د قريشو د مشرانو وژنې ته يې ملا تړلې ده.
۳-د قريشو ټولو خېلونو هوډ وينو، چې له بني هاشمو سره به اړيکې پرې کوي او يو تړون يې وکښه چې راکړه ورکړه او اړيکه به ورسره نه نيسي. په دې توګه بني هاشم درې کاله د ابي طالب په دره (شعب) کې محاصره شول، د عبدالمطلب بن عبد مناف اولادې د ابوطالب پلوي وکړه او په دره کې پاتې شول؛ ان قريشو درې ته پيسو، خوړو او اړين څيزونو د وروړو مخه نيولې وه؛ نو ځکه دا ايسار شوي يوازې په ځانګړو وختونو (لکه حج) کې له درې وتلای شو او له لوږې له درې د کوچنيانو چغې اورېدل کېدې.

---

قریشو له بني هاشمو یوازې یوه غوښتنه درلوده، چې «محمد» ور تسلیم او و یې وژني یا لږ تر لږه ملاتړ ترې ونه کړي؛ خو بني هاشمو ونه منله او ټول کړاوونه او دباوونه یې وزغمل او په مالي او ځاني وس یې ترې دفاع وکړه.
۴-چې محاصره ناکامه شوه، د قریشو د اهل بیتو له ډاره هوډ ونیو، چې د پیغمبر صلی الله علیه و آله د وژنې لپاره له هر ټبره یو تن وټاکي، چې ووایي، ټولو ټبرونو یې په وژنه کې لاس درلود او په پایله کې بني هاشم له ټولو ټبرونو کسات وانخستای شي. د دې چار لپاره د ټبرونو استازي راټول او د شپې دپیغمبر کور ته ننوتل؛ خو خدای پاک خپل پیغمبر وژغوره.
۵-نبوي کورنۍ په جاهلیت کې د قریشو غوره او ډاډمنه کورنۍ وه او چارې بې د دوی له سلا مشورې نه تر سره کېدې.
٦-نبوي کورنۍ د شرعي نص له مخې، د ژغورنې وزله او د ټولنې د امنیت لامل ده. پر تېرو لاملونو سربېره، د خدای لورنه او الهي روزنه یې د دې لامل شوې چې اهل بیت له داسې ځانګړو برخمن شي.

**دا امتیاز په سیاسي وزلې واوړېد**

حضرت ابوبکر صدیق انصارو ته وویل: خلک زموږ تابع دي؛ ځکه موږ د رسول الله صلی الله علیه و آله ټبر او خپلوان یو.
حضرت عمر بن خطاب هم انصارو ته وویل: پر خدای قسم عربان راضي کېږي نه، چې پیغمبر یې له تاسې نه وي او تاسې خپلې مشرۍ وټاکي او نه ښایي چې بې د پیغمبر له خپلوانو بل چا ته مشرۍ ورکړه شي.
او په دې توګه موږ د خپلو مخالفو عربانو پر وړاندې یو څرګند دلیل لرو او که څوک وغواړي، چې د حضرت محمد صلی الله علیه و آله د حکومت، میراث او نبوت په اړه راسره لانجه وکړي؛ نو ګناهکار دی، د باطلو لار یې نیولې او ځان یې هلاک کړی؛ ځکه موږ یې دوستان او خپلوان یو.[1]
بشیر بن سعد (رض) د عمر (رض) او ابوبکر (رض) تر ویناوو وروسته انصارو ته وویل: حضرت محمد صلی الله علیه و آله یو قریشی و او قوم او ټبر یې د میراث او حکومت وړ دی، پر خدای قسم په دې اړه ورسره شخړه نه کوو. الهي تقوا غوره کړئ او له قوم سره یې

[1] ابن قتیبه، الامامة و السیاسة، ۸۴ مخ.

شخړې ته مه راپاڅئ[1]. انصارو يې خبرو ته غاړه کېښووه او و يې ويل: نو موږ بې له «علي» بل سره بيعت نه کوو، په داسې حال کې چې «علي» نه و او د پېغمبر د کورنۍ له نورو غړيو سره د پېغمبر اکرم د مړيني په ماتم او وير کې وو.
[په هر حال] د بني ساعدوه په سقيفه کې ډېرى حاضرينو له ابوبکر صديق (رض) سره بيعت وکړ او ابوبکر (رض)، خليفه او عمر (رض) نايب او ابوعبيده د خليفه دويم نايب شول او برخوال هم د خليفه د پوځيانو په توگه له غونډې ووتل.[2]
امام علي کرم الله وجهه ناڅاپه له پای ته رسېدلي چار سره مخ شو او عمر بن خطاب (رض) د خليفه نايب او وليعهد له علي کرم الله وجهه وغوښتل چې له ابوبکر (رض) سره د مسلمانانو د خليفه په توگه بيعت وکړي. علي کرم الله وجهه ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) ته وويل: تر تاسې خو زه خلافت ته وړ يم؛ نو څرنگه بيعت درسره وکړم او ښه دا ده، چې تاسې راسره بيعت وکړئ.
انصارو ته مو وويل، له پېغمبر سره د خپلوۍ له امله د واکمنۍ حقوال يو، او له موږ اهل بيتو يې هم غضب او اخلئ. ايا انصارو ته مو ونه ويل، چې تر تاسې خلافت ته وړ يو؛ ځکه محمد صلی الله عليه و آله زموږ له ټبره دی او موږ لومړيت لرو؛ نو مشري يې درکړه او امارت يې در وسپاره. زه اوس له تاسې سره هماغه استدلال کوم، چې له انصارو سره مو کړی دی: موږ په ژوندوني او مړينې جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله ته وړ يو؛ نو که ايمان لرئ په انصاف وچلېږئ، که نه اگاهانه او ځانجبری مو ظلم او بې انصافي کړې ده.
حضرت عمر (رض) ورته وويل: چې دې بيعت کړی نه وي، پرېږدو دې نه. علي کرم الله وجهه ورته وويل: يو چار ورته کړه، چې پخپله هم ترې برخمن شې، نن يې خلافت ټينگ کړه، چې سبا دې د ځان شي.
مهاجرينو! له خدايه وډار شئ؛ د محمد صلی الله عليه و آله مشري د عربو له قومه او له کوره يې خپل کور ته مه وړئ او اهل بيت يې له خپل حقه مه گوښي کوئ.
مهاجرينو! پر خدای قسم، موږ تر ټول مشرۍ ته وړ يو، ځکه موږ د جناب نبي مکرم اهل بيت يو، او هيڅوک زموږ په څېر د کتاب الله قاريان، په دين کې فقيه، د رسول الله پر سنتو پوه، د خلکو پر چارو پوه، د بديو لرې کوونکي او په عدل ويشوونکي نشته، په ځاني غوښتنو پسې مه ځئ، چې پايله يې بې لاري او له حقه لرې والی دی. بشير بن سعد (رض) چې د علي کرم

---

[1] طبري تاريخ ۳: ۱۹۷ او ۱۹۸ مخونه.
[2] احمد حسين يعقوب، النظام السياسي فی الاسلام، ۱۲۰ مخ.

الله وجهه دا خبرې واورېدې و يې ويل: که انصارو له ابوبکر (رض) سره تر بيعت مخکې ستا استدلال اورېدلی و؛ نو انصارو ان دوو تنو هم ستا په باب د مسلمانانو د مشرى لپاره اختلاف نه کاوه.[1]

د حضرت فاطمة الزهرا (رضى الله عنهما) تر وفات وروسته، على کرم الله وجهه ابوبکر (رض) ته پيغام ولېږه، چې راشي. ابوبکر (رض) ورغی. يوه ډله بني هاشم هم ناست وو. على کرم الله وجهه د پالونکي تر ستاېنې وروسته وويل: ابوبکره! له تاسې سره مې بيعت نه کولو علت دا نه و، چې ستا له فضيلت منکر يم او يا درسره سيالي کوم؛ بلکې ومې ليدل، چې د خلافت حقوال يم؛ خو هغه دې خپل ځان ته ځانګړی کړ او زما په زيان دې عمل وکړ او بيا يې له پېغمبر سره خپلولي ياده کړه، تردې چې ابوبکر وژړل او و يې ويل: تر اولادونو مې راته د رسول الله اهل بيت ډېر ګران دي.[2]

[تر دې وروسته] مغيرة بن شعبه [حضرت ابوبکر (رض)] ته ورغی او و يې ويل: صلاح په دې کې ده، چې عباس (رض) وګورې او راجلبولو او د ملاتړ د تر لاسه کولو لپاره يې په خلافت کې څه برخه ورکړې، چې على کرم الله وجهه او بني هاشمو پر وړاندې له تاسې [ابوبکر او عمر رضى الله عنهما] دفاع وکړي [او له اهل بيتو هم څوک په خلافت کې برخوال وي].

[په دې وړانديز پسې] ابوبکر (رض)، عمر (رض) ابوعبيد (رض) او مغيره عباس ته ورغلل او له هغو خبرو چې ابوبکر (رض) عباس (رض) ته وکړې يوه يې دا وه، راغلي يو، چې د مسلمانو په مشرى کې څه برخه درته په پام کې ونيسو او زياته يې کړه: د عبدالمطلب اولادې، اختيار درسره دی، پېغمبر زمو او ستاسې دواړو، و. عباس (رض) د ابوبکر (رض) ټولو خبرو ته ځواب ورکړ او و يې ويل: دا چې وايې رسول الله صلى الله عليه و آله زموږ او ستاسې، دواړو، دی، پوه شه حضرت له هغې ونې و، چې موږ يې څانګې او تاسې ګاونډيان ياست[3].

[په هر حال] د ابوبکر (رض) د وصيت له مخې خلافت فاروق ته ورسېد، چې قريش او د پېغمبر له ټبره و او ورپسې پر کوم دود چې عمر (رض) خليفه شوی و، حضرت عثمان (رض) خليفه شو؛ ځکه مخکې يې عمر (رض) په اړه وصيت کړی و؛ ځکه دا هم قريش و. [تر عثمان

---

[1] ابن قتيبه الامامة والسياسة (۱۱- ۱۲) مخونه.

[2] ابن قتيبه الامامة والسياسة ( ۱۴- ۱٦ مخونه.

[3] ابن قتيبه الامامة والسياسة (۱۴- ۱٦) مخونه.

(رض) وروسته] خلافت علی کرم الله وجهه ته ورسېد؛ ځکه د امت ولي[1] او پالندوی و[2] خلکو ورسره بیعت وکړ د امام حسن (رض) حال هم همدغسې و.
چې جناب امیر معاویه بن ابوسفیان په زور خلیفه شو، یوه مخونه یې دا وه، چې قریشي او د رسول الله صلی الله علیه و آله له خپلوانو دی او هاشم او عبد شمس ورونه وو.
د خلافت په تر لاسه کولو کې یې د استدلال پر بنسټ پر دې و چې د پېغمبر صلی الله علیه و آله خپل دی او بل دا چې په گومان یې بني هاشمو خلافت غصب کړی دی. د نورو اموي خلفاوو استدلال هم همداسې و.
تر بني امیه و، وروسته وار بني عباس ته ورسېد، دوی هم د پېغمبر د خپلوی په وسله سمبال و او په پیل کې یې نبوي کورنۍ ته ورسېدلو کړاوونو [لکه د علي، حسن، حسین او اولادې وژنه یې] په اړه خبرې کولې؛ بیا یې په زور، واکمني ونیوه برلاس شول او واکمني یې وکړه.
[گورو چې] د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله تر وفات وروسته د عباسي وروستي خلیفه پورې د حکومت یو اړخ پر قریشیتوب ولاړ و او قریش هم د جناب نبي مکرم خپلوان دي.
گورئ چې د پېغمبر اهل بیت له دې ځانگړنې بې برخې دي؛ خو نور چې لرې خپلوان وو، ترې برخمن شول.

**له اهل بیتو سره د واکمنو سیاسي چلن:**
عمر بن خطاب رضی الله عنه له یوې ډلې سره د علي کرم الله وجهه کور ته ورغلل او بې له دې چې د فاطمې ژړا په پام کې ونیسي، علي کرم الله وجهه یې له کوره راوایست او ابوبکر (رض) ته یې راوست، هلته علي کرم الله وجهه ته وویل شول: بیعت وکړه.
علي کرم الله وجهه وویل: که بیعت ونه کړم، څه کوئ؟ وویل شول: وژنو دې. علي کرم الله وجهه وویل: د خدای بنده او د رسول الله صلی الله علیه و آله ورور وژنئ؟
عمر (رض)، ابوبکر (رض) ته وویل: ولې حکم نه کوې چې.....؟
ابوبکر (رض) وویل: تر څو فاطمه یې په کور کې وي، کوم چار ته یې نه اړ باسم. دلته علي کرم الله وجهه ځان د پېغمبر مبارک قبر ته ورساوه، اسوېلی یې وکړ او و یې وژړل او د موسی علیه السلام د ورور هارون علیه السلام خبره یې وکړه او و یې ویل:

---
[1] محمد عبده، تاریخ ۲: ۳۴۷ مخ.
[2] سید مرتضی رضوي، اراء علما المسلمین فی التقیه والصحابة و صیانة القرآن، ۸٦ مخ.

اعراف: ۱۵۰ آيت: ((وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَى إِلَى قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِي مِن بَعْدِيَ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ وَأَلْقَى الأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُ إِلَيْهِ قَالَ ابْنَ أُمَّ إِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُونِي وَكَادُواْ يَقْتُلُونَنِي فَلاَ تُشْمِتْ بِيَ الأعْدَاء وَلاَ تَجْعَلْنِي مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ))

او حضرت فاطمې هم په لوړ غږ وویل: پلاره! ای رسول الله! تر تا وروسته مو د خطاب زوی او د ابی قحافه د زوی له لاسه ډېر کړاوونه ولیدل. البته یو شمېر کسانو له ابوبکر (رض) سره له بیعت ډډه کړې وه او د علي کرم الله وجهه په کور کې راټول شوي وو. ابوبکر (رض) حضرت عمر (رض) ورپسې ولېږه [چې خبرى اترې ورسره وکړي] عمر (رض) ترې وغوښتل، چې له کوره راووځي! خو را ونه وتل؛ نو ځکه عمر (رض) حتى راوغوښتل او و يې ويل: پر هغه قسم چې د عمر سا يې په لاس کې ده، که را ونه وځئ کور او کور ميشتي سوځوم.

یو شمېر کسانو ورته وویل: ابو حفصه! په کور کې فاطمه ده. و يې ويل: که څه هم فاطمه پکې وي.[1]

[څه موده وروسته] فاطمه له نړۍ ولاړه او د شپې شپې يې ښخه کړه؛ ځکه وصیت يې کړی و، چې ابوبکر (رض) يې جنازه ونه کړي.

د فاطمة الزهرا تر وفات وروسته، علي کرم الله وجهه له ابوبکر (رض) سره بیعت وکړ او تر ابوبکر (رض) وروسته، د وصیت له مخې يې حضرت عمر (رض) خلیفه شو. دواړو (عمر او ابوبکر رضی الله عنهما) په خپلو واکمنیو کې د ډالیو په ویش کې اهل بیت ړومبي ګڼل لکه حضرت عمر (رض) (په فتوح البلدان کې د بلا ذري د لیکنې له مخې) د ډالیو ویشنه له نبوي کورنۍ پیلوله او بیا يې ابوبکر (رض) او کورنۍ او بیا يې ځان اوخپله کورنۍ په پام کې نیوه.

دواړو (ابوبکر او عنر رضی الله عنهما) د مسلمانانو په چارو کې له علی کرم الله وجهه سره سلا مشوره کوله[2] او ځینې چارې يې ور ارجاع کولې.

په [هر حال] نبوي کورنۍ ته [د امویانو تر زمانې] د شیضینو زمانه، یو طلایي وخت و.

بني امیه چې واکمن شول، له علي کرم الله وجهه سره وجنګېدل او ورپسې يې امام حسن مسموم کړ. او د بلاذري د وینا له مخې په کربلا کې يې اهل بیت د فرات اوبو له څښلو منع کړل او بیا يې امام حسین او ملګري يې شهیدان کړل.

---

[1] ابن قتيبه الامامة و السياسة ۱۲ مخ. ابن عبد ربه المالکی، العقد الفريد ۴: ۲۵۹ مخ. طبري تاريخ ۳: ۲۰۲ مخ. بلاذري انساب الاشراف ۱: ۵۸۶ مخ.

[2] الاستيعاب د الاصابه په لمنليک کې (۳: ۳۹ مخ). طبراني ۸۱- ۸۲ مخونه. خوارزمي مناقب ۳۸ مخ. ابن جوزي حنفي تذکرة الخواص ۱۴۴- ۱۴۸ مخونه.

[هو] امويانو د اهل بيتو پر دوستانو خپله غوسه سړه کړه.
عقاد د «ميزان» په ١٦ مخ کې ليکي: جناب امير معاويه چې واگې تر لاسه کړې په هر ځای کې يې خپلو مامورينو ته وليکل، چې په لمونځونو کې او پر منبرونو علي وکنځئ. جناب امير معاويه په همدې ځای پای ته ونه رسېده بلکې د ابن عساکر تاريخ (۴۰۷\۱۳ مخ) د روايت له مخې په شام کې د وعظ غونډې علي ته پر کنځا پای ته ورسېدې او په پای کې چار تر دې ورسېد چې د اهل بيتو او علي د لارويانو گواهي نه منل کېده او له دفترونو يې د نبوي کورنۍ د مينوالو نو مونه لرې کړل او معاش يې پرې بند کړ.
تر امويانو وروسته د بني عباسو وار راغی، ابوبکر خوارزمي[1] وايي: (.... عباسي خليفه هارون په داسې حال کې ومړ، چې د نبوت ونه يې راغورځولې او د امامت د نيالگي جرړه يې پرې کړې وه.
منصور عباسي خليفه پّ غوسه و، چې امام صادق ووژنئ او په تأسف يې وويل: له زرو تنو مې ډېره د فاطمې اولاده ووژله؛ خو د هغوی مشر جعفر صادق مې له منځه يو نه وړ او لا تر اوسه ژوندی دی.
او په بل وخت کې يې امام صادق رحمة الله عليه ته وويل: تا او کورنۍ دې داسې له منځه بوځم، چې څوک مو پاتې نه شي ان بيا مدينه داسې ويجاړه کړم چې ان يو دېوال پکې روغ پاتې نه شي.»
طبري ليکي: همدې منصور د علي د اولادونو له سرونو (کله منار) يا يوه ډېرۍ جوړه کړې وه، چې نوم به يې پرې ځوړند او پېژندل کېده به، په دې کې د زړو، ځوانانو او کوچنيانو سرونه وو، او دا په اصطلاح کله منار يې خپل زوی مهدي عباسي ته په ميراث پرېښووه.[2]
يعقوبي ليکي: منصور به علويان په دېوالونو کې د ډېرو او خښتو پر ځای ايښوول او پر دېوالونو به يې مېخول، سادات يې په چټليو او ناولو ځايونو کې خوشې کول، چې په بد بوی له منځه ولاړ شي. په داسې ځای کې يې بنديانول، چې د قضای حاجت ځای يې نه و او چې کوم يو به ومړ، جنازه به يې پر ځمکه پرته وه، چې ورسته شي، بيا به يې پرې خونه راورانوله، چې په ځنځيرونو تړلي هم پکې مړه شي.[3]

---

[1] (رسائل: ١٧٨ مخ)
[2] ابن شهر اشوب، مناقب ۳: ۳۵۷ مخ. بحار الانوار ۴۷: ١٧٨ مخ.
[3] طبري تاريخ ١٠: ۴۴٦ مخ. منفريزي النزاع و التخاصم، ۵۲ مخ. الحياة السياسية لامام الرضا، ۸۸ مخ.

هارون الرشيد هم قسم کړی و، چې د اهل بيتو او لارويانو يې جرړه وباسي او مشهوره ده، چې يي ويلي: تر څو به د ابوطالب اولاده زغم، پر خدای قسم هغوی او لارويان يې وژنم او په فقر او بېوزلۍ يې اخته کول؛ نو ځکه يې علويان تر څارنې او تعقيب لاندې وو، ځپل او له منځه وړل يې.[1]

يو ځل منصور، امام صادق ته وکښل: ولې مې د نورو خلکو په څېر نه ونيې؟ امام ورته وويل: موږ څه نه لرو چې له لاسه ورکولو لپاره يې درنه وډار شو، ته هم له اخروي چارو څه نه لرې، چې په درتلو مې درنه تر لاسه شي. په کوم نعمت کې نه يې چې مبارکۍ ته يې درشم او نه حکومت مصيبت گڼې، چې تسليت يې درته ووايم څه ته درشم؟

منصور ورته بيا وکښل: د نصيحت لپاره مې راشه

امام ورته وويل: چې څوک دنيا غواړي؛ نو نصحيت ورته نه کوي او چې آخرت غواړي له تا سره ملگرتوب نه کوي.[2]

## د پېغمبر صلی الله عليه و آله خپلوان

۱-نژدې خپلوان، چې دا دي: حضرت فاطمة الزهرا رضی الله عنها، امام علي کرم الله وجهه امام حسن او مام حسين رضی الله عنهما

دوی له پېغمبر صلی الله عليه و آله سره د خپلوۍ ځانگړنې درلودې، او ډېر کړاوونه پرې راغلل؛ دا کړاوونه د اسلام او پېغمبر پر وړاندې د ابوطالب د دريځونو او د اسلام له دښمنانو سره د علي کرم الله وجهه د دريځونو په غبرگون کې وو. دوی د پېغمبر اهل بيت او ځوځات شمېرل کېږي، د اسلام په لار کې يې کړاوونه وزغمل؛ خو نور ترې برخمن شول.

۲-لرې خپلوان يې: دوی له دې امله حکومت وکړ، چې د پېغمبر خپلوان؛ يعنې قريش وو او د خپلوۍ له امتيازه برخمن شول او نژدې خپلوان (اهل بيت) يې په پوره کړاو اخته کړل.

## د پېغمبر د ځوځات گوښه کول

پايله دا شوه چې حضرت علی کرم الله وجهه د فاطمة الزهرا عليه السلام تر وفات وروسته گوښه کېناستل غوره کړي او مخالفينو د مشرۍ لپاره، هڅه کوله چې د پېغمبر تره عباس (رض)

[1] اصفهاني الاغاني ۵: ۲۲۵ مخ.
[2] عقدالفريد ۲: ۸۰ مخ. ابن حمدون کشف الغمه ۲: ۲۰۸ مخ.

ځان ته راواړوي او په وعدو، عباس (رض) او اولاده یې راجلب کړي؛ خو عباس (رض) دا وړاندیز رد کړ.
د وخت په تېرېدو، د پېغمبر خوځات او بني هاشم گوښه کړای شول او بې پامي ورته وشوه؛ ځکه طبیعي وه، که یو عادي وگړی ازاد پرېږدي چې د «خواکمن حکومت» او «دښمنانو» یې یو غوره کړي؛ نو د حکومت اړخ به ونیسي؛ ځکه حکومت ځواکمن دی او چارې یې په لاس کې دي؛ نو ځکه دېری وگړیو له واکمنو پلوي کوله او ډېر لږ شمېر د اهل بیتو تر څنگ پاتې شول. یا لکه چې شاعر وایي:
«زړونه یې له اهل بیتو سره وو؛ خو توري یې د اهل بیتو له دښمنانو سره وې»
لکه عمر بن سعد بن ابی وقاص، چې په کربلا کې د خلیفه د لښکر بولندوی و، د گهیځ لمونځ یې وکړ او و یې ویل: «اللهم صل علی محمد و علی ال محمد» او بیا یې توره راوایسته او د محمد د اهل بیتو وژنه یې پیل کړه.
او د گردو تاریخپوهانو د روایت له مخې، یوازې په دې وژنه یې بسیا ونه کړه؛ بلکې د هغوی سرونه یې له تنو راوایستې، بیا یې د امام حسین او نورو شهیدانو پر تنو اسونه وځغلول، چې په دې توگه عبیدالله بن زیاد او یزید بن جناب امیر معاویه ته ورنژدې شي. . . .
او دا د دې مفکورې یوه پایله وه چې «نه ښایي نبوت او خلافت دې له بني هاشمو سره وي»

**تاویل او د ځانگړنې مخونه:**

چې څه خدای تثبیت کړي وي، بشر وسمن نه دی، چې اغېز پرې وکړي او کوم څیز چې خدای وضع کړی دی، د خدای مخلوق یې بدلولای نه شي. واکمن پوه شول، د اهل بیتو په اړه چې هر څه وکړي وبه نه شي کړای چې له پېغمبر سره د خپلوۍ امتیاز ترې لرې کړي؛ ځکه په لمونځونو کې صلوات ویل پرې واجب شوي دي او په قرآن کریم کې یې پر پاکوالی ټینگار شوی او پر امت یې مشري او ولایت په ډاگه دی او په روایاتو او احادیثو کې یې بې شمېره فضایل راغلي دي.
داسې چې که گرد سره اهل بیت له منځه بوځي او څوک ترې پاتې نه شي، بیا هم واکمن د پېغمبر د خپلوۍ ځانگړنه او امتیاز د د یوې شبحې په څېر شپه و ورځ تعقیب او ځوروي؛ نو له نا چارۍ باید دې ځانگړنې او امتیاز ته یو بدیل پیدا کړو.

## د ټولو اصحابو د عدالت له مفکورې هیلې

هغوی چې دا نظریه مطرح کړه، لاندې هیلې یې درلودې:
۱-د نبوي اهل بیتو د ځانګړنو تفسیر او تأویل؛ داسې چې له اصلي منځپانګې تشې شې او هیڅ دنده ونه لري.
۲-بدلې ځانګړنې رامنځ ته کړي، چې د اهل بیتو له ځانګړنو سره سیالي وکړي او واکمن د دې بدلی ځانګړنو په درلود سره د اهل بیتو پر ځای دنده تر سره کړي (او واکمني تر لاسه کړي)
۳-د شک او شبهې پیدا کول، د سرګردانۍ او لالهاندی حالت رامنځ ته کول چې په مسلمانانو کې بې اتفاقي وغورځي او دا چې نه ښایي مسلمانان په حکومتي نظام پورې څه کار ولري او پر فرعي چارو بوخت شي او حکومت همېشه واکمنو ته وي.

### د ځانګړنو پرتلنه

خدای تعالی له اهل بیتو چټلي څنډلې او پاک سوتره کړي یې دي، لږ تر لږه له ټولو کچو سره اهل بیت دا دي: فاطمه، علي، حسن او حسین.
خدای دوی سپېڅلي کړي او مخکې تر دې چې نورو ته د جنت زیری ورکړي دوی ته یې د جنت زیری ورکړی دی.
د نص له مخې، اهل بیت د جنتیانو ښاغلي دي او څه اړتیا نشته چې د عدالت په اړه یې کومه خبره وشي؛ ځکه څوک چې عصمت او پاکلمنتوب لري، عدالت یې هم جوت دی.
صحابه: سترو اصحابو اخلاص درلود او خدای یې پر عدالت ګواهي ورکړې او د درناوی وړ دي؛ خو هغوی چې واکمن شول نه یوازې دا چې له جلیل القدور اصحابو څنې نه و؛ بلکې ازاد کړای شوي وو، چې له ناچاری یې اسلام ومان او مسلمانان شول.
دا ډول اصحاب (په لغوی او اصطلاحي ماناوو) یوازې د ټولو اصحابو د عدالت په مفکوره د اهل بیتو په کتار کې راتلای شي؛ ځکه دا نظریه د مکې تر سوبې مخکې او وروسته د مسلمانانو تر منځ پر کوم توپیر قایله نه ده. په دې نظریه کې وژونکی او وژل شوی، محاصره کوونکی او محاصره شوی، مهاجر او ازاد، مؤمن او منافق یو له بل سره توپیر نه لري او ټول د «عدالت» پر صفت او ځانګړنې ستایل کېږي.
د دې نشریې له مخې علي بن ابی طالب له اهل بیتو او صحابي ګڼل کېږي او معاویة بن ابی سفیان هم له اصحابو څینې دی، علي عادل دی او جناب امیر معاویه هم عادل دی؛ دا هم

مجتهد دی او هغه هم مجتهد دی، علي جنتي دی او جناب امیر معاویه هم او دواړه له دروغو پاک دي.
علي د نص [او غوڅو اسنادو] له مخې لومړنی مسلمان، د خدای ولي، په ټولو غزواتو کې د پېغمبر بیرغچیی او ګردو جګړو کې د اسلام اتل و، پوره د جناب امیر معاویه په څېر دی، چې پخپله او پلار یې له اسلام او مسلمانانو سره جنګېدلي او له ناچارۍ مسلمانان شول.
د بشر وضع شوی عدالت دا تساوي نه مني او ردوی یې، اسماني عدالت خو لا څه کوي خدای او استازی یې د دې دواړو تر منځ پر توپیر قایل دي، د دواړو کړنو تر منځ یې توپیر رادبره کړې، چا راته امر کړی، چې دا دواړه مساوي او یو شان وبولو؟ ایا بې د ټولو اصحابو د عدالت له نظریې بل دلیل شته؟
د ګرد سره اصحابو د عدالت نظریه او ټولو اصحاب د «عدالت» پر ځانګړنه تلل، یوازې د اهل بیتو د سپېڅلتیا او پاکۍ له ځانګړنې سره سیالي ده، چې نړۍ پال د خپل استازي اهل بیتو ته ور ډالۍ کړې ده.

## واقعي بېلګه

د شرعي نص له مخې، علي کرم الله وجهه د اهل بیتو مشر، د امت ولي (او پالندوی) و، او بیا د نص له مخې لومړی مسلمان و او که د چا یې لومړنۍ مسلمانتوب نه خوښېږي نو په خوله یې لږ تر لږه د نص له مخې دویم مسلمان دی. او بیا د نص له مخې حق له علي سره دی او چېرې چې وي، حق هملته دی او بیا د نص له مخې، دوستي یې له خدای سره دوستي او دښمني یې له خدای سره دښمني ده.
د ټولو اصحابو د عدالت د نظریې د رامنځ ته کوونکیو په منښته، علي یو صحابي دی او د جنت زیری ورکړای شوی؛ نو که علي صحابي دی؛ نو ولې په ټولو ښارونو کې پر منبرونو کنځل ورته واجب او لازم و؟
تاسې خو د اصحابو ناسزا ویوونکیو ته سزا ټاکلې وه او ویل مو: چې دغسې وګړی زندیق [او کافر] دی او نه ښایي چې خواړه ورسره وخوړل شي او په لوښي یې اوبه وڅښل شي او نه یې جنازه وشي؟ دا څه شوي، چې د ټولو اصحابو عدالت ټولو ته کارول کېږي؛ خو د علي او کورنۍ په اړه یې پخ او ناکارنده دی؟

**بله بېلګه**
حسن او حسين؛ د علي كرم الله وجهه زامن په جنت كې د جنتيانو ښاغلي دي او له دې امته د پېغمبر خور بويه ګلان دي، د څرګند نص له مخې دواړه، د جناب نبي مكرم زامن دي. خداى تعالى د هر پېغمبر اولاد له خپل نسله كړې؛ خو يوازې يې د اسلام د پېغمبر څوځات د علي [د پېغمبر زوم] له نسله كړى دى. حسن او حسين دواړه اصحاب دي او عادلين؛ ځكه اصحاب دي او نه ښايي چې يو صحابي توهين يا وكنځل شي او كه چا دا چار وكړ؛ نو زنديق [او كافر] دى او په پايله كې خواړه ورسره ونه خوړل شي، په لوښي يې اوبه و نه څښل شي او جنازه يې ونه شي؛ نو اوس د هغه په اړه څه وائي حسن بن علي يې مسموم كړ او له اصحابو ځيني و د امام حسين د وژنې او شهادت په باب څه وائې؟
هغوى چې د فرات اوبه يې پر حسين او اهل بيتو بندې كړې؛ هغه اوبه چې هر ځاروي ان داړونكيو ترې ګټنه كړاى شوه.
ايا د چا وژنه توهين او سپكاوى يې نه دى؟ د هغو خلكو په اړه څه نظر لرئ چې د محمد عليه السلام څوځات وژني، جامې ترې اوباسي او ښځې يې بنديانوي؟ د پېغمبر اكرم زامن خو له اصحابو ځنې دي او د څوځات ښځې يې هم په اصحابو كې شمېرل كېږي.

**د مطلب څرګندونه**
هغوى چې امام حسن يې مسموم كړ، په لغوى او اصطلاحي مانا وو اصحاب وو، چاچې علي د عبادت په محراب كې وواژه له اصحابو ځنې وو، هغوى چې حسين وواژه له اصحابو ګڼل كېدل، هغوى چې په كربلا كې د پېغمبر څوځات نابود كړ له اصحابو شمېرل كېدل او هغوى هم اصحاب وو، چې علي او دوستان يې كنځل او هغوى هم اصحاب وو، چې د علي د دوستانو او لارويانو ګواهي يې نه منله.

**پوښتنه او تعجب**
حسن بن علي چې مسموم شو له عادلينو ځنې و؛ ځكه صحابي و، هغوى چې حسن مسموم كړ، هم له عادلينو ځنې و؛ ځكه په اصحابو كې ګڼل كېدل. حسين بن علي عادل و؛ ځكه صحابي و، كومې ډلې چې وواژه هم عادله وه؛ ځكه په اصحابو كې شمېرل كېده، په كربلا كې چې د پېغمبر څوځات ووژل شو عادلين وو؛ ځكه له اصحابو ځنې وو، هغوى چې دوى يې نابود كړل، هم له عادلينو ځنې وو؛ ځكه اصحاب وو؛ هغه مسمو موونكى جنايتكار او هغه

مسموم شوی دواړه جنتیان دي؛ ځکه اصحاب دي او دواړه عادلین دي، وژونکي او وژل شوی دواړه جنتیان دي او دواړه اصحاب او عادلین دي؟!!
لوټوونکی او لوټ شوی دواړه جنتیان دي او دواړه اصحاب او دواړه عادلین دي؟!!
د ټولو اصحابو د عدالت نظریه چې دا ډول برابري او مساوات رانغاړي بشري عقل ته سپکاوی او د پټو سترګو د تقلید او لاروۍ شرمناکه نښه ده.

**د دندې تر سره کول**

د اصحابو د عدالت نظریي خپله دنده پوره تر سره کړه!!! دې مفکورې علي او جناب امیر معاویه سره یو رنګ کړل، دواړه یې اصحاب او عادلین ګڼل، دواړه یې جنتیان او پر حق، چې هر څوک بریالی شو، د اسلامي امت خلیفه دی، او هغه کال چې یو پر بل بر لاس شو، د «یووالی» کال دی.

**په دفاع او خوندیتوب کې برابري:**

چې څوک اهل بیت وځوروي، پیغمبر یې ځورولی دی، مقابل ټکی یې دا دی چې: چې څوک یو صحابي وځوروي، پیغمبر یې ځورولی دی.
چې څوک اهل بیت دښمن ګڼي، په اور کې دی او چې څوک (په مطلق ډول) یو صحابي دښمن ګڼي په اور کې دی.
اصحابو ته تر اهل بیتو ډېر امتیازات ورکړای شول؛ ځکه څوک چې یو تن صحابي توهین کړي زندیق [او کافر] دی؛ ځکه د ګردو اصحابو د عدالت نظریي اصحابو ته د اهل بیتو د ځانګړو په څېر امتیازات او ځانګړنې ورکړې او بلکې ډېرې!

**په نصوصو کې د اهل بیتو مقام:**

د غوښ شرعي نص له مخې، قرآن مجید ثقل اکبر او اهل بیت ثقل اصغر دي هدایت تر لاسه کول او له بې لارۍ ډډه کول پر ثقلینو منګولې ښخول دي. او بیا د شرعي نص له مخې اهل بیت د نوح د بېړۍ په شان دي، چې څوک پکې سپور شو وژغورل شو او چاچې له سپرېدو ډډه وکړه؛ نو ډوب شو. د شرعي نص له مخې اهل بیت د الهي لورنې ور دی؛ څوک پرې ورننوځي؛ نو ښښل کېږي.
اهل بیت د دې امت د امن او امان لامل دي او د شرعي نص له مخې، ستوري او ځمکوالو د امنیت وزله او اهل بیت له اختلافه د محمد صلی الله علیه و آله د امت د امنیت لامل دی.

بې له اهل بيتو اسلامي امت [دباري] څاروي په څېر دی، چې ملا يې ماته شوي وي.
د شرعي نص له مخې، د جناب نبي مکرم تر وفات وروسته د اهل بيتو مشر او پالندوی د خلکو ديني اختلافات څرګندوي او حق وايي.
[په دې اړه به د سياسي مرجعيت او مشرۍ په باب کې خبرې وکړو]

**اصحابو ته د دې نظريې امتيازات**

په امت کې زما د اصحابو مثال لکه په خوړو کې مالګه ده، او بې مالګې خواړه خوندور نه وي.[1]

جناب نبي مکرم ويلي: قريش ښه خلک دي او خلک يوازې په همدوی سمېږي او بې له دوی ورکړه ورته نه کېږي، لکه چې خواړه يوازې په مالګې خوندورېږي.[2]

او په بل ځای کې راغلي: له قريشو سره دوستي د دې لاملېږي چې ځمکوال [په فساد کې] له ډوبېدو بچ شي او د اختلافاتو له راپېوکېدو يې خوندي کوي، قريش د خدای ميړني دي، که کوم ټبر يې مخالفت ته پاڅي، د شيطان په ګوند کې شمېرل کېږي.

«ابن حجر» له ترمذي او ابن حجره روايت کړی چې جناب نبي مکرم ويلي: د اصحابو په اړه مې خدای په پام کې ونيسئ، مه يې په نښه کوئ او ارزان يې مه پلورئ، د چاچې خوښ وي لکه چې زه يې خوښ يم او د چاچې بد ايسي لکه چې زه يې بد ايسم، چاچې وځورول، زه يې ځورولی يم او چاچې زه ځورولی يم، خدای يې ځورولی دی او چې څوک خدای وځوروي، خدای به سزا ورکړي.[3]

**څو رواياتو ته ځير شئ:**

الف: جناب نبي مکرم ويلي: علي! چې څوک له ما څخه جلا شي، له خدايه جلا شوی او چې څوک له تا څخه بېل شي له ما څخه به جلا شوی وي.[4]

چې څوک علي وځوروي، زه يې ځورولي يم.[5]

[1] کنزالعمال: ۱۲\ ۲۲ مخ، ۳۳۷۹۲ ګڼه حديث.
[2] کنزالعمال: ۱۲\ ۲۵ مخ، ۳۳۸۰۷ ګڼه حديث.
[3] ابن حجر الاصابه، ۱: ۱۹ مخ.
[4] حاکم، مستدرک ۳: ۲۴ مخ.
[5] حاکم، مستدرک ۳: ۱۲۴ او ۱۳۰ مخونه.

د چاچې علي ښه ايسي زه يې ښه ايسم او د چاچې بد ايسي، زه يې بد ايسم.[1]
علي! ستا دوست، زما دوست دی، او ستا دښمن زما دښمن دی او زما دښمن د خدای دښمن دی، پر هغه دې افسوس وي، چې تر ما وروسته تا غوسه کړي.[2]
د هغه پر حال دې خوښي وي، چې تا ښه گڼي او په اړه دې رښتيا وايي او پر هغه افسوس، چې دښمن دې گڼي او په اړه دې دروغ وايي.[3]
هغوی ته سپارښتنه کوم چې ايمان يې راباندې راوړی دی او تصديق کړی يې يم چې د علي بن ابی طالب پر ولايت منگولې ښخې کړي، چې څوک يې مینوال شو لکه زما مینوال شوي وي، او له ما سره د مينې ښوونه له خدای سره د مينې ښوول دي، د چاچې علي ښه ايسي لکه چې زه يې ښه ايسم او د چاچې زه ښه ايسم لکه چې خدای يې ښه ايسي.[4]
ب: پېغمبر اکرم ويلي: ستوري د دې لامل دي، چې ځمکوال له ورکېدو بچ کړي او زما اهل بيت د دې لامل دي، چې امت مې له بې اتفاقۍ خوندي کړي، که د عربو کوم يو ټبر يې مخالفت ته راپاځي؛ نو د شيطان گوند به وي.
د جناب نبي کريم دې وينا ته ځير شئ چې: ستوري د اسمانوالو د خونديتوب لامل دي او اهل بيت مې د ځمکوالو خونديتوب لامل دي.
[په دې اړه به دسياسي مشرۍ په باب کې خبرې وکړو]

**پوښتنې:**
که يو صحابي علي دښمن وگڼي يا يې وځوروي؛ نو څه کېږي؟ او اپوټه، که علي يو تن صحابي دښمن وگڼي يا يې وځوروي؛ نو بايد په کوم پسې ولاړ شو؟ کوم يو پر حق او کوم يو پر باطلو دی؟
که يو قريشي ووايي: مورږ د دې امت امان يو او اهل بيت ووايي: مورږ دې امت ته امان يو؛ نو د کوم يو خبره تصديق او ومنو؟
که د امت يو ډله په يو قريشي پسې ولاړ شي او بله ډله په اهل بيتو پسې، او هره ډله انگېري، چې پر حق ده؛ نو په واقع کې څوک پر حق دي؟

---

[1] حاکم، مستدرک ۳: ۱۲۴ او ۱۳۰ مخونه.
[2] حاکم، مستدرک ۳: ۱۳۵ مخ.
[3] طبراني، معجم الکبير ۳: ۱۵۴ مخ، ۲۵۷۱ گڼه حديث.
[4] طبراني، معجم الکبير ٦: ۱۵۵ مخ. ۲۵۷٦ گڼه حديث.

له جناب نبي مكرم يې يو جعلي حديث روايت کړی، چې يې ويلي:
اصحاب مې دستوريو په څير دي، په هر يو پسې چې ولاړ شئ هدايت مو موندلی دی.
دا جوړ کړای شوی حديث دی او د ابن تيميه له خولې روايت شوی چې:
حديثپوهانو دا حديث [؛ اصحاب مې د ستوريو په شان دي] کمزوری ګڼلی او ډاډمن پرې نه دي.[1]
که يو شمېر اصحاب په علي پسې ولاړل، او ځينې د جناب امير معاويه لاروي شول او درېيمې ډلې ځان بې پرې کړ او څلورمه ډله فرصت ته سترګې پر لار شوه، چې کومه يوه بريالۍ شي، چې ورسره ملګرې شي او همدغسې که يو تن له دې څلور ګونو ډلو په يوې پسې ولاړ شي؛ نو ايا د شرعې او عقل له مخې يې سمه لار نيولې؟ که داسې وي نو کومه يوه ډله پر باطلو ده؟ که په ختيځ کې يو صحابي ووايي، چې پر حق يم او پر همدې حال يو بل صحابي په لويديځ کې اعلان کړي، چې څه وايم حق دي او درېيم تن په شمال کې ووايي حق دلته دی او څلورم په جنوب کې ووايي حق له ما سره دی او په پای پنځم ووايي چې حق شمال ته کوږ په ۴۵ درجو کې له ما سره دی او.... نو څه به وشي؟
او لکه چې جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله خبر کړي يو، امت پر دري اويا (۷۳) ډلو ويشل کېږي، چې هره ډله ځانته يو لاسوند لري.
ايا د شرعې او عقل له مخې سمه ده، چې دا ټولې ډلې پر حق دي؟ په ډاګه ده، چې يوازې حق يو دی، «بې اتفاقي» ګناه ده او «يووالی» خدای ته نژدېتوب. ايا عقل دا مني، چې پېغمبر خپل امت خپور وور کړی وي او په ډلو يې وويشي؟

## له غير مستقيمې لارې د علي مرجعيت

پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله علي ته ويلي دي: ته مې له لوري امانتونه سپارې: او خبره مې خلکو ته رسوې او تر ما وروسته د امت اختلافونه مې څرګندوې.[2]

[1] ذهبي، المنتقي، ۵۵۱ مخ.
[2] ابن ابی الحديد، د نهج البلاغې شرح. حلية الاوليأ.

سره له دې چې ابوحنيفه له ابن عباس (رض) سره سخته مينه درلوده؛ خو که په يو ځای کې يې نظر د بل صحابي له نظر سره اختلاف درلود؛ نو د صحابي نظر يې د ابن عباس پر نظر ړومبی گاڼه.[1]

او روايت شوی، چې ابوحنيفه ويلي دي: که په يوه مساله کې د خدای په کتاب او نبوي سنتو کې کوم څيزونه ونه مومم، د اصحابو له کلامه گټنه کوم او که په کومه پېښنه کې د اصحابو نظريات يو له بل سره په ټکر کې وو، پخپله خوښه يو نظر ترې غوره کوم او نور پرېږدم او د تابعينو د وينا له پاره د اصحابو وينا نه پرېږدم.[2]

د ابن قيم په اعلام الموقعين کتاب کې راغلي: «. . . . د ټول قرآن پر خلاف د صحابي عمل، د قرآن پر تخصيص دليل دی او د صحابي خبره يې د عمل په څېر ده. » ځير شئ دا وينا [؛ د صحابي خبره يې د عمل په څېر ده] او د يوه صحابي [لغوي او اصطلاحي ماناوو] وينا په مطلق ډول ټول قرآن تخصيص کړی او د قرآن مطلقونه مقيدوي، لکه چې د صحابي وينا آسماني وحې ده، چې باطل بيخي ورننوتای نه شي.

ستونزه دا ده چې [څه وويل شول] هر صحابي پکې رانغاړلېږي او د اصحابو د عدالت نظريي اصحابو ته داسې يو مقام او درجه ورکړې، چې شرع اهل بيتو ته دغسې امتياز ورکړی نه دی.

ابن خلدون وايي: ټول اصحاب مفتيان نه وو او د دين احکام هم له ټولو اخستل شوي نه دي؛ بلکې د فتوا ورکول او په څېر يې چارې يوازې د قرآن د حاملانو په ذمه واری وې، چې په ناسخ او منسوخ او د قرآن په محکماتو او متشابهاتو پوهېدل او د فتوا پر نورو دلايلو هم پوهېدل، له پېغمبر اکرم يې پوهه تر لاسه کړې وه يا يې له هغو اخستې وه، چې د پېغمبر صلی الله عليه و آله له محضره يې گټنه کړې وه او يا يې له خپلوانو گټنه کړې وه؛ نو له دې امله ورته قرا (د قرآن قاريان) ويل کېدل؛ ځکه عربان امي او بې فرهنگه خلک وو، دا نوم هغو ته ويل کېده چې کتاب يې لوست؛ ځکه کتاب ته نژدې و، دا وه د صدر اسلام وضع.

محمد بن ابی سهل په يوې لارې له خپل پلاره روايتوي چې د جناب نبي مکرم په وخت کې يوازې شپږ تنو فتوا ورکوله درې تنه مهاجرين (عمر، عثمان، علي) او درې تنه انصار (ابی بن کعب، معاذ بن جبل او زيد بن ثابت) وو.

---

[1] ذهبی، المنتقي (۳۵- ۱۳۶) مخونه. سيد مرتضی اراء علمأ فی التقيه. . . .

[2] ابی زهره، امام ابوحنيفه، ۳۰۴ مخونه.

عبدالرحمان بن قاسم له خپل پلاره روايتوی چې د حضرت ابوبکر (رض) په زمانه کې کومه مساله به چې ابوبکر (رض) ته راوړل کېده؛ نو په اړه به يې د مهاجرو او انصارو له لاندې وګړيو سره سلا مشوره کوله: حضرت (عمر، عثمان، علي، عبدالرحمان بن عوف، معاذ بن جبل، ابن ابی کعب او زيد بن ثابت) رضی الله عنهم. او يوازې همدوی د ابوبکر (رض) په خلافت کې فتوا ورکوله او خلک ورتلل.

ابوبکر (رض) پر همدې دود له نړۍ سترګې پټې کړې او ورپسې حضرت عمر (رض) هم، همدا ډله د همدې مطلب لپاره رابلله.[1]

## د فرهنګ پراختيا يا د فقاهت او فتوا د کړۍ پراختيا

ګورئ چې د ټولو اصحابو د عدالت نظريي هغه دودونه له منځه يووړل چې د ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) په خلافت کې دود وو او له هغو مفاهيمو هم ووت چې د نبي عليه السلام په زمان کې وو.

دې نظريي (په مطلق ډول او په لغوي او اصطلاحي ماناوو) هر صحابي ته فرصت ورکړ، چې په هر مساله کې لاس ووهي او د هر هڅاند او پلټونکی حق و، چې له هر صحابي د مطرح شوې پوښتنې ځواب تر لاسه کړي. ولې نه؟ حال دا چې ټول اصحاب عادلين او جنتيان دي او دروغجن ګڼل يې روا نه دي.

نو دا دي چې چارې ګډې وډې شوې او لومړني مسلمانان له وروستنيو سره مساوي شول او ازاد کړای شوی له مهاجر سره په يوه کتار کې شو. دلته ټول د عدالت له صفته برخمنيږي او کومه ګناه هم پرې نشته او د دې نظريي د ټولېزې ادانې له مخې، هيڅوک حق نه لري، چې د صحابي خبره رد او يا ترې روايت شوی روايات (چې د رواياتو سموالي يې جوت شوی) ونه مني؛ ځکه خبره يې حق ده چې باطل ورننو تای نه شي او همدغسې دا خبره هغه کړې، چې ټول قرآن تخصيصولای شي او مطلق يې مقيد کوي.

نو له همدې امله په لومړي پړاو کې ټوله څېړنه د هغو په هکله کېده چې له اصحابو يې روايتونه کړي او دا چې ښه خوی، د ايمان صدق او په ويناوو کې رښتنتوب جوتېده او ثابتېده، چې دا د صحابي روايت دی؛ نو دا نص يو حقيقت شمېرل کېده؛ ځکه د عادل صحابي خبره ده چې سمه او حق ده.

---

[1] ابن سعد، طبقات، ۴: ۱٦۸ مخ. اراء علما. . . . ۵۰ مخ.

**پر راويانو له وړاندې شرط:**

هر راوي ته دا شونې وه چې (په مطلق ډول) له هر صحابي، ابی بکر، عمر، عثمان او سعد (رضی الله عنهم) څخه لاروي او پلوي وکړي چې دې چلن ورته هيڅ ډول شبهه نه رامنځ ته کوله. شک يوازې د هغه په هکله و، چې د علي او اهل بيتو مينوال او لاروی يې و، محال و، چې دغسې يو تن دې ډاډمن وي او روايت يې هم نه منل کېږي. که يو شمېر ډاډمن راويان راټول شي او يوازې يو تن پکې د اهل بيتو مينوال وي او خپل شيعه توب ښکاره کړي؛ نو ټول حديث پرېښوول کېږي؛ ځکه هغوی يوازې ډاډمن روايات مني او ډاډمنتوب او شيعه توب يو له بل سره اړخ نه لګوي.

ابو عمر بن عبدالبر ويلي چې: د محمد بن وضاح له خولې روايت شوی چې يحيی بن معين مې د شافعي د ډاډمنتوب په اړه وپوښت، په ځواب کې يې راته وويل: د ډاډ وړ نه دی.

يحيی بن معين د جرح و تعديل يو ستر امام دی او په رجال پوهنه کې يې وينا يو ټينګ دليل دی.

ابن معين انګېرله چې شافعي ځينې وخت له اهل بيتو سره خپله دوستي ښکاره کوله؛ نو شيعه دی [او د ډاډ وړ نه دی] که څه هم د ځانګړي مذهب بنسټګر وي.

د ذهبي پام شوی، چې د ابن معين خبره سمه خبره نه ده؛ نو ځکه يې ويلي: ابن معين چې د شافعي په باب کومه خبره کړې؛ نو خوله يې ښيوی شوې او خبره يې د ځاني غوښتنې او تعصب له مخې ده.

ابو حاتم او نسايي امام جعفر صادق [چې د څلور ګونو مذاهبو د بنسټګرو استاد و، او په درسي کړی کې يې څلورو زرو تنو فقها او حديثپوهانو ګډون درلود او د اهل بيتو مذهب همده ته منسوب دی او د نبوي کورنۍ له سترو مشرانو ځنې دی] ډاډمن ګڼلی خو بخاري يې په رواياتو استدلال کړی نه دی، لکه چې «ډاډمن» يې ګڼلی نه دی، حال دا چې همدې بخاري له مروان بن حکم څخه روايات راوړي دي.

هغه مهال چې يحيی بن معين، سعد بن خالد جلي ډاډمن وګاڼه؛ نو ورته وويل شو، چې «سعد» خو شيعه دی، يحيی په تعجب وويل: شيعه او ډاډمنتوب؟ دا سخته ده، چې يو تن هم «شيعه» وي او هم «ډاډمن»! [هو] چې څوک د پيغمبر د اهل بيتو مينوال نه وي او لاروي يې نه کوي «ثقه»، ډاډمن او د اعتماد وړ دی.

عجلي د عمر سعد [په کربلا کې د لښکر بولندوی و، چې امام حسین اهل بیت او یاران یې ووژل] په باب وايي: عمر سعد یو تابعي دی، چې د ډاډ وړ دی، خلک هم روایتونه ترې روایتوي.

دغسې عجلي د عمران بن حطان [چې د امام علي کرم الله وجهه وژونکی ابن ملجم یې په خپلو اشعارو کې ستایلی] په هکله وايي: د هغه گوذار پر یاد، چې هغه متقي میړني یوازې د خدای د رضا لپاره وکړ او بس

یا ضربة من تقی ما اراد بها- الا لیبلغ عند الله رضوانا

## دریيمه برخه

مرجعیت

عقیده

څوک مرجع ټاکلای شي؟

تر پېغمبر اکرم وروسته؛ مسلمانان او مرجعیت

تر پېغمبر اکرم وروسته، مرجعیت د چا دی؟

# مرجعيت

ښکاره ده چې د ټولو اصحابو د عدالت نظريي داسې يو مرجعيت رامنځ ته کړ چې په بيړه يې د خلکو پر فقهي او سياسي چارو اغېز وشينده او د نقل او تقليد له مخې په داسې بڼه راغی لکه چې دا مرجعيت هماغه شرعي مرجعيت دی، چې خدای ټاکلی او پيغمبر صلی الله عليه و آله ويلي دی، خو دا مرجعيت ځکه يوازې پاتې شو، چې هير او پر ځای يې بدلي مرجعيت رامنځ ته شو او ځينو گومان وکړ (او ځينې گومانونه گناه ده) چې شرعي مرجعيت، غير شرعي دی او بدلي مرجعيت هماغه شرعي مرجعيت دی. د نورو شرعي حقايقو د رابر سېره کولو لپاره ناچار يو، چې په دې اړه يو ځانگړی باب ځانگړی کړو.

## د مرجعيت مانا او مفهوم

له شرعي مرجعيته مطلب، هغه ځانگړی مقام او شان دی، چې د درلودونکی دنده يې دا ده، چې احکام او د اسلام گروهيز آرونه په پرېکنده او يقيني توگه څرگند کړي، نه په حدس او گومان.

داسې چې څرگندونې يې هماغه د خدای مطلب او منظور وي. په پايله کې هر مؤمن د شرعي مرجع رای او نظر د يو ديني يا عقلي حقيقت په توگه مني، چې خپل ښه ژوند پرې جوړ کړي او يا يې نېغه لار (صراط مستقيم) مني او خپل يون ته پرې دوام ورکوي.

نو ځکه په خپل عصر کې د اسلام پيغمبر، د اسلامي امت مرجع وه، چې خلکو د ژوند په ټولو چارو او عقيدتي مسايلو کې ورته مراجعه کوله؛ ځکه هغه په فکري او عقيدتي بنسټونو کې تر ټولو خلکو ښه پوه، خبره يې وروستی او حجت وه. او امام چې د رسالت د کورنۍ مشر دی، د نبي عليه السلام تر وفات وروسته، د خلکو مرجع ده؛ ځکه د شيعه و له نظره، هغه هم د پيغمبر په څېر، تر ټولو خلکو په احکامو او گروهيز آرونو کې ښه پوه و.

[او د ټولو اصحابو د عدالت د نظريي له مخې] د پيغمبر اصحاب او ياران، د حضرت تر وفات وروسته د احکامو او عقيدتي امرونو د څرگندولو لپاره ټول يا په وگړيز ډول مرجع يا مراجع دي؛ هغوی گرد سوه جنتيان او عادلين دي او هر يو په وگړيز ډول عادل هم دی. [هو د دې

نظريي له مخې] اصحاب جنتيان دي او هغه گواهان دي، چې د دين مطالب او احکام يې رارسولي؛ نو ځکه شرعي مرجعيت لري[1] او په هر يو پسې تلل، انسان نېغې لارې ته سيخوي. د اصحابو په مړينه او له منځه تگ، [د زماني] واکمن، مرجع ده، چې مطرح شوي اجتهادي نظرياتويني[2] او يو يې غوره کوي او دا نظريات او اجتهادات د پېغمبر د اصحابو تېرې ويناوې دي، چې په خپل وخت کې يې ويلي دي [او دا دی روايت کېږي] د زماني واکمن، مرجع ده، چې هر واکمن وي؛ ځکه مسلمانان له برلاس او غالب سره وي، او د عبدالله بن عمر مشهور صحابي وينا ده، چې اهل سنت يې مني: «موږ له بريمن او برلاس شوی سره يو»[3]

[د دې خبرې له مخې] بريالی تن تل، مرجع ده او په مسايلو کې اجتهاد کوي، که څه هم د اجتهاد په حد کې نه وي او يا په خپله خوښه د هر مجتهد په رايه عمل کوي، که څه هم هغه تن په رښتيا هم مجتهد نه وي، لکه چې په راتلونکې ويينه کې به يې ووينو.

### د مرجعيت او عقيدې تړاو:

مرجعيت او عقيده د بدن د غړيو په څېر يو له بل سره اړيکې لري؛ نو ځکه مرجعيت له عقيدې راولاړېږي او بې مرجع عقيده او دين شتون نه لري او هم مرجعيت يوازې په عقيده کې دی؛ ځکه د مرجع آريز دنده د الهي گروهې شرح او څرگندول دي؛ له همدې امله پېغمبر صلى الله عليه و آله آرونه او گروهې لکه چې څنگه خدای غوښتي او امر يې کړی څرگندوي او تر پېغمبر وروسته مرجع هم لکه چې څنگه خدای غوښتي او پېغمبر تشريح کړې، څرگندوي.

نو الهي گروهه د ويناوو او کړنو ماناوې په نښه کوي او ورته د رسېدو لپاره موخې او وزلې روښانه کوي او په ټولو اړخونو کې د مؤمنانو اړيکې تنظيموي. نو ځکه د مرجع انحصاري ونډه دا ده، چې گروهه او له پېښو سره د چلن څرنگوالی پوره تشريح کړي؛ نو مسووله مرجع د بلنې او دولت په دواړه اړخونو کې ديني قواعد او موخې پوره تشريح کوي او له نظري پړاوه يې عملي پړاو ته ورننباسي او پلي کولو يې څاري؛ نو ځکه له الهي دين او گروهې څنې د پېغمبر تشريح، د دين برخه ده او د عقيدې او دين له مضامينو او برخې گڼل کېږي؛ ځکه هغه پېغمبر دی؛ خو د حضرت علي، امام حسن، امام حسين، امام زين العابدين، امام جعفر صادق او يا بل هر امام شرح او بيان د عقيدې برخه نه شمېرل کېږي؛ بلکې قانوني مخېنه لري او ځوک

---

[1] ابن حجر عسقلاني، الاصابة فی تمييز الصحابة، او د ابن عبدالبر د الاستيعاب لمنليک، تر (۵) مخ وروسته.

[2] قاسمي، نظام الحکم، ۲۴۴ او ۲۴۵ مخونه.

[3] قاسمي، نظام الحکم، ۲۴۴ او ۲۴۵ مخونه.

غواړي چې کړنه یې له شرعي منظور سره همغږې وي؛ نو بیان یې ورته اړین او لازم الاجرا دی. [په خپله زمانه کې] د هر امام وینا او بیان پر مؤمنینو لازموي چې شرعي مرجعیت یې پر رسمیت وپېژني او له مخالفته یې ډډه وکړي؛ ځکه امام، شرعي مرجع او د پېغمبر ځایناستی دی او اطاعت یې د پېغمبر اطاعت دی.

**مرجعیت یو پوره کار پوهیز چار دی:**

(عقیده او) دین د بېړۍ په شان دی او مرجع د بېړۍ ماڼو دی، [په بله وینا] عقیده د الهي برنامو لپاره د لازمو نقشو په څېر دي. مرجع د مهندس په څېر دی، چې پړاو په پړاو د دې نقشو د توضیح، شرح او پلي کولو مسوولیت ورترغاړې دی، یا مرجع یو ساختماني مهندس دی. دا له عقله لرې ده، چې څا ساختماني لومړني مواد چمتو کړي وي؛ خو بې د مهندس او معمار له مشورې د ساختمان په جوړولو لاس پورې کړي.

د اسلامي عقیدې په اړخ کې، لازم دي چې مرجع د خپلې زماني له خلکو د عقیدې پر اصولو او احکامو کې خورا پوه او په دې هکله یې اخلاص تر ټولو ډېر وي، خدای ته یې تر ټولو پام ډېر وي، تر ټولو غوره او مشرۍ ته وړ وي؛ ځکه مرجع دخلکو تر منځ (د حق او باطل) پرېکړه کوونکی او د الهي احکاموویاند دی او فرض دا دی، چې ویناوې، کړنې او لارښوونې یې کټ مټ الهي مقصد دی.

**ګڼ شمېر مراجع**

په الهي عقیده (او دین) کې یوازې یوه مرجع وي، د مسلمانانوستره مرجع د اسلام پېغمبر و، حضرت موسی علیه السلام په خپله زمانه کې ستر مرجع وه، که له خپل ورور هارون علیه السلام جلا کېده؛ نو هارون علیه السلام په موسی علیه السلام پورې اړوند او تابع یوه ټیټه مرجع وه او که دواړه سره یو ځای وو؛ نو اصلي مرجع یوازې موسی و.

حضرت عیسی علیه السلام په خپله زمانه کې د مسیحیت په عقیدې پورې په اړوند چارو کې مرجع وه. ځکه په یو دین کې د مراجعو ګڼوالی د دین له منځه تګ، د لارویانو یې د بې اتفاقۍ او د نویو ګروهو راټوکېدو لامل ګرځي او هم د دې لامل‌ېږي، چې د دین په اړه بېلا بېل نظریات راوړاندې شي؛ نو ځکه په اسلام کې مرجعیت یو دی، چې یو تخصصي او کارپوهیز چار دی او د دین د خورا سترو او مهمو اړتیاوو ګڼل کېږي. که شرعي مرجعیت له منځه ولاړ، هر مسلمان خپله لار وهي او هره ډله او جماعت د خپلې مفکورې اونظریې له مخې عمل کوي او د ډېرو تېروتنو له امله هر څوک ګومان کوي، چې پر حق دی او (دا انددود) د وروری

او يوالي د منځه وړو لاملېږي او جبران يې يوازې يوه مرجع ده، چې خبره يې يوه فكري او ايماني حقيقت وي او مسلمانان خبره د زړه له كومي ومني او دا د مسلمانانو تر منځ د يوالي يوازېنی لار ده.

## د عقيدې او مرجعيت تر منځ توپير

د عقيدې او مرجعيت تر منځ توپير د بلنې او بلونكي د توپير په شان دی؛ نو ځكه د اسلام پېغمبر ص) بلنه پر دوو اركانو ولاړه ده:

الف: قرآن كريم.

ب: پاک نبوي سنت؛ له درېيو څانگو سره يې: وينا، كړنې او تاييدات يې او دا څانگړنې يوازې په جناب نبي كريم پورې ځانگړي دي.

نو ځكه، عقيده هماغه قرآن دی، چې شرح او څرگندونه يې د حضرت په ويناوو، كړنو او تاييداتو تر سره كېږي؛ يعنې څرگندوونكی تن، چې پېغمبر وي، د دين او گروهې نه جلا كېدونكې برخه ده، چې پرې ډاډمنېدل، ورسره مينه درلودل، مطلق لاروي يې، د خبرو پر سموالي او رښتينتوب يې ايمان درلودل، ټول د دين برخه او جلا ترې نه دي؛ نو په ديني چارو كې د حضرت هره خبره او وينا د حق او باطل تر منځ پوله ده؛ ځكه هغه تر ټولو خلكو په ديني چارو كې خورا پوه او د مسلمانانو د مشرۍ لپاره غوره او وړ دی.

[د حضرت له بلنې له څو كلونو وروسته] پوره دين او الهی نعمت خلكو ته تمام كړای شو او قرآن مجيد ټول څيزونه بيان كړل، حضرت وفات شو او عقيده (چې هماغه قرآن دی) او بيان (چې د حضرت ويناوې، كړنې او تاييدات دي) يې خلكو ته [پر امانت] پرېښود.

خو تر حضرت وروسته د مرجعيت مساله، يوه بله موضوع ده؛ ځكه تر پېغمبر وروسته د مرجع دنده د الهي عقيدې څرگندول او د خپلې زمانی پر برخليک سازو پېښو يې د تطبيق څرنگوالی دی.

په رښتيا چې دين، تر پام لاندې ماڼۍ د جوړو لپاره لومړني مواد، او مرجع يې معمار او مهندس دی.

دين يو فكري جوړښت دی او ويلای شې ووايې، دين پر ځان يو متكي اعتباري شخصيت دی او مرجع يې په هره پېښه كې د ليد لوري ويونكی دی. دين د يو ستر درملتون په څېر دی، چې د هر درد درمل پكې شته او مرجع يو داكتر دی، چې ناروغي تشخيصوي او لازم درمل ورته ليكي او له دې ستر درملتونه يې اخلي او خوري يې.

**د مرجعیت حکمت**

که خدای هر وګړي ته وحې کوله او خیر ته یې باله او له اسمانه یې ورته پرښته ټاکله، چې ورسره وي او و یې ساتي، په دې حال کې وګړي د اجر او بدلې وړ نه وو؛ ځکه د چارو په کولو یا نه کولو مجبور وو او له ځانه یې واک نه درلود او د امتحان او ازمېښت نظریه ایجابوي، چې انسان ته د حق او باطل تر منځ د بېلتو او توپیر وس او ځواک ورکړای شي.

البته وروسته تر دې چې خدای حق او باطل ورته څرګند کړ او پر حق او باطل یې د عمل کولو وس ورکړ او وروسته تر دې چې بشر ته یې حق او باطل، مباح او حرام روښانه کړل؛ نو انسان ته د عمل ازادي ورکوي، چې پخپله خوښه په هوډ او اختیار په پوره ازادۍ پر حق یا باطلو عمل وکړي.

یوازې د اختیار په بڼه کې که مکلف انسان واقعیت ته ورسي، د ثواب وړ دی او که خطا کار وي د عذاب وړ دی. دا هماغه ځمکنی مرجعیت دی چې بشر ته د الهي رسالتونو د مفکورې غوښتنه ده او د مرجعیت مفکوره ترې د یو الهي اړتیا په عنوان راولاړېږي؛ نو ځکه د الهي رسالت مفکوره دوه چورلیزه لري:

۱-کوم پیغمبر چې رسالت ابلاغ کړي او دا یې ځمکنی مرجع ده.

۲ـرسالت یو مانا او مضمون لري، چې بې له پیغمبره یا مرجع تبلیغول یې ستونزمن دي او دا رسالت د خدای له لوري چمتو شوی او همدا د بشریت د لارښوونې لار ده.

خدای د رسالت په اړوند چاروکې د پیغمبر ستره مرجع ده.

نو ځکه لومړی ګام د پیغمبر یا مرجع ټاکنه ده.

دویم ګام: پیغمبر د الهي رسالت پر مضامینو او لارښوونو پوهول دي.

درېیم ګام: پیغمبر راپاڅېږي او خلکو ته دا رسالت رسوي او پوره یې ورته څرګندوي او بیا د خلکو غبرګون څاري، چې پرې ګواه وي.

خلک پیغمبر ته د یوې داسې مرجع په توګه مراجعه کوي، چې په یقین پر دین پوهېږي او که کوم مطلب ورته سخت وي؛ نو خدای تعالی ته رجوع کوي او له خدایه یې ځواب اخلي او دا یو حقیقت او واقعیت دی چې یوازې ناپوهان یې په اړه نانديري وهي او شخړې کوي.

پیغمبر (هر پیغمبر چې وي) د خپلو لارویانو مرجع ده، پیغمبر مطالب خپلو لارویانو او هغوی ته څرګندوي چې بلنه یې ور رسي. او توضیح کوي، چې څنګه دا الهي مضامین (له فکري او نظري بڼې) د عمل په ډګر کې پلي شي، چې د خدای رضا پکې وي.

او د پیغمبر تر وفات وروسته (هر پیغمبر چې وي) کوم دین یې چې راوړی تر هغې پورې چې لارویان لري پاتېږي او هرو مرو باید د دې ګروهې او دین لپاره یوه مرجع وي، چې د دین د

څرګندولو دنده تر سره کړي او پر خپل امت ګواه وي او دا د هر رسالت له اړتیاوو څخه دي.
ازمېښت ایجابوي چې د یو دین لپاره یوه مرجع وي، چې د ژوند په بهیر کې د ایمان د کاروان مشري وکړي، که دا مرجع د بلنې او تبلیغ په لړ کې وي او که په دولتي. البته که مرجع بریالۍ شي، چې له بلنې دولت ته ورسي.

**له مرجعیته سترګې پټولای نه شو:**
د اردن د «اللوأ» ورځپاڼې په ۹۵۵ ګڼه کې مې پر (۱۴۱۲\۱۷صفر\۱۷) یوه مقاله څېړه کړې وه او کښلي مې وو، چې عربي دیني ګوندونه پوهېږي، چې د تاریخ په بهیر کې الهي رسالتونه تم شوي نه دي او دوام لري شونې ده، چې دوی وپوښتي، خدای څه وخت کوم یو رسالت بې استازي رالېږلی او څه وخت یو امت بې مرجع و؟
باید وویل شي، دا دومره پراخه اوږده او پلنه نړۍ، له آدم علیه السلام څخه نیولې تر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله پورې ولټوئ که بې مرجع رسالت مو ونه موند (چې ډاډمن یم نه یې مومئ)؛ نو د پټو سترګو تګ پرېږدئ او د حقیقي اسلام د پوهېدو لپاره له سره کتنه وکړئ.
نو ځکه د اسلام ګروهه او دین یوه مرجع لري او هغه هم پیغمبر دی او همدې عقیدې د رسول الله صلی الله علیه و آله تر وفات وروسته، مرجع ټاکلې؛ ځکه مرجعیت د ژوند له اړتیاوو دی.
هر [کور او] کورنۍ مرجع لري، هر دولت مرجع لري، یو رژیم مرجع لري، ټول الهي او غیر الهي ګروهې او مسلکونه مراجع لري؛ ځکه مرجع د هرې بلنې، ټولنې، ګروهې او دولت مهم او آریز عنصر دی.
د تاریخ په اوږدو کې چې پر مسلمانانو کوم کړاوونه راغلي، لامل یې دا و، چې د خدای ټاکلې مرجع یې له ټولنې او خپل مقامه لرې کړه او په زوره تپلې بدلي مرجع یې منګولې ولګوې او خلک هم په تقلید په بدلي مرجع پسې ولاړل.

## عقيده (دين)

د بدن د غړيو په څېر د دين او مرجعيت تر منځ ټينګې اړيکې دي؛ نو چېرې چې عقيده او دين وي هرومرو به يو مرجعيت لري؛ څکه په يو بل پورې تړاو لري. د دې لپاره چې پر مرجعيت پوره پوه شو بايد پر دين او عقيده بحث وکړو؛ څکه بې له بله پر يوه پوهېدل ستونزمن دي.

**د دين او عقيدې مانا:**

دين او عقيده د افکارو، قواعدو، آرونو، ضوابطو، وزليو او ارزښتونو يوه سره نښتې، همغږې او د يو بل پوره کوونکي ټولګه ده، چې له هستۍ يو ټوليز ليد انځوروي (څنګه چې دی يا څنګه چې بايد وي) که ليد سم وي يا ناسم، پراخ وي يا تنګ، رسا وي يا نارسا.

دين او عقيده، يوه ټاکلې ډله څانته راکاږي او ايمان پرې راوړي، چې خپلې غوښتنې او موخو ته ورسېدل د دې دين په کڅو سنجوي.

په پايله کې، دين او عقيده يې د چارو واګې په لاس کې نيسي، لار ورښيي او په ژوند کې يې د يوې قانوني او مشروع سرچينې په توګه مطرح کېږي و د ټولو دنېکمرغۍ سرچينه ګرځي.

طبيعي ده، چې پر دې مانا او مفهوم هره عقيده ادعا لري، چې دخپلو لارويانو د ژوند په سياست واګې لري او وسمنه ده، چې د ستونزو هواري ته يې مناسبې لارې چارې راوړاندې کړي او د ړون سباوون وړاندوينه ورته وکړي. او هم مدعي ده، چې د ټولو د نېکمرغه کېدو لپاره وزلې تامين کړي.

دا عقيده تل د خپلو لارويانو پر روحيه اغيز شيندي او ارادي يې داسې په حرکت کې راولي، چې دا عقيده په يو سياسي دود (چې چمتو ده، واک ته ورسي او د ټولنې د عقيدتي ارمانونو له مخې مشري وکړی) ومني.

څکه يو سياسي دود د يوې سياسې برنامې په څېر دی، چې دا عقيده يې را وړاندې کوي او دا د دې دين د فکرې او فلسفي بريا په توګه ده چې ټول تر ازمېښت لاندې ونيسي. په دې ازمېښت کې موخې او د موخو د تطبيق لپاره وزلې هم رانغاړلېږي او په عمل کې دا ټولې په دې پورې ارتباط نيسي چې واک او قدرت درسره وي، چې د ا برنامې له فکري او قانوني پړاوه د عمل پر پړاو واړوې. نو څکه ويلای شو چې ازاده پانګوالي او د مارکسېزم کمونېزم يو ډول دين او عقيده ده.

**دوه ډوله عقيدې**

بشريت تر اوسه دوه ډوله عقيدې پېژندلي دي:

الف: الهي عقيدې- چې الهي څېزونه دي.

ب: قرار دادي عقيدې- چې د يو يا څو تنو فکري ځوښ ده.

يا په بله وينا شوني ده، چې چا قرار دادي عقيده له څو تنو اخستې وي او يا يوې ډلې رامنځ ته کړې وي.

**د عقيدې پيدا کول او د پيدا کېدو وزلې يې:**

که څوک د دې موضوع په عنوان کې ځيرنه وکړي؛ نو متوجه کېږي چې انسان وسمن دی چې پر هې ښې يا بدې عقيدې پوه شي خو انسان د سمې عقيدې له اختراع او رامنځ ته کولو بې وسې دی او انسان بالطبع او د مزاج له مخې د دې چارو وړتيا نه لري.

بلکې په جرأت ويلای شو: که ټول بشري وګړي په يو ځای کې راټول شي؛ نو سم او يقيني دين جوړولای نه شي (که څه هم په يوه ځای کې د ګرد بشر راټولول ناشوني دي)

نو ځکه د سمې عقيدې رامنځ ته کول له بشري وسې او استعداد پورته يو چار دی؛ ځکه دغسې يو څيز ايجابوي چې يو تن د بشريت په تېرو او بې شمېره تجربو پوره احاطه ولري او دغسې يو چار ناشونی دی. اصولاً د يوې سمې عقيدې د رامنځ ته کولو لپاره لازم دي، چې فطرت، طبيعت، اړتياوې، انګېزې او تمايلات وپېژندل شي او پر دې سربېره د عقيدې رامنځ ته کوونکی بايد لا راتلونکې يقيني پېژنه ولري؛ ځکه دا راتلونکی ده، چې د دې عقيدې پر بريا يا ماتې به شاهده وي، او په پای کې له انسانه پر راتاوې نړی هم پوره خبروي چې هيڅوک د دې ډول شناخت او پوهېدنې مدعي نه دی.

که بشر کومه عقيده هم رامنځ ته کړي، ژر يا وروسته په ډېر لږ زيان او سبب ماته خوري او له منځه ځي؛ نو ځکه انسان د عقيدې د رامنځ ته کولو وړتيا نه لري. يوازې الهي عقيده ده، چې واکمنی ته تلپاتې او دايمي بنسټ دی، چې خدای رامنځ ته کړې، چې هغه هم د اسلام دين دی؛ چې د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله د دولت بنسټ و،

**د اسلامي عقيدې امتيازات**

د اسلام دين يو بشپړ، هر اړخيز او وروستی الهي دين دی، چې خورا ځانګړنې او امتيازات لري، چې دوو ته يې اشاره کوو:

۱: د عمل په ډګر کې: اسلام یعنې په دنیوي او اخروي چارو کې پوره خدای ته غاړه ایښوونه ده، داسې چې په عبادي، سیاسي، اقتصادي او نورو اړخونو کې د وګړي، ټولنې او دولت چلن د الهي اوامرو او نواهیو له مخې وي او د اسلام په چوکاټ کې او د شرعي موخو د پلي کولو لپاره ورباندې عمل وشي. او د دین په کچو له پلي کولو مطلب دا دی، چې د انسان حرکت د شرعي فکر له مخې او په شرعي نیت او هوډ تر سره شي.
۲: په فکري ډګر کې: اسلامي عقیده د قواعدو، احکامو، اوامر او نواهیو، سریزو، عمومي او تفصیلي معلومات یولګه ده، چې خدای تعالی پر خپل پیغمبر رالیږلي. او پیغمبر صلی الله علیه و آله هم د بلنې په ترخ کې او هم د دولت تر جوړېدو وروسته یې بیان کړي دي او په خپل رسالت او هغه دولت کې یې پلي کړي، چې مشري یې ورتر غاړې وه نو ځکه په دین کې هغه ځیزونه رانغاړلیږي، چې خدای نازل کړي وي او یا څه چې د پیغمبر صلی الله علیه و آله په ویناوو، کړنو او تاییداتو کې ښکاره شوي دي. او دا دین په خپل جامعیت او هر اړخیز والي د دې واقعیت ښودونکی دی چې د ژوند منشأ څه ده؟ ولې ژوند پیدا شوی دی، څه وخت او څنګه پای مومي او د نړۍ راتلونکې څنګه ده؟
دا عقیده د موجوداتو خپلمنځي اړیکې، او همدا راز د انسان له پالونکي، نړۍ او هغو موجوداتو سره چې د ژوندانه لپاره اړین دي او د سوکالی لپاره پیدا شوي اړیکي تنظیموي. او همدغسې څرګندوي، چې د ژوندي مخلوق ژوند څنګه پای ته رسي. دین مو د یو بل ژوند له شتونه خبروي، چې په دې نړۍ کې د کړنو پایله ده او راته وایي چې بنیادمان به د خپلو کړنو پایلې ویني: نېکچاری بدله مومي او بدچاري ته سزا ورکول کیږي. دې دین بشري تاریخ سم او روښانه ثبت کړی او تجربې یې داسې حفظ کړي لکه چې په یوه فلم کې، غږ، انځور، حرکت، ظاهر او باطن یې ګورې.
اسلام د وګړي لپاره وګړیز قوانین، ټولنې ته ټولنیز قوانین او دولت ته دولتي او سیاسي قوانین لري. د هر یو ژوند یې جلا تنظیم کړی او یو له بل سره اړیکې او له پالونکي سره یې اړیکې پوره بیان کړې دي.
اسلام یو هدفمن دین دي، په دې مانا چې خپلې موخې یې ټاکلي دي او هره یوه لارښوونه یې یوه موخه لري، چې دا لارښوونه ورته رامنځ ته شوې، وګړي، ټولنې، رژیم او بشر ته موخې لري او په ټول کې دا موخې په یوه ځای کې راټولې شوي، چې هماغه د اسلام ټولیز هدف دی.

دا موخې داسې ټاکل شوي، چې د وګړي په وس کې دي او همدا راز د ټولنې، دولت او بشر وس هم په پام کې نیسي. د اسلام دین د موخو په ټاکنه بسیا نه ده کړې؛ بلکې موخو ته د رسېدو لپاره یې وزلې هم ټاکلي، چې هر ډول ستونزې او نیمګړتیاوې له منځه وړي.

**یقیني انځور:**

اسلام یو دین دی، چې د یقین له مخې یو بشپړ انځور راوړاندې کوي. دا یقیني انځور په بشپړ توګه موخې، عمومي او خصوصي وزلې، د وګړیز، ډله ییز، ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او دولتي ژوند ټول اړخونه رانغاړي.

دا یقیني انځور، د واقعیاتو په چوکاټ کې د شته او راتلونکې وضعیت لپاره یو دقیقه او مناسبه طرح ده، چې د هیلو په کړۍ کې دا رانغښتی انځور به پر واقعیت بدل شي، داسې چې دا طرحې او نقشې به ګام پر ګام له لنډې لارې او په ډېر لږ ربړ ګاللو خپلې شرعي موخې ته ورسي. په دې بنه کې دین لاربنود، قانوني سرچینه او د یو فکري جوړښت په څېر استقرار مومي.

له دین سره مینه (چې پر یقین ولاړ دی) عقیده ښه ټینګوي، حال دا چې قرار دادې ګروهې په ګومان ولاړې دي او پای کې ژر یا وروسته له منځه ځي.

**د خدای حقوقي نظام**

خدای تعالی چې پر خپل پېغمبر صلی الله علیه و آله کوم عمومي او تفصیلي معلومات رانازل کړي او پېغمبر د خپلې بلنې او دولت په ترخ کې خلکو ته تشریح او بیان کړي دا ټول د خدای تعالی حقوقي نظام جوړوي چې ټولو زمانو ته نافذ او صالح قانون دی او د پېغمبر تر وفات وروسته شرعي مرجع د دې حقوقي نظام څرګندونکې او بیانوونکې ده.

## څوک مرجع ټاکي؟

مخکې مو وویل چې په ټولیز ډول هره الهي عقیده باید د اړتیا له مخې یوه شرعي مرجع ولري، چې پابندي پرې ولري او یو د بل مکمل او پوره کوونکي وي، محاله ده چې الهي دین بې مرجع وي.
دا مرجع باید په دین کې تر ټولو پوه، څیرک، مخلص، غوره او شرعي مرجعیت ته وړ یو تن وي، چې پوهېدنې یې پرېکنده او یقیني وي نه د فرض او گومان له مخې.
د شرعي مرجع په باب چې کومې ځانگړنې وویل شوې، له هغو چارو دي، چې په وگړیو کې پټې دي او په یقین چې یوازې خدای پرې خبر دی؛ ځکه یوازې خدای د وگړیو له دننه خبر دی؛ نو ځکه یوازې خدای دی چې شرعي مرجع ټاکلای او منصوبولای شي او دا چار یې پر ذمه دی او دا یو حقیقت او واقعیت دی چې پوه انسان یې په اړه بحث نه کوي او مني یې.
کومې ځانگړنې چې وویل شوې، دا ټولې په الهي پېغمبرانو کې وې او خدای د پېغمبرانو په ټاکنه کې د وگړیو نیوکو ته اهمیت نه دی ورکړی، چې ویل یې:
زخرف ۳۱ آیت: ((وَقَالُوا لَوْلاَ نُزِّلَ هَذَا الْقُرْآنُ عَلَى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ))
زخرف ۵۲ آیت: ((أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِّنْ هَذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلاَ يَكَادُ يُبِينُ))
پر الهي حکم دا نیوکې د حدس او گومان له مخې وې، حال دا چې خدای د یقین له مخې پېغمبران او شرعي مراجع ټاکي او لکه چې وویل شو پېغمبران په هره زمانه کې ډېر پوه، څیرک، مخلص او د الهي عقیدې تشریح ته غوره وگړي وو او د اسلام د بېړۍ ماڼوگان او د مسلمانانو مشران او پالندویان وو.
لنډیز: یوازې خدای دی، چې دیني مرجع ټاکلای شي [چې د تاریخ په اوږدو کې د الهي گروهو شرح کوونکي وي] او یوازې هغه د وگړیو له دننه باخبر دی او یوازې هغه پوهېږي، چې څوک د عقایدو د څرگندولو وړتیا لري.
تر اوسه او د تاریخ په اوږدو کې بیخي پېښ شوي نه دي، چې د شرعي مراجعو ټاکنه د خلکو ځاني غوښتنو ته پرېښوول شوي وي.

### د شرعي مرجع مهمې دندې

شک نشته چې عزتمن پېغمبران شرعي مراجع وو، چې خدای غوره کړي وو او پخپله یې دا ټاکنې اعلان کړې وې؛ خو پوښتنه ده، چې مهمې دندې یې څه وې؟ په ځواب کې وایو، چې دندې یې دا وې:

۱-بیان او څرګندونه: دا د ټولو پیغمبرانو خورا مهمه دنده ده، چې د الهي لارښوونو څرګندوونکي وي.
د هرې مرجع ستونزمن چار، په نظري او عملي اړخونو کې د الهي عقیدې پوره څرګندونه ده؛ ځکه شونې ده، چې په یې بلنې پسې دولت جوړ شي لکه چې د جناب نبي کریم په بلنې پسې چې دولت جوړ شو او هم شونې ده چې د بلنې په پایله کې کوم دولت رامنځ ته نه شي لکه د ډېری پیغمبرانو بلنه.
نو ځکه یوه [شرعي] مرجع له خدایه الهي لارښوونې تر لاسه کوي، په ځیر او دقت یې ضبطوي او بې له څه کمی او زیاتی یې خلکو ته تشریح کوي او په ټولنه کې په تدریج پلې کیږي، تر دې چې بیان او ابلاغ له نظري او عملي پلوه بشپړ شي.
نو ځکه له نظري او عملي پلوه د دین بیان او ابلاغ یو پوره ابلاغ دی او پیغمبران هغه کسان دي، چې شرعي بیان له واقعیاتو سره تطبیقوي او همدا پیغمبران ټینګار کوي او اعلانوي، چې په دې پېښه یا بلې هرې پېښې کې د خدای موخه عملي شوې ده.

**د شرعي کړۍ ټاکنه:**

د شرعي کړۍ ټاکنه او د بیان مشروعیت د هر پیغمبر دنده ده، چې په خپلو وختونو کې یې په لاندې توګه تر سره کړې ده:
الف: الهي عقیده د شریعت او مشروعیت د کړۍ مرکز دی او دا هغه احکام دي، چې خدای پر مرجع نازل کړي دي؛ که له لفظ او مانا سره وي لکه تورات، انجیل او قرآن او یا یوازې ماناوي لکه قدسي حدیث.
ب: په نظري او عملي اړخونو کې د الهي دین بیان د مرجع (پیغمبر) پر غاړه دی.
ج: د بیان له مرجع سره د عقیدې همغږي؛ ځکه د دواړو تر منځ جلا والی سخت دی او «الهي عقیده» او د «مرجع بیان» د یوې سکې دوه مخونه دي؛ ځکه بې بیانه د عقیدې پوهېدنه سخته ده او همدا راز که د عقیدې ارکانو ته مراجعه ونه کړې؛ نو د ټول بیان پوهېدل هم ستونزمن چار دی.
نو ځکه څه چې خدای نازل کړي د هدایت او ژغورنې بنسټ دی او [د پیغمبر] بیان دې بنسټ ته در ونوتو ورونه دي.

**۳- د لارویانو پالندوینه:**
د عقیدې د لارویانو مشري د مرجع پیغمبر له خورا مهمو چارو ده. پیغمبر د الهي احکامو له مخې د خپلو لارویانو چارې تنظیموي.
حضرت محمد صلی الله علیه و آله په خپل وخت کې، دیني مرجع او د خپلو لارویانو مشر و؛ نوځکه د عقل او شرع له مخې د مرجع ولایت او مشري، هم دیني ده او هم زماني. حضرت پخپله د الهي بلنې مشري وکړه او د دولت ریاست ورتر غاړې و، او قرآن پرې نازل شو او په ټولنه کې د قرآن د احکامو د شرح، بیان او پلي کولو ذمه واري ور پرغاړه وه.

**۴- د امت د بې لاریتوب مخنیوی:**
د مرجع پیغمبر د حضور په زمانه کې، د هدایت او ژغورنې دوه بنسټیز ارکان ښکاره او ټینګېږي او بې لارېتوب پټېږي، او هغه دوه ارکان دا دي:
الف- عقیدوي حقوقي رکن؛ یعنې د الهي عقیدې د احکامو او قوانینو لاروي [د اسلام حقوقي نظام] او د مرجع د شرح او بیان لاروي.
ب- شخصي رکن، او دا مرجع ولایت او مشري ده؛ ځکه پیغمبر د خپلو لارویانو د مشرۍ او روزنې چارې پر غاړه لري او الهي عقیده یې لکه چې څنګه له خدایه موندلې پر هغوی پلې کوي او د دې دوو ارکانو (عقیده او مرجع) یووالی د هدایت او شریعت د غوراوی ضامن دی او په عمل کې چې هر رکن ته هر ډول خنډ او خلل رامخې ته شي؛ نو پایله یې بې لاري ده ځکه شخصي رکن هم لکه عقیدوي رکن دی او موضوع یې یوه ده.
نو ځکه ناشونې ده، چې څوک پر الهي دین ایمان ولري؛ خو د حضرت محمد صلی الله علیه و آله ولایت او پالندوینه ونه مني او ورشا کړي؛ ځکه ولایت له عقیدې نه بېلېږي او چې څوک یې د جلا والي لپاره هڅه کوي؛ نو د بې لارۍ لامل یې دی.

**۵- د ژغورنې بېړۍ:**
مرجع پیغمبر، د ژغورنې بېړۍ ده، چې څوک د ژغورنې په بېړۍ کې سپور شي؛ نو ژغورل کېږي او چې ډډه وکړي او سپور نه شي او یا بې د ژغورنې له بېړۍ په بله کې سپور شي؛ نو هرومرو ډوبېږي.

**٦- مرجع پېغمبر د گناهونو ښنې ته یو (وزله او) ور دی:**

چې څوک په دې وره ننوځي، خدای یې ښښي او چې له ننوتو ډډه وکړي د خپلو گناهونو پیتې به پر اوږو وړي.

**٧- مرجع پېغمبر د خپلو لارویانو مشري کوي:**

چې څوک یې لاروی شي او اطاعت یې وکړي؛ نو لکه چې د خدای اطاعت یې کړی؛ ځکه د پېغمبر اطاعت، د خدای اطاعت دی او د خدای اطاعت ژغورنه ده او چې څوک له خدایه سرغړونه وکړي او بې له خدایه د بل لاروي وکړي؛ نو گناهکار دی او چې څوک گناهکار وي، په ښکاره بې لارې کې دی.

**٨- مرجع پېغمبر مؤمن امت ته امان او د اختلاف خنډ دی:**

که امت له مرجع پېغمبر څنې لاروي وکړي نو دا چې په ډاډمنه لار یې قدم ایښی؛ نو د امان او امنیت لار یې وهلې او امت داسې لار وهي چې له هر پلوه ډاډمنه ده او هیڅوک پکې نه ښوییږي او نه راپرځېږي. د پېغمبر په غیابو کې په امت کې اختلافات راځرگندېږي او امنیت له منځه ځي، د خلکو حقوق لتاړېږي او خلک په هر غږ پسې ځي او د پېښو د باد پّ لگېدو، له نېغې لارې کږېږي؛ نو ځکه امت ته یوه مرجع اړینه ده، چې د دین پر قواعدو ښه پوه وي او خلک له اختلافه بچ کړي.

٩- مرجع خپلو لارویانو ته یو ارزښتمن چورلیز دی، چې ځانونه ورپورې ونښلوي، چې له بې لارۍ بچ پاتې شي.

١٠- مرجع په پوهه، پرهیز کارۍ او ځان ساتنه او د احکامو په پابندۍ او د خدای پر لور یون کې خپل امت ته یوه بېلگه ده.

١١- مرجع پېغمبر هڅې یو ځای ته راټولوي او د مؤمنانو استعدادونه همغږي کوي چې ټول خلک په ژغورنه او هدایت کې راونغاړل شي.

## مرجعيت د پېغمبر پر ژوندون

د خدای اطاعت او بندګي، د هغه د اوامرو او نواهیو په لاروی کې انځورېږي. هغه چې د خدای د اوامرو او نواهیو روح او حقیقت سم او په ښه توګه پېژني جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله دی؛ نو د رسول اطاعت، په عمل کې د خدای اطاعت دی، او له رسوله مخالفت د خدای مخالفت دی، په قرآن کریم کې دا موضوع نهه ځل راغلې ده. ځکه رسول الله صلی الله علیه و آله د دین پالندوی دی؛ ځکه د دین په ټولو رازونو او ریزه کاریو پوه دی، د دین احکام تخصیصولای شي او هغه عبارات چې څو ماناوې لري مطلوبه مانا یې څرګندولای شي.

نو ځکه پېغمبر د په خپله زمانه کې، مرجع ده او مرجعیت یوازې په حضرت پورې ځانګړی دی؛ ځکه خدای له ګناه ساتلی، پاکلمنی کړی او د همدې موخې لپاره یې ټاکلی دی. د هیچا له وسې پوره نه ده چې د پېغمبر صلی الله علیه و آله په څېر پر اوامرو او نواهیو پوه شي؛ ځکه د ځانګړو ځانګړو خاوند دی او لازم دي، چې تر ټولو وګړیو خورا پوه او اوچت وي، څو لارویان یې ورته مرجعه وکړي. نو د نبوت په زمانه کې یوازې پخپله پېغمبر مرجع دی او هغه دی چې اسلام تشریح کوي او د اجماع له مخې د مسلمانانو مشري یې پر ذمه ده او څوک هم له دې نظر سره مخالف نه دی؛ ځکه دا یو عقلي او ایماني حقیقت دی.

## تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته مرجعیت

په حقیقت کې د پېغمبر صلی الله علیه و آله تر وفات مخکې، د اسلام دین بشپړ او نعمت تمام شوی و؛ دین په خلکو کې دود شوی او احکامو د خلکو په زړونو کې ځان نیولی و؛ اسلامي دولت جوړ شو او حضرت یې پخپله لس کاله مشري کوله؛ خو د هر دین په څېر د اسلام طبیعت، پراخ احکام یې (چې ټول اړخونه رانغاړي) او هم پر مسلمانانو چې مهمې دندې اېښوول شوي (چې د کفر د کړی راتنګول او د بشر لارښوونه وه) دا ایجابوی، چې تر پېغمبر وروسته دې یو مرجع وي. دا موضوع دومره واضح ده، چې دلیل او برهان ته اړتیا نشته، البته که له پټو سترګو تلو لاس واخستل شي او یوازې حق ته غاړه کېدو او بیا هم د ډېری خلکو دا طبیعت نه وي، چې په بریالي پسې ولاړ شي. ځینې او په تېره عربي دیني ګوندونه به ووایي: «(ستاسې د مانا په پامنیوي) اسلامي عالمان د امت مرجع دي او خلیفه د مراجعو مرجع دی».

په ځواب کې وایم: لومړۍ خبره مو عملي نه ده؛ ځکه که د فرض له مخې ټول عالمان په یوه ځای کې راټول شوي او پر دوو، درېیو یا څو ډلو وویشل شول او هرې ډلې ځانته د شرعي دلیل په ظاهره استناد وکړ او پر خپلې پوهېدنې او فقه یې ټینګار کاوه؛ نو پر داسې مهال تکلیف څه دی او څه باید وکړو؟ او په کومې یوې ډلې پسې ولاړ شو او په کومې نظریې باید عمل وکړو؟

دیني عربي ډلې به ووایي: «د زماني د واکمن چې هره رایه خوښه شوه، عمل به پرې وکړي» دا خبره په دې یوه منښته وه، چې مرجع په واقع کې هماغه واکمن دی او یا له دې امله چې د پیغمبر ځایناستی دی، د مرجعیت وظیفه اجرا کوي، خو تاسې ښه پوهېږئ کوم خلفا چې خلافت ته رسېدلي ځینې یې د حضرت ابوبکر او حضرت علي رضی الله عنهما په څېر پرهیز کاران وو او ځینې اصلاً د تقوی وړ نه و لکه جناب امیر معاویه بن ابوسفیان، زوی یې یزید او مروان حکم.

ځینو خلفاوو له شرعي لارو حکومت تر لاسه کړی او ځینو دا چې برلاس او غالب شول، خلکو یې اطاعت وکړ او د اړتیا له مخې یې ومنل.

[ټول پوهېږو چې] مروان نه عالم و او نه یې دیوه ښه واکمن وړتیا درلوده.

تر پیغمبر صلی الله علیه و آله وروسته مرجع ته اړتیا

مخکې مو ولیدل چې په مطلق ډول او د اړتیا له مخې هر پیغمبر مرجع ده او خدای پرې دندې او مکلفیتونه ور ایښي دي.

د ټولو پیغمبرانو ښاغلی او وروستی یې حضرت محمد صلی الله علیه و آله دی. حضرت د خدای پر لور د بلنې مشري وکړه او پایله یې هم درلوده. خدای اعلان کړل، چې دین یې مسلمانانو ته بشپړ او نعمت یې ورتمام کړی دی او پیغمبر ته اختیار ورکړای شو چې په نړۍ کې پاتېږي او یا آخرت او د خدای د لورنې څنګ غوره کوي، او جناب نبي کریم آخرت غوره کړ او البته ناڅاپه یې له نړۍ سترګې پټې نه کړې؛ بلکې ناروغ او بیا وفات شو. او تر ځان وروسته یې یو تلپاتې دین او بلنه پرېښووه، هغه دین چې نړۍ پرې ویاړي، په مطلق ډول دین یې د هر څیز څرګندوونکی دی:

نحل ۸۹ آیت: ((وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَى هَـؤُلاء وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ))

تر پیغمبر وروسته څوک مرجع ده؟ څوک به هغه دندې تر سره کوي، چې پیغمبر پخپله تر سره کولې؟ څوک به خلکو ته الهي احکام څرګندوي؟ څوک به شرعي کړۍ ټاکي او څوک د امت پالندوینې ته وړ وي؟ د ملت د ژغورنې بېړۍ څوک ده؟ څوک د لورنې او ورکړې وړ

دی؟ څوک د دې امت نېره امان دی؟ څوک د امت د ثقل مرکز دی؟ څوک تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته خورا ښه بېلگه ده؟ هغه مؤمنان چې نړیوال له تپوتیارو ژغوري؛ نو د کاروان مشري به د چا وي؟

دا پوښتنې هرومرو ځواب غواړي:

که مسلمانان ووایي: پېغمبر تر ځان وروسته مرجع ټاکلې نه ده او نه یې څوک ټاکلی، چې تر هغه وروسته یې پر دندو لگیا شي. د عقایدو شرح او د شرعیت او مشروعیت د برید ټاکلو ته یې کوم تن ټاکلی نه دی.

امت ته یې پالندوی ټاکلی نه دی او څوک یې د امت رکن ځایناستی او خلافت ته ټاکلی نه دی.

بېلگه یې ټاکلې نه ده، د امت مرکزیت یې مشخص کړی نه دی او د انسانانو د ازادۍ لپاره یې بولندوی ټاکلی نه دی.

[هو] که مسلمانان داسې خبرې وکړي؛ نو دا خبرې د دین د بشپړتیا او د نعمت له تمامېدو سره په ټکر کې دي؛ ځکه د دین بشپړتیا او د نعمت تمامېدل د دین له آرونو څنې دي او محال ده، چې الهي عقیده یې نالیدلي وگڼي او که مسلمانان پر خپلې خبرې ټینگ ودرېږي؛ نو پام به یې شي چې الهي عقیدې یې خبره ور رد کړی او د هغوی له ټینگار سره یې مبارزه کړې او دا خبره یې نیمگړی گڼلی او دا ټینگار یې له عقلي منطق او د ژوند له ارکانو او د الهي احکامو له قواعدو سره په ټکر کې بللې دی.

۴- تر پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وروسته د «مرجعیت» په اړه د مسلمانانو دریځ د پېغمبر صلی الله علیه و آله تر وفات وروسته، مسلمانان د مرجعیت په اړه په دوو ډلو وویشل شول او هر یو ځان حق بولي.

۱-تاریخ پالي (تاریخ گرایان): دوی هغه کسان وو، چې څه د اسلام په سیاسي تاریخ په تېره د راشدینو خلفاوو په زمانه کې تیر شوي، له هره پلوه یې شرعي بولي، دا ډله «اهل سنت» نومېږي. د «تسنن» او «اهل سنت» اصطلاح د امویانو په تېره د «جناب امیر معاویه» په عصر کې رامنځ ته شوې او بنه یې موندلې ده. هغه مهال چې «وزر» پر «قانون او شرع» برلاس شو او ځواکمن چارواکي شول؛ نو ډېری خلکو ورته غاړه کېښووه؛ له همدی امله هغه کال، د «جماعت کال» ونو مول شو او هغوی چې زورورو ته غاړه کېښووه په «اهل جماعت» یاد کړای شول او دولت په گوند او پلویانو کې وشمېرل شول. که څه هم دا وگړي په ځینو برخو کې د دولت له دریځونو سره مخالف وو؛ خو په ټولیزه توگه د دولت ملاتړي وو، ځکه عمومي ارزاق او د خلکو د خوړو ځېزونه له دولت سره وو او یوازې خپلو پلویانو ته یې ورکول او مخالفین یې

په تنګسه او اقتصادي محاصره کې راګېرول. بلخوا دې شمېر مسلمانانو پټېله، چې دولت د مسلمينو د يووالي رمز دی.
۲- شرع ګرايان (شرع پالي) يا د شرعيت پلويان: دوی هغه کسان وو، چې د اسلام د سياسي تاريخ له بهير سره يې مخالفت کړی او نامشروع يې ګڼلی، او مخالفت يې د شرع له قوانينو ځنې د تاريخپوهانو ځومره وتنې په اړه سخت يا کمزوری و.
له همدې امله د امويانو له عصر سره په پرتله، بايد د راشدينو خلفاوو زمانه يو طلايي وخت وګڼو؛ بلکې دا دواړه زمانې يو له بل سره پرتله کولای نه شو. بلخوا د عباسيانو زمانه تر امويانو خورا بدتره وه.
دا شمېر مسلمانان پر دې باور وو، چې الهي دين د پېغمبر اکرم تر وفات وروسته مرجع ټاکلې ده او خدای تعالی دا مهم چار خوشې پرېښی نه؛ بلکې خلکو ته يې مرجعيت ټاکلی او د حکومت او مرجعيت د يووالي صلاحيت يې ورسپارلی دی. او په حقيقت کې تر پېغمبر اکرم وروسته او شرعي ټاکلې مرجع علي کرم الله وجهه دی.
او د اسلام مبين دين د راتلونکې مرجع ټاکنه د مخکېنۍ مرجع په څرګندونې پورې اړوند کړې؛ يعنې هره مرجع دې تر ځان وروسته خپله ځايناستې مرجع وټاکي او دا شمېر مسلمانان په «شيعه و» مشهور دي.
«تشيع» د جناب نبي کريم صلی الله عليه و آله په زمانه کې رامنځ ته شوی او «شيعه» هماغه ګوند دی، چې د تاريخ په اوږدو کې د ظالمو واکمنو مخالف و او تل د واکمنو په تېره د امويانو او عباسيانو له لوري ګوښه کړای شوي ووا و له خپلو حق حقوقو بې برخې شوي دي.
ګواهي يې نه منل کېده، نو مونه يې د هغو کسانو له نوملړه لرې کېدل چې نيکي او مرسته ورسره کېده او د تاريخ په اوږدو کې واکمن پرې غوسه وو.
اوس د پېغمبر اکرم تر وفات وروسته «مرجعيت» په باب د دواړو لوريو ليدلوري تشريح کوو او بيا يې دلايل راوړو.

# څوک تر پیغمبر وروسته مرجع ده؟

**د اهل سنتو لید لوری**

پیغمبر ځايناستی او مرجع ټاکلې نه ده: اهل سنت ادعا لري، چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله خپل امت بې خلیفه او مرجع پرېښی دی او مسلمانانو ته يې امام ولي (چې د هغه ځايناستی وي او د مسلمانانو دنیوي او اخروي چارې سموي او په مادي او معنوی ستونزو کې يې لارښود او مرجع وي) ټاکلی نه دی. او داسې استدلال کوي:

څینو حضرت «عمر خطاب» رضی الله عنه، د وفات پر مهال وهڅاوه، چې تر ځان وروسته ځايناستی وټاکي، په ځواب کې يې وویل: «که څوک خپل ځايناستی کړم، هغه چې تر ما غوره و (یعنې ابوبکر (رض)) دا چار يې وکړ او که خلیفه ونه ټاکم؛ نو تر ما غوره د پیغمبر اکرم دود به مې پلی کړی وي» (۱)

بل دلیل يې دا دی، چې انګېري، پیغمبر صلی الله علیه و آله وصیت کړی نه دی، چې تر هغه وروسته څوک دې د دیني او دنیوي چارو مسوولیت او مرجعیت پرغاړه واخلي او پر دې مطلب د ام المؤمنین «عایشې» (رض) په خبره استدلال کوي چې وايي:

«پیغمبر اکرم د رحلت پر مهال د عایشې تر څنګ و او سر يې د هغې په زنګون ایښی و او که [په دې اړه يې] وصیت کړی وي، باید هغې اورېدلی وی»

له همدې امله بخاري او مسلم د عایشې (رض) په خبره استناد کړی او په باب د هر ډول وصیته منکر شوي دی که فرضاً پیغمبر اکرم کومه مرجع (د شیعه و د ګروهې له مخې) ټاکلې وي؛ نو هغه خو بیخي «علي بن ابی طالب» نه دی؛ ځکه که علي د پیغمبر ځايناستی وای، کوم دلیل نه و، چې اصحابو هغه نالیدلی ګڼلی وای او بل پر مرجعیت وټاکي او ورپسې ولاړ شي. ولې؟ ځکه هغوی عادلین او جنتیان دي او چې څوک د خلفاوو (ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضی الله عنهم) په ترتیب کې شکمن وي، په واقع کې له دولسو زرو تنو اصحابو څنې يې مخ اړولی دی. (۲)

په پای کې انګېري، چې پیغمبر اکرم دیني مرجعیت مسلمانانو ته ورپرېښی، په دې دلیل چې د پیغمبر د ځايناستي مساله په خپله په مسلمانانو پورې اړوند ده او مرجعیت هم د دولته په رئیس پورې تړلی او تابع يې دی او لاروي به يې کوي.

**د ځایناستي د نه ټاکنې مفکوره بنسټ نه لري**

اهل سنت هم دې پایلې ته رسېدلي، چې که د اسلامي امت امام د خلکو د چارو د تیظیمولو لپاه خپل ځایناستی ونه ټاکي، ټولنه به له ډېرو خطرونو سره مخ شي او د اسلام او مسلمینو خیر په دې کې دی، چې د زمانې واکمن، تر ځان وروسته خپل ځایناستی وټاکي.

په دې اړه، عبدالله بن عمر (رض) د عایشې (رض) خبرې ته ځیر شئ چې وایي:

«زویه! عمر ته مې سلام وکړه او ورته ووایه: «د محمد امت بې پالندویه مه پرېږده یو خلیفه ورته وګوماره، او تر ځان وروسته یې پر خپل حال مه پرېږده؛ ځکه پکې له راولاړېدونکې فتنې یې ډارېږم» خلیفه یې خبر کړ. (۳)

خلیفه د ام المؤمنین ویناوې حق وګڼلې او و یې منلې؛ ځکه بې مشره د یوې ټولنې پرېښوول د دې لاملېږي، چې خلک په فتنو کې وغورځېږي او خپلسری ته پرېښوول شي.

عبدالله بن عمر (رض) د پېښې اهمیت ته متوجه شو او حضرت عمر (رض) ته پر داسې مهال ورغی، چې له سخت درده تاوېده راتاوېده او و یې ویل: امیر المؤمنینه! د محمد امت ته خلیفه وګوماره؛ ځکه که ستا اوښانو والا یا شپون دې اوښان او رمه پې ستاتندویه پرېږدي؛ نو وبه یې دګې او وبه وایي؛ کوم امانت چې ورسپارل شوی و، ولې دې د خطر او منځه تګ په درشل کې پرېښود؟ نو ولې د محمد امت خپل سر ته پرېږدې؟

«فاروق» په تېرو غونډلو ځواب کړ: «که امت خپل حال ته ورپرېږدم، هغه چې تر ما غورو، دا چار یې وکړ» (۴)

او تر ځان وروسته د ځایناستي د نه ټاکنې د مفکورې نامعقولیت په «ولایتعهدی» هم جوتولای شو او هغه دا چې: تل هر خلیفه او مشر او د دولت رئیس تر ځان وروسته ځایناستی ټاکی دی، چې د مسلمانانو چارواکی شي؛ ځکه واکمن د امت امین او د ټولنې مشر دی، چې تر ژونده خپل امت څاري او تر مرګه وروسته یې هم باید ټولنه تر څارنې لاندې وي او داسې څوک پرې وګوماري، چې د ځان په څېر چارواکی وي او خلک هم پرې ډاډمن وي، لکه چې پر مخکېني مشر یې ډاډ درلود.

په اجماع او اتفاق دا کار شرعاً جایز دی، لکه چې د ابوبکر (رض) په زمانه کې، چې د عمر (رض) په اړه دا چار وشو او د حضرت عمر (رض) پر مهال دا چار شپږ تنېزې شورا ته ورپرېښوول شو. (۵)

نو ځکه د خلیفه په ټاکنه کې د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما کړنې او د اصحابو ورسره نه مخالفت او یو خوله کېدل او اجماع پرې د دې لامل شوه چې ولایت عهدي یو شرعي او قانوني چار شي او د ابن خلدون له نظره، اجماع یو شرعي سند دی.

دا چار د مسلمانانو د مصالحو او یوالي او له فتنې او ګډوډۍ څنې د ډډې کولو لپاره رامنځ ته شو، چې د ام المؤمنین عایشې په تعبیر د محمد امت بې امامه پرېښوول شي. (٦)
او د عبدالله بن عمر (رض) په تعبیر د زمانې واکمن د نورو له پرېې او تپسورۍ بچ وي. (٧)
نو ځکه (د اهل سنتو د نظر له مخې) څرګندېږي، محمد علیه السلام یوازېنې مشر دی، چې خپل ځایناستی او ولیعهد یې نه دی ټاکلی.
ابن خلدوی له دې غونډلې استنباط کړی او وایي: پېغمبر اکرم د ژوند تر وروستی شېبې پورې پر خلکو لورونه درلوده؛ خو د اسلامي دولتونو د رئیسانو او خلفاوو پر خلاف (چې ان تر مرګ وروسته د اسلامي امت په فکر کې وو) د امت د راتلونکې په فکر کې نه و او راتلونکې ته یې څه فکر ونه کړ. (٨)
لنډیز: عزتمن اصحاب تر ډېرو کړاوونو وروسته پوه شول، چې ټولنه بې مرجع پرېښوول د ټولنې له منځه وړل دی او د ځایناستي ټاکنه د مسلمانانو پر ګټه ده؛ نو ځکه یې د خلیفه او ځایناستي ټاکنه شرعي وبلله. او تر دې خورا مهم دا چې: اسلام یو اسماني شریعت دی او ټول څیزونه یې څرګند کړي دي، که په قرآن کې په لنډو راغلي وي یا په اوږدو؛ خو د خدای استازي څرګند کړي دي. او له داسې مهم چاره د «دین او شریعت» تشوالی د دین د بشپړتیا او د نعمت له تمامېدو سره اړخ نه لګوي، په تېره دا چې جناب نبي مکرم مرګ غوره کړ او تر ناروغۍ وړاندې ناروغ شو او پوهېده، چې د ناروغۍ پایله یې مړینه ده. دې ته په پامنیوي چې خدای یې په زړه کې د دې امت مینه اچولې وه او پر مسلمانانو رؤف او لورین و او د امت د راتلونکې یې خبر کړی و، ایا له عقلي پلوه دا شوني ده، چې خلکو ته خپل ځایناستي ونه ښیي او ومري؟ څنګه شونې ده، چې دغسې یو مهم چار ته یې پام کړی نه وي او په اسمانۍ ترې تېر شوی وي تر دې چې ابوبکر (رض) او عمر (رض) (سره له دې پېغمبران نه وو) دا نیمګړتیا جبران کړي؟ او یا د ام المؤمنین په څېر یوه ښځه چې له پېغمبرۍ څه برخمنه نه وه او دې فکر کې وه، چې عمر (رض) د ځایناستي ټاکنې ته وهڅوي او و وایي: «ځایناستی وټاکه او امت تر ځان وروسته سرګردان او خوشې مه پرېږده»!!
په رښتیا چې دا مطلب باورېدای نه شي او تاریخي پېښې ښیئ چې د ځایناستۍ د نه ټاکنې مفکوره د سپېڅلي شرع له لوري په ډاګه رد شوې ده.
نو ځکه، اهل سنت د دې لپاره چې پېښې شوې پېښو ته مخونه ورکړي نو ځکه اهل سنت د پېښو د مخونې لپاره پر هر څه لاس پورې کوي، لومړی یې هڅه وکړه، چې په شرعي نص پورې ونښلي؛ خو دا چې سمه شرعي څرګندونه یې ورته ونه موندله؛ نو فرض او ګومان ته یې مخه کړه او دا چې فرض او ګومان له منځه ووت، په شورا پورې ونښتل، او چې شورا یې هم

ثبوت نه کړای شوه نو د مسلمانانو په وحدت او مصلحت يې په لاسوندو پيل وکړ او په پای کې تر ډېرې لټونې وروسته دې پايلې ته ورسېدل چې خليفه بايد خپل ځايناستی په نوم معرفي کړي، چې خلک ورسره بيعت وکړي. (۹)

## د اهل سنتو په نزد تر پېغمبر وروسته مرجع

خليفه يا د اسلامي دولت رئيس چې د پېغمبر اکرم د ځايناستی مدعي دی، د امت ديني او دنيوي مرجع ده. څرنگه دغسې نه وي؛ ځکه د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله ځايناستی دی او پر څه چې جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله بوخت و؛ نو ځايناستی يې هم بايد پرې لگيا شي او د ټولنې د ديني او دنيوي گټو په هکله غور وکړي، د امت مشري واخلي او امين يې وشمېرل شي، لکه چې څنگه يې پر خپل ژوندونې ټولنه څارله تر ځان وروسته هم د ټولنې په فکر کې وي او داسې يو تن پرې وگوماري چې د ځان په څېر يې چارواکی شي او لکه چې څنگه خلکو په خپل مشر ډاډ درلود، پر ځايناستي يې هم ډاډمن وي. (۱۰)
نو ځکه خليفه بايد د پېغمبر د ځانگړو امتيازاتو اختياراتو خاوند وي او پېغمبر صلی الله عليه و آله چې د امت د مشر په توگه کوم امتيازات درلودل خليفه يې هم ولري.
د «نظام السياسي» په کتاب کې مې دې ډول امتيازات او واکونو ته جلا څېرکی ځانگړی کړی دی. (۱۱)
او په هغه کې مې د «نظام الحکم» د کتاب د ليکوال اروابناد «ظافر قاسمي» يوه خبره راخستې چې وايي: «د خليفه په اختياراتو کې ټولې دننني بهرنۍ او پوځي چارې رانغاړلېږي او د مسووليت دروند پېټی د مشر پر اوږو وي او که يو چا ته يو مسووليت ورتر غاړې کړي؛ نو نه لاملېږي چې په هغه چار کې مداخلې او نظر ښکاره کولو حق نه لري» (۱۲)
«امام ماوردي» د «الاحکام» کتاب په (۱۵ او ۱٦ مخونو او د ۱۱ مخ په يوه برخه کې) د مشرۍ ځانگړنې په گوته کړي، چې لنډيز يې د «النظام السياسي» کتاب په ۱۹۴ مخ کې راوړي دي.
ديني مرجعيت هرومرو د دولت رئيس تابع دی، ځکه د دولت رئيس د پېغمبر ځايناستی دی او پېغمبر پخپله د خلکو ديني او دنيوي مرجع وه؛ نو پېغمبر چې هر کار کاوه، ځايناستی يې هم کړای شي؛ ځکه بې له نبوت څخه نور په ټولو چارو کې د پېغمبر ځايناستی دی، خليفه ان هغه چارې کړای شي، چې (ويلي يې دي) پېغمبر نه دي کړي لکه د ځايناستی ټاکنه.

د اهل سنتو په گومان پیغمبر امت بې امامه پرېښی؛ خو ابوبکر (رض) په خپله ځیرکی او د سترو اصحابو په هڅونه، عمر (رض) خپل ځایناستی کړ. عمر (رض) هم خلافت شپږو تنو ته ورپرېښود او که وصیت ته یې ځیر شو څرگندېږي، چې په عمل کې یې حضرت عثمان (رض) ټاکلی و؛ ځکه عثمان (رض) په خولو کې لوېدلی و، چې «وار» یې دی (۱۳)

بلخوا هغه مهال حضرت طلحه (رض) هم حاضر نه و او که حضرت زبیر، طلحه او علي رضی الله عنهم یوې خوا ته وای او درې نور بلې خوا ته، بیا هم عثمان (رض) خلیفه کېده؛ ځکه د عمر (رض) وصیت د عثمان (رض) پر خلافت پای ته رسېده، په اسلامي سرچینو کې په دېرې لږې څېړنې پورته پایله تر لاسه کولای شو. ځکه «فاروق» په خپل وصیت کې ویلي و، که درې تنه یوې خوا ته او درې تنه بلې خوا ته شول؛ نوهغه خوا لومړیت لري، چې عبدالرحمان بن عوف (د حضرت عثمان زوم) پکې وي.

د امویانو په زمانه کې د زمانې خلیفه خپل ځایناستی ټاکه او د دولت رئیس خلیفه او دیني مرجع وه. د عباسیانو او عثمانیانو دورې همداسې وې. دا آر، یعنې د خلیفه د ټاکنې حق، ابوبکر (رض) او عمر (رض) رامنځ ته کړ او ورپسې خلفاوو یې پر پل پل کېښود؛ خو په دې توپیر چې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هڅه کوله، چې خپلوان په دې مقام ونه گوماري، حال دا چې تر دوی وروسته اپوټه چلن کېده. په هر حال دود داسې شو چې شته خلیفه خلکو ته تر ځان وروسته خلیفه ښووه او داسې یې ښکاره کوله چې دا دخلیفه چار دی او د اهل سنتو ډېری پوهان او له دې ځنې ابن خلدون داسې انگېرله، چې دا چار د خلیفه حق دی: خلیفه چې څنگه یې پر خپل ژوندون د ټولنې چارې څارلې لازم دي، چې تر ځان وروسته هم د خلکو په فکر کې وي» (۱۴)

**د اهل سنتو له نظره، واکمن مرجع ده:**

اهل سنت پردې باور دي، چې له خلیفه سره د دولت رئیس دی؛ نو له مرجعیت هم برخمن دی او د خلکو پر دیني چارو واکمن دی؛ نو ځکه ابوبکر (رض) او عمر (رض) په خپلو زمانو کې او عثمان (جناب امیر معاویه، یزید، مروان حکم او. . . . ) په خپلو وختونو کې د مرجعیت له مقامه برخمن وو. دا ځانگړنې او امتیازات پر «عباسیانو» او «عثمانیانو» هم تطبیقوي؛ نو دوی هر یو د خپلې زمانې مرجع و، یا یې دا دنده پخپله ورتر غاړې وه یا یې بل چا له لوري دا دنده تر سره کوله. نو ځکه په اوسنې مرجعیت کې برلاسي اوغلبه اعتبار لري نه بل څیز. کوم واکمن چې پر امت برلاس او مسلط دی، د ټولنې په ټولو د دیني او دنیوي چارو مرجع او امام دی.

ابویعلی په دې باب له امام احمد حنبل رحمة الله علیه څخه روایت راوړي، چې ښیي: «خلافت په برلاسۍ او زور رامنځ ته کېږي او بیعت ته اړتیا نه لري» بیا نو د عبدوس بن مالک العطار

روایت ته اشاره کوي چې: «که څوک د توري په زور بریالی شو او د خلکو خلیفه شو او امیرالمؤمنین ونو مول شو؛ نو څوک چې پر خدای د قیامت پر ورځ ایمان لري ورته روا نه ده چې کور ناستی شي او امام یې ونه بولي، که نېکچاری یا بدچاری وي».
د هغه امام په اړه چې پر ضد یې راپاڅېدلی، د ابوالحارث په روایت کې راغلي: «څوک چې ملک او مسلطنت غواړي، یو شمېر خلکه له ده سره ولاړوي او د یو شمېر له نورو سره، لازم دي چې ټول خلک د ځواکمن او بریالي سره ملګري شي او ملاتړ ترې وکړي، چې دا شرعي قانون شمېرل کېږي، چې دا قانونو عبدالله بن عمر (رض) د «حرې» پر ورځ (چې مدینوال ته لمونځ ورکاوه) کېښود او خلکو ته یې وویل: موږ له هغه سره یو، چې بریالی شي او خلکو هم له بریمن اطاعت وکړ» (۱۵)
ایا نه وینې چې څنګه په اسلامي سیاسي نظام کې دې چارو واقعي څېره خپله کړه!!
نو پر امت ده، چې له بریمن سره بیعت وکړي؛ بې له دې چې دین، ځانګړنې او شرعي موقعیت یې وپېژني، دا چارې د شرعي سیاستونو یوه برخه شمېرل کېږي.
لنډه خبره: د اهل سنتو له نظره بریمن واکمن، په ټولو دیني او دنیوي چارو کې د امت مرجع ده.

**په مرجعیت کې ځایناستي**

تر هغې چې واکمن ژوندی او چارواکی وي، پخپله په ټولو دیني او دنیوي چارو کې لوړه مرجع ده او مخکې تر دې چې ومري، ان د ژوند په وروستیو شېبو کې، خلکو ته تر ځان وروسته مرجع ګوماري؛ ځکه د غوراوي او ټاکنې وړتیا لري او مؤظف دی چې معرفي یې کړي، ولې نه؟ ځکه د امت مشر او امانتوال دی او لکه چې څنګه یې پر ژوندون د ټولنې په باب فکر کاوه لازم دي، چې تر خپل ژوند وروسته د امت په فکر کې وي او داسې یو تن پرې وګوماري، چې په څېر یې د چارو واګې تر لاسه کړي او ټولنه هم د یو ډاډمن چارواکي په توګه پرې ډاډمنه وي.
دا موضوع د امت په اجماع د شرعي له لارښوونو وپېژندل شوه، هغه وخت چې ابوبکر (رض) په خپله زمانه کې او د اصحابو په حضور کې عمر (رض) خپل ځایناستی وټاکه، ورسره یې ومنله او د عمر (رض) اطاعت یې پر ځان لازم وګاڼه. (۱٦)
پر دې سربېره، جناب امیر معاویه، خپل زوی یزید د پاتې اصحابو په مخ کې، خپل ځایناستی کړ، چې دا چار د ابوبکر (رض) د کړنې لاروي ده که واکمن تر ځان وروسته د امت راتلونکې مرجع وټاکي، باید امت ورسره بیعت وکړي او که مخالفت ورسره وکړي «مفسد فی الارض» ګڼل ګېږي.

شته واکمن د خپل ځایناستي په ټاکنه کې پوره صلاحیت او اختیار درلود، چې یو څیز یې هم مخه نه شوه نیوای؛ ځکه د ابن خلدون په تعبیر موجود واکمن د ډاډ وړ دی او ابوبکر (رض) په مرګوني حالت کې عمر (رض) ته خلافت تثبیت کړ، عثمان (رض) چې د وصیت لیکوال و ورته یې وویل: «که ته مې خلافت ته ټاکلې؛ نو وړتیا یې لرې» (۱۷)

تر هغه وروسته عمر (رض) په مرګوني حالت کې د مسلمانانو په فکر کې و او مساله یې له بېلا بېلو اړخونو څېړله اود داسې چا په لټه کې و، چې د خلافت وړتیا لري او ویل یې: که عبیده ژوندی وای، خلیفه کاوه مې او یا که خالد بن ولید و؛ نو خلافت ته مې ټاکه او یا که سالم د ابن حذیفه مریي ژوندی وای، خلافت مې ورسپاره. (۱۸)

مانا یې دا ده که سالم د ابن حذیفه (رض) مریي ژوندی وای، شونې وه، چې خلیفه شي، سره له دې چې سالم قریشي نه و او تبر یې په عربو کې ناپېژاندی و، په عین حال کې هغه (بخاري د روایت له مخې) په قبا جومات کې د مهاجرینو او انصارو امام جماعت و.

د یادونې وړ ده د سالم (چې تبر یې په عربو کې ناپېژاندی و) خلافت چې شونې و او څه نیوکه پرې نه وه، نو ولې د انصارو خلافت جایز او روا نه و؟ ایا په خېل کې رسول الله صلی الله علیه و آله ته نژدې نه وو؟ ایا په سقیفه کې درې تنه، په دې دلیل چې د پېغمبر خپلوان دي، ځانونه یې خلافت ته وړ نه ګڼل؟

نو ځکه د دې آر [؛ مشرتوب دې د قریشو وي] به څه پاتې شي؟

او پر کوم اساس خالد پر علي کرم الله وجهه مخکې شو، حال دا چې تر خپلې وسې وسې له اسلام سره وجنګېد او علي د اسلام په لار کې په ټولو ډګرونو کې جګړه وکړه؟

«فاروق» ته وړاندیز وشو چې خپل زوی ځایناستی کړه؛ خو ساده دلیل یې ورته وواېه: «عبدالله ان د خپلې مېرمنې له طلاقولو بېوسې دی» (۱۹)

منې چې په پای کې عمر (رض) فکر وکړ، چې خلافت علي کرم الله وجهه ته پرېږدي، خو محض چې دې پایلې ته ورسېد بې هوشي پرې راغله؟ (۲۰)

وینئ چې د اهل سنتو له نظره خلیفه د ولیعهد په ټاکنه کې بې له څه قید و شرطه مطلق اختیارات او صلاحیتونه لري!

د یادونې وړ ده، چې د ابوبکر (رض) له لوري عمر (رض) ته د خلافت ورپرېښوول او د عمر (رض) له خوا شپږ تنېزې شورا او یا عملاً یې عثمان (رض) ته ورپرېښوول. د دې لامل شو، چې د اهل سنتو له نظره د «ځایناستی» مساله مشروع وګڼل شي او بیا چې امویان چارواکي شول د خلیفه ځایناستي یو دود وګرځېد او دا دود په عباسیانو او عثمانیانو کې هم وغځېد، تر دې چې زوی یا د واکمن د کورنۍ یو غړی ولیعهد کېده. (۲۱)

په پایله کې د مسلمانانو د مصالحو د خوندیینې او خیر لپاره د ځایناستي معرفي یو شرعي چار شو. د «ام المؤمنین» خبرې ته ځیر شئ چې وايي: «خلیفه پرې وګوماره او تر ځان وروسته یې بې سرپرسته مه پرېږده».
همدا راز «ام المؤمنین» ته «فاروق» ځواب ته ځیر شئ: څوک راته امر کوي چې ځایناستی وټاکم؟ او که ام المؤمنین عمر (رض) ته امر کړی وای چې پلانی ځایناستی کړه؛ نو عمر (رض) یې کټ مټ خبره عملي کوله.

## ډله ییز مرجعیت

ابن خلدون وايي: ټول اصحاب مفتیان نه وو او د دین او شرع احکام له هر یوه نه دي اخستل شوي؛ بلکې دا چار د قرآن په قاریانو پورې ځانګړی و، چې د قرآن په ناسخ او منسوخ، محکم او متشابه او نورو دلایلو پوهېدل او له پیغمبر اکرم یې زده کړې او یا یې د مشرانو اصحابو اورېدلي وو.
دوی «قرّاء» ونو مول شول؛ یعنې هغوی چې کتاب لوستای شي؛ ځکه عربو د نالوستی کړکېچ تېر کړی و؛ نو چې چا به کتاب لوستای شو په دې نوم یادېده؛ ځکه هغه مهال په خلکو کې لوستل دود نه و او دا نوم ایښوونه له صدر اسلامه راپاتې ده. (۲۲)
د امویانو په زمانه کې، په لغوي او اصطلاحي مانا وو، د «اصحابو د عدالت نظریې» وده وکړه او په پایله کې بې له څه سریزې بې استثنا ټول اصحاب «عادل» وګڼل شول ټول جنتیان و شمېرل شوو، چې یو هم دوزخ ته نه ځي. (۲۳)
او دروغجن ګڼل یې روا نه دي. اصحاب پر دیني مراجعو واوړېدل، چې هر یو مستقل او له نورو بې نیازه او مړه خوا و، داسې چې شرعي احکام له هر یوه منل کېدل او سم وو.
نو ځکه د حضرت ابوبکر (رض) نظر او حکم شرعي و؛ ځکه لومړی درجه صحابي و او مقام یې د نورو اصحابو په څېر و او له عادلینو ګڼل کېده او همدغسې دی د عمر (رض) او نورو اصحابو نظر.
امام ابوحنیفه وايي: که د خدای په کتاب او سنتو کې کوم حکم ونه وینم، د صحابي وینا اخلم او که د موضوع په اړه یې په حکم کې اختلاف و؛ نو په خپله خوښه حکم غوره کوم او هغه بل پرېږدم. (۲۴)
مناسبه ده، چې یو ځل بیا ووایم چې د جناب نبي کریم صلی الله علیه و آله سنتو درې څانګې درلودې: «وینا، کړنې او تاییدات»؛ نو ځکه د هر صحابي سنت هم «ویناوې، کړنې او تاییدات» لري. په «اعلام الموقعین» کې د ابن قیم خبرې ته ځیر شئ چې وايي: «. . . . او صحابي وینا

يې د عمل په څېر ده». نو د صحابي وينا ټول قرآن تخصيصوي او مطلقات يې مقيدوي او دغسې يې عمل دی. وينئ لکه چې د صحابي وينا اسماني وحې ده چې باطل ور ته ننوتای نه شي (د موضوع ستونزه په دې کې ده، چې په دې قاعده کې په لغوي او اصطلاحي ماناوو هر صحابي رانغاړلېږي)؛ نو ځکه هم حضرت ابوبکر (رض) صحابي دی او هم جناب امير معاويه، مروان بن حکم او عبدالله بن ابی سرح. او لکه چې څنګه اهل سنت انګېري، دا څلور تنه مراجع او ستوري دي، چې په هر يو پسې تلل روا دي.

دخبرې نچوړ: اهل سنت ډله ييز مرجعيت لري، بې استثنا هر صحابي ځان ته خپلواکه مرجع ده، له دروغو پاکه ده او چې څه وايي حق دي؛ ځکه جنتي دی او چې څوک د دې مراجعو او يا د يوه په اړه شکمن شي، زنديق دی، چې نه ښايي خواړه او ځښل ورسره وشي او يا يې جنازه وشي.

د اصحابو د پير له پای ته رسېدو وروسته تابعين يې د مرجعيت ځای نيسي او چې ګرد سره تابعين له نړۍ ولاړل؛ نو د اهل سنتو عالمان او پوهان هغه ګوندونه يې ځای نيسي، چې رادبره کړي يې وي.

### د اهل سنتو له نظره د مراجعو د کړنو څرنګوالی

د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله تر وفات وروسته او د راشدينو خلفاوو په زمانه کې خليفه د مسلمانانو ستره مرجع وه، چې هم عادل صحابي و او هم خليفه و، خوښه يې وه چې له هر صحابي وپوښتي، رای او نظر يې مانه. حضراتو ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ډېرى وختونه د علي، ابي بن کعب، معاذ بن جبل او زيد بن ثابت (رضی الله عنهم) په څېر له قاريانو پوښتل، د دې پوښتنو او د رای په منلو کې څه باک او تېسوري نه وه؛ ځکه موخه د شرعي احکامو پېژندنه وه او بس.

او امويانو چې د اصحابو د عدالت نظريه مطرح کړه او د خلکو په اذهانو کې يې کېنوله تر دې وړاندې نه وه او د ډېری اصحابو د مرجعيت وخت ډېر لږ او ناڅيزه و، تر دې چې ويلای شو، هغوی مراجع نه وو.

دې چار د امويانو په زمانه کې هم چندان توپير ونه کړ او جناب امير معاويه [دې ته په پام سره چې صحابي او عادل و البته که د اصحابو د عدالت نظريه ومنو] د مسلمانانو ستره مرجع شوه، چې د تېرو خلفاوو په څېر يې مرجعيت وکړ له هر چا يې چې خوښه وه، شرعي احکام يې پوښتل او چې د چا نظر به يې خوښ شو هماغه يې مانه. او په حقيقت کې د اصحابو د عدالت نظريه پر ګټه شوه؛ ځکه جنتي يې کړ، د تېرو خلفاوو (ابوبکر، عمر، عثمان او علي) رضی الله

عنهم پر ځای کېناستو ته يې ورته مخونه ورکړه، سره له دې چې دا او پلار يې له ازاد کړای شويو ځنې وو او دا مخونه يې هم ورکړه چې د خليفه له صلاحيتونو او اختياراتو ګټنه وکړي. جناب امير معاويه به چې له چا پوښتل او هغوی چې خپل وړانديزونه يې وړاندې کول، نو په دې ګڼ شمېر نظرياتو کې يې دا حق درلود چې په خپله خوښه يو نظر تاييد کړي.
خو د طالب العلمانو په اړه بايد ووايو: اصحابو چې د يوې مسالې په باب بېلا بېل نظريات درلودل؛ نو دوی ازاد ول، چې کومه يې ومني. او دا حالت په تابعينو، او تر تابعينو وروسته پوهانو او په ګوندونو او ډلو کې پر خپل ځای ثابت و. او داسلامي خلافت تر زوال وروسته د اهل سنتو هر عالم، ځان او خپلو لارويانو ته خپلواکه مرجع ګڼل کېده او هره ډله په تېره عربي ګوندونه ځانته خپلواکې مراجع ګڼل کېدې او هڅه يې دا وه چې ځان حق وښيي او ټوله هڅه يې دا وه، څې واک تر لاسه کړي.

## تر پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وروسته مرجعیت د چا دی؟

**د شیعه وو نظر:**

**الف – د مرجعیت اړتیا:**

شیعه عقیده لري، چې سمه نه ده (وویل شي) چې پیغمبر امت ته مرجع او پلاندوی (ولي) ونه ټاکه؛ ځکه ولایت او مرجعیت دوه مهمې او بنسټیزې چارې دي، چې امت ترې په هیڅ وخت مړ خوا (او بې نیازه) نه و.

او د امت د بې مرجعې، پرېښوولو خبره د دین د بشپړتیا او د نعمت له تمامیت سره (چې خدای اعلان کړی) په ټکر کې ده او د قرآن مجید پر (تبیان کل شئ) برغولی ایښوول دي.

څنګه شونې ده، چې (متیازې) کول به اهمیت لري او د خدای رسول به یې خلکو ته د کولو آداب ور ښوولي وي؛ خو د امت ولایت او مرجعیت به دومره اهمیت نه درلود او ځان به یې پرې چوپ نیولی وي؟

د پیغمبر صلی الله علیه و آله له لوري د ولي او مرجع نه ټاکنه د مسلمانانو د راتلونکې په باب د پیغمبر له زړه سوي او لورنې سره اړخ نه لګوي؛ ځکه د قرآن د وینا له مخې پالونکي یې په سینه کې د لارویانو اومت مینه ور اچولې وه.

اوس باید وپوښتل شي چې څوک تر نبي صلی الله علیه و آله وروسته، دیني او دنیوي دندې یې ترسره کړې؟ څوک به قرآن تشرح او څرګندوي؟ څوک به د شرع برېدونه ټاکي؟ څوک د امت د ژغورنې بېړۍ ده؟ تر پیغمبر صلی الله علیه و آله وروسته څوک د خلکو لارښود دی؟ څوک به د امت د امنیت لامل وي؟ دا ټول ځیزونه چې وویل شول د طب، هندسې، فزیک او اتوم پوهنې په څېر فني او کار پوهیزې چارې دي.

بې له خدایه په یقیني توګه بل هیڅوک نه پوهېږي، چې څوک ویل شویو منصوبونو ته وړ دی. یوازې خدای دی چې غوره او پوه انسان پېژني او پوهېږي، چې څوک د امت د ولایت او مرجعیت چارو ته وړ دی.

د عقلي او شرعي کچو له مخې محال ده، چې خدای د خلکو د خوشحالی لپاره، پورته ځانګړنې نالیدلې وګني.

او پر دې سربېره مرجعیت د دین له اړتیاوو، او د هرې بلنې، دولت او امت له بنسټېزو وزلو څنې دی.

پر اړتیا يې غوره دليل دادی، هغوی چې د مرجعيت له آره منکر دي او هم ادعا لري، چې پېغمبر صلی الله علیه و آله مرجع نښوولې نه ده، پخپله يې لاس پورې کړ او امت ته يې ولي وټاکه او چې پخپله يې ولايت را دبره کړی د امت د سل گونو زرو بچيانو په وژنه يې زور ورته تثبيت کړ، هغه زور ور او برلاس، چې امت پر ځان راټولوي او په نشتون کې يې هر ډله هڅه کوي، چې واگې ترلاسه کړي.

**ب – مرجعيت په الهي ويناوو کې:**

خدای تعالی بشر ته قرآن مجيد د يو پېغام او الهي دين په توگه را نازل کړ او انسان ته يې د ټولو څيزونو د حرکت په اړه پرېکونې ليد ورکړ او ديني او دنيوي چارې يې ور تنظيم کړې او د اُخروي ژوند لپاره يې بنسټيزې نښې ور ښکاره کړې او دنيوي او اخروي ژوند يې يو له بل سره وتړل. دا پېغام د اسماني کتاب له اړتياوو څخه دی، چې خدای پر خپل بنده محمد صلی الله علیه و آله و سلم نازل کړی دی چې خلکو ته يې په نظري او عملي اړخونو او د بلنې او دولت په کچه ور څرگند کړي.

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله پخپله د خپل دين د بلنې او تبليغ مشري کوله او چې بلنه يې د دولت پر جوړونه پای ته ورسېده؛ نو د دولت رئيس هم شو. او د تبليغ، بلنې او دولت په پړاوونو کې يې خلکو ته د اسلام دين او ټول څيزونه پوره بيان کړل.

په گرده نړۍ کې داسې څوک نه و، چې په دې مهم چار کې د پېغمبر ځای ونيسي، او په برکتي ژوندونې يې ځايناستی شي.

خدای تعالی، محمد صلی الله علیه و آله دې چار ته وټاکه؛ ځکه د خدای په څېر بل يو کس هم وگړي او دهغې ځانگړنې سمې او ښې نه پېژني او په څېر يې هيڅوک د خلکو له دننه باخبر نه دی، نو خدای دی چې خورا پوه او وړ وگړی د اسلامي احکامو پلي کولو او د امت مشرۍ ته ښه پېژني؛ نو ځکه د مرجع او ولي ټاکنه يې ځان ته پرېښې، چې ټاکلی يې دی او بشريت ته يې معرفي کړی دی او د نبوت د ترلاسه کولو لپاره يې د هغه پر پوهې، غوراوۍ او وړتيا گواهي ورکړې ده او دې چار ته يې وړ بللی دی.

که امت، خدای ورته ټاکلې مرجع او ولي ومني او په خپله خوښه بيعت ورسره وکړي؛ نو د امت ولي او مرجع کېږي.

دا چې د اسلام دين تر قيامته دوام لري او مؤمن دولت، ايمان ته بلنه پياوړې کوي او د اسلام اصلي موخه د بشريت هدايت دی او د اسلام پېغمبر به د نورو خلکو په څېر يوه ورځ له نړۍ ولاړ شي او لکه چې مو وويل يوازې خدای د پېغمبر په اوسنيو لارويانو کې ډېر پوه او غوره

ښه پېژني، چې د امت مشري وکړي؛ نو ځکه خدای واکمن دی چې د خپل پېغمبر له وفات وروسته یو تن وټاکي. له همدې امله که امت د پېغمبر صلی الله علیه و آله ځایناستی (چې خدای ټاکلی) ومني او بیعت ورسره وکړي؛ نو هدایت مومي او که بیعت یې ونه کړه؛ نو د ولایت (سرپرستۍ) او مرجعیت ترمنځ به بېلتون رامنځ ته شي او دا دواړه منصبونه به د دوو تنو په واک کې شي او د وخت په تېرېدو به واکمن پر حکومت او مرجعیت دواړو برلاس شي او په خپل واک کې به یې ونیسي.

حسین بن علي (رض) په خپله زمانه کې د پېغمبر په نص امام او د امت سرپرست، مرجع او بېلګه و؛ خو امت په خوښه، ډار یا له ناچارۍ له یزید بن معاویه سره بیعت وکړ او یزید چارواکی شو او حسین د دیني مرجع په توګه راووت او له آره خو داسې وه چې حسین به امام، حاکم او مرجع وي او دواړه مقامه به ورسره وي؛ خو امت له یزید سره بیعت وکړ.

د ولایت (حکومت) او مرجعیت ترمنځ بېلتون راغی او یزید واقعي واکمن شو، او دا چې مرجعیت د ولایت او سرپرستۍ تابع دی او واکمن ته تر هغې واکمني خوند نه ورکوي چې مرجع یې له خپلو ځانګړنو تشه کړې نه وي او یا یې ترې خپله واخلي، او په پایله کې حکومت او مرجعیت دواړه ورسره وي او دا هماغه څیز دی چې پېښ شو. بې له وژنې د امام حسین د ځانګړنو د لرې کولو لپاره بله وزله نه وه؛ نو ځکه یزید امام شهید کړ.

شیعه عقیده لري، چې د مسلمانانو اوسني او راتلونکي حالات د مرجعیت او حکومت په یو ګوني توب پورې تړاو لري؛ یعنې مرجع باید هماغه ولي وي، چې خدای ټاکلی دی.

لنډیز: یوازې خدای امام، ولي یا مرجع ټاکي؛ ځکه د دین پر احکامو خورا پوه پېژني او پوهېږي چې څوک د اسلامي احکامو له مخې د امت مشرۍ ته وړ دی.

مخکې له دې چې پېغمبر صلی الله علیه و آله وفات شي خدای د امت مرجع او ولي وټاکه او خپل پېغمبر ته یې امر وکړ، چې دا مطلب خلکو ته اعلان کړي. نبي کریم صلی الله علیه و آله هم په حجة الوداع کې د یو لک تنو مسلمانانو په مخ کې دا اعلان وکړ او دا الهي امر یې په لس ګونو ځلو ووایه؛ خو په تاسف چې امت له بل سره بیعت وکړ او د ولایت (حکومت) او مرجعیت ترمنځ بېلتون رامنځ ته شو او حاکمانو په تدریج له اصلي مرجع څنې د ولایت او سرپرستۍ د لرې کولو په موخه ګامونه کېښوول او ولایت او مرجعیت دواړه یې په غلبه او بریا ترلاسه کړل.

**هغه مرجع چې خدای وټاکله:**

شیعه عقیده لري، چې خدای پاک، حضرت علي کرم الله وجهه د پیغمبر ځیناستی او د امت مرجع او ولي وټاکه او خپل پیغمبر ته یې امر وکړ چې دا الهي ټاکنه مسلمانانو ته اعلان کړي او حضرت په حجة الوداع کې د یو لک تنو مسلمانانو په مخ کې د خدای امر پلی کړ.

خدای وروسته یې امام حسن هم وټاکه او تر امام حسن وروسته یې امام حسین معرفي کړ او موضوع یې داسې ترتیب کړه، چې هر امام به د مخکېني امام په نص ټاکل کیږي او دا لړۍ به تر دولسم امام پورې غځیږي.

او دولسم امام حضرت مهدي عجل الله تعالی فرجه الشریف دی چې د ایران د اساسي قانون د پینځمې مادې له مخې د ایران د اسلامي جمهوري حکومت شرعي حاکم دی. د ایران د اسلامي جمهوریت اوسنی مشر د شرعي امام نایب دی، چې د امام مهدي په نیابت، د هغه دندې ترسره کوي. خدای دې پخپله امام مهدي را ښکاره کړي (ان شاء الله).

او دا یو قانون دی، چې د نبوي کورنۍ مشر، شرعي مرجع او امام وي، سره له دې، چې واکمنو په تاریخ کې خورا هڅې کړې چې نبوي کورنۍ وځپي؛ خو برکتي ځوځات یې له منځه ولاړ.

**له شیعه وو سره د اهل سنتو د دښمنۍ علت:**

شیعه خو له پیله پرحق وو؛ نو ولې اهل سنت ورسره دښمني کوي؟

دلیل یې دادی، څه چې شیعه وایي د واکمنو تغر راټولوي او د شتون لامل او فلسفه یې له منځه وړي او پرځای یې دښمنان واکمنوي.

بلخوا له واکمنو سره دولت دی او چې څه غواړي کوي یې، تبلیغاتي وزلې یې په لاس کې وي او شیعه په تاریخ کې د حکومتونو په مخالف لوري کې وه؛ نو ځکه واکمن پرې غوسه وو او تر ځارنې لاندې یې و او داسې یې انځورول چې گنې دوی شیطانان، گناهگار او له اسلامي امت بهر یوه ډله ده، او اکثریت امت هم له ناچارۍ له واکمنو سره مل وو او دا چې د تاریخ په اوږدو کې شیعه وته فرصت برابر نه شو، چې ازاد خپل نظریات مطرح کړي، چې امت یې له خپلې خولې وپیژني او دولت هم د دوې گروهې واړولې او لاسوهنې یې پکې وکړې او امت هم دا اړونې یوبل ته لاس په لاس کړې، تر دې چې کهول په کهول د شیعه و په باب کرکه پیدا شوه، د شیعه و په باب د واکمنو ادعاوو او تورونو د خلکو په زړونو کې ځای ونیو او دود شوې او ډېرې خلکو دا تورونه واقعي او سم وبلل او گومان یې وکړ، چې حقیقت لري.

**د اهل سنتو بيړه:**

اهل سنت وايي: د شيعه و خبره مه منئ؛ ځکه ددې امت قسم خوړلي دښمنان دي او د مسلمانانو له جماعته وتلي دي، موږ يې د خبرې دليل غواړو.

**د بيړې ځواب:**

شيعه عقيده لري: پر کوم کال چې زور پر حق او شرع بر لاس شو؛ نو دا کال اهل سنتو ته د جماعت کال ونوميد اهل سنتو چې خپل نوم د (تسنن) له فکره اخستی پر همدې کال راوپنځېد او دود شو.

د اهل سنتو دا يوه ناسمه انګېرنه ده، چې وايي، يوازې اهل سنت د پيغمبر سنتو ته درناوي لري او عمل پرې کوي؛ ځکه شيعه هم تر ټولو د پيغمبر د سنتو ښه مينوال او تر ټولو يې ښه پلي کوونکي دي.

که د پټو سترګو تګ پرېږدو، څرګنده به شي چې دا خبره بې دليله نه ده او زموږ د خبرې پرسموالي ډاډمنېدای شئ، که حق له موږ سره و؛ نو لاس رانه واخلئ او که پر باطلو وو، موږ له خپلې خبرې تېرېږو (باطل همېشه له منځه تلونکی دی) اوس د حقيقت عاشقانو ته خپل دلايل را وړاندې کوو:

**دوه مرجع:**

د شيعه و د نظر له مخې په اسلام کې د پيغمبر اکرم تر رحلت وروسته دوه مرجع شته:

۱ - وګړيز مرجعيت: په دې مانا چې د نبوت د اهل بيتو مشر مرجع ده او علي ددې کورنۍ لومړی مشر دی، چې د هغه وګړيز حاکميت پر وړاندې دی چې په زور واکمن شوی او اهل سنتو يې حکومت مني.

۲ - ډله ييز مرجعيت: او دا د نبي کريم د ځوځات او اهل بيتو مرجعيت دی، چې دا ستر ځوځات يې خپل ولي ګڼلی او د دين د همېشني آرونو په ساتنه کې يې مرسته کوي.

دواړه مراجع خدای ټاکلې دي:

شيعه عقيده لري، چې د نص له مخې يوازې متعال خدای دی، چې دوه مرجعې ټاکي او خپل پيغمبر ته امر کوي، چې مسلمانانو ته يې معرفي کړي او پيغمبر صلی الله عليه و آله هم په څو ځلو او بېلا بېلو ځايونو کې اعلان کړي دي.

د خدای له لوري د وګړيز مرجعيت د ټاکنې دليل:

لومړی دليل: د ولايت آيت دی، چې خدای تعالی د مائدې سورت په ۵۵ آيت کې وايي:

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ؛ ستاسي ولي او پالندوی خو يوازې خدای، د هغه پېغمبراو هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي.
دا آيت د حضرت علي په شان کې نازل شوی؛ ځکه د لمانځه په رکوع کې يې خپله گوته نېستمن ته ورکړه. د اهل سنتو ستر مفسر او عالم ثعلبي ددې آيت په تفسير کې وايي: چې رسول الله صلی الله عليه و آله وليدل، علي د لمانځه په رکوع کې خپله گوته بېوزلي ته ورکړه، په دعا يې لاسونه پورته کړل او موسی عليه السلام چې د خپل ورور هارون عليه السلام په باب کومه دعا کړې وه، هماغه دعا يې وکړه:
( خدايه! له کورنۍ مې يو راته وزير (علي) کړې او ملا مې پرې ټينگه کړې).
حضرت ابو ذر (رض) وايي: پر خدای قسم، لا د پېغمبر صلی الله عليه و آله دعا پای ته رسېدلې نه وه، چې جبرئيل پر حضرت رانازل شو او د ولايت آيت يې ورته راووړ. ټول مفسران يوه خوله دي، چې دا آيت د (علي ) په شان کې نازل شوی دی.[1]
جناب نبي مكرم صلی الله عليه و آله، علي كرم الله وجهه د خپل ځايناستي، خليفه او د خلكو مرجع په (خم غدير) ځای كې د يو لک تنو مسلمانانو په مخ كې منصوب كړ.
دا پېښه د پنجشنبې پر ورځ وشوه، چې له ورځې پينځه ساعت تېر و، . او جبرييل پر حضرت نازل شو او و يې ويل: محمده! خدای دې درباندې سلام وايي او وايي: مائده ٦٧ آيت:
يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ؛ او پېغمبره! څه چې ستا د پالونكي له لوري پرتا نازل شوي، ( ټول يې خلكو ته) ورسوه اوكه داسې ونكړې؛ نو د هغه پېغام دې ندی رسولی، خدای تا د خلكو (له احتمالي زيانونو) ساتي، هو! خدای خدای ناپېژاندو ته سمه لار نه ښيي.
او دا آيت د عذير پر ورځ پر حضرت نازل شو.[2]
پيغمبر اكرم صلی الله عليه و آله چې علي كرم الله وجهه د مسلمانانو خليفه، مرجع او خپل ځايناستی نصب اوټاكه د مائدې ۳ آيت نازل شو:

---

[1] د التفاسير (كشاف) جلالين، اسباب النزول، درالمنثور، رازي) وگورئ او هم . ابن جوزي تذكرة الخواص . ابن مغازلي مناقب . خوارزمي، مناقب . كفايت الطالب او ...

[2] د التفاسير ( درالمنثور ۲: ۲۹۸ مخ . فخر رازی ۱۲: ۵۰ مخ . شواهد التزيل ۱: ۱۸۷ مخ، اسباب النزول ۱۱۵ مخ . فتح البيان فی مقصاد القرآن .... ) وگورئ.

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا ؛ نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ او خپله لورېنه مې درته پوره کړه او اسلام مې درته ستاسې (تلپاتې) دين غوره کړ

دا آيت ټيک پر هماغه شېبه، پر ذی الحجة مياشت، د خم غدير په سيمه او هماغه ځای کې نازل شو، چې علي د اميرالمؤمنين په توگه منصوب شو.

تر دې انتصاب وروسته عمر بن خطاب (رض) اميرالمؤمنين ته ورغی او په موسکا يې ورته وويل: ( د ابو طالب زويه! مزې دې وکړې، چې زما او د هر مسلمان مولا شوې) او دا يو نه انکارېدونکی حقيقت دی.[1]

او له دې وروسته، د غدير ورځ د مسلمانانو د اختر ورځ شوه.[2]

د غدير حديث يو متواتر او پرله پسې حديث دی، چې په اړه يې ډېر کتابونه ليکل شوي دي لکه:

١ – ابن حجر طبري، کتاب الولايه.

٢ – ابو عباس احمد بن عقده ( ٣٣٣ س مړ ) کتاب الولاية.

٣ – ابوبکر جصابي، (٣٥٥ س مړ ) کتاب الولاية.

٤ – د ابن روی کتاب.

٥ – د دار قطني (٣٨٥ س مړ ) کتاب.

٦ – ابو سعد سجستاني ( ٤٧٧ س مړ ) کتاب الدرايه فی حديث الولايه.

٧ – ابوالقاسم عبيدالله حنفي ( ٣٩٠ س مړ ) کتاب دعاة الهداة الی اداء حق الموالاة.

د عذير حديث ( ١١٦ ) تنو اصحابو او (٨٤ ) تنو تابعينو روايت کړی دی.

د اهل سنتو د بېلا بېلو پوړيو او مذاهبو له دويمې پېړۍ څخه تر څوارلسمې پورې دا حديث روايت او په خپلو کتابونو کې يې ثبت کړی دی. په دې اړه د علامه اميني د الغدير کتاب ولولئ.

---

[1] ابن عساکر، دمشق تاريخ ٢: ٧٥ مخ . ابن مغازلي شافعي مناقب ١٨ مخ . خوارزمي حنفي، مناقب ٩٤ مخ . خطيب بغدادي، بغداد تاريخ ٨: ٢٩٠ مخ . حاکم حسکاني حنفي، شواهد التزيل ١: ١٥٨ مخ . غزالي، سرالعالمين ١: ١٣٢ مخ . حمويني فوائد المسلمين ١: ٢٧٧ مخ او ....

[2] بيروني، الاثار الباقيه فی القرون الخاليه ٣٣٤ مخ . ابن طلحه شافعي مطالب السؤل ١: ٤٤ مخ . ابن خلکان و فيات الاعيان ١: ٦٠ مخ . علامه امينی، العذير ١: ٢٦٧ مخ.

د خم عذیر د جریان په اړه همدومره بس دی، چې حضرت عمر (رض) حضرت علی کرم الله وجهه ته ورمخې ته شو او ددې انتصاب او د پیغمبر د ځایناستی په اړه یې ورته وویل: د ابو طالب زویه! مبارک دې شه، چې نن د هر مسلمان او مسلمانې مولا او پالندوی شوې.

**د غدیر د ورځې د روایت یوه بېلګه:**

طبراني په (المعجم الکبیر) کتاب کې د جلیل القدر صحابي حضرت حذیفه بن اسید غفاري رضی الله عنه له خولې لیکي: هغه مهال چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله د حجة الوداع له مناسکو وروسته مدینې ته رهي شو؛ نو یوې سیمې ته ورسېد او و یې ویل: تر ونو لاندې ځایونه پاک کړئ او بیا پرې خپل سامان کیدئ همداسې وشول حضرت ورغی او لمونځ یې ورکړ، بیا پاڅېد او و یې ویل:

( خلکو! لطیف او پوه خدای خبر کړی یم، چې هر پیغمبر به د خپل پخواني پیغمبر نیمایي عمر وکړي، ګومان کوم چې عمر مې پای ته رسېدو ته نژدې شوی وي، زه هم مسوول یم او تاسې هم مسوول یاست، څه وایئ؟

وویل شول: شهادت ورکوو، چې تا خپل رسالت ابلاغ کړ او په دې لار کې دې هڅه وکړه او امت ته دې نصیحت وکړ، خدای دې اجر درکړي.

بیا یې ویل: ایا ګواهي نه ورکوئ چې یوازې (الله) د لمانځنې وړ دی او محمد یې بنده او استازی دی، جنت او دوزخ حق دی، مرګ او تر مرګ وروسته ژوند حق دی، او د قیامت ورځ راتلونکې ده او څه شک پکې نشته او خدای به مړي را ژوندي کړي؟

وویل شول: هو، پر دې ټولو شاهدي ورکوو.

جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله وویل: خدایه! شاهد اوسه.

بیا یې وویل: خلکو! خدای تعالی زما مولا (پالندوی) دی او زه د مؤمنانو مولا یم او زه مؤمنانو ته تر هغوی د خپلو ځانونو ډېر وړ یم( د مؤمنانو واک له ماسره دي). د چاچې زه مولا یم دا سړی – یعنې علی رضی الله عنه – یې مولا دی. خدایه! د دوستانو یې دوست او د دښمنانو یې دښمن وسه.

بیا یې وویل: خلکو! تر تاسې ړومبی کېږم او درنه جلا کېږم او د آخرت نړۍ ته به وځغلم او تاسې به د ډنډ (کوثر) پر غاړه راته راشئ، هغه ډنډ چې د بصری او صفا ترمنځ واټن هومره پراخ دی او د اسمانو د ستوریو هومره د سپینو جامونه پکې دي، چې راته راغلئ، نو د ثقلینو (قرآن او عترت) په اړه درنه پوښتم، ووینم چې تر ما وروسته څرنګه ورسره چلېږئ.

د خدای کتاب ثقل اکبر (ستر ثقل) دی، چې یو سر یې له خدای سره او بل یې له تاسې سره دی، پر قرآن منګلولې ولګوئ او بې لارې نشئ او پر بل څه یې مه بدلوئ او پر عترت او اهل بیتو مې منګلولې ولګوئ؛ ځکه لطیف او عالم خدای خبر کړی یم، چې ددې دواړو (قرآن او عترت) پای د خدای پر لور ده، تر دې چې د کوثر ډنډ پر غاړه راته راشي.[1]

## د علي پر ولایت ټینګار:

پېغمبر صلی الله علیه و آله علي ته ویلي: ته مې په دنیا او آخرت کې ځایناستی او خلیفه یې.[2]
علی چې له جنګي غنایمو څنې کومه مینزه اخستې، حق یې ترې ډېر دي، هغه تر ما وروسته ستاسې پالندوی دی.[3]
ته تر ما وروسته د مؤمنانو ولي یې.[4]
ته راته داسې یې له هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپیر چې زما وروسته بل پېغمبر نشته.[5]

## تر پېغمبر وروسته لارښود

جناب نبي مکرم ویلي: زه ګواښنګری یم او علي لارښود دی، علي! هدایت غواړي په تا هدایت مومي.[6]

## تر پېغمبر وروسته حجت:

---

[1] الصواعق المحرقه ۲۵ مخ . مجمع الزواید ٦: ١٦٤ . شیخ سلیمان قندوزي حنفي (۳۱ مخ ...).
[2] الصواعق المحرقه ۱۲ باب، ١٦ مخ . حاکم، مستدرک ۳: ۱۰۹ مخ . صحیح البخاري: ۲: ۵۸ مخ . کنزالعمال ٦: ۱۵۲ مخ.
[3] حضرت علي او بریده اسلمي له یو لښکر سره جګړې ته ولاړل، تر بریا وروسته، علي له نیول شویو منیزو یوه منیزه ځانته جلا کړه، بریده د علي پر دې چلن د پېغمبر په مخ کې نیوکه وکړه؛ نو بیا پېغمبر ورته همدا حدیث ووایه: د علي حق ...
[4] امام احمد حنبل مسند: ٤: ٤۳۸ مخ . حاکم مستدرک ۳: ۱۱۱ مخ . نسایي خصایص او. .
[5] صحیح بخاري (۵: ۱۲۹ مخ . صحیح مسلم ۲: ۲٦۰ مخ . امام احمد حنبل مسند ۳: ۵۰ مخ . حاکم مستدرک ۳: ۱۰٤ مخ . بلاذري، النساب الاشراف ۲: ۱۰٦ مخ . حلیة الاولیاء ۷: ۱۹٤ مخ . ابن حجر اسدالغابه ۲: ۸ مخ او ....
[6] حاکم حسکاني حنفي، شواهد التزیل ۱: ۲۹۳ مخ . کفایت الطالب ۲۲۳ مخ . در المنثور تفسیر ٤: ٤۵ مخ . روح المعاني تفسیر ۱۳: ۹۷ مخ او ....

پېغمبر ويلي دي: زه او دا – يعنې علي – په قيامت کې پر امت حجت او دليل يو.[1]
بيا يې ويلي: علي زما د علم ور دی، تر ما وروسته امت ته د دين څرګندونکی دی دوستي ورسره د ايمان نښه او دښمني ورسره د نفاق نښه ده.
- ته ترما وروسته امت ته مې اختلافي ځايونه څرګندوې[2]
کوم روايات چې راوړل شول، جوتوي چې د اسلام پېغمبر تر ځان وروسته مرجع او مشر ټاکلی دی، چې امت ورته په ديني او دنيوي چارو کې مراجعه وکړي او دا وګړيزه مرجع علي بن ابوطالب و، چې ددې کتاب په څلورمه برخه د سياسي مشرۍ په وينه کې به پرې اوږده وګړېږو.

## ډله ييز مرجعيت او شيعه

شيعه، پېغمبر او اهل بيت يې غوره بېلګې ګڼي، څکه په اسلام کې غوراوی لري. د مباهلې آيت ( آل عمران: ٦١ آيت: )
فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْاْ نَدْعُ أَبْنَاءنَا وَأَبْنَاءكُمْ وَنِسَاءنَا وَنِسَاءكُمْ وَأَنفُسَنَا وأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَةَ اللّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ؛ ( د مسيح په باب ) چې وپوهېدې؛ نو (بيا) هم که څوك په دې اړه له تا سره شخړه کوي؛ نو ورته ووايه: ((راځئ چې موږ به هم خپل زامن راوبلو او تاسې هم خپل زامن، موږ به هم خپلې ښځې راوبلواو تاسې هم خپلې ښځې، موږ به پخپله راشو او تاسې هم پخپله راشئ؛ نو بيا به مباهله (او دعا) وکړو او پر دروغجنو د خدای لعنت وغواړو.))
د پورته آيت د پېغمبر، علي، فاطمې، حسن او حسين په باب نازل شوی دی.
اهل بيت د خدای پړي دي[3].
آل عمران: ١٠٣ آيت:
وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ وَاذْكُرُواْ نِعْمَتَ اللّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىَ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّهُ

---

[1] ابن مغازلي شافعي مناقب ٤٥ او ٦٧ مخونه . ذهبي الميزان ٤: ١٣٨ مخ . دمشق تاريخ د امام علي د حالاتو شرح ٢: ٢٧٣ مخ.
[2] دمشقه تاريخ ٢: ٤٨٨ مخ . مقتل الحسين ١: ٨٦ مخ او ...
[3] صحيح مسلم، کتاب الفضايل ٢: ٣٦٠ مخ او دنووي له شرح سره ( ٧: ١٢٠ مخ ) . صحيح ترمذي ٤: ٢٩٣ مخ . حاکم حسکاني شواهد التزيل ١: ١٢٠ -١٢٩ مخونه . حاکم مستدرک ٣: ١٥٠ مخ . شوکاني، فتح القدير ١: ٣٤٧ مخ.

لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ؛ او تپول د خدای پر رسئ [ ؛ قرآن، اسلام او د یووالی پر هر ډول و سېله ] ټینګې منګولې و لګوئ او مهٔ خپرېږئ. د خدای هغه(ستر) نعمت رایاد کړئ، چې تاسې د یوبل دښمنان وئ؛ خو هغه ستاسې په زړونوکې مینه واچوله او لدې امله سره ورونه شوئ او تاسې د یوې اورینې کندې پرغاړه ولاړ وئ؛ خو خدای ترې وژغورلئ، خدای تاسې ته خپل آیتونه څرګندوي، چې ګوندې سمه لار و مومئ

اهل بیت پوهان دي، چې خدای یې په اړه وایي:

انبیاء ۷ آیت:

وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلاَّ رِجَالاً نُّوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ ؛ او موږ له تا مخکې یواځې سړي (چې انسانان او د بشر له جنسه وو، د پېغمبرانو په توګه) لیږلي وو، چې وحې مو ورته کوله که نهٔ پوهېږئ (؛ نو) د اسماني کتابونو له څېړونکیو وپوښتئ.

د پېغمبر له کورنۍ سره چې کینه شوې په اړه یې خدای وایي:

نساء ۵٤ آیت:

أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ فَقَدْ آتَيْنَآ آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ؛ او یا دوی پر خلکو [؛ پېغمبر او کورنۍ یې] څکه کینه کوي، چې خدای پرې خپل فضل لورولی دی؟؛ نو په یقین موږ خو آل ابراهیم (چې یهود له همدې ټبره دي) ته (هم) کتاب او حکمت ورکړی و او هغوی[؛ دبني اسرائیلو پېغمبرانو] ته مو ستره واکمني ورکړې وه.

اهل بیت د پېغمبر خپلوان دي[1]، چې خدای یې په اړه وایي:

اسراء: ۲٦ آیت:

وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ؛ [ او خپلوانو ته دهغوی حق ورکړه او (همداراز) د مسکینانو او مسافرو (حق) ورکړه؛ او هېڅ ډول بې ځایه لګښت مه کوه.] وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُمْ بِاللّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (انفال/۴۱) ؛ او که تاسې پر الله او پرهغه څه ایمان راوړی وي، چې له حق نه د باطل د بېلوالي پر ورځ (؛ یعني) د دواړو لښکرو د مخامخېدو پرورځ [؛ د بدر د غزا ورځ ] موږ پرخپل بنده نازل کړي وو) پوه شئ که هر څه په غنیمت ونیسئ؛ نو پینځمه یې د خدای

[1] طبري تفسیر ۱۵: ۷۲مخ . سیوطي المدرالدر المنثور ٤: ۱۷۷مخ . طبري تفسیر ۱۰: ۵مخ . حاکم حسکاني، شواهد التزیل، ۱: ۳۳۸مخ.

او پیغمبر او (دهغه) د خپلوانو، پلار مړیو، مسکینانو او مسافرو لپاره ده (؛ نو دا برخه په خوښۍ سره ورکړئ ) او خدای پرهرڅه قادر دی.

**اهل بیت پاکان او سپېڅلي دي.**[1]
إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً (احزاب /۳۳) ؛ بېشکه خدای یوائې غواړي چې له تاسې"اهل البیت ؛ نبوي کورنۍ" پلیتي او گناه لرې کړي او بشپړ موسپېڅلي کړي.

**له اهل بیت سره مینه راباندې واجب شوې ده.**[2]
قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ(شوری/۲۳) ؛ زه له تاسې په دې چار (رسالت) هېڅ بدله نۀ غواړم؛ خو (زما) له خپلوانو (؛ اهل بیتو) سره مینه (هرومرو غواړم)
په لمانځه کې پر اهل بیتو (آل محمد) درود ویل واجب شوي دي.[3]
د پیغمبر صلی الله علیه و آله د نص له مخې اهل بیت ( ثقل اصغر) دي، قرآن او اهل بیت له بې لارۍ خوندي او په امان کې دي، د امت مخکښان[4] دي او د ژغورنې بېړۍ ده چې څوک د ژغورنې په بېړۍ کې سپور شي، ژغورل کېږي او چې ډډه وکړي ډوبېږي[5].
اهل بیت ددې لامل دي، چې امت په اختلاف کې له ورغورځېدو بچ کړي د اهل بیتو مخالفان په حزب الشیطان کې شمېرل کېږي.[6]
اهل بیت د امت د امنیت لامل دي.[7]
پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله ویلي: زما د امت په هر کهول کې له اهل بیتو مې عادلین (او بېلگې) شته، چې دین د بې لاریو له اړونې، د باطلانو له ادعاوو او د ناپوهانو له تفسیره خوندي

---

[1] حاکم حسکاني، شواهد التزیل ۲: ۳۳ مخ . صحیح مسلم، فضایل اهل بیت ۲: ۳٦۸ مخ.
[2] طبري تفسیر ۲۵ – ۲۵ مخ . کشاف تفسیر ۳: ٤۰۲ مخ . حاکم مستدرک ۳: ۱۷۲ مخ.
[3] رازي تفسیر ۷: ۳۹۱ مخ . حاکم مستدرک ۱: ۲٦۹ مخ . ذخایر العقبي ۱۹ مخ او ...
[4] ابن حجر، الصواعق المحرقه ٤۸ او ۲۲٦ مخونه . مجمع الزواید ۹: ۱٦۳ مخ . درا لمنثور تفسیر ۲: ٦۰ مخ.
[5] الصواعق المحرقه ۱۸٤ او ۲۳٤ مخونه . سیوطي تاریخ الخلفا . کفایة الطالب ۳۷۸.
[6] الصواعق المحرقه ۹۱ او ۱٤۰ مخونه . امام احمد مسند ۵: ۹۳ مخ . ینابیع الموده ۲۹۸ مخ.
[7] ذخائر العقبی ۱۷ مخ . امام احمد سند: ۵: ۹۲ مخ . صواعق المحرقه ۱۸۵ او ۲۳۳ مخونه.

کوي. باخبر او پوه شئ چې مشران مو د خدای پر وړاندې ستاسې استازي او نمایندګان دي، ووینئ چې څوک رالیږئ[1].

## له مرجعیته د شیعه و د لاروی پایله

شیعه په هره زمانه کې د پیغمبر او کورنۍ یې مینوال دي؛ ځکه شیعه په هره زمانه کې د اهل بیتو مشر، خپل امام بولي او د لاروۍ بېلګه ګڼي. ځکه خدای اهل بیت د تلپاتې دین د ارونو د ساتنې لپاره ټاکلي دي او پیغمبر صلی الله علیه و آله ورته زېری ورکړی، چې خورا غوره مخلوق دی.

او چې کله د بینه سورت ۷ آیت را نازل شو پیغمبر صلی الله علیه و آله وویل: علی! دوی، ته او ستا لارویان وي.[2]

[1] الصواعق المحرقه ١٤٨ مخ . ینابیع المودة ٢٢٦ او ٢٣٦ مخونه . ذخائر العقبی ١٧ مخ.

[2] شواهد التزیل ٢: ٣٥٦ مخ . کفایت الطالب ٢٤٤ مخ . فصول المهمه ١٠٧ . شبلنجي نور الابصار ٧١او ١٠٢ مخونه . صواعق المحرقه ٩٦ مخ . دارالمنثور تفسیر ٦: ٣٧٩ مخ . طبري تاریخ ٣: ١٤٦ مخ او ...

# بدلي مرجعیت

ځینو په شرعي څرګندو ویناوو کې اجتهاد کړی (سره له دې چې نه باید د نص پر وړاندې یې اجتهاد کړی وای) پایله یې دا شوه، چې دا وګړي ګروهن شي، کوم شرعي مرجعیت، چې الهي دین ټاکلی د اسلام او مسلمینو په مصلحت نه دی؛ ځکه دا ټاکنه یوازې پخپله پېغمبر له ذهني شننو راولاړه شوې او د خدای په امر نه وه او دا چې پر هغه مهال نبي کریم د خلکو عمومي رایو ته هیڅ پام نه درلود او نه پوهېده چې قریش دا نه مني چې نبوت او خلافت دواړه دې د بني هاشمو وي؛ نو ځکه یې دغسې تصمیم ونیو او اعلان یې کړ.

لکه چې دې ډلې ته ستونزمنه وه، چې په ډاګه د پېغمبر پر وړاندې ودرېږي او په خپلو زړونو کې پټ را برسېره کړي، پېښې پرله پسې او په بیړه راغلې او په بیړه د شرعي مرجعیت ځای بدلي مرجعیت ونیو.

په عین حال کې یې ګومان کاوه، چې ښه کار کوي او اسلام او پېغمبر ته خدمت کوي او ګڼله یې، چې یوازې پر دوی الهي لورنه ده، چې د اسلام راتلونکي ته برنامه سنجوي، ځکه انګېرله یې چې د مسلمینو په لیکو کې داسې څوک نه موندل کېږي، چې د مرجعیت دې خورا خطرناک چار ته ترې وړ وي؛ نو خپل ټینګ هوډ یې وکړ او خپلې اندنې یې پلې کړې.

د بَدَلي مرجعیت رامنځ ته کول:

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله پر مرګوني ناروغۍ اخته و او جبرئیل یې همېش پوښتنې ته راتله، تر دې چې ډېری دا کتنې یې د ناروغۍ پر مهال وې. پېغمبر د امت له راتلونکې خبر و او د پالونکي د رسالت په تبلیغ کې یې خپله پوره ونډه ترسره کړې وه. په شاوخوا کې یې چې څه جریانات او پېښې تېرېدې ترې خبر و.

پوهېده، چې په دې چوپتیا پسې به یوه چاودنه وي، چې سیاسي شرعیت او الهي مرجعیت له لاسه وځي او اسلام بې وسلې کېږي.

خو د پېغمبر په څېر شخصیت ددې پېښو پر وړاندې پښې ټینګې کړې او پر امت له لورنې یې لاس وانخست، او سره له دې چې دین بشپړ شوی، الهي نعمت تمام شوی او د امت ټولې اړتیاوې ویل شوې وې حضرت غوښتل، چې امت ته په لنډو شرعي ولي مقام تثبیت څرګند کړي، چې هدایت و مومي او بې لارې نه شي او له هغوی روغ رمټ راووځي، چې په کمین کې ناست دي او منتظر دي، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وفات شي او وروسته مبارزې ته راووځي او د اسلام پر وړاندې خپل ملاتړي راوباسي او له خپلې موخې یې واړوي.

**سخته مقابله:**

پېغمبر اکرم په مرګوني حالت کې و، کور يې له سترو اصحابو ډکه و، ټينګار يې درلود، چې راتلونکی بهير څرګند او په لنډه توګه يې وکښي، و يې ويل:

(نژدې يې راوړئ، چې يو ليک ورته وکښم، چې وروسته ترې بيخي بې لارې نشئ) ايا د پېغمبر صلی الله عليه و آله په دې وړانديز کې څه تېروتنه وه؟ ايا هر مسلمان حق نه لري، چې وصيت وکړي او تر خپل مرګ وړاندې چې څه غواړي و يې وايي او اورېدونکي ازاد دي، چې عملي کوي يې يا يې په اړه بې پروا دي؟

دا قضاوت پر دې فرض دی، چې که د خدای رسول يو عادي مسلمان وای نه پېغمبر او د امت مشر. عمر بن خطاب (رض) د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله د وړانديز په رد کې د حضرت پر وړاندې وويل:

( پر پېغمبر د درد غلبه وه، قرآن ستاسې په منځ کې دی او هماغه د خدای کتاب راته بس دی. ) د پېغمبر په کور کې د ناستو وګړيو ترمنځ اختلاف شو، ځينو وويل يو څيز راوړئ، چې رسول الله صلی الله عليه و آله ورباندې وليکي، چې وروسته ترې بيخي بې لارې نه شئ، ځينو د عمر خبرې ويلې او دا چې شور ځوګ زيات شو، جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله وويل: (پاڅئ او رانه ولاړ شئ)[1]

په بل روايت کې راغلي، هغه مهال يې په شخړه لاس پورې کړ، چې جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله وويل: يو څه راته راوړئ، چې يو ليک درته وکښم، چې وروسته بيخي ترې بې لارې نشئ ( حال دا چې د پېغمبرانو پر وړاندې شخړه جايز نه ده) او وويل شول: د خدای رسول هذيان ( او پرتې) وايي. پېغمبر وويل: ما پرېږدئ، په کوم حالت کې چې يم تر هغه غوره دی، چې تاسې مې پرې تورنوئ)[2]

په درېيمي روايت کې راغلي، چې جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله وويل: د ولي هډوکی او د وات راوړئ، چې يو څيز درته وکښم، چې بيخي بې لارې نشئ؛ خو ځينو وويل: د خدای رسول پرتې وايي! !![3]

---

[1] صحيح بخاري، ۷: ۹ مخ کتاب، مرضی، باب قول مريفو ( قواموا‌عنی ) . صحيح مسلم ( ۵: ۷۵ مخ ) د وصيت د کتاب وروستی برخه، . صحيح مسلم (۱۱: ۹۵ مخ ) د نووي له شرح سره . امام احمد حنبل مسند ٤: ۳۵٦ مخ او ۲: ۲۹۹ مخ . ابن ابی الحديد، و نهج البلاغې شرح ( ٦: ۵۱ مخ).

[2] صحيح بخاري ٤: ۳۱ مخ . صحيح مسلم، ۳: ۱٦ مخ . امام احمد حنبل ۱: ۲۲۲ مخ او ۳: ۸٦ مخ.

[3] صحيح مسلم ۲: ۱٦ مخ او ۱۱: ۹٤ – ۹۵ مخونه د نووي له شرح سره . طبري تاريخ ۲: ٤۹۳ مخ . ابن اثير، کامل ۲: ۳۲۰ مخ.

په ځلورم روایت کې پېغمبر وایي: یو څه راته راولئ، چې پکې ولیکم، هغه څه چې وروسته ترې بې لارې نشئ. عمر بن خطاب(رض) وویل: پر پېغمبر درد غلبه کړې، د خدای کتاب راسره دی او کفایت کوي، دا چې ترمنځ یې اړېپچ شو او خبر و اترو زور واخست جناب نبي مکرم وویل: له ما ځنې ولاړ شئ او ښه نه ده، چې پر وړاندې مې شخړه وکړئ)[1]

په پینځم روایت کې راغلي چې پېغمبر صلی الله علیه و آله وویل: یو څیز راولئ، چې یو لیک درته ولیکم، چې وروسته بیخي ترې بې لارې نشئ، شاوخوا په شخړې لاس پورې کړ حال دا چې د پېغمبر پر وړاندې شخړه ښه نه ده. نو و یې ویل: د پېغمبر حال څرنګه دی؟ ایا پرتې وایي؟ او چې له حضرت صلی الله علیه و آله یې وپوښتل، ځواب یې تکراراوه او پخپله حضرت صلی الله علیه و آله ته یې ورګرځاوه، بیا نو پېغمبر صلی الله علیه و آله وویل: ما پرېږدئ، په کوم حالت کې چې یم، تر هغه غوره دی، چې تاسې مې پرې تورنوئ.[2]

په شپږم روایت کې راغلي، چې پېغمبر اکرم وویل: د ولي هډوکی راته راولئ، چې یو لیک درته ولیکم، چې وروسته بیخي ترې بې لارې نشئ. شاوخوا په شخړه لاس پورې کړ ( حال دا چې د پېغمبرانو په مخ کې شخړه ښه نه ده ) او و یې ویل: څه پرې شوي ایا پرتې وایي؟ او چې پېغمبر صلی الله علیه و آله یې وپوښت، ورته یې وویل: ما پرېږدئ حال مې تر هغه غوره دی، چې تاسې مې پرې تورنوئ.[3]

په اوم روایت کې راغلي، چې پېغمبر صلی الله علیه و آله وویل: راشئ یو لیک درته وکښم چې بیخي بې لارې نشئ. عمر (رض) وویل: (پر پېغمبر درد غالب شوی او قرآن په تاسې کې دی؛ نو قرآن راته بس دی) د پېغمبر په کور کې د ناستو ترمنځ د نظر اختلاف را پیدا شو، ځینو وویل: یو څیز راولئ، چې د خدای رسول لیک ولیکي، چې بې لارې نه شو، ځینو د عمر (رض) خبره کوله او دا چې د پېغمبر په مخ کې اختلاف زور واخست و یې ویل: له ما ځنې ووځئ.[4]

په بل روایت کې هم راغلي، چې عمر بن خطاب (رض) وویل: په واقع کې پېغمبر صلی الله علیه و آله پرتې وایي.[5]

---

[1] صحیح بخاري ۱: ۳۷ مخ.

[2] صحیح بخاري ۵: ۱۳۷ مخ . طبري تاریخ ۳: ۱۹۲ – ۱۹۳ مخونه.

[3] صحیح بخاري ۲: ۱۳۲ مخ او ٤: ٦٥ – ٦٦ مخونه.

[4] صحیح بخاري ۸: ۱٦۱ مخ.

[5] ابن جوزي حنفي، تذکرة الخواص، ٦۲ مخ . سرالعالمین و کشف ما فی الدارین، ۲۱ مخ.

عمر بن خطاب (رض) پخپله منښته کړې، چې پېغمبر يې د ليک له کښلو منع کړی و، چې خلافت علي کرم الله وجهه ته ورنه کړي.[1]

**له پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله سره د مقابلې شننه:**

سره نښتې لورې:

لومړی لوری: محمد رسول الله، خاتم الانبياء او د اسلامي دولت رئيس.

دويم لوری: عمر بن خطاب (رض) يو لوی صحابي او د پېغمبر د دولت ستر وګړی او تر رسول الله صلی الله عليه و آله وروسته دويم خليفه.

د مقابلې ځای: د پېغمبر صلی الله عليه و آله کور.

د مقابلې شاهدان مشران اصحاب.

**د مقابلې لومړی پايلې:**

**۱ - د حاضرينو ترمنځ بې اتفاقي:**

لومړۍ ډله: هغوی چې عمر بن خطاب (رض) تاييداوه او د ليکلو خنډېدل ددې ډلې دليل داو، چې عمر بن خطاب (رض) له سترو اصحابو او د اسلام له زړه سواندو مشاورينو څنې دی، او دا چې پېغمبر صلی الله عليه و آله ناروغ و، لازم نه و چې د ليک د ليکلو لپاره په تکليف شي، سره له دې چې قرآن مو په يوازې ځان له بې لارۍ خوندي کوي او نور نو د ليک ليکلو ته کومه اړتيا نه وه.

دويمه ډله: هغوی چې له پېغمبر صلی الله عليه و آله سره مقابلې ته حاضر نه و او هيلمن وو، چې حضرت ليک وکښي او له خپل پېغمبر سره يې مقابله ښه نه ايسېده.

دا ډله وايي، چې بايد پېغمبر صلی الله عليه و آله ته فرصت ورکړای شوی و، چې څه يې غوښتل و يې ليکي؛ ځکه د ژوند تر وروستۍ شېبې پورې، پېغمبر او د دولت رئيس دی او لږ تر لږه د يو عادي مسلمان په څېر له آزادۍ برخمن دی او طبيعي حق يې دی، چې وصيت وکړي. پر دې سربېره په کور کې يې مقابله او لفظي شخړه وشوه او د هر انسان حق دی، چې په خپل کور کې، چې څه غواړي و يې وايي.

[1] ابن ابی الحديد، د نهج البلاغې شرح ۱۲: ۷۹ مخ، او ۳: ۸۰۳ مخ (چاپ: دارالفکر).

**۲ - د یوهیبتناک ځواک پیدا کېدنه:**

عمر بن خطاب (رض) د نوی اوهیبتناک ځواک په توګه ډګر ته راووت او و یې کړای شو چې رسول الله صلی الله علیه و آله د لیک له کښلو منع او یو زیات شمېر د ځان ملګري کړي او د پېغمبر صلی الله علیه و آله پر وړاندې ودرېږي او د حضرت په حضور کې پېښې راوپنځوي او ښه مشري یې وکړي[۱].

تر اوسه څوک نه پوهېږي، چې چا انصار په دې فکر کې کړل چې د بني ساعدو په څپرکي کې راټول شي او څرنګه یې خپاره واره انصار راټول او همغږی کړل. همداراز څرګنده شوې نه ده چې چا دوی بللي او څنګه له ټولو مهاجرینو درې تنه ( حضرات ابوبکر، عمر او عبیده) حاضر وو.

دا ټکي هم څرګند دی، چې ابوبکر (رض) د پېغمبر صلی الله علیه و آله په تجهیز کې له اهل بیتو سره مرسته کوله او دا هم په ډاګه ده چې عمر (رض) ابوبکر (رض) په څپرګي کې د انصارو له راټولېدو خبر کړ. دا هم څرګنده ده، چې څپرګي ته پر لار ناڅاپه له ابوعبید (رض) سره مخ شوي او هغه یې هم بوتلی دی.[۲]

نو ځکه عمر (رض) د پېښو په بهیر کې و او شېبه په شېبه یې څاره او په سقیفه کې یې حساسه ونډه درلوده او که غوښتل یې؛ نو پخپله خلیفه کېده، په سقیفه کې د حاضرینو له ابوبکر (رض) سره بیعت او له سقیفې وتل دا چارې د عمر (رض) پر ذمه وې، عمر (رض) و، چې پر مهاجرینو یې ورغبر کړ چې باید له ابوبکر (رض) سره بیعت وکړئ، عمر (رض) و، چې سقیفې بیعتوونکي یې تنظیم کړل او له دوی یې یو ډله اړ کړه، چې د فاطمې (رض) په کور کې علي او ملګری یې له ابوبکر (رض) سره بیعت ته راوباسي.[۳]

حضرت عمر (رض) و، چې خس یې راوړل او د فاطمې (رض) د کور سوځولو هوډ یې وکړ او که پکې مېشت راوتلي نه وای؛ نو خپل هوډ یې پلی کاوه.[٤]

---

[۱] د نبي کریم صلی الله علیه و آله د وفات د ورځې سرچینو ته مراجعه وکړئ او هم پر دې اجامع ده چې عمر (رض) ویلي دي: حسبنا کتاب الله.

[۲] ابن قتیبه، الامامة والسیاسة ۵ مخ.

[۳] ابن قتیبه، الامامة والسیاسة ۵ مخ.

[٤] ابن قتیبه، الامامة والسیاسة ۱۳ مخ.

حضرت عمر (رض) و، چې علي کرم الله وجهه یې وګواښه، که بیعت و نه کړي؛ نو وژل کېږي
او ابوبکر (رض) ته یې وړاندیز وکړ، کوم صدقات چې ابوسفیان د مدینې له چاپېریاله راټول کړي، ورو یې ښښي، چې رامات شي.[2][1]

حضرت عمر (رض) و، چې ابوبکر (رض) ته یې سپارښتنه وکړه، چې یزید بن ابوسفیان دې د شام لښکر مشر وي.[3]

عمر (رض) په خپل زور، د ابوبکر (رض) دولت ټینګ کړ.

ډېر موده تېره نه شوه چې د ابوبکر (رض) په مړینه حکومت یې هم پای ته ورسېد او عمر (رض) د ټینګ او مستقر دولت وارث شو. حکومت په اسانۍ او بې مقابلې ورته ورولېږدول شو، لکه چې د دولت لېږد، په یو بل ګام پسې طبیعي ګام و.

پلټونکي به ډېر ژر یا وروسته وپوهېږي، چې څوک هم په سازماني چارو کې د حضرت (عمر رض) جوړه نه وه.[4]

تر رسول الله صلی الله علیه و آله وروسته، حکومت خو حضرت عمر (رض) جوړ کړ او د اسلامي حکومت د راتلونکي لپاره یې ټولې برنامې جوړې کړې، چې یوه یې داده: نه ښايي چې نبوت او خلافت دې له بني هاشمو سره وي باید خلافت بې له بني هاشمو په نورو کې لاس په لاس شي او حکومت د هغه دی، چې بریمن او برلاس شي، بې له دې چې مشروعیت یا نامشروعیت یې د بریا د وزلي په توګه په پام کې ونیول شي.

**پر متبوع د تابع غوراوی:**

په دې تمهیداتو او مقابلو دا مفکوره راوپنځېده چې مفضول (لاروی) پر فاضل (پېشوا) غوراوی لري، چې دې مفکورې د تشویش حالت رادبره کړ چې حق له چا سره دی؟

هغوی چې پېغمبر یې د لیک له کښلو منع کړ، دلیل یې دا و، چې د پېغمبر درد زیات شوی او په دغسې یو حالت کې شوني ده، چې د لیک کښل خطر راولاړ کړي، چې دې دلیل پخپله یو شک رامنځ ته کړ. د مقابل لوري دلیل دا و محمد صلی الله علیه و آله تل پېغمبر دی او تر

---

[1] ابن قتیبه، الامامة والسیاسة ۱۳ مخ.

[2] ابن الحدید، د نهج البلاغې شرح، د حسن تمیم څېړنه ۱: ۳۰۶ او ۳۰۷ مخونه.

[3] طبري تاریخ ۳: ۲۰۹ مخ . قاسیم تاریخ الحکم ۱۵۲ مخ.

[4] ابن اثیر، کامل ۳: ۲٤ مخ، . ابن ابی الحدید، د نهج البلاغې شرح ۳: ۱۰۷ مخ.

هغې چې سا يې په تن کې وي، پيغمبر به پاتې شي او په يقين چې د هوا او هوس له مخې خبرې نه کوي، او د شک لپاره يو يقيني چار برېښوولای نه شو.
دوه ورته پېښې:
۱ – هغه مهال چې ابوبکر (رض) ناروغ شو او دردونه يې سخت شول، د اسلام ټول لارويان پر دې يوه خوله دي، چې ابوبکر (رض) تر مشورې وروسته، يوازې عثمان (رض) راوغوښت او ورته يې وويل: وليکه؛ خو له سخت درد ه بې هوښه شو او حضرت عثمان (رض) د ابوبکر (رض) له خوا وليکل: (عمر بن خطاب مې ستاسې خليفه کړ او په دې چار کې مو خير غواړم) او چې ابوبکر (رض) په هوش راغی؛ نو عثمان(رض) ته يې وويل: ولوله چې څه دې کښلي؟ عثمان (رض) خپل ليکلي ولوستل. بيا ابوبکر (رض) عثمان (رض) ته وويل: لکه چې وډار شوې که په هوښ رانشم او له نړې ولاړ شم، په خلکو کې به اختلاف رادبره شي؟ عثمان (رض) وويل: هو. ابوبکر (رض) وويل: خدای دې خير درکړي. او کښلي يې، تثبيت کړل[1].

**دا يو ټولنيز واقعيت دی.**
۲ – عمر (رض) ناروغ شو او معالج طبيب يې ورته وويل گومان نه کوم چې تر شپې به پاتې شې، چې څه غواړې و يې کړه؟ خپل زوی عبدالله (رض) ته يې وويل: د ولي هډوکی را کړه، پاک يې کړ او له سخت درده يې وويل: پر خدای قسم، که زه د هغو څيزونو خاوند وای، چې لمر پرې لگېږي؛ نو ټول مې د قيامت له ډاره په فديه کې ورکول، او حال دا چې سر يې د زوی عبدالله په لمن کې و، و يې ويل: مخ مې پر ځمکه کېده؛ خو عبدالله دا چار ونه کړ، پلار يې پرې غوسه شو او و يې ويل: (بې موره، مخ مې پر ځمکه کېده، پر عمر او مورې افسوس که خدای عمر ونه ښښي)[2].
ابوبکر (رض) سره له دې چې سخت درد يې و، وصيت يې وکړ او چې څه يې غوښتل و يې ليکل، او عمر (رض) هم د سخت درد له امله وصيت وکړ او د خلافت چار يې شورا ته وسپاره او ډاډمن شو، چې بني هاشم که څه هم امين او صادق وي؛ خو چارواکي به نشي. د دواړو خلفاوو وصيت ښه پوره تر سره شو. دواړو ته د خبرو او وصيت فرصت ورکړای شو او سره له دې دواړه سختې ناروغۍ ځورول خبرو ته يې ارزښت ورکړای شو، د وصيت کښلو پر مهال

[1] طبري تاريخ ۳: ۴۲۹ مخ . قاسيم، نظام الحکم: ۱۷۶ مخ . ابن جوزي، و عمر (رض) سيرت ۳۷ مخ . ابن خلدون تاريخ ۲: ۸۵ مخ . النظام السياسي فی الاسلام ۱۳۰ مخ.
[2] ابن قتيبه، الامامة والسياسة ۲۱ او ۲۲ مخونه . النظام السياسي ۱۲۰ او ۱۲۱ مخونه.

هر يو لا تر اوسه رسمي خليفه ګڼل کېده او حق يې درلود، چې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې خپلو چارو ته دوام ورکړي.
دا يو حقيقت دی، چې ټول پرې يوه خوله دي او هيڅ اختلاف پکې نشته.
اوس دا پوښتنه مطرح ده، چې څرنګه ابوبکر (رض) او عمر (رض) ته اجازه ورکول کېږي، چې د سختې ناروغۍ پرمهال وصيت وکړي او چې څه غواړي و يې ليکي، سره له دې چې ناروغي يې تر پېغمبر صلی الله عليه و آله ډېره وه؛ خو د پېغمبر د وصيت له ليکلو (چې خبرې يې يوازې د وحې له مخې دي) مخنيوی کوي؟
ايا څه چې د پېغمبر ځاناستو ته جايز و، هغه جايز نه و؟ دا په دې فرض دي، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله له ابوبکر (رض) او عمر (رض) سره مساوي دی او دا يو مردود فرض دی؛ ځکه محمد صلی الله عليه و آله پېغمبر او د خدای استازی او د امت مشر و، او ابوبکر (رض) او عمر (رض) يې له لارويانو ځنې وو. پر حضرت محمد صلي عليه و اله وسلم وحې کېده او په ځو ځل ټينګار يې ويلي، چې ډېرې وخت وحې د ناروغۍ په حال کې ورباندې راتله.[1]
خدای تعالی وايي:
حشر ۷ ايت:
مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاء مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (حشر/۷) ؛ څه چې خدای ددغو کليو له اوسېدونکيو خپل استازي ته را اړوي؛ نو هغه د خدای او د(هغه) د استازي او خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او پرديسانو لپاره دي، چې (دا ډېره شتمني) ستاسې د بډايانو ترمنځ لاس په لاس نشي او څه چې تاسې ته د (خدای) استازي راوړي دي؛ نو هغه واخلئ (او عمل پرې وکړئ) او چې له څه مو منع کوي؛ نو ډډه ترې وکړئ او د خدای له (مخالفته) ځان وساتئ؛ چې خدای سخت عذابی دی.
وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ (تکوير/۲۲) ؛ او ستاسې ملګری [؛ پېغمبر] لېونی نه دی.
چې ستاسې ملګری [؛ محمد(ص] نۀ بې لارې شوی او نۀ يې مقصد ورك کړی دی.
مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى. وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى. إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى (نجم ۲-۴) ؛ او هغه د ځاني غوښتنو له مخې نۀ غږېږي. (بلکې) خبرې يې يواځې وحې ده، چې ورته وحې کېږي.

---

[1] ابن سعد، طبقات ۲: ۱۹۳ مخ.

چې څوک دغسې ځانګړنې او ملکات لري، څرنګه د سترګو په رپ کې په داسې یو تن اوړي، چې پرتې وایي، تر دې چې له وصیته یې خوندي او په امان کې نه دي او پر اسلام او مسلمینو ډارېږي؟!!

سره له دې چې څوک پر څمکه له دې ځېنده حقایقو انکار نشي کړای او دا چې دې پېښې د اسلام راتلونکي ته سخت ګوذار ورکړ او یو تخم و، چې د مسلمانانو ټولې بدمرغۍ ترې راوټوکېدې؛ خو اهل سنتو یې نالیدلی او یو استازیې بولي.

په دې توګه یې په عمل کې د لارویانو خبرې د پېشوا او پیغمبر پر خبرو ړومبی ګڼلي دي. لاروی مرجع شو او چې څه یې غوښتل و یې کړل او غوښتنې یې لاسبری شوې. خلکو دا خبرې زده کړې او چورلیزې کړې او د ټولنې په عینیت او واقعیت کې لاسبر فکر د لاوري فکر و. دا فکر د اسلام په راتلونکي کې شرعي پیلامه شوه او امت ته یې اجازه ورکړه، چې د خلافت پر سر مبارزه وکړي او په پای کې امت له غالب او بریمن سره ودرېږي، او توپیر نه لري، که هره ځانګړنه او دیانت ولري.[1]

له همدې امله د تعجب ځای نه دی، چې وینو معاویه بن ابوسفیان پر خلافت ډډه وهي، سره له دې چې پلار او زوی آزاد کړای شوي بندیان وو او په مولفة قلوبهم کې شمېرل کېدل، چې له لومړني مسلمان او د شرعي بیان له مخې له ولي الله او د هر مؤمن او مؤمنې له مولا سره د خلافت پر سر شخړه کړي او هڅه کوي، چې خلک قانع کړي چې تر علي بن ابی طالب افضل، غوره او د امت مشرۍ ته وړ وی او له دې هم نه حیرانېږو، چې ځینې وایي علي کرم الله وجهه هم مجتهد و او معاویه هم او دواړه جنتیان دي.

او د حیرانتیا نه ده که مروان بن حکم د خلافت په لټه کې کېږي، سره له دې چې د حکم بن عاص زوی دی، چې رسول الله له مدینې شړلی و چې نه به راځي او د شیخینو په زمانه کې هم دا ممنوعیت پر ځای و، خو د عثمان (رض) د خلافت پر مهال د جناب نبي مکرم د امر او د شتمنیو د سیرت پر خلاف یې په عزت او درناوي مدینې ته راوغوښت او زوی یې مروان د خپل دفتر رئیس کړ او خپله لور یې هم ورکړه!

د تابع او متبوع، مشر او لاروي، د خدای منلي او اسلام منلي او د پیغمبر شړلي ترمنځ توپیر او امتیاز له منځه ولاړ او چار تر دې ورسېد چې ولید بن عقبه پر حسین بن علی د مشرۍ دعوا وکړه. چې ولید وعظ کوي او حسین به غوږ ږدي او د داسې واعظ خبرې به اوري، چې په

[1] ظافر القاسمي، نظام الحکم: ۲۴۴ او ۲۴۵ مخونه.

نشه کې به یې د ګهیځ لمونځ څلور رکعته کاوه او خپلو مقتدیانو ته وایې که خوښه مو وي، چې نور لمونځ درکړم! هو، تر دې پېښو وروسته څه باک نشته چې دغسې یو تن د حسین بن علي بن ابی طالب مشر شي او حسین (رض) ته یوه مرجع وي، چې په دنیوي او دیني چارو کې ترې وپوښتي!

### څوک بریالی دی؟

نو ځکه څوک چې په زور پر اوضاع لاسبری او مسلط شو دا چې هره ځانګړنه لري د دولت رئیس، امام، مشر او په دنیوي او دیني چارو کې د مسلمانانو مرجع ده او د قدرت ټولې وزلې ورسره دي، او د دولت پر ټولو چارو لاسبر دی، دولت یې خپل دی، چې چاته څه ورکوي یا نه ورکوي.

بې له خدایه، پر دیانت او تقوا یې څوک څارنه نه لري. د ټولو اسلامي ځواکونو اعلی سر قومندان دی، چې په دننني او بهرني امنیت کې او همداراز په خوښه یا زور د ولس په غاړه ایښودو کېدو یې کار وي، پر رسنیو پوره واک لري، سپین توروي او تور سپینوي، کوچنی لویوي او ل و یې کوچنې کوي، خپل پلویان په ټولو چارو کې د نظر خاوندان او اهل حل و عقد معرفي کوي.

د زمانې په تېرېدو، چې چا مرجعیت غوښت، نو د غالب نظر یې مانه او ددې وزلې یې خپل مرجعیت ته کارولې؛ نو دوی د ټولنې ستوري دي، چې څوک ورسره ملګرتوب کوي مرکزي ټکي ته یې ورسیخوي؛ یعنې هماغه ځای او هماغه څه ته چې بریمن یې غواړي. ولسي ېرګنې پر همدې دود ولاړې او کال تر کاله به دا دود ټینګېده او لا غځېده او په ځمکه کې یې خپلې جرړې غځولې، تر دې چې د یو (عمومي لید) او (سیاسي عقیدې) په توګه رامنځ ته شو.

### د پیغمبر اکرم د سپېڅلي ځوځات څنډې ته کول:

په دغسې یو چاپېریال کې د پیغمبر سپېڅلي عترت له شریعته د دفاع غږ پورته کړ او د حق د دفاع لپاره راپاڅېدل؛ خو خلک د عترت او مشروع حق ترمنځ ختڼ شول. له ابوبکر (رض) سره د علي کرم الله وجهه مقابله یوه شرعي او منطقي مقابله وه لکه چې بشیر بن سعد (هماغه چې تر ټولو انصارو له مخه یې له ابوبکر (رض) سره بیعت وکړ) د علی کرم الله وجهه د خبرو تر اورېدو وروسته وویل:

( که انصارو له ابوبکر (رض) سره له بیعت مخکې ستا خبرې اورېدلې وای؛ نو دوو تنو هم ستا په اړه اختلاف نه کاوه )[۱]

خو قدرت پر خپل ځای پاتې شو او مبارزې دوام و موند، طبیعي ده، ناشونې ده چې واکمن له سیاسي پلوه پر خپلو مخالفینو اعتماد وکړي. او دا چې د پېغمبر اکرم لور فاطمه (رض) د علي پلوۍ وه واکمنو یې وژنه صلاح نه ګڼله، که څه هم و یې ګواښل که بیعت ونه کړي، وبه وژل شي، ان صلاح یې نه لیده، څو فاطمه (رض) ژوندۍ وي علي کرم الله وجهه بیعت ته اړ کړي. واکمنو د علي او فاطمې ددې چار په غبرګون کې هیڅ هم ونه ویل چې د شپې به د انصارو کورونه ته تلل او هغوی به یې خپل ملاتړ ته رابلل. البته انصارو هم ویل:

( د رسول الله لورې! که مېړه او د تره زوی دی تر ابوبکر (رض) مخکې موږ ته راغلی وای، څوک مو پرې نه ړومبی کاوه) او علي د انصارو په ځواب کې ویل: (ایا ما باید د پېغمبر صلی الله علیه و آله جنازه په کور کې پرېښې وای او نه مې ښخوله او خلیفه کېدو ته یې د شخړې لپاره راوتلی وای؟!)

فاطمې (رض) هم ویل: (ابوالحسن مناسب چار کړی او چې څه نورو کړي خدای پرې ګواه دی او خدای به یې وپوښتي)[۲]

د فاطمې (رض) تر وفات وروسته د اوضاع او شرایطو منطقي پایله دا شوه چې علي او لارویان یې څنډې ته کړای شول. حکومتي سیستم هڅه وکړه چې د پېغمبر تره عباس (رض) را جذب کړي، چې د علي او بني هاشمو ترمنځ بېلتون راولي او په دې وعده یې تېر ایستل چې عباس او اولاده به یې په واکمنۍ کې راګډوي؛ خو عباس دا وړاندیز په سخته رد کړ او ونه غولېد[۳].

د عادي او مادي ارزښتونو له مخې که څوک اختیارمن وي، چې د واکمن دولت او مخالفینو ترمنځ یو وټاکي؛ نو طبعي ده، چې د واکمن دولت ترڅنګ ودرېږي، په تېره دا چې له اهل بیتو سره مخالفت تر دې وغځېد چې له دولت سره یې د همېش لپاره اړیکې پرې شي.[٤]

---

[۱] ابن قتیبه، الامامة والسیاسة، ۱۲ مخ.

[۲] ابن قتیبه، الامامة والسیاسة ۱۵ او ۱٦ مخونه.

[۳] ابن قتیبه، الامامة والسیاسة ۱۵ او ۱٦ مخونه.

[٤] د تمریق سرچینیو ته مراجعه وکړئ.

واکمن دولت گروهن و، چې نه ښايي له بني هاشمو سره نبوت او خلافت دواړه وي او دا چار يې د ظلم مخه نيواى شي او قريش يې په دې دريځ کې پرلاس سم سيخ موندلي او بريالي ګڼلي دي.[1]

ډېر مهمه خو دا چې يو هاشمي دې هم پرخلکو چارواکی نشي، که څه هم وړ، رښتين او امين وي، دا شرط يې د شيخينو پرمهال په ځير عملي کړ، په تېره عمر (رض) ډېر ټينګار درلود، چې ان د بني هاشمو پلويانو ته هم څه مسووليت ورونه سپاري.

او په دې توګه علي کرم الله وجهه او ياران يې له سياسي او ټولنيز ډګره څنډې ته کړاې شول؛ خو بيا هم علي کرم الله وجهه او لارويانو يې د شيخينو په زمانه کې په ارام چاپېريال کې اوسېدل او له ځاني او مالي پلوه خوندي وو او اهل بيت په ډاليو کې تر ټولو ړومبي وو، لومړی يې د آل محمد صلی الله عليه و آله برخه ورکوله او بيا يې د نورو خلکو. شيخينو په چارو کې له علي کرم الله وجهه سره مشوره کوله او په ډېری چارو کې يې ورته مراجعه کوله. په ورو ورو اوضاع استقرار و موند او په شهواتو د شيخينو نه ککړېدل او اسلامي سوبو د داخلي وضعيت له ارامېدو سره مرسته وکړه.

خو د عثمان (رض) د خلافت له ډېر لږ وخت تېرېدو وروسته اصحاب يې لږ لږ له شاوخوا خپاره واره شول او امويانو يې خلافت ته لار و مونده، تر دې چې ټول اصحاب ترې ولاړل او امويان ترې راتاو شول او غونډې او ناستې پاستې يې له امويانو ډکې وې.

امويانو له چارو څخه د اهل بيتو او ددوی د لارويانود بې برخې کېدو سياست ته دوام ورکړ او دا چې امام او لارويانو يې د امويانو ناوړه چارې ناليدلې ګڼلای نه شوې او له بديو منع او پر نېکيو امر ونه کړي؛ نو داسې يې ښووله، چې اهل بيت له امويانو سره د امويتوب له امله مخالف دي؛ نو ځکه يې پر علي کرم الله وجهه کړۍ تنګه کړه. دا مقابله پر پخوانيو دښمنيو ور زياته شوه او ښه زور يې واخست تر دې چې معاويه (چې د شام چارواکی شوی و) له علي اميرالمؤمنين سره وسلواله نښته وکړه او په پايله کې زر، زور او د معاويه چل ول، پر شرع، عدالت او د علي پرحق امامت بريالي شول. معاويه د امت پر برخليک مسلط شو او د تسلط کال يې د جماعت کال ونوماوه.

په واقع کې د آل محمد صلی الله عليه و آله د څنډې کولو لپاره نوی پړاو پيل شو، چې له وير او ويني سره مل و، ټول يې له منځه يووړل او اهل بيتو او لارويانو ته يې کنځل لازم شوي وو.

[1] ابن اثير کامل ۳: ۲٤ مخ (د ۲۳ کال پېښې). النظام السياسي فی الاسلام: ۱٤۹ مخ.

خلکو هم په کنځلو کې دولت بدرگه کاوه او په هر حال د آل محمدصلی الله علیه و آله لارویان گوښه کړای شول، ان چې گواهي يې هم نه منل کېده او د هغو کسانو نو مونه د بيت المال له دفتره لرې کړای شول، چې له علي او ځوځات سره يې مينه ښووه.[1]

## د مرجعيت نوې ډلبندي:

بريالی خليفه ( چې هر څوک وي) د امت مرجع او په ټولو ديني او دنيوي چارو کې د امت ولي او د پېغمبر د اهل بيتو مشر دی. بلخوا بې استثنا ټول عزتمن اصحاب د امت مرجع دي؛ ځکه عادلين، جنتيان او د پېغمبر اکرم د اهل پيتو ځايناستي دي. اهل بيتو له حکومت سره مقابله او مبارزه وکړه او چې اصحاب له نړۍ ولاړل، تابيعنو ډله ييز مرجعيت او خليفه ( چې د دولت رئيس و) تاييد کړل او په تابعينو پسې خلکو هم پر همدې پل پل کېښود.
تر دوی وروسته د واکمنو په مرسته عالمان (يعنې د انبياوو وارثينو) مرجعيت ته راووتل او په دې مرجعيت کې د اهل بيتو شتون د دويمې درجې ونډې ته راټيټ شو.

## د مقابلې او مبارزې پايله:

د اکثريتو دريځ په اذهانو کې پر عمومي ټينگ باور واوړېد. د مخالفينو پر وړاندې د عمومي افکارو زغم کېناست او له همدې امله د مخالفينو لرې کونې او کړې پرې را تنگولو ته يوه پلمه شوه، چې دې چار د مخالفو وگړيو ټولنيز حيثيت را ټيټ کړ او په ولس کې يې تورن کړل، چې ووي له دينه وتلي (خارجيان) او لار يې له مؤمنينو بېله ده. د مخالفينو نظريات يې واړول، تر دې چې خلک حاضر وو، پر کفر تورن شي؛ خو د اهل بيتو په لاروۍ تورن نشي؛ ځکه که مرتد توبه کوله او په خوله له خپل کفر را گرځېده، منل کېده او ښه راغلاست ورته ويل کېده؛ خو که څوک د اهل بيتو لاروی کېده؛ نو توبه يې نه منل کېده. له کفارو سره دوستي او لاروي يې تر اهل بيتو او آل محمد صلی الله عليه و آله سره له دوستۍ او لاروی اسانه وه او د انگېرنې او باور امت ته د يو ميراث په بڼه پاتې شوې؛ يعنې دا فکر چې شيطان کافر دي، د يو څيز په توگه يې له پلرونو په ميراث يوور؛ ځکه ويل يې، چې شيعه علي نمانځي او اصحاب کرام کنځي او .... خو ددې تورونو په سموالي او ناسموالي پسې يې هڅه ونه کړه او د سموالي لپاره يې يو دليل هم نه لري يوازې او يوازې د تېردو په تقليد پسې ځي.

---

[1] ابن عساکر تاريخ ۳: ٤۰۷ مخ . عقاد، معاويه فی الميزان ۱٦ مخ . محود ابورية شيخ المغيرة، ۱۸۰ مخ.

ان د اهل سنتو او سني عالمان، چې په ديني مدارسو او پوهنتونونو کې زده کړيالان روزي، تشيع نه پېژني او نه پوهېږي، چې له څه وخت پيل شوې، ولې او څرنګه رامنځ ته شوې ده.
که دوی د شيعه وو نظريات نقدوي په حقيقت کې د شيعه د نظرياتو په نوم د شيعه و ددښمنانو نظريات ټکی په ټکی او جمله په جمله نقدوي، سره له دې چې پر شيعه وو څه له پاسه څوارلس سوه کاله تېرېږي. نو د شيعه دښمان په خپله خوښه د شيعه وو ويناوې روايتوي او په خپله خوښه پکې قضاوت کوي خو سره له دې چې ذاتي او اصلي اختلاف سياسي دی او بيا هم شيعه و اسلام د اهل بيتو له لارې اخستی او د اهل بيتو لاروي له اوره ژغورنه ده، چې دا هماغه ژغورل شوې ډله ده.

# څلورمه برخه

مشري او سياست

١ - سياسي مشري

٢ - سياسي مشري

٣ - د خداي ولي، امام او مشر دی

٤ -

٥ - د ځايناستي د ټاکنې مراسم.

٦ - د امام په نصب دين بشپړ او نعمت تمام شو.

٧ - هغه لاملونه چې شرعي مشري يې له منځه يو وړه.

٨ - د اوړېدنې سرېزې.

٩ - د فاروق موخې.

١٠ -د مسئالې واقعي څېړنه او د تصادف توب نفې يې.

١١ - له ټولو حقوقو او سياسي امتيازاتو د بني هاشمو بې برخې کول.

# سیاسي مشري

**۱ - د ټولنې د حرکت قوانین او ضوابط:**

په ټولیز ډول هره سیاسي ټولنه د دوو قوانینو له مخې حرکت کوي او اسلامي ټولنه د نورو سیاسي او انساني ټولنو په څېر ده، چې له دې قاعدې وتلې نه ده؛ نو ځکه یې یون هم ددې دوو قوانینو او ضوابطو له مخې ده.

لومړی ضابطه: دین یا د الهي حقوقو ټولګه ده، چې د قانون په څېر په اسلامي ټولنه کې اغېز شیندي او یوه عمومي نقشه ده، چې د اسلامي ټولنې د یون د بشپړتیا لپاره د ژوند په ټولو پړاوونو، حال او راتلونکې ته عمومي برنامه لري او ویلای شو، چې د یو ستر درملتون په څېر ده، چې د اسلامي ټولنې د حال او راتلونکې د درد درمل پکې شته.

دا حقوقي سیستم دوه نرئ او عملي ربښې لري او هر درد ته، مناسب درمل لري او په پوره ډاډ وایي چې په ناروغئ یې درمل اغېزي او ښې پایلې لري.

دا حقوقي سیستم داسې تنظیم شوی، چې وګړنی ژوند، کورنئ، ټولنه، دولت او ټوله نړئ رانغاړي او هم د ټولنې د اړیکو تنظیموونکی دی چې یو د بل لاسنیوی وکړي او هم د ټولنې مادي او معنوي اړتیاوې پوره کوي.

دویمه ضابطه: سیاسي مشرتوب دی، چې له دې ګروهې او دینه راولاړ شوی دی، په حقیقت کې مشر ته سیاسي مشري ددې ټولګې د کچو له مخې ورکړای شوې ده، چې له مخې یې د اسلامي ټولنې د یون مشري کوي.

څرګندنه دا چې سیاسي مشري د هغه مهندس په څېر ده، چې د الهي دین ټولېزې او تفصیلي برنامې ورسره دي او یا د طبیب په څېر ده چې نسخه لیکي او ناروغي یې تشخیص کړې، په درملو یې پوهېږي او د درملو د کارونې څرنګوالی هم ښیي او ناروغ یې تر رغېدو پورې تر څارنې لاندې وي.

مرجع د اسلامي احکامو پر مفهوم او موخو پوهېږي؛ ځکه تر ټولو پرې پوه دی تر ټولو غوره او د دین مشرئ ته وړ وګړی دی. د دین څرګندوونکی دی او په ټولنه کې په نرري او عملي اړخ کې د احکامو پر پلي کولو څارن او شاهد دی، مشر، مخلصو لارویانو ته زیری ورکوي او دښمنان ډاروي، د خدای لوري ته بلنه کوي، بله ډیوه ده چې ژوندئ ټولنې ته لار رڼا کوي.

**۲ - له سیاسي مشر توب سره د الهي دین تړاو:**

د اسلام دین پر دوه ارکانو ولاړ دی:

۱ – د خدای کتاب؛ قرآن کریم.
۲ – د اسلام پیغمبر.
محمد صلی الله علیه و آله سیاسي مشر دی، چې دا مشرتوب د خدای له لوري ورکړای شوی، چې د اسلام دین ته د بلنې مشري وکړي او هم تر بلنې وروسته چې اسلامي دولت جوړ شو، خدای یې د دولت مشری ته وټاکه. په دې مانا چې اسلام ته د بلنې سیاسي مشرتوب او د اسلامي دولت مشري د دین نه جلا کېدونکي برخه او د اسلام یو آر دی.
نو ځکه د پیغمبر صلی الله علیه و آله پر سیاسي مشرتوب او سرپرستۍ ایمان د الهي عقیدې یوه برخه ده، لکه چې د طالوت پر سیاسي مشرۍ ایمان په هغه وخت کې د ایمان یوه نه جلا کېدونکې برخه ګڼل کېده.
د داود او سلیمان علیه السلام په مشرتوب ایمان هم له همدې اهمیته برخمن وو.
ځکه د ژوند د قوانینو له مخې، شونې نه ده چې بې د پیغمبر صلی الله علیه و آله له سیاسي مشرتوبه د اسلام احکام تبلیغ، شرح او په ټولنه کې پلي شي؛ ځکه پخپله پر دې چارو مؤظف شوی و، د خپلې بلنې او اسلامي دولت په ترڅ کې یې په دې چار لاس پورې کړ پخپله د شرعي نصوصو د څرګندولو مسؤول او چورلیز و او د سیاسي مشرۍ بنسټګر و، چې د بلنې او دولت دواړه مشرتوب ورتر غاړې و، او څه چې د پیغمبر او د بلنې د بشپړتیا اړین ترلاو رابښیي، دادی، چې خدای بشر ته د تاریخ په اوږدو کې بې له استازي کوم کتاب لېږلی نه دی او استازي مؤظف کړي، چې دین تبلیغ کړی، احکام څرګند کړي او د مؤمنینو مشري وکړي.
او که د الهي دین او سیاسي مشرۍ، رسالت او رسول او د کتاب او پیغمبر ترمنځ جلا والی شونی او ګټور وای، نو خدای ته ډېره اسانه وه، چې پر هر بالغ انسان له اسمانه یو کتاب راولېږي او مکلف یې کړي چې پرې پوه شي او پلی یې کړي او نور څه اړتیا نه وه، چې خدای د تاریخ په اوږدو کې په لس ګونو زره تنه پیغمبران، رسولان او لارښوونکي راولېږي.
نو ځکه په هیڅ عقلي، منطقي، دیني او فطري کچه ناشونې او پوره نامعقوله ده، چې د الهي دین او سیاسي مشرتوب ترمنځ بېلتون وي، چې یو تن دې په یوازې ځان پر قرآن منګولې ولګوي او الهي سیاسي مشري نالیدلې وګڼي.
که څوک ووایي، قرآن منم؛ خو د پیغمبر مشري نه منم؛ نو د مسلمانانو په اجماع کافر دی او که څوک د حضرت محمد صلی الله علیه و آله مشري مني؛ خو قرآن نه مني؛ نو د مسلمانانو په اجماع دا هم کافر دی؛ ځکه د ایمان له لوازمو څنې یو هم، پر الهي دین ایمان دی او بل پر حضرت محمدصلی الله علیه و آله ایمان دی، چې مشر او سرپرست دی، چې د الهي دین له مخې د مؤمنانو د چارو مشري کوي. نو ځکه سیاسي مشري د یوې جوړې کړای شوې ټولنې

(انجمن) په څېر ده، یوازې د اسلام دین تشریح او د احکامو له مخې یې د لارویانو مشري کوي.
د دین تشریح او د امت مشرتوب پوره یو فني او کار پوهیز چار دی لکه طب، اتوم پوهنه، هندسه او محال ده، چې دا چار زموږ ځاني غوښتنو او اجتهاداتو ته وسپارل شي.

**د سیاسي مشرتوب ځانګړنې:**

د اسلامي امت ړومبی سیاسي مشر او پالندوی حضرت محمد صلی الله علیه و آله و؛ چې یوه بېلګه وه، چې هیڅوک ورسره پرتله کولای نه شو.
هغوی چې تر پېغمبر وروسته سیاسي مشري او مرجعیت په لاس کې ونیو؛ نو ځانونه یې د پېغمبر ځایناستي او خلفا معرفي کړل.
د سیاسي مشرتوب لپاره د پېغمبر علمي وړتیا دا وه، چې په اجماع په خپله زمانه کې په دین او احکامو یې خورا پوهېده او د مسلمانانو د مشرۍ ولایت او مرجعیت ته خورا وړ او مناسب و.
دلیل یې دادی، چې متعال خدای پخپله د مشرتوب لپاره ټاکلي، پالندوینه، مشري او مرجعیت یې پکې راټول کړي وو او دې مناصبو ته یې وړ تشخیص کړی و او هیڅوک یې مخالف نه و.
چې څوک تر جناب نبي مکرم وروسته پورتني مناصب غواړي، هرومرو باېد هماغه وړتیاوې ولري، چې دادي:
۱ – تر ټولو پر اسلام پوه وي.
۲ – تر ټولو د اسلام پر احکامو ښه پوه شي.
۳ – خورا غوره شته وګړی وي.
٤ – د امت مشرۍ ته خورا و ړ وي.
د مؤمنانو مصلحت دا ایجابوي، چې مشر یې خورا پوه، ځیرک، غوره او مشرتوب ته وړ وي او یو شرعي مصلحت نه ایجابوي، چې یو داسې تن دې د مسلمانانو چارواکي وي، چې پورته ځانګړنې نه لري.
څوک به وړتیاوې تشخیصوي؟
په نړۍ کې هیڅوک یا داسې ډله نه پیدا کېږي، چې په یقین ووایي، چې دې ځانګړي مقام ته تر ټولو پوه، غوره او وړ تن دا دی؛ ځکه:
۱ – وګړیو، ډلو، امتونو او ملتونو ته د دغسې یو چار، تشخیص ناشونی دی، ځکه عقلي، فطري او عملي امکانات او وس یې نه لري.

۲ – وګړي او ډلې یوازې د وګړیو ظاهر ته ګوري (او له دننه یې ناخبره دي) او که په پلټنه څه ترلاسه کړي د حدس او ګومان له مخې دي نه د یقین، چې کله سم وي او کله تېروتنه او ډېر اعتبار پرې نه کېږي.
او خورا مهمه دا چې: پلټونکی د خپلې پوهې هومره د وګړیو له ظاهره یو څه ترلاسه کوي، چې له انساني احساساتو سره اخږل شوي دي.
نو ځکه یوازې خدای دی چې دې مقام ته تن راوښیي.
د اسلام دین، د خدای دین دی او تر ټولو ډېر یې د خپل دین مصلحتونو ته پام دی او یوازې هغه دی، چې تر قیامته د خپل دین د مشرۍ لپاره وړ وګړي وټاکي.
پر هغه ورځ چې حضرت محمد صلی الله علیه و آله خپله بلنه پیل کړه، د پالونکی په امر یې اعلان کړه، چې تر هغه وروسته څوک یې ځایناستی دی او د خپل خلیفه او ځایناستي ځانګړنې یې وښووې.
او لنډه دا چې یوازې خدای دی چې د وګړیو پر وړتیاوو پوهېږي.

**د الهي ټاکنې منل:**

که امت د خدای ټاکل شوی وګړی ومانه؛ نو دا ورسره د بیعت پر مانا ده، دلته د خدای اراده او د امت غوښتنه سره جوخټې شوې او د خدای موخه د امت له موخې سره یوه شوه؛ نو هغه وګړی چې د خدای له لوري ټاکل شوی او امت منلی؛ نو مشري یې له دواړو لوریو تایید شوې ده:
۱ – خدای چې پر ځانګړنو یې پوهېږي او له پیله یې ټاکلی دی.
۲ – امت هم د خدای تایید کړی ومانه او د مرجعیت او مشرۍ بیعت یې ورسره وکړ. که داسې وضعیت رامخې ته شو؛ نو د امت او سیاسي مشرتوب چارې ښه پر مخ ځي او ټول یې له خوږې مېوې برخمنېږي، بلنه او دولت د خدای پر لور په اسانۍ خپله لار وهي او ټول د الهي لورنې تر سیورې لاندې ځای نیسي.

**د الهي ټاکنې نه منل:**

که امت د خدای له لوري ټاکل شوې مرجع ونه منله او پخپله یې اجتهاد وکړ او یا یې ګومان وکړ چې پلانی تر پلاني د پېغمبر ځایناستي او خلافت ته وړ دی؛ نو مانا یې د یقین له مخې د الهي ټاکنې ردول او په بشري ټاکنې اړول دي، چې پر ګومان ولاړه ده.

البته دا چار حقيقت اړ واى نه شي او نامناسب مناسب کولاى نه شي؛ بلکې ولايت، مشري او مرجعيت هغه نيسي چې خداى ټاکلى نه دى، سره له دې چې دا يو کار پوهيز چار دى او ورباندې ناست تن ددې لازم لياقت او صلاحيت نه لري، په پايله کې پرله پسې ماتې به رامنځ ته شي، چې امت ټوټه ټوټه شي او عزت يې پر خوارئ واوړي او د الهي حقوقي ټولګې او قرآن مجيد ځنې ووهي او د عقل يا ګومان يا شهوت او ځاني غوښتنو او يا ددوى په ګډوله کې راګير شي. چې ورپسې الهي دين تمېږي او پر امت به د خداى قهر نازل شي. او دا وضع تر هغې دوام لري، چې وړ وګړي او د خداى له لوري ټاکل شويو قدرت ترلاسه کړى نه وي. طبيعي ده، چې خداى په زور ناروغ نه هڅوى چې درمل وخوري او بې لارې هم په زور نه اړ باسي چې پر سمه لار ولاړ شي. خداى يوازې درمل ورته مخې ته ږدي، او درملنې ته يې هڅوي او بې لاريو ته سمه سيده لار ورښيي او ورباندې تلو ته يې هڅوي، که ناروغ په لوى لاس خپله درملنه و نه کړي، نو پر ځان يې ظلم کړى دى او که بې لارې سمه لار ونه مني؛ نو ګناه يې پرخپله غاړه او هغوى دي، چې ورپسې روان دى. دا موضوع کټ مټ د هغو وګړيو د وضع په څېر ده، چې الهي لارښوونې ردوي او د پېغمبرانو مشري نه مني، يا دا چې د الهي دين منلو ته چمتو دي؛ خو دا نبياوو مشرئ منلو ته چمتوالى نه لري.

**د الهي ټاکنې د نه منلو بېلا بېل ډولونه:**

لومړى ډول: دا چې خلک الهي دين ومني؛ خو ولايت او سياسي مشري ونه مني لکه پر پېغمبر د اسرائيلو ايمان او د طالوت د مشرئ نه منل يې، په دې ګومان، چې دې منصب ته وړ نه دى او بيا چې خداى په څرګندو دلايلو د طالوت علمي او جسمي وړتيا وښووله، نو د طالوت مشري يې ومنله.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوَاْ أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَن يَشَاءُ وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (بقره/۲۴۷) ؛ او پېغمبر يې ورته وويل: ((خداى تاسې ته ((طالوت)) په واکمنئ ټا کلى دى)) هغوى وويل: ((هغه څنګه پر موږ د واکمنېدو وړ شو؟ تر هغه خو موږ وړ يو اوهغه خو شتمن هم ندى؟)) پېغمبر يې ځواب ورکړ: ((په رښتيا خداى هغه پر تاسې غوره کړى او هغه ته يې پراخه علمي اهليت او جسمي قوت ورکړى دى او د خداى، چې چاته خو ښه شي واکمني ورکوي. د خداى احسان پراخه او (د واکمنئ لپاره د وګړيو له وړتيا) خبر دى.))

**دویم ډول:**

الهي دين مني؛ خو تر پیغمبر صلی الله علیه و آله وروسته سیاسي مشري په دې مخونه نه مني چې خدای امت ته مشر نه دی ټاکلی او پیغمبر یوازې د نورو وګړیو په څېر په خپل اجتهاد او رای ټاکلی دی، د پیغمبر له اجتهاد سره مخالفت کول او د بل تن ټاکنه څه توپیر نه لري ځکه ځوک چې پیغمبر ټاکلی له بني هاشمو دی او خدای نبوت بني هاشمو ته ورکړی او عمومي مصلحت دا ایجابوي، چې یوازې نبوت دې له بني هاشمو سره وي او خلافت دې له نورو سره.

او تر دې مهمه، هغه وګړی چې پیغمبر ټاکلی و، واکمنی ته ورړ نه و، پر ځان غره و، ځوان (او تجربه یې لږه وه) او د قریشو پوخمنګي ترې موجود وو، له همدې امله په اسلام یې ایمان راوړ؛ خو هغه مشري ونه منله چې تر پیغمبر صلی الله علیه و آله وروسته خدای ټاکلې او استازي یې چمتو کړې وه. او دا حالت د علي بن ابی طالب په اړه رامنځ ته شو.

۳- دریيم ډول: چې هم الهي دین ونه مني او هم د خدای له لوري ټاکل شوې مشري. دا ډول ردول انسان کفر ته راکاږي او خدای ته ترې پناه وړو!

## سياسي مشري

۱ – د حضرت آدم علیه السلام تر زوکړې مخکې د پیغمبر د خلافت په اړه د خدای هوډ. خدای غوښتي و، چې عربي پیغمبر وروستی پیغمبر او اسلام وروستی اسماني دین وي. او پیغمبر پخپله د بلنې په پړاو او دولت کې د دین تشریح ورتر غاړې وه.

د بلنې او دولت په دوو پړاوونو کې د اسلام د لیدلوریو تشریح بشپړ شوه او پلې هم شوه. پیغمبر د دین خورا دقیقي ریزه کارۍ او ښکاره نښې په ځانګړي دود تشریح کړې د خدای اراده داسې وه، چې پیغمبر صلی الله علیه و آله او ځایناستی یې له پیله یو ځای وی او چار یو ځای ترسره کړي، تر دې چې پیغمبر د اسلام د دین تر بیانولو وروسته دولت جوړ کړي او بیا د خدای امر ته سترګې پر لاوی او د اسلام بیرغ خپل ځایناستي ته ورکړي، خلیفه یې هم پر هماغه لید، حرکت او هماغه لار ونیسي. دا یو روښانه تصویر دی، چې الهي عنایت ترسیم کړی او د مؤمنانو د ذهن پاڼې ته یې ور وړاندې کړ او خدای غوښتل چې په خپله خوښه دا چار وکړي.

د پیغمبر او ځایناستي ترمنځ ارتباط کړای شي، چې د ایماني وروری ښه بېلګه، د ایمان او عقیدې د لیکې لاروي او په اسلام کې د تېرو او راتلونکیو او د امام او امت ترمنځ د طبیعي اړیکو یو تفسیر او څرګندونه وي.

رسول الله صلی الله علیه و آله وایي: ( د آدم علیه السلام تر پیدایښت څوارلس زره کاله وړاندې، زه او علي د خدای پر وړاندې یوه رڼا وو، چې خدای آدم علیه السلام پیدا کړ، دا رڼا یې پکې وویشله، یوه برخه یې زه او بله یې علي شوه )[1]

بیا خدای تعالی چې دا دواړه رڼاګانې پیدا کړې؛ نو دواړه یې په ګرځېدو راوړې، بیا یې ددوی ترمنځ وختونه (او دورانونه) وویشل. پالونکي ځمکوالو ته وکتل او دوه تنه یې غوره کړل: یو پیغمبر صلی الله علیه و آله او بل یې زوم او ځایناستی. دا ټاکنه جوته او ټولو ته څرګنده ده.[2]

---

[1] د امام احمد حنبل مسند، د علي د فضایلو کتاب، د الفردوس لیکوال هم دا روایت راوړی او زیاتوي: بیا دا رڼاګانې ولېږدول شوې، چې عبدالمطلب ته ورسېدې؛ نو (نبوت) ماته او (وصایت) علي ته ورکړای شو. دغسې وګورئ: ابن ابی الحدید معتزلي شافعي، د نهج البلاغې شرح ۳: ۲۵۲ مخ.

[2] حاکم، مستدرک ۳: ۱۲۹ مخ . ابن عساکر تاریخ ۱: ۲۴۹ . خطیب بغدادي، بغداد تاریخ ٤: ۱۹۵ مخ . متقي هندي کنزالعمال ٦: ۳۹۱ او ۵: ۹۵ مخ . کفایت الطالب ۲۹۷ مخ.

**له بلنې لږ مخکې:**

د پېغمبر صلی الله علیه و آله تر زوکړې مخکې پلار یې ومړ او پالنه یې د نیکه عبدالمطلب پر غاړه شوه، نیکه یې هم ومړ او پالنه یې تره عبدمناف بن عبدالمطلب (چې پر ابوطالب مشهور و) پر غاړه واخسته، ابوطالب د پېغمبر مهربان تره او د هغه د ځایناستي؛ علي پلار و.

محمد د ځوانی منگ ته ورسېد، او د خدیجې په نوم یې له پوه او شتمنې ښځې سره واده وکړ او خپلواک ژوند یې پیل کړ. دا چې ابوطالب عیالمند او له مالي پلوه تش لاسی و؛ نو هوډ یې وکړ چې د خپل تره لاسنیوی وکړي او یو زوی یې وساتي. د خدای اراده داسې وه، چې دا کوچنی علي وي، چې په وروستیو کې یې ځایناستی شو.

کوچنی (علي) د خپل تره زوی په څنگ کې لویی شو او تل ورسره و او ترې نه جلا کېده، تر دې چې حضرت پر رسالت راولېږل شو او د پېغمبر د ژوند تر وروستی شېبې پورې ورسره و.

**له بعثت وروسته:**

محمد صلی الله علیه و آله د دوشنبې پر ورځ پر نبوت وټاکل شو او علي پرې د سې شنبې پر ورځ ایمان راووړ او مسلمان شو، له پېغمبر سره ملگرتوب ته یې دوام ورکړ او بیخي ترې جلا نه شو، په مکه او مدینه کې سره یو ځای ول او تقریباً په یو کور کې اوسېدل، محمد صلی الله علیه و آله د اسلام راوړوونکی و او علي تصدیق کړ او دا د خدای ددې خبرې مانا ده چې وایي:

وَالَّذِي جَاء بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ (زمر/۳۳)؛ او چاچې رښتیا(خبره) راوړه او (هغوی چې) باور یې پرې وکړ(؛ نو) همدوی ځان ساتي او (پرهیزگاران)ددي.

علي هیڅ وخت له پېغمبر سره شخړه ونه کړه، د پېغمبر خبرې یې تصدیق او منلې. علي په ټولو جگړو کې د پېغمبر لومړنی اتل و او له همدې امله د شرعي نص له مخې (صدیق اکبر) او (فاروق اعظم) ونو مول شو.[1]

---

[1] ابن عساکر، دمشق تاریخ ۱: ۷٦ مخ . مجمع الزوائد ۹: ۱۰۲ مخ . گنجي شافعي کفایة الطالب ۱۸۷ مخ . ابن حجر عسقلاني الاصباة ٤: ۱۷۱ . استیعاب. (٤: ۱۷۰) د الاسابه په لمن لیک کې . طبري ذخائر العقبي ٥٦ مخ . الغازي ٥: ۲۸۷ مخ . ذهبي میزان الاعتدال ۲: ٤۱۷ مخ .حمویني، فراید المسعین ۱: ۳۹ مخ . امیني العذیر ۲: ۳۱۳ . د کنزالعمال نچور ( ٥: ۳۳ مخ ) د امام احمد حنبل د مسند په لمنلیک کې . سرة الحلبي ۱: ۳۸۰ مخ . ابن ابی الحدید د نهج البلاغې شرح ۳: ۲٦۱ او. . .

علي کرم الله وجهه تر جناب نبي مکرم وروسته، د خپلمنځي مينې په اړه وايي:
پېغمبر له وړوکتوبه په خپلې لمن کې وپاللم او په غېږ کې به يې ټينګ نيوم او له ځان سره به يې غاړه پر غاړې سملولم او ښه بوی به يې رابانديې لګېده، خواړه به يې ژول او بيا به يې په خوله راکول، زما په ويناوو او کړنو کې يې څه دروغ اوښوييدنه پيدا نه کړه... د سيوري په څېر ورسره وم او هره ورځ يې د ښو خويونو يو نوی ټکی راښود او د خپلې لاروی امر يې راته کاوه. د کال څه موده به يې په حرا غره کې تېروله او يوازې مابه ليده پر هغه مهال، اسلام يوازې د پېغمبر په کور کې و، چې پېغمبر و او خديجه او زه يې درېيم تن وم، چې اسلام مې منلی و. د وحې او رسالت رڼا مې ليده او د نبوت نسيم مې بوياوه.[1]
قثم بن عباس وپوښتل شو، چې ولې يوازې علي د پېغمبر ميراث يو وړ؟
و يې ويل: له موږ ټولو مخکې له پېغمبر سره يو ځای شو او ايمان يې پرې راووړ او تر موږ ټولو پېغمبر ته ور نژدې و.

**له نبوت وروسته د خلافت اعلان:**

وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ(شعراء/۲۱۴) ؛ [او خپل نژدې خپلوان دې وګواښه. ]
على کرم الله وجهه وايي: چې پورتنۍ آيت نازل شو، پېغمبر صلى الله عليه و آله د عبدالمطلب اولادې په غونډه کې وويل: د عبدالمطلب اولادې! پر خدای قسم، ما چې څه درته راوړي، تر ما ښه بل هيڅا خپل قوم ته نه دي راوړي، ما درته د دنيا او آخرت خير راوړی دی.
خدای راته امر کړی چې اسلام ته مو راوبلم، څوک مې په بلنه کې مټ کېږي تر دې چې ورور، او تر ما وروسته وصي او ځايناستی مې وي؟
ټول چوپ شول او څه خبره يې ونه کړه او يوازې زه چې تر ټولو کوچنی وم، ومې ويل: رسول الله! زه دې مرستی او لاسنيوی ته ولاړ يم.
پېغمبر مې غاړه ونيوه او و يې ويل: دا مې ورور، وصي او ځايناستی دی، ( پر هغه مهال يې) خبره واورئ او اطاعت يې وکړئ.....[2]

---

[1] د نهج البلاغې د ۱۹۲ خطبې يوه برخه او هم وګورئ: هاشم معروف حسني، التصوف و التشيع . د همدې ليکوال، النظام السياسي فی الاسلام ۷۵ – ۷۶ مخونه.
[2] په طبري، تاريخ ۲: ۲۱۷ مخ . الکامل فی التاريخ ۲: ۶۲ مخ . السيرة الحلبية ۱: ۳۱۱ مخ . ابن کثير تفسير ۳: ۷۷۴ مخ . جامع البيان ۱۹: ۷۵ مخ.

دا يو (دليل او) شرعي نص دی، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله علی کرم الله وجهه تر ځان وروسته خپل وصي او ځايناستی ټاکلی دی او د پېغمبر سنت (چې ويناوې، کړنې او تاييدات يې دي) د مسلمانانو له ګروهو ځنې دي او داسې څه نه دي رارسېدلي، چې دا نص يې نسخ کړی وي. حديث (له هر پلوه) سم دی، ابن جرير او ابوجعفر اسکافي په مسلم توګه هم سم ګڼلی؛ ځکه دواړو دا حديث د هغې موضوع په څېر ګڼلی، چې اثبات ته اړتيا نه لري.
علامه عاملي په (المراجعات) کتاب کې وايي: حديث دومره واضح دی چې تاويل يې ناشونی دی، ايا څرګند (څېزونه) تاويلولای شو؟ او طبيعي ده، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله د عبدالمطلب اولادې په غونډه کې له خپل لوري څه نه وايي؛ بلکې څه چې وايي د خدای امر و؛ ځکه پېغمبر صلی الله عليه و آله د هغه امر تابع و، چې د خدای له لوري ورته راته او دا نا معقوله ده، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله به خپل پالونکي ته رجوع نه وي کړې او خپل ځايناستی به معرفي کوي.

## د ځايناستي اعلان او ټينګښت يې:

۱ – د منزلت حديث: پېغمبر صلی الله عليه و آله د مسلمانانو په مخ کې علي ته وويل: ته راته داسې يې لکه هارون چې موسی ته و؛ خو په دومره توپير چې ترما وروسته بل پېغمبر نشته[1].
په دې روايت کې، پېغمبر صلی الله عليه و آله د هارون عليه السلام ګرد سره مقامونه علي ته ورکړل او بې له نبوته يې بل څه استثنا نه کړل او د (نبوت) استثنا کول د مقامونو عموميت رابښيي. امام عاملي په دې اړه وايي: د موسی پر وړاندې د هارون عليه السلام څرګند مقام دا و، د موسی وزير (او مرستيال)، ملاتړی او په نبوت کې يې برخوال و او د موسی عليه السلام له خوا ځايناستی و او دا چې د موسی امت، د موسی په څېر له هارون عليه السلام ځنې اطاعت وکړې، ددې دليل له مخې:
وَاجْعَل لِّي وَزِيراً مِّنْ أَهْلِي. هَارُونَ أَخِي. اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي. وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي. (طه/ ۲۹- ۳۲)؛ او له کورنۍ مې راته يو وزير (مرستيال) وټاکه؛ هارون، چې ز ما ورور دی. ملا مې پرې ټينګه کړه؛ او په کار کې يې راسره برخوال کړه.

---

[1] صحيح بخاري ۵: ۱۲۹ مخ. صحيح مسلم ۲: ۳۶۰ مخ، صحيح ترمذی ۵: ۳۰۴ مخ (حديث يې سم ګڼلی). امام احمد حنبل مسند ۳: ۵۰ مخ. حاکم مستدرک ۳: ۱۰۹ مخ. طبري تاريخ ۳: ۱۰۴ مخ. ابن عساکر دمشق تاريخ ۱: ۳۰ مخ.

وَوَاعَدْنَا مُوسَى ثَلاَثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً وَقَالَ مُوسَى لأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلاَ تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ (اعراف/١۴٢)؛ او موږ له موسی سره د دېرشو شپو وعده ایښې وه، بیا مو پرهغې لس شپې (نورې) پوره کړې او پدې توګه له هغه سره د خپل پالونکي ټاکلې موده پوره څلوېښت شپې شوه او موسی (د تلو پر وخت) خپل ورور هارون ته وویل: ((ته په قوم کې مې زما ځایناستی اوسه او (چارې یې) سمې کړه او د ورانکارو پر لار مهٔ ځه.))

خدای، موسی علیه السلام ته وایي:

قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَا مُوسَى (طه/٣٦) ؛ (خدای) وویل: موسی! په یقین، غوښتنې دې درکړل شوې.

نو ځکه ددې روایت په حکم، علي کرم الله وجهه د پېغمبر ځایناستی دی.

د منزلت حدیث له خورا سمو احادیثو څخه دی چې د تواتر تر بریده رسېدلی او د باغي ډلې مشر معاویه بن ابوسفیان هم روایت کړی دی. پېغمبر صلی الله علیه و آله دا حدیث په لس ګونو ځلو ویلی دی.

## ٢ – وروري:

د پېغمبر او علي ترمنځ یې وروري وکړه، او یوازې علي و، چې له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره د وروری مقام ته ورسېد، پېغمبر صلی الله علیه و آله تر هجرت وړاندې او وروسته دا وروري اعلان کړې[١] او په لس ګونو ځلو یې په لس ګونو ځایونو کې یې ورباندې ټینګار کړی، چې مسلمانان یې هېره نه کړي.[٢]

لکه: پېغمبر صلی الله علیه و آله وویل: د پالونکي له لوري مې د ورور او د تره زوی او لور په اړه رارسېدلی چې خدای، فاطمه علي ته واده کړې ده.[٣] او چې فاطمه یې د علي کور ته بوتله؛ نو پېغمبر صلی الله علیه و آله خپلې مېرمن ام ایمن (رض) ته وویل: ورور مې (علی) راوبوله.

---

[١] سبط ابن جوزی تذکرة الخواص، ٢٣ مخ . ابن عساکر تاریخ ١: ١٠٧ او ١٥٠ مخونه. . حاکم مستدرک ٣: ١٠٩. صحیح ترمذي ۵: ٣٠ مخ . اسدالغابة ٢: ٢٢١ مخ او. . .

[٢] فخر رازي تفسیر ٢: ١٨٩ مخ.

[٣] خوارزمي، مناقب ٢۴٦ مخ . خوارزمي، مقتل الحسین ١: ٦٠ . ابن اثیر اسدالغابة ١: ٢٠٦ مخ . ابن حجر الصواعق المحرقه، ١٧١ مخ.

ام ایمن (رض) وویل: هغه دې ورور دی، چې لور دې ورواده کوې؟
و یې ویل: هو.......[1]
علي ته د پېغمبر صلی الله علیه و آله خبرو ته ځیر شئ: ته مې په جنت کې ورور، ملګری او رفیق یې[2].
علي! ته مې ورور او د اولادونو پلار یې[3].
د ژوند په وروستیو شپو کې یې ورته وویل: ورور ته مې غږ کړئ (چې راشي)[4] چې علي راغی ورته یې وویل: رانژدې شه، چې ورنژدې شو، په غیږ کې یې ونیو او خبرې یې ورسره پیل کړې تر دې چې سا یې ورکړه او روح یې ملکوت اعلی ته ولاړه؛ نو ځکه علي څو ځل ویلي: زه د خدای بنده او د استازي یې ورور یم، زه صدیق اکبر (ستر رښتین) یم، چې څوک له ما وروسته دغسې ادعا وکړي؛ نو دروغجن دی.[5]
له پېغمبر سره د علي وروري (تر هجرت وړاندې او وروسته) له هغو چارو دي، چې شیعه او سني ټول یې مني. او د ابوبکر (رض) او عمر (رض) وروري هم همداسې وه.
(اوپوهېږو چې) ابوبکر (رض) تر ځان وروسته خپل ورور عمر (رض) منصوب کړ او پر وصیت یې عملي شو.

## ۳ - ولایت:

پېغمبر صلی الله علیه و آله په ډېرو ځایونو کې اعلان کړی، چې له ده وروسته د مسلمانانو (ولي) او پالندوی (علي ) دی لکه:

---

[1] خصائص النسایي، ۱۱۵ مخ.
[2] ابن عساکر، تاریخ ۱: ۱۲۲ مخ . د کنزالعمال نچور (۵: ٤٦ ) د امام احمد حنبل د مسند په لمنلیک کې.
[3] خوارزمي مناقب، ۲۷ مخ _ د نجف اشرف چاپ).
[4] ابن سعد طبقات ۲: ۲٦۳ مخ او ۳: ۲۲۰ مخ . خوارزمي مناقب ۲۹ مخ . ابن جوزی تذکرة الخواص ۲۳ مخ . ابن عساکر، دمشق تاریخ ۱: ۱۰۷ مخ . ابن مباغ مالکي الفصول المهمة، ۲۱ مخ . حاکم مستدرک ۳: ۱۰۹ مخ . صحیح ترمذي ۵: ۳۰ مخ . ابن اثیر اسدالغابه ۲: ۲۲۱ او ۳: ۱۳۷ مخ . الاستیعاب ( ۳: ۳۵ مخ) د الاصابة په لمنلیک کې.
[5] ابن ماجه سنن ۱: ٤٤ مخ . طبري تاریخ ۲: ۳۱۰ مخ . ابن اثیر الکامل ۲: ۵۷ مخ . ابن عساکر تاریخ ۱: ۱۲۰ مخ . الاستیعاب ۳: ۳۹ ) د الاصابه په لمنلیک کې.

حضرت محمد صلی الله علیه و آله علي ته وویل: ته مې په دنیا او اخرت کې ځایناستی یې[1].
او مسلمانانو دا مطلب اوریدلی و. او یو ځل پیغمبر صلی الله علیه و آله د علي په مشری لښکر یوې سیمې ته ولیږه، لښکر بریالی شو او علي د ولجو له خمسه (پینځمې) ځانته یوه منیزه رابیله کړه، ځینې ملګرې یې پر دې کار خپه شول او پیغمبر صلی الله علیه و آله ته یې شکایت وکړ. جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ورته وویل: له نیولې مینزې یې حق ډیر دی، هغه له ما وروسته ستاسې ولي او پالندوی دی.[2]
پیغمبر صلی الله علیه و آله تل ویل: د چاچې زه مولایم، علي یې هم مولا دی، د چاچې زه ولي یم، علي یې هم ولي دی. دا روایات په مسلمانانو کې دومره شهرت لري چې ټول یې سموالی مني.
پیغمبر صلی الله علیه و آله دا مشهوره خبره ( د چاچې زه مولا یم او پالندوی یم، دا علي یې هم مولا او پاندوی دی ) د یو لک تنو مسلمانانو په مخ کې کړې ده او پردې یې هم بسیا ونه کړه؛ بلکې د علي د ولایت پر اړتیا یې ټینګار وکړ او په دنیا او آخرت کې یې ددې ولایت پر اغیز څرګندونې وکړې، چې که څوک علي خپل مولا وټاکي لکه چې د پیغمبر صلی الله علیه و آله ولایت یې منلی وي. د چاچې له علي سره دوستي وي لکه چې له پیغمبر سره یې وي او چې له علي سره یې دښمني وي لکه چې له پیغمبر صلی الله علیه و آله سر یې دښمني کړې ده او چې څوک د پیغمبر ولایت ومني لکه چې د خدای ولایت یې منلی وي. پیغمبر اکرم د علي کرم الله وجهه په اړه وایي:
( چې څوک غواړي زما په څیر ژوند وکړي او په څیر مې ومري، او په هغه جنت کې مېشت شي، چې خدای یې راسره وعده کړې؛ نو د علي بن ابی طالب ولایت دې ومني؛ ځکه هغه مو له سمې لارې څخه نه کږوي او بې لارې ته مو نه ورننباسي )[3].
وهب بن حمزة (رض) وایي: په یو سفر کې له علي سره وم او د ځان په اړه مې یو څه کم لطفي او جفا ترې وانګیرله (بیا مې دا جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله ته وویل) په څواب کې

[1] مخ . صحیح مسلم ۲: ۲٤ مخ . حاکم مستدرک ۳: ۱۰۹ مخ . صحیح بخاري ۲: ۵۸ مخ.
[2] صحیح ترمذي ۵: ۲٦۹ . خصائص النسایي ۹۷ مخ . حلیة الاولیا ٦: ۲۹٤ مخ . اسدالغابة ٤: ۲۷ مخ . بغوي مسابیح السنة ۲: ۲۷۵ مخ . شبلنجي نورالابصار ۱۵۸ مخ.
[3] ابونعیم حلیة الاولیاء ٤: ۳٤۹ مخ . مجمع الزواید ۹: ۱۰۸ مخ . ابن عساکر شافعي دمشق تاریخ ۲: ۹۳ مخ . فضائل الخمسه من الصحاح الستة ۲: ۲۱۳ مخ . حمویني فرائد المسلمین ۱: ۵۵ مخ . احقاق الحق ۵: ۱۰۸ مخ.

يې راته وويل: ( د علي په اړه داسې مه وائ؛ ځکه هغه تر ما وروسته ستاسې ولي او پالندوی دی )[1].

**د علي ولايت او مينه د خدای ولايت او مينه ده:**

پېغمبر صلی الله عليه و آله يوه ورځ خپلو اصحابو ته وويل: چاچې پر ما ايمان راوړی او زه يې تصديق کړی يم، د علي بن ابی طالب د ولايت سپارښتنه ورته کوم؛ چې څوک يې خپل ولي وګڼي؛ نو زما ولايت يې منلی او چې څوک زما ولايت او پالندوينه ومني د خدای ولايت يې منلی، د چاچې له علي سره مينه وي؛ نو له ماسره يې مينه ده او له ماسره مينه يې له خدای سره مينه ده، له علي سره دښمني له ماسره دښمني ده او له ماسره دښمني له خدای سره دښمني ده ابن عساکر، دمشق تاريخ ۲: ۹۳ مخ + ابن مغازلي شافعي ۲۳۰ او ۲۷۹ مخونه + مجمع الزوايد ۹: ۱۰۸ مخ ينابيع الموده ۲۸۲ مخ + د کنزالعمال نچور ( ۵: ۳۲ مخ ) د امام احمد حنبل د مسند په لمنليک کې + حمويني، فرائد المسلمين ۱: ۲۹۱ مخ + فضائل الخمسه ۱: ۲۰۲ مخ + تستري احقاق الحق ٦: ٤۳٤ – ٤۳۷ مخونه.

او بل ورځ يې خپلو اصحابو ته وويل: ( چې چا پر ما ايمان راوړی او زه يې تصديق کړی يم؛ د علي ولايت دې ومني؛ ځکه ولايت يې زما ولايت او زما ولايت د خدای ولايت دی )[2].

**پر له پسې اعلانونه او د ولايت ټينګښت يې:**

د علي د ولايت د ټينګښت او د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله ددې دعا ( خدايه! له کورنۍ مې يو وزير راته وټاکه او علي وټاکه ) د منلو په غبرګون کې خدای د مائدې (۵۵) آيت نازل کړ، چې په ولايت آيت مشهور دی.[3]

---

[1] ابن حجر الاصابه ۳: ٦٤۱ مخ . ابن عساکر، دمشق تاريخ ۱: ۳۸۵ مخ . شيخ سليمان قندوزي حنفي، نيابيع المودة، ۵۵ مخ . ابن اشير، اسعدالغابة ۵: ۹ مخ . مجمع الزوايد ۹: ۱۰۹ مخ . امينی العذير ۳: ۲۱٦ مخ او. . .

[2] ابن عساکر شافعي، دمشق تاريخ ۲: ۹۱ مخ ( ۵۹۱ ګڼه حديث).

[3] طبري تفسير ٦: ۲۸۸ . کشاف تفسير ۱: ٦٤۹ . قرطبي تفسير ٦: ۲۱۹ مخ . واحدي اسباب النزول ۱٤۸ مخ . جلالين تفسير ۲۱۳ مخ . ابن حوزي حنبلي زاد المسير ۲: ۳۸۳ مخ . حاکم حسکاني حنفي، شواهد التزيل ۱: ۱٦۱ مخ (۲۱٦ ګڼه حديث ) . شوکانی فتح القدير ۲: ۵۳ مخ. . ابن کثير تفسير ۲: ۷۱ مخ . جصاص، احکام القرآن ٤: ۱۰۲ مخ . فخر رازي تفسير ۱۲: ۲٦ مخ . بلا ذري النساب الاشراف ۲: ۱۵۰ مخ . کنزالعمال نچور ( ۱۵: ۱٤٦ مخ ) د امام احمد حنبل د مسند په لمنليک کې.

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ؛ ستاسي ولي او پالندوی خو يوازې خدای، د هغه پېغمبراو هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي.

## علي د مسلمانانو ښاغلی او د متقیانو امام دی

پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله خپلو اصحابو ته وویل: خدای راته د (علي) په اړه درې مطلبه وحې کړي چې دادي: علي د مسلمانانو ښاغلی، د متقیانو امام او د نېکچاریو لارښود دی[1].

او یوه ورځ یې خپلو اصحابو ته وویل: خدای تعالی د علي په اړه وحې رالیږلې، چې هغه د مسلمانانو ښاغلی، د متقیانو ولي او نېکچاریو لارښود دی.[2]

اوبل ورځ یې د اصحابو په مخ کې علي ته وویل: ښه راغلاست د مسلمانانو ښاغلیه او د متقیانو لارښوده.[3]

او په یوه غونډه کې یې اصحابو ته وویل: ړومبی تن چې په دې وره راننوځي، د متقیانو مشر، د مسلمانانو ښاغلی، وروستی وحي او د نېکچاریو لارښود دی، ناڅاپه علي راننووت، پیغمبر صلی الله علیه و آله راپاڅېد او په غېږ کې یې ونیو.[4]

بیا یې یوه ورځ خپلو اصحابو ته وویل: خدای راته د علي په اړه سپارښتنې کړي او ورته مې وویل چې راته یې ووایه، و یې ویل: علي د هدایت بیرغ، زما د دوستانو مشر او زما د اطاعت کوونکیو رڼا ده.[5]

یوه ورځ پیغمبر صلی الله علیه و آله انصارو ته وویل: انصارو! ایا هغه څوک درته وښیم، چې تر ما وروسته ورباندې منګولې ولګوئ، چې بیخي بې لارې نه شئ؟ وویل شول: هو، ای رسول الله صلی الله علیه و آله! و یې ویل: دا وګړی علي دی، زما په پار یې دوست وګڼئ او زما په پار یې عزت وکړئ؛ ځکه جبرئیل د خدای له لوري راته امر وکړ چې دا درته وایم.

یوه ورځ پیغمبر په غونډه کې وویل: د عربو سید او ستر ته غږ کړئ چې راشي.

ام المؤمنین عایشې (رض) وویل: ایا ته پخپله د عربو ښاغلی نه یې؟

---

[1] ۱ – ابن مغازلي شافعي، مناقب ٦٥ او ١٠٤ مخونه. ابن مباغ مالکي الفصول المهمة ١٠٧ مخ. مجمع الزوائد ۹: ١٢١ مخ. اسدالغابه، ۱: ٦٩ مخ. زرندي حقيقي دارالمسلمين ١١٤ مخ. حمويني فرائد المسلمين ١: ١٤٣ مخ. شيخ سليمان قندوزي خفي ينابيع موده ٨١ مخ.

[2] ابن عساکر تاریخ ۲: ٢٥٧ مخ. الرياض النفر ٢٥: ٢٣٤ مخ. امام احمد حنبل ٥: ٣٤ مخ. ذخائر العقبي ٧٠ مخ.

[3] حلية الاولياء، ١: ٦٦ مخ. ابن عساکر تاريخ ٢: ٤٤ مخ. کنزالعمال ١٥: ١٥٧ مخ. امام احمد حنبل سند ٥: ٥٥ مخ. فرائد المسلمين ١: ١٤١ مخ او. . .

[4] حلية الاولياء ١: ٦٣ مخ. کفاية الطالب ٢١٢ مخ. ابن عساکر تاريخ ٢: ٤٨٧ مخ.

[5] حلية الاولياء ١: ٦٧ مخ. ابن مغازلي مناقب ٤٦ مخ. ابن عساکر تاريخ ٢: ١٨٩ مخ.

و يې ويل: زه د ټولو بنيادمانو ښاغلی يم او علي د عربو ښاغلی دی.[1]
او چې علي راغی انصارو ته يې ولېږه او هغوی ته يې وويل: انصارو! ايا هغه څوک در وښيم.
. . . . د حديث تر پايه.[2]
يوه ورځ يې د يوې ډلې اصحابو په منځ کې حضرت علي ته وويل: علي! ستا مخ ته کتل عبادت دي ته په دنيا او آخرت کې ښاغلی او ستر يې، دوست دې زما دوست او زما دوست د خدای دوست دی، دښمن دې زما دښمن او زما دښمن د خدای دښمن دی، پر هغه دې افسوس وي، چې تا دښمن ګڼي.[3]
پيغمبر صلی الله عليه و آله د حضرت علي په باب خپلو اصحابو ته وويل: زه د پوهې ښار يم او علي يې ور دی، چې څوک پوهه غواړي، بايد په وره يې ورننوځي.[4]
پيغمبر صلی الله عليه و آله يوه ورځ خپلو اصحابو ته وويل: زه د حکومت کور يم او علي يې ور دی.[5]
او دريم ځل يې وويل: زه د حکمت ښار يم او علي يې ور دی.[6]
او څلورم ځل يې وويل: علي مې د پوهې ور دی او تر ما وروسته زما ماموريت امت ته څرګندوي، دوستي يې د ايمان نښه او دښمني يې د نفاق نښه ده.[7]

---

[1] حلية الاولياء ۱: ٦۳ مخ . مجمع الزوايد ۹: ۱۳۲ مخ . د ګنجي کفاية الطالب ۲۱۰ مخ . ينابيع الموده ۳۱۳ مخ . _ کنزالعمال ۱۵: ۱۲٦ مخ . الرياض النفره ۲: ۲۳۳ مخ . فضايل الخمسه ۲: ۹۸ مخ . ابن طلحه مطالب السؤل ۱: ٦۰ مخ . فرايد المسلمين ۱: ۱۹۷ مخ . ابن الحديد، د نهج البلاغې شرح ۹: ۱۷۰ مخ.

[2] ابو نعيم، هلية الاوليا. ابی الحديد، د نهج البلاغې شرح ۳: ۲۵۱ مخ.

[3] امام احمد حنبل په خپل مسند کې روايت کړی، چې ابن عباس دا حديث تفسيراوه او ويل يې: چې څوک ورته ګوري وايي: سبحان الله! دا ځوان څومره پوه، ميړنی او فصيح دی. وګوری: د نهج البلاغې شرح ۳: ۲۵۳ مخ.

[4] امام احمد حنبل مسند ۵: ۳۰ مخ . ابن عساکر تاريخ ۲: ٤٦٤ مخ . سيوطي تاريخ الخلفا ۱۷۰ مخ . ابن ابی الحديد د نهج البلاغې ۷: ۲۱۹ مخ.

[5] صحيح ترمذي ۱: ۳۰۱ مخ . ابن مغازلي مناقب ۸۷ مخ . الصواعق المحرقه ۱۲۰ مخ . حلية الاوليا ۱: ٦۳ مخ .د کنزالعمال نچور: ۵: ۳۰ مخ ( د امام احمد حنبل د مسند په لمنليک کې).

[6] ابن مغازلي، مناقب ۸٦ مخ.

[7] فتح الملک العلی بصحة حديث باب مدينة العلم علی. امينی العذير ۳: ۹٦ مخ.

او يوه ورځ يې د خپلو اصحابو په مخ کې حضرت علي ته وويل: ته به تر ما وروسته زما د امت اختلاف روښانه کوې.[1]

او بيا يې د علي په باب خپلو اصحابو ته وويل: د علي مقام راته داسې دی، لکه زما مقام چې خدای ته دی.[2]

پيغمبر صلى الله عليه و آله په څو ځله ويلي: په عدالت کې زما او د علي لاس يو رنگ دی[3].

او حضرت علي هم تل ويل: د خدای د کتاب په اړه مې وپوښتئ؛ ځکه ( د قرآن په اړه مې معلومات ډېر دی تر دې چې ) پوهېږم ( پلانی آيت ) د شپې نازل شوی يا ورځې، په هواره نازل شوی يا غرنۍ سيمه کې.[4]

امام احمد حنبل رحمة الله عليه د حضرت علي کرم الله وجهه په اړه وايي: د علي په اړه چې څومره فضايل روايت شوي، د پيغمبر صلى الله عليه و آله د يوه صحابي په باب نازل شوی نه دي.[5]

ابن عباس ويلي ( د علي د فضايلو په باب چې څومره آيتونه نازل شوي، د هيچا په اړه نازل شوی نه دي.

ابن عباس ويلي، ( د علي د فضايلو په اړه د قرآن درې سوه آيتونه نازل شوي دي. ابن عباس ويلي: خدای به چې هر ځل (يا ايها الذين آمنوا) رانازلاوه؛ نو علي يې غوره بېلگه وه.

ابن عباس ويلي: حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) دواړو شعر وايه؛ خو د علي شعر ترې ښه و.[6]

د حضرت علي په باب د پيغمبر صلى الله عليه و آله په يوې وينا بحث پای ته رسوو: حضرت علي له قرآن سره دی او قرآن له علي سره، دا دواړه يو له بله نه بېلېږي، څو د (کوثر) حوض تر څنډې راته راشي.[7]

---

[1] ابن عساکر دمشق تاريخ ۲: ٤۸۸ مخ . خوارزمي مقتل الحسين ۱: ۸٦ مخ . خوارزمي مناقب ۲۳٦ مخ .ينابيع الموده ۱۸۲ مخ . د کنزالعمال نچوړ ۵: ۳۳ مخ . ملحق المراجعات ۱٤٦ مخ.

[2] ابن عساکر تاريخ ۲: ٤۸۸ مخ . خوارزمي مقتل الحسين ۱: ۸٦ مخ.

[3] کنزالعمال ٦: ۱۵۳ مخ، ۲۵۳۹ گڼه حديث.

[4] سيوطيي تاريخ الخلفا، ۱۸۵ مخ.

[5] حاکم، مستدرک ۱۰۷ مخ.

[6] الصواعق المحرقه ۷٦ مخ . سيوطي تاريخ الخلفا. نظام السياسي فی الاسلام لومړی باب.

[7] طبراني، الاوسط اوالصغير، . سيوطي تاريخ الخلفا ۱۷۳ مخ.

**د علي ولایت او خلافت له هر پلوه دیني، ایماني او عقیدتي دی:**

دا پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله دی چې خپلو اصحابو ته وایي: علي بن ابی طالب د ښننې ور (باب حصه ) دی، چې څوک پر وره ننوت مؤمن او که ور نه ننووت؛ نو کافر دی.[1]

دې غوځ شرعي نص ( حدیث ) ته پام وکړئ، چې پیغمبر صلی الله علیه و آله وایي: علی له ما ځنې دی او زه له علي ځنې یم، یوازې زه پخپله یا علي زما پر ځای رسالت تبلیغوي.[2]

هغې خبرې ته ځیر شئ چې پیغمبر صلی الله علیه و آله د خپلو اصحابو په مخ کې حضرت علي ته وکړه: چې څوک له ما ځنې بېل شي؛ نو له خدایه جلا شوې دی، علي! چې څوک درنه بېل شي، لکه چې له ما جلا شوی دی.[3]

د نبي کریم صلی الله علیه و آله دې حدیث ته ځیر شئ: زه گواښنگری یم او علي لارښودونکی دی، علي! هدایت غواړي ستا له لارې هدایت مومي.[4]

جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله خپلو اصحابو ته وویل: زه او دا (علي) د قیامت پر ورځ پر امت حجت یو.[5]

نبي کریم صلی الله علیه و آله ویلي: د جنت پر وره کښل شوي ( لا اله الا الله محمد رسول الله، علي اخو رسول الله؛ یوازې الله د لمانځنې وړ دی، محمد یې استازی دی او علي د رسول الله ورور دی)[6].

---

[1] سیوطی، جامع الصغیر ۲: ۵۹ مخ . الصواعق المحرقه ۷۵ مخ . ینابیع المودة ۱۵۸، ۲۴۷ او ۲۸۴ مخونه . د کنزالعمال غورچاڼ ۵: ۳۰ مخ.

[2] ابن ماجه، سنن ۱: ۴٤ مخ . صحیح ترمذي ۵: ۳۰۰ مخ . نسایي خصایص ۲ مخ او. . .

[3] حاکم مستدرک: ۳: ۱٤٦ مخ. محب طبري ذخائر العقبی ٦٦ مخ . مجمع الزواید ۹: ۱۳۵ مخ . ابن عساکر تاریخ ۲: ۲٦۸ مخ . ذهبي المیزان ۲: ۱۸ مخ.

[4] امام احمد حنبل مسند ۵: ۳٤ مخ . طبري تفسیر ۱۳: ۱۰۸ مخ . فخر رازي تفسیر ۵: ۲۷۱ مخ . حاکم مستدرک ۳: ۳۰۷ مخ او. . .

[5] د کنزالعمال غورچاڼ ۵: ۹٤ مخ ( د امام احمد د مسند په لمنلیک کې ) . ابن عساکر تاریخ ۲: ۲۷۳ مخ.

[6] ابن مغازلي، مناقب ۹۱ مخ، خوارزمي مناقب ۸۸ مخ . خوارزمي مقتل الحسین ۳۸ مخ . ابن جوزي تذکرة الخواص ۲۲ مخ . طبري ذخائر العقبی ٦٦ مخ . ذهبي میزان الاعتدال ۲: ۷٦ مخ . ابن عساکر تاریخ ۱: ۱۱۹ مخ . ذهبي میزان الاعتدال ۲: ۷٦ مخ . ابن عساکر، تاریخ ۱: ۱۱۹ مخ . کنزالعمال ۱۵: ۱۲۱ مخ او. . .

پېغمبر صلی الله علیه و آله ويني: د عرش پر ډډ کښل شوي: (لا اله الا الله، محمد رسول الله، ايدته بعلی ونصر ته بعلي؛ يوازې الله د لمانځنې وړ دی، محمد يې استازی دی او په علي مې د هغه تاييد او ملاتړ وکړ.[1]

څو پاڼې مخکې ويل شوي حديث ته پام وکړئ، چې رسول الله پکې انصارو ته ويلي و: جبرئيل د خدای له لوري راته امر کړی و، چې دا مطالب درته ووايم.[2]

**ولي الله او د پېغمبر ځايناستی، د اسلام اتل دی:**

له ايمان سره د کفرو د جګړو په ترڅ کې د (حضرت علي) ستوری وځلېد او د اسلام د اتل په بڼه راووت او نړۍ د حضرت علي په څېر څوک لا ليدلي نه دي.

حضرت علي له جمل جګړې مخکې د غاړې خلاصولو لپاره حضراتو طلحه او زبير (رض) ته وويل: عايشې (ام المؤمنين) ته د خدای او د هغه رسول په حق کې قسم ورکوم، چې د څلورو څيزونو په اړه رښتيا ووايي:

۱ - په قريشو کې څوک پيژني، چې ترما رسول الله ته نژدې و؟

۲ - اسلام مې تر ټولو خلکو ړومبی نه و؟

۳ - په خپله توره او نېزه مې د کفارو پر وړاندې له رسول الله دفاع ونه کړه؟[3]

٤ - حمزه بن عبدالمطلب ړومبی تن و، چې په اسلام کې يې بيرغ پورته کړ او په ټولو غزاګانو کې بيرغ يا د علي په لاس و يا د حمزه.[4]

حضرات حمزه، علي او عبيدالله (رضی الله عنهم) لومړی ډله وه، چې د بدر په غزا کې جګړې ته چمتو شول، او په ټولو غزاګانو کې تر نبي کريم صلی الله علیه و آله وروسته، حضرت علي لومړی اتل و.

جناب نبي مکرم (د خيبر په غزا کې) وويل: سبا به بيرغ داسې چاته ورکړم، چې هغه د خدای او رسول يې خوښېږي او د هغه هم خدای او رسول يې خوښېږي، خدای به د هغه په لاس

---

[1] ابن عساکر تاريخ ۲: ۳۵۳ مخ . مجمع الزوايد ۹: ۱۲۱ مخ . حلية الاوليا ۳: ۳٦ مخ . امام احمد مسند : ۳۵ مخ . الرياض النفره. ۲: ۲۲۷ مخ.

[2] حلية الاوليا ۱: ٦۳ مخ . کفايت الطالب ۲۱۰ مخ . کنزالعمال ۵: ۲٦ مخ . د ابی الحديد د نهج البلاغې شرح ۹: ۱۷۰

[3] ابن قتيبه الامامة والسياسة ۷۰ – ۷۲ مخونه.

[4] ابن سعد طبقات ۲: ۸، ۹، ۲۹، ۳۱، ٤۹، ۵۸، ۵۹، ۷۸، ۱۰٦، او ۱۱۵ مخونه.

خیبر سوبه کړي، چې ګهیځ شو، هر مسلمان هیلمن و، چې بیرغ به ورکړای شي؛ خو پېغمبر وویل: علي چېرې دی؟
وویل شول: سترګې یې خوږېږي، و یې غوښت. سترګې یې داسې ورته ورغولې، لکه چې نه خوږېدې، بیرغ یې ورکړ او خدای د حضرت علي له لارې د خیبر کلا سوبه شونې کړه[1].
حضرت علي د خیبر کلا یو ور راونړاوه او ډال یې کړ او تر هغې جګړه وکړه، چې خدای خیبر سوبه کړ او بیا یې ورپر ځمکه وغورځاوه، حال دا چې اتو تنو له ځایه خوځولای نه شو. [2]
د خندق په غزا کې چې عمرو بن عبدو چغې وهلې: د سیال غوښتلو له ویلو ستړی شوم، څوک شته چې ډګر ته راووځي؟ یوازې حضرت علي و، چې ځواب یې ورکړ او په خپله توره یې هلاک کړ.[3]
له بدر، اُحُد، خیبر، حنین او نورو غزاګانو وپوښته، چې حضرت علي څه وخت له جګړې ډډه کړې او یا ترې تښتېدلی دی؛ او یا د پېغمبر د کورنۍ کوم غړي د اسلام له مرستې کولو ځنې ډډه کړې وه؟ که څوک مدعي شي چې پر حضرت علي لاسبرې شوی او یا یې زیاته سرښندنه ترې کړې او یا ترې ښه جنګېدلی؛ نو دروغجن دی. اسلام ته یې اتلولی ځلاند ستوری کړ. او د اسلام یوازېنی اتل شو، چې د ګرد خلکو په خولو کې ولوېد.
یوازې حضرت علي و، چې عاص بن سعد بن عاص، حنظله بن ابوسفیان او عاص بن هشام بن مغیره (د عمر بن خطاب رضی الله عنه ماما) یې ووژل.[4]
ددې یوازینې اتل د کړنو د ارزونې لپاره، د اسلامي اردو اعلی سر قومندان او سردار کونین محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم وویل:

---

[1] مسلم، بخاری، طبراني او ډېری تاریخپوهانو او د ننو اصحابو روایت کړی دی، همداراز وګورئ: حافظ ابن بطریق، عمدة عیون صحاح الاخبار.

[2] دا حدیث بخاری او مسلم روایت کړی، د سیوطی تاریخ الخلفا ۱۶۷ مخ وګورئ آبن ابی الحدید په خپلې عینیه قصیدې کې وایي: څلور څلوېښت تنو خوځولای نه شوه؛ یا قالع الباب الذی عجزت عن هذه اکف اربعون و اربع.
[3] ابن سعد طبقات ۲: ۶۸ مخ . خوارزمي مقتل ۱: ٤٥ مخ . حاکم حسکاني حنفي، شواهد التزیل ۲: ۸ مخ . حاکم مستدرک ۳: ۲۷ مخ.
[4] ابن سعد طبقات ۲: ۱۷ – ۱۸ مخونه.

( د خندق پر ورځ له عمرو بن عبدو سره د علي بن ابی طالب مبارزه، د قيامت تر ورځې زما د امت له کړنو غوره ده )[1]

[1] حويني فرائد المسطين ۱: ۲۵۹ مخ ( ۱۹۸ گڼه حديث ) . خوارزمي مقتل الحسين ۱: ٤۵ مخ . خوارزمي مناقب ۵۸ مخ . حاکم حسکاني حنفي شواهد التزيل ۲: ۸ مخ . حاکم، مستدرک ۳: ۲۷ مخ .

## د علي الهی واده

فاطمه، د محمد صلی الله علیه و آله لور، د نړۍ له خورا غوره ښځو او پلار ته ډېره گرانه وه.[1] ټول پوهېږي چې د پېغمبر خوشحالي د فاطمې له خوشحالۍ او خپگان یې د فاطمې له خپگانه گڼل کېده (فاطمې دومره عظمت درلود چې ) هر پتمن هیلمن و، چې په ښځېر یې وي.

ورسره د واده غوښتونکي یې ډېر وو؛ خو پېغمبر ټول رد کړل. د حضراتو ابوبکر او عمر رضی الله عنهما غوښتنې یې هم رد کړې او ورته یې وویل: ( په دې اړه د خدای امر ته سترگې پر لار یم).[2]

یوه ورځ پر پېغمبر صلی الله علیه و آله د خدای له لوري زېری وشو، او خپلو اصحابو ته یې وویل: ( زما د ورور او تره زوی او لور په اړه مې د خدای له لوري یو زیری راغلی چې خدای فاطمه علي ته ورنکاح کړې ده )[3]

او پېغمبر صلی الله علیه و آله تل فاطمې ته دا الهي نعمت وریاداوه او خپلو اصحابو ته هم.

په یو حدیث کې پېغمبر صلی الله علیه و آله فاطمې ته وویل: ایا خوښه نه یې چې خدای له ځمکوالو یوازې دوه تنه غوره کړي وي؛ چې یو دې پلار او بل دې مېړه وي؟[4]

یوه ورځ فاطمې خپل پلار ته وویل: پلاره! علي ته دې ورکړم؛ هغه خو تش لاس دی او پیسې نه لري؟

پېغمبر صلی الله علیه و آله ورته وویل: لورې! خوښه نه یې چې خدای له ځمکوالو دوه تنه غوره کړي وي چې یو ستا پلار او بل دې مېړه وي؟[5]

یوه ورځ فاطمه ناروغه شوه او پېغمبر صلی الله علیه و آله یې لیدو ته ورغی، و یې پوښتل چې مېړه دې څنگه دی؟ و یې ویل: پر خدای قسم، ستومانه، اړتیاوې مې زیاتې او ناروغي مې اوږده شوې ده.

---

[1] اسدالغابه ۵: ۴۳۷ مخ . ذخایرالعقبی ۵۴۴ مخ . الاصبه ٤: ۳۷۸ مخ.

[2] بغداد تاریخ، ۱: ۳۶۳ مخ . ابن سعد طبقات ۲: ۲۴۰ مخ . اسدالغابه ۱: ۳۸ مخ ابن مغازلی، مناقب ۳۴۶ مخ . کفایة الطالب ۳۰۲ مخ.

[3] اسدالغابه ۱: ۲۰٦ مخ . الصواعق المحرقه ۱۷۱ مخ . خوارزمي، مقتل الحسین ۱: ٦۰ مخ.

[4] ابن عساکر تاریخ ۱: ۲۴۹ مخ . تذکرة الخواص ۳۰۸ مخ.

[5] حاکم، مستدرک ۳: ۱۲۹ مخ. کفایة الطالب ۲۹۷ مخ . بغداد تاریخ ٤: ۱۹۵ مخ.

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وویل: خوشحاله نه یې؟ ته خو مې داسې چاته ور واده کړې یې چې تر ټولو ړومبی مسلمان شوی، تر ټولو پوه او زغمناک دی.[۱]

**مبارک نسل:**

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله مسلمانانو ته وویل: خدای تعالی د هر پېغمبر اولاده له خپل صلب څنې کړې؛ خو بې له ما چې څوځات مې د علي له کهوله دی.[۲]

او دا جمله د پېغمبر ددې حدیث مانا ده چې: د هرې ښځې او لور اولاده د هغې د مېړه کورنی ته مسنوبېږي خو بې د فاطمې له اولادې، چې ماته منسوبېږي او زه یې پلار یم.[۳]

او بیا یې د خپلې خبرې په ټینگار کې ویلي: خو ته ای علي! ورور او د اولادې پلار مې یې.[٤]

او علي ته یې اشاره وکړه او و یې ویل: دا سړی زما ورور، د تره زوی، زوم او د لادونومې پلار دی.[٥]

دا څه تصادفي نه ده، چې د پېغمبر صلی الله علیه و آله څوځات د فاطمې په اولادونو کې را ایسار دی بلکې د خدای له لوري دی، او امت په علم او یقین پوه شوی، چې پېغمبر بې د فاطمې له اولادې نوره اولاده نه لري او حضرت په خپله خوښه اصحابو ته ویل: دا زوی مې حسن او دا زوی مې حسین دی، خدای پرې د حسن او حسین نو مونه ایښي دي، دوی په جنت کې د جنتي ځوانانو ښاغلي دي او له دې امته مې خوربویه گلان دي او سره له دې چې د پېغمبر تر وفات وروسته د حضرت پېغمبر د کهول د منځه وړو لپاره یې ډېرې هڅې وکړې او سره له دې چې امام حسن یې مسموم او امام حسین یې شهید کړ خو له دې مبارک ځوځاته دولس تنه امام رامنځ ته شول، چې وروستی یې مهدي متنظر عجل الله تعالی فرجه الشریف دی.

**د پېغمبر او علي کور:**

---

[۱] امام احمد مسند ۵: ۳۱ مخ . طبري الریاض النفره ۲: ۵۵ مخ . ابن ابی الحدید، د نهج البلاغې شرح ۳: ۲٦۱ مخ.

[۲] کنزالعمال، ۵۲۱۰ گڼه حدیث.

[۳] حاکم مستدرک، ۳: ۱٦٤ مخ. صواعق المحرقه ۱۱۲ مخ.

[٤] خوارزمي، مناقب ۲۷ مخ . د نجف اشرف چاپ.

[٥] العذیر ۳: ۱۱۹ مخ.

د خدای لورنه وه، چې ان د پېغمبر او ځایناستي کور یې یو ځای وي او د غوړونو او اذهانو یې دې ته ورپام کړ، تر دې چې دا ځانګړنه او امتیاز ورته همېشه پاتې شي.
جناب نبي مکرم مسلمانانو ته وویل: ځینې له زړه خپه دي، چې ولې له جوماته وایستل شول او علي ونه ایستل شو؛ پر خدای قسم، دا چار مې په لاس کې نه و او یوازې د خدای امر و.
خدای تعالی موسی علیه السلام ته وحې وکړه:
وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَاجْعَلُواْ بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ(یونس/۸۷)؛ او موږ موسی او ورور ته یې وحې وکړه چې: ((په مصرکې خپل قوم ته کورونه جوړ کړئ، چې یو بل ته مخامخ (او راغونډ) وي او لمونځونه وکړئ او مؤمنانو ته (د بري) زېرى ورکړئ.))
او علي راته داسې دی لکه هارون چې موسی علیه السلام ته و، هغه مې ورور دی، بې له علي (بل ) څوک حق نه لري چې په جومات کې له خپلو مېرمنو سره کور والی وکړي.[1]
جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله امر وکړ چې تره یې عباس (رض) او نورو جومات مېشتي له جوماته ووځي، عباس (رض) نیوکه وکړه: ما له جوماته وباسې او علي پکې مېشتوي؟ پېغمبر ورته وویل: دا د خدای امر و.[2]
د پېغمبر صلی الله علیه و آله ځینو یارانو له خپلو کورونو جومات ته ورونه پرانستي وو. پېغمبر صلی الله علیه و آله ورته وویل: بې د علی له وره نور ټول ورونه بند کړئ، ځینو نیوکه وکړه، جناب نبي مکرم پاڅېد او د خدای تر ستاینې وروسته یې وویل: ومې ویل، چې بې د علي له وره نور ټول ورونه وتړئ، ځینې خبرې کوي، دا د خدای امر و، چې پلی مې کړ او له ځانه مې څه نه دي کړي؛ یوازې مې خپله دنده ترسره کړه[3]. زه یوازې د رانازل شوي امر تابع یم.
او بیا یې ویلي: خدای خپل پېغمبر موسی علیه السلام ته وحې وکړه چې یو پاک جومات راته جوړ کړه، چې یوازې ته او هارون پکې مېشت شئ[4]. خدای هم ماته سپارښتنه کړې یو جومات پاک کړم، چې یوازې زه پخپله او ورور مې علي پکې اوسېږو[5].

---

[1] المراجعات ۱۶۱ او ۱۷۵ مخونه . ینابیع المودة (۱۸) باب.
[2] ابن ماجه سنن ۱: ۹۲ مخ . امام احمد مسند ٤: ۱٦٤ مخ او ۱: ۱۵۱ مخ.
[3] امام احمد مسند ٤: ۳٦۹ مخ.
[4] دا مطلب په قدسي حدیث کې راغلی دی.
[5] صواعق المحرقه ۱۰٦ مخ.

**حضرت علي د پيغمبر صلی الله عليه و آله وصي:**

پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله پردې ټکي ډېر ټينګار درلود چې تر هغه وروسته يوازې علي يې وصي دی او هغه حديث دادی: دا سړی (علي) زما ورور، وصي او ځايناستی دی او (دا) له سمو احاديثو څنې دی.

پيغمبر صلی الله عليه و آله په څو ځلو د حضرت علي د وصايت او ځايناستي په اړه احاديث ويلي:

هر پيغمبر وصي او وارث لري او علي زما وصي او وارث دی.[1]

هر رسول او استازی وصي او وارث لري او علي زما وصي او وارث دی[2].

زما تر وفات وروسته، علي مې وصي، خواله ساتی او د امت خورا غوره وګړی دی، چې وعدې مې پوره کوي او پورونه مې ورکوي.[3]

او انس (رض) ته يې وويل: انسه! لومبی تن چې په دې وره راننوځي، د مؤمنانو امير، د مسلمانانو ښاغلی، د متقيانو لارښود او وروستی وصي دی، (بيا نو) علي راننووت.[4]

د علی کرم الله وجهه تر شهادت وروسته امام حسن د يوې خطبې په ترڅ کې وويل: ..... زه د پيغمبر او د وصي يې زوی يم.[5]

د حضرت علي د وصايت مساله په اشعارو او نشرونو کي ډېره خپرېده (او خپرېږی) جابر (رض) په يوه روايت کې د وصايت مسالې ته اشاره کړې او وايي: د وصيانو وصي؛ علي راته وويل.

---

[1] ابن مغازلي، مناقب ۲۰۰ مخ . ابن عساکر تاريخ ۳: ۵ مخ.

[2] ابن مغازلي، مناقب ۲۰۰ مخ . ابن عساکر تاريخ ۳: ۵ مخ.

[3] امام احمد مسند ۵: ۳۲ مخ . مجمع الزوايد ۹: ۱۱۳ مخ . کنزالعمال ٦: ۱۵٤ مخ.

[4] حلية الاوليا ۱: ٦۳ مخ . کفاية الطالب ۲۱۲ مخ. د نهج البلاغې شرح ۹: ۱٦۹ مخ.

[5] ذخائر العقبی ۱۳۸ مخ.

**له وصيته انکار:**

بخاري او مسلم د خپل ځايناستي په اړه د پيغمبر له وصيته منکر شوي دي او د ام المؤمنين عايشې (رض) په روايت يې استناد کړی چې وايي: (جناب نبي مکرم پر داسې مهال له نړۍ ولاړ چې سر يې زما پر زنګون و او هيڅ وصيت يې ونه کړ) حال دا چې د جناب نبي مکرم د رحلت جريان داسې نه و، عقل هم دا نه مني، بلکه جريان داسې و:

پيغمبر اکرم په داسې حال کې له نړۍ ولاړ، چې سر يې د علي پر سينه و، ځينو خپله وسه وکړه چې پيغمبر وصيت ونشي کړای (او ووايي چې ځايناستی يې علي دی) او د دې هڅې پايله دا شوه چې پيغمبر يې د خپل ليک ليکلو ته پرېښنود.

پخپله بخاری له ابن عباس (رض) څخه روايت کړی چې پيغمبر مسلمانانو ته داسې وصيت وکړ:

مشرکان د عربو له ټاپو وزمې (جزيرة العرب) وباسئ، ما چې د هغوی استازيو ته انعامونه ورکول تاسې هم هماغسې ورکړئ؛ خو درېيم وصيت په اړه چوپ شوی او يا يې ويلي چې هېر کړی مې دی.[1]

خليفه عمر بن خطاب (رض) د نبي کريم د رحلت په اړه وايي:

د حضرت عمر (رض) په زمانه کې، اصحاب سره ناست وو او د کعب په نامه يو تن له عمر (رض) څخه وپوښتل: د پيغمبر صلی الله عليه و آله وروستۍ خبره څه وه؟

عمر (رض) وويل: علي وپوښته، بيا نو علي، د نبي کريم د وفات څرنګوالی او وروستۍ خبرې وکړې.

او لنډه دا چې د جناب نبي مکرم د مړينې وخت چې رانژدې شو، و يې ويل: ورور مې علي راته راوغواړئ. چې علي راغی ورته يې وويل: رانژدې شه، ورنژدې شو، پيغمبر صلی الله عليه و آله خبرې ورسره پيل کړې او تر وروستۍ شېبې پورې يې ورسره خبرې وکړې او د خبرو په ترخ کې د حضرت د مبارکې خولې لاړې د علي پر جامو ولوېدې.[2]

---

[1] صحيح بخاري باب مرض النبي ٥: ١٧ مخ. کسری او قيصر ته د پيغمبر ليکونه.

[2] ابن سعد طبقات ٢: ٢٦٢ – ٢٦٤ مخونه . کنزالعمال ٤: ١٥٥ مخ. دا حديث حضراتو ابن عباس، ام سلمة، عبدالله بن عمر، علي بن حسين رضی الله عنهم او د اهل بيتو نور امامانو عليهم السلام روايت کړي دی.

او لنډه دا چې: بخاري او مسلم چې د نبي کريم صلی الله عليه و آله د رحلت څرنګوالی روايت کړی او په ام المؤمنين پورې يې تړلی داسې نه دی او پر کوم څرنګوالي يې چې کښلی مطلب يې دا و، چې د پيغمبر له وصيته انکار وکړي.

## د پېغمبر صلی الله علیه و آله د ځایناستي ځانگړنې

جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله د اصحابو په مخ کې حضرت علي ته وويل: علي! زه درته د خپل نبوت برهان ځرگندوم او تر ما وروسته نبوت نشته او ته هم له خلکو سره په اوو ځيزونو کې استدلال کوې او په هغو کې يو قريشي هم.

ته ړومبی تن يې چې پر خدای دې ايمان راووړ، د خدای ژمنې پوره کوې، د خدای امرونه ته ټينگ ولاړ يې، تر ټولو غوره يې مساوي وېشې، په قضاوت کې تر ټولو تر ټولو عادل يې، د بصيرت خاوند يې، د خدای پر وړاندې رتبه دې تر ټولو اوچته ده.[1]

يوه ورځ جناب نبي مکرم خپلو اصحابو ته وويل: علي له قرآن سره دی او قرآن له علي سره دی، تر هغې به يو له بله نه جلا کېږی چې د حوض کوثر پر غاړې راته راشي.[2]

### له پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته د خليفه تثبيت:

پيغمبر اکرم صلی الله علیه و آله د خپلو اصحابو په مخ کې حضرت علي ته وويل: علي! چې څوک رانه جلا شي؛ نو له خدايه جلا شوی او چې څوک درنه جلا شي؛ نو له ما جلا شوی دی[3].

بيا يې د حضرت علي په اړه ويلي: چې څوک علي وکنځي؛ نو زه يې کنځلي يم.[4]

په بل ځای کې يې ويلي: چې څوک علي وکنځي؛ نو زه يې کنځلی يم، او چې ما وکنځي؛ نو خدای يې کنځلی، چې خدای به يې پړمخې په اور کې وغورځوي[5].

---

[1] حلية الاولياء، ۱: ٦٥ مخ. ابن عساكر دمشق تاريخ ۱: ۱۱۷ مخ . طبري الرياض النفره ۲: ۲٦۲ مخ . مطالب السؤل ۱: ۹٥ مخ . ابن ابی الحديد، د نهج البلاغې شرح ۹: ۱۷۳ مخ . خوارزمي مناقب ۷۱ مخ . ذهبي الميزان ۱: ۳۱۳ مخ . گنجي شافعي كفاية الطالب ۲۷۰ مخ . قندوزي حنفي ينابيع الموده ۳۱٥ مخ . حمويني فرايد المسطين ۱: ۲۲۳ مخ . امينی الغدير ۳: ٦ و مخ.

[2] خوارزمي مناقب ۱۱۰ مخ . طبراني المعجم الصغير: ٥٥ مخ . كفاية الطالب ۳۹۹ مخ . سيوطی تاريخ الخلفا ۱۷۳ مخ . نور الابصار ۷۳ مخ . قندوزي ضفي ينابيع الموده ٤۰، ۹۰ او ۸٥ مخونه.

[3] حاكم مستدرک ۳: ۱٤٦ مخ . ابن منازلي مناقب ۲٤۱ مخ . ابن عساكر تاريخ ۲: ۲٦۷ مخ.

[4] نسايي خصايص ۲٤ مخ . خوارزمي مناقب ۸۲ مخ . طبري ذخائر العقبی ٦٦ مخ . ابن عساكر دمشق تاريخ ۲: ۱۸٤ . مجمع الزوايد ۹: ۱۳۰ مخ . سيوطي تاريخ الخلفا ۸۳ مخ . مشكاة المصابيح ۳: ۲٤٥ مخ . نبهاني الفتح الكبير ۳: ۱٦۹ مخ . د امام احمد حنبل د مسند په لمنليک کې د کنزالعمال غورچاڼ ٥: ۳۰ مخ.

[5] طبري ذخائر العقبي ٦٦ مخ . خوارزمي مناقب ۸۱ – ۸۲ مخونه . ابن مغازلي مناقب ۸۳ مخ. ابن صباغ مالكي الفصول المهمة ۱۱۱ مخ . طبري الرياض النفره ۲: ۲۱۹ مخ.

او خپلو اصحابو ته يې وويل: چې څوک علي وځوروي؛ نو زه يې ځورولی يم.[1]
او بيا يې په غونډه کې ناستو ته وويل: له علي سره دوستي زما سره دوستي ده او له علي سره دښمني زما سره دښمني ده.[2]

---

[1] حاکم مستدرک ۳: ۱۲۲ مخ . د مستدرک په لمنليک کې د ذهبي د مستدرک لنډيز ۳: ۸۳ مخ.
. ابن عساکر دمشق تاريخ ۱: ۳۸۹ مخ. حسکاني شواهد التزيل ۲: ۹۸ مخ ابن مغازلي مناقب ۵۲ مخ . الاستيعاب (۳: ۷۳) د الاصابه په لمنليک کې . طبري ذخائر العقبی ٦٥ مخ . ابن حجر الصواعق المحرقه ۷۳ او ۷٤ مخونه . بلا ذري النساب الاشراف ۲: ۱٤٦ مخ.

[2] الاستياب (۳: ۷۳ مخ) د الاصابه په لمنليک کې . ذهبی ميزان الاعتدال ۲: ۱۲۸ مخ . ابن مغازلي مناقب ۱۰۹ مخ . طبري الرياض النفره ۲: ۱٦٥ مخ.

# د ځايناستي د ټاکنې مراسم

## حجة الوداع

جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله مسلمانان وپوهول، چې سږنی حج يې، وروستی حج دی، مسلمانان له هرې لوري چمتو شول، چې د سږني حج (حجة الوداع) او د جناب نبي مکرم د ملګرتوب ثواب تر لاسه کړي؛ نو ځکه نوي زره (۹۰۰۰۰) تنه، او ويل شوي يو لکو څوارلس زره (۱۱٤۰۰۰) تنه او يا يو لکو شل زره (۱۲۰۰۰۰) تنه او يا ډېر چمتول شول چې له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله سره حج وکړي او مهمه دا چې همدا شمېر له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره په (خم غدير) کې وو.[1]

## د مراسمو ځای:

حضرت حذيفه بن اسيد غفاري (رض) وايي: د حج مراسم چې پای ته ورسېدل؛ نو حضرت مدينې ته د ورستنېدا پر لار په (بطحاء) سيمه کې خپلو اصحابو ته وويل، چې تر ونو لاندې ځايونه پاک کړئ او ور لاندې کېنئ، همداسې وشول) حضرت ورغی لمونځ يې وکړ او پاڅېد او يوه وينا يې وکړه.[2]

براء بن براء (رض) وايي: له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله سره وو، د خم غدير (ډنډ) ترخنګ تم شول، د جماعت لمانځه ته اعلان شو: الصلاة جامعة او جناب نبي مکرم ته يې د لمانځه لپاره تر دوو ونو لاندې ځايونه پاک کړل.

.... زيد بن ارقم (رض) وايي: چې پېغمبر صلی الله علیه و آله له (حجة الوداع) راستون شو په (خم غدير ) کې تم شو او....

حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) وايي: د يوې جمعې پر ورځ مې وليدل، چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله د علي لاس ونيو او وامې ورېدل چې خطبه يې وويله او د خدای تر ستاينې وروسته يې وويل: سعد (رض) په بل روايت کې وايي: (تر حجة الوداع) له جناب نبي مکرم سره وو، چې خم غدير ته ورسېدو، د تمېدو امر يې وکړ، ورپسې کسان را ورسېدل او مخکې تللي راستانه شول، چې ټول خلک پرې راټول شول و يې ويل:....

---

[1] ابن جوزي تذکرة الخواص ۳۰ مخ. حلبية سيرة ۳: ۲۵۷ مخ. زين دحلان، سيره نبويه (۳: ۳ مخ) د د صلبية سيرت په لمنليک کې.

[2] طبراني، المعجم الکبير.

بې شکه ددې روایاتو له مخې د ځایناستۍ د مراسمو ځای خم غدیر او د خلکو په مخ کې و.
د پیغمبر صلی الله علیه و آله د ځایناستي د نصب په اړه الهي فرمان:
د مدینې اوسېدونکي او چاپېریال یې پوهېدل، چې حضرت علي د پیغمبر ځایناستی دی، هغوی په وګړیز او ډله ییز ډول په دې اړه د پیغمبر صلی الله علیه و آله له خولې خبرې او مطالب اورېدلي وو او له همدې امله پر مطلب پوره پوهېدل.
مدینه د اسلامي دولت پلازمېنه وه، د ښار اوسېدونکي او چاپېریال یې کوم شرعي او واقعي شان او مقام نه درلود چې پیغمبر صلی الله علیه و آله ته ځایناستی منصوب کړای شي. خو خدای غوښتي و، چې ټول خلک وپوهېږي، چې یوازې (حضرت علي) د پیغمبر ځایناستی دی؛ نو ځکه یې خپل استازي ته امر وکړ، چې په وروستي او یا دګاري حج کې د خلافت چار اعلان کړي، چې بیخي له یارونو هیر نشي.
هغه هم په داسې ځای کې چې اوبو ته نژدې و، چې اوبه د عربو په ټاپو وزمې کې د ژوند رمز و او د (خم) په نوم یو ځای کې، چې د عربو په ټاپو وزمې کې په دې نوم بل ځای نه و، او دا نوم پر بل ځای هم ایښوول شوی نه و.
خو په هغه زمانه کې ددې سترې ټولنې په مخ کې ددې پېښې اعلانول، په ذهن کې په زرګونو پوښتنې، احتمالات او نظریات راولاړوي؛ ځکه دې پربماني ټولنې له هر پلوه یو له بل سره توپیر درلود او پیغمبر صلی الله علیه و آله هم له دې حقیقته پوره خبر و او ځان یې د الهي امر تبلیغ ته چمتو کړ، خدای هم ډاډېینه ورکړه او اعلان ته یې وزله او موقعیت ورته چمتو کړ، چې د پیغمبر د ځایناستي ټاکنه عملي کړي، چې یوازې په خدای پورې ځانګړې ده؛ نو ځکه خدای د تبلیغ آیت نازل کړ.

**د تبلیغ آیت (او اعلان):**

جبرئیل پیغمبر صلی الله علیه و آله ته راغی او دا آیت یې راووړ:
یَا أَیُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَیْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ یَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ یَهْدِي الْقَوْمَ الْکَافِرِینَ (مایده/٦٧) ؛ او پیغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پرتا نازل شوي، ( ټول یې خلکو ته) ورسوه اوکه داسې ونکړې؛ نو د هغه پیغام دې ندی رسولی، خدای تا د خلکو (له احتمالي زیانونو) ساتي، هو! خدای خدای ناپېژاندو ته سمه لار نه ښيي.
**دا آیت د تبلیغ آیت په نوم مشهور دی.**

د اسلام راتلونکې په دې تبلیغ او اعلان پورې تړاو درلود، دا آیت د ذیحجې پر اتلسم په خم غدیر کې نازل شوی دی، پر هغه ورځ جناب نبي مکرمصلی الله علیه و آله حضرت علي د خلکو بیرغچي او خپل ځایناستی اعلان کړ او د پنجشنبې ورځ وه.[1]

له پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته د ځایناستي اعلان:

۱ – د حضرت حذیفه (رض) روایت:

حضرت حذیفه (رض) وایي: جناب نبي مکرم وویل: خلکو! لطیف او خبیر خدای خبر کړی یم، چې هر پېغمبر د مخکېني پېغمبر نیمایي عمر کوي، گومان کوم، چې باید د حق بلنه ومنم. زه مسوول یم او تاسې هم مسوول یاست، څه وائي؟

وویل شول: شهادت ورکوو، چې د رسالت تبلیغ دې وکړ او په دې لار کې دې هڅه او نصیحت وکړ، خدای دې اجر درکړي.

ایا شهادت نه ورکوئ چې یوازې (الله) د لمانځنې وړ دی، محمد یې بنده او استازی دی، جنت او دوزخ، مړینه او وروسته ترې ژوندي کېدل حق دی؟ او د قیامت ورځ هرومرو راتلونکې ده او خدای به مړي راژوندي کړي؟

وویل شول: هو، شهادت ورکوو.

و یې ویل: خدایه، شاهد وسه.

بیا یې وویل: خلکو! خدای مې پالندوی او زه د مؤمنانو پالندوی یم، زه مؤمنانو ته د هغوی تر ځانونو ډېر وړ یم، د چاچې زه مولا او پالندوی یم، دا نارینه (علي) یې مولا او پالندوی دی، خدایه! دوست یې دوست ولره او دښمن یې دښمن.

بیا یې وویل: خلکو! زه تر تاسې مخکې کېږم او تاسې به د ډنډ تر غاړې راته راشئ هغه ډنډ چې پراخوالی یې د بصری (په شام کې یو ښار دی) او صنعا (په یمن کې یو ښار) ترمنځ د واټن هومره دی او د ستوریو د شمېر هومره د سپینو جامونه پکې دي، او چې راشئ؛ نو د دوه گرانبیه څیزونو په اړه به مو وپوښتم، غور وکړئ چې څنگه ورسره چلېږئ، خورا گران بیه څیز د خدای کتاب دی، چې یو سر یې د خدای په لاس کې دی او بل یې له تاسې سره دی، منگولې پرې ولگوئ، مه یې خواروئ، او مه یې اړوئ، او بل زما ځوځات (عترت) او اهل بیت مې دي.

---

[1] واحدي، اسباب النزول ۱۱۵ مخ . الدرالمنثور تفسیر ۲: ۲۹۸ مخ . شمرستاني، محل و نحل ۱: ۱۶۳ مخ . روح المعاني تفسیر ۲: ۲۶۸ مخ . ابن عساکر تاریخ ۲: ۸۶ مخ . حاکم حسکاني حنفي، شواهد التزیل ۱: ۱۸۷ مخ او . . . .

مهربان او خبیر خدای خبر کړی یم، چې دا دواړه تر هغې یو له بل نه جلا کیږي، څو په (کوثر) ډنډ کې ورشي.[1]

۲ - د زید بن ارقم (رض) روایت:

زید بن ارقم (رض) وايي: جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله له (حجة الوداع) څخه د ستنېدا پر مهال په غدیر نومي ځای کې تم شو، امر یې وکړ، چې تر ونو لاندې ځای پاک کړئ.

بیا یې وویل: (نژدې ده چې ) د حق بلنه ومنم. دوه گرانبیه څیزونه درته پرېږدم؛ یو د خدای کتاب، چې تر هغه بله ستر دی او بل عترت او اهل بیت مې، ووینئ چې تر ما وروسته به څنگه ورسره چلېږئ؟ ځکه قرآن او اهل بیت تر هغې یو له بله نه جلا کېدونکي دي، چې د حوض پر غاړه راته راشي.

خدای تعالی زما مولا او پالندوی دی او زه د هر مؤمن مولی او پالندوی یم، بیا یې د علي لاس ونیو او و یې ویل: د چاچې زه مولا یم، دا نارینه یې پالندوی دی، خدایه! دوست یې دوست وگڼه او دښمن یې دښمن.[2]

۳ - د براء بن عازب (رض) روایت:

(براء) (رض) وايي: له حجة الوداع نه په راستنېدوکې له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله سره وو، په (خم غدیر) ځای کې تم شوو. د جماعت لمانځه اعلان وشو، تر دوو ونو لاندې ځای د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله لپاره پاک کړای شو، د ماسپښین لمونځ یې راکړ او د علي لاس یې ونیو او و یې ویل: ایا نه پوهېږئ چې زه مؤمنانو ته تر هغوی له ځانونو ډېر وړ یم؛ وویل شول: هو.

بیا یې وویل: ایا نه پوهېږئ چې زه له هر مؤمنه پر ځان یې وړ یم؟ وویل شول: هو، بیا یې د علي لاس ونیو او و یې ویل: د چاچې زه مولا یم، دا علي یې مولا دی، خدایه! دوست یې دوست او دښمن یې دښمن وگڼه.

تر دې پېښې وروسته حضرت عمر (رض) حضرت علی کرم الله وجهه ولید او ورته یې وویل: د ابوطالب زویه! مزې دې وکړې چې د هر مؤمن او مؤمنې مولا شوې.[3]

---

[1] ابن جمر دهثمي، الصواعق المحرقه . هیثمي شافعي جمع الزواید ۹: ۱٦٤ مخ . ابن عساکر، مشتق تاریخ ۲: ٤٥ مخ . متقي هندی کنزالعمال ۱: ۱٦۸ مخ . ترمذي، نوادر الاصول ۲۸۹ مخ . ابن مباغ مالکي الفصول المهمه ۲۹ مخ.

[2] نسایي خصایص ۲۱ مخ . خوارزمي مناقب ۹۳ مخ.

[3] بلاذري النساب الاشراف ۲: ۲۱٥ مخ . ذخائر العقبر ٦۷ مخ . فصول المهمه ۲٤ مخ . ابن عساکر تاریخ تاریخ ۲: ٤۷ مخ.

٤ – د سعد بن وقاص (رض) روایت:

سعد (رض) وايي، وامې ورېدل چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله د جمعې پر ورځ، علي له لاسه ونیو خطبه یې وویله او د خدای ستاینه یې وکړه او و یې ویل: خلکو! زه ستاسې پالندوی یم؟ وویل شول: سمه ده. بیا یې د علي لاس پورته کړ او و یې ویل: دا مې ځایناستی دی، پورنه به مې پوره کوي، له دوستانو سره یې دوست او له دښمنانو سره یې دښمن یم.[1]

٥ – د سعد (رض) دویم روایت:

له رسول الله سره وو، چې (خم غدیر) ته ورسېدو، خلک یې تم کړل او امر یې وکړ چې مخکې تللي دې راوگرځي او وروسته پاتې دې راورسي، چې ټول ورته راټول شول، و یې ویل: خلکو! څوک مو پالندوی دی؟

وویل شول: خدای او رسول یې (درې ځل پوښتنې او ځوابونه تکرار شول) بیا یې د علي لاس پورته کړ او و یې ویل:

د چاچې خدای او استازی یې ولي وي، دا سړی یې پالندوی دی، خدایه دوستان یې دوستان او دښمنان یې دښمن وگڼه.[2]

**د حکم پر منځپانگې پوهېدنه او مبارکي یې:**

په (خم غدیر) کې گډونوال د جناب نبي مکرم په مطلب پوه شول، چې د ځایناستي حکم یې وکړ او د مسلمانانو ولي ته ددې الهي لورنې مبارکي ورکړای شوه.

له ښو مبارکیو، یوه هم د عمر بن خطاب (رض) وه؛ ځکه حضرت علي ته یې وویل: د ابوطالب زویه! مبارک دې شه چې زما او د هر مسلمان مولا شوې.[3]

او بیا یې وویل: د ابوطالب زویه! مزې دې وکړې چې د هر مسلمان او مسلمانې مولا شوې.[4]

حضرت عمر (رض) په عمر کې بیخي د خم غدیر ورځ نه هېروله، یوه ورځ د خپل خلافت پر مهال ورته وویل شو: ته له علي سره ځانگړې چلن لرې؟ و یې ویل: علي مې مولا دی.[5]

---

[1] نسايي خصايص ١٠١ مخ . ابن اثير، البداية والنهاية ٥: ٢١٢ مخ.

[2] نسايي خصايص ١٠١ . ريا ض النفره ٢: ٢٨٢ مخ.

[3] ابن مغازلي، مناقب ١٨ مخ . بغداد تاريخ ٨: ٢٩٠ مخ . شواهد التزيل ١: ١٥٨ مخ . دمشق تاريخ ٢: ٧٥ مخ.

[4] امام احمد مسند ٤: ٢٨١ مخ . فخر رازي تفسير ٣: ٦٣ مخ . ابن عساكر تاريخ ٢: ٥٠ مخ.

[5] الصواعق المحرقه ٢٦ مخ . ابن عساكر تاريخ ٢: ٨٢ مخ . محب الدين طبري، رياض النفره ٢: ٢٢٤ مخ.

دوه تنه د خپلو اختلافاتو د هواري لپاره د حضرت عمر (رض) ته ورغلل، عمر (رض) له علی کرم الله وجهه وغوښتل، چې ترمنځ يې قضاوت وکړي. يو يې د نيوکې په توګه وويل، دا مو ترمنځ قضاوت کوي؟ حضرت عمر (رض) په بيړه ورغی او له ګرېوانه يې ونيو او و يې ويل: نه پوهېږې چې دا څوک دی، دا ستا، زما او دذ هر مؤمن او مؤمنې مولا دی او که هغه د چا مولا نه وي؛ نو مؤمن به نه وي.[1]

**د تلپاتې نص له مراسمو نيمګړي روايات:**

اهل سنت يوه خوله دي، چې جناب نبي مکرم د (خم غدير) پر ورځ حضرت علي ته وويل:
لومړی روايت: د چاچې زه مولا او پالندوی يم؛ نو علي يې مولا او پالندوی دی، خدايه! دوستان يې دوست او دښمنان يې دښمن وګڼه، د علي د ملاتړي ملاتړ شه او خواروونکی يې خوار کړه.[2]
دويم روايت: د چاچې زه مولا يم، دا علي يې مولا دی.[3]
درېيم روايت: د چاچې زه مولا وسم، علي يې مولا دی، خدايه! د علي دوستان دوست او دښمنان يې دښمن وګڼه.[4]
وينئ چې په دې رواياتو کې د خلافت د نصب مراسم جلا شوی؛ خو پر ځای يې منښته شوې ده؛ خو له دې سترګې پټې شوي چې د ګډونوالو شمېر څومره و او دا چې د غدير جريان د (حجة الوداع) تر پای وروسته و.
خو د خلافت د نصب پېښه دومره پياوړې او غښتلې ده، چې په هر حال منځپانګه يې منل شوې ده.
سره له دې چې د اموي واکمنۍ پر پلويانو په رسمي توګه (علي) ته کنځل لازم شوي وو او پر ټولو تبليغاتي وزليو يې پوره لاس رسی درلود؛ خو د غدير په پېښه کې له لاسوهنې بېوسې وو (چې د خلکو له اذهانو يې هېره کړي) منځپانګه يې هميشه پاتې شوه او د زمانې تېرېدو هېره نه کړه، چې پر هغه چل ول او ټګۍ برګۍ شاهده وي چې امت د پېغمبر له ځايناستي سره وکړه.

---

[1] الصواعق المحرقه ۱۰۷ مخ. ذخائر العقبی ٦٨ مخ. رياض النفره ٢٥: ٢٢٤.
[2] نسايي خصايص ٩٦ مخ. النساب الاشرف ٢: ١١٢ مخ. ابن عساکر تاريخ ٢: ١٣ مخ.
[3] دا حديث پرېمانه سرچيني لري او دومره مشهور دی، چې څوک ترې منکر نه دی.
[4] صحيح ترمذي، ٥: ٢٩٧ مخ. ابن عساکر، تاريخ ١: ٢١٣ مخ. مجمع الزوايد ٩: ١٠٣ مخ. نسايي خصايص ٩٤ مخ. حاکم مستدرک ٣: ١١٠ مخ.

**ولله عاقبة الامور**

د غدير حديث پرېکونى او د خليفه نصب يقيني دى:

د خلافت د نصب پېښه امام احمد حنبل له (٤٠) لارو، ابن جرير له (٧٢) لارو، جزري مقري له (٨٠) لارو، ابن عقده (١٠٥) لارو، ابوسعيد سجستاني له (١٢٠) لارو او ابوبکر حصابي له (١٢٥) لارو روايت کړې ده.

محمد يمني ويلي، چې له (١٥٠) لارو د غدير حديث ورسره دى او ابوالعلا عطار همداني له (٢٥٠) لارو روايت کړى دى.[1]

شيعيان د (خم غدير) په پېښه کې څه شک نه لري او يقيني ايمان پرې لري، چې دا پېښه په (خم غدير) کې پېښه شوې ده.

اهل تسنن هم په عمومي توگه د (خم غدير) پېښه مني او وايي چې د غدير حديث پېغمبر اکرم ويلى دى؛ خو د حديث په تاويل کې د خپلو واکمنو نظر مني واکمنو يې ويلي: که د غدير حديث سموالى ومنو؛ نو دا يوازې حضرت علي ته يو فضيلت او غوراوى دى او بس، چې هغه له نورو وړاندې وروسته کوي نه اهل سنتو ته، دا خبرې او تاويلات په ميراث کې پاتې شوي، لکه څنگه چې څيزونه او سامان الات په ميراث وړي، دا يوه تقليدي مفکوره گڼي چې له نيکونو څخه ورپاتې ده او پر وړاندې يې څه ويل ناجايز بولي؛ ځکه که بې له دې بله خبره وکړي؛ نو د امويانو، عباسيانو او عثمانيانو تر پښو لاندې اچول شوى تغر راټولېږي او تورونه ورکول کېږي او که داسې وشي؛ نو څرگندېږي چې شيعه پر حق دي، خو ايا دا يو شونې څيز دى؟ هغوى خو له واکمنو په ميراث کې وړي، چې شيعيان ددين دښمنان دي.

## د خم غدير اختر

مسلمانانو په تېرو وختونو کې د غدير پر ورځ اختر کاوه او هر کال به پر دې ورځ جشنونه جوړېدل؛ خو دا چې چارې د اهل بيتو د دښمنانو په واگو کې شوې، مسلمانان يې له دې اختر او جشنونو منع کړل.

[1] ابن عساکر دمشق تاريخ ٢: (٥ – ٩٠ ) مخونه . اميني العذير ١: ١٤ – ٢١٣ مخونه . عبقات الانوار د غدير حديث برخه. نماية المرام د عذير حديث برخه.

ورپسې نسلونو د حکومتو د دباو، ډار یا په خپله خوښه یا د نورو لارو لاملونو له مخې ددې ورځې جشن او اختر هېر کړ؛ خو دا د حضرت علی کرم الله وجهه د لارویانو یوه ستر اختر دی.[1]

**د غدیر د ورځې روژه:**

حضرت ابوهرېره (رض) وايي: (چې څوک د ذیحجې پر اتلسم روژه شي؛ نو خدای ورته د (٦٠) میاشتو روژو ثواب کښي، او دا هغه ورځ ده، چې پېغمبر صلی الله علیه و آله علي له لاسه ونیو او و یې ویل: د چاچې زه مولایم علي یې هم مولا او مرستندوی، خدایه دوستان یې دوست او دښمنان یې دښمن وګڼه، خدایه د علي د ملاتړي ملاتړ شه.

حضرت عمر (رض) [چې پر هغه ورځ د دې پېښې شاهد و] و ویل: د ابوطالب زویه! مبارک دې شه، چې زما او د هر مسلمان مولا شوې.[2]

---

[1] ابن طلحه شافعي مطالب السول ١: ٢٤ مخ . ابن خلکان و فیات الاعیان ١: ٩٠ مخ . امینی الغدیر ١: ٢٦٧ مخ.

[2] حاکم حسکانی شواهد التزیل ١: ١٥٧ مخ . ابن عساکر دمشق تاریخ ٢: ٧٥ مخ. خطیب بغداده، بغداد تاریخ ٨: ٢٩٠ مخ . حمویني فرائد المسلمین ١: ٧٧ مخ . ملحق المراجعات ١٩٢ او ١٩٣ مخونه. امینی الغدیر ١: ٤٠٢ مخ.

## د امام په نصب دين بشپړ او نعمت تمام شو

جناب نبي مكرم چې علي بن ابی طالب كرم الله وجهه په هغې سترې غونډې كې خپل ځايناستی او د امت مشر معرفي كړ؛ نو دين پوره او الهي نعمت تمام شو.
(له دې مهم چارو وروسته) الهي حقوقي نظام پوره شو او د پېغمبر ځايناستی منصوب شو، اوس نو له دې اړخه څه مانع نه وه، چې پېغمبر په ارام زړه او بې غمی نړۍ پرېږدي، ځكه منسوب خليفه هماغې لارې ته دوام وركوي، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله په ۲۳ كلونو كې ورښوولې وه، پېغمبر اكرم چې خپل ځايناستی منصوب كړ؛ نو د دين د پوره كېدو د آيت نازل شو:
حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (مايده/۳) ؛ پرتاسې (خوړل يې) حرام شوي دي: مرداره غوښه، وينه اودخوگ غوښه اوهغه څاروي، چې د ((غيرالله)) په نامه ذبح شي او هغه چې په (زندۍ) كېدو او په ځورېدو يا له لوړې په راغورځېدو مړه شوي وي او يا هغه چې د كوم ځناور په ښكر څيرې شوی وي او د داړن ښكاري څاروي پاتې شونې وي؛ خو دا چې ( په موقع كې ښكار شوي څاروي ته ورسېږئ، حلال او) سريې غوڅ كړئ او هغه څاروي، چې د بوتانو لپاره ( يا دهغوی په مخكې ) ذبح شوي وي او( همداراز ) داهم تاسې ته ناروا ده، چې دپال ( اوجواری ) پر ځانگړيو غشيو د څاروي غوښه ټوټه ټوټه كړئ. داټولې چارې ( گناه او) فسق دی، نن كا فران ستاسې د دين ( له زواله) نهيلې شوي دي؛ نو ځكه ترې مۀ وېرېږئ، بلكې زما له مخالفته ووېرېږئ! نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ كړ او خپله لورېنه مې درته پوره كړه او اسلام مې درته ستاسې (تلپاتې) دين غوره كړ (؛ نوځكه د حلالو او حراموكوم بنديزونه، چې دربانديې لگول شوي، عملي يې كړئ)؛ خو څوک چې وږی وي اونورخواړه ور ونۀ رسېږي اودگناه په نيت دامنع شوي څېزونه ونۀ خوري (؛ نو باك نشته چې له منع شويو غوښو وخوري؛ ځكه) چې خدای ډېر رحمان (او) رحيم دی.[1]

---

[1] ابن مغازلي، مناقب ۱۹ مخ، بغداد تاريخ ۸: ۲۹۰ مخ . الدرالمنثور تفسير ۲: ۲۵۹ مخ .يعقوبي تاريخ ۲: ۳۵ مخ . البداية والنهاية ۵: ۲۱۳ مخ . ابن عساكر تاريخ ۲: ۵۷ مخ.

که پېغمبر د خپل ځايناستي تر نصب او د امامت د لېږد تر څرنګوالي مخکې له نړۍ ولاړ وای؛ نو د دين له بشپړتيا او د نعمت له تمامېدو سره يې اړخ نه لګاوه؛ ځکه امام د پېغمبر قائم مقام دی او رسول الله صلی الله عليه و آله د دين د نظام بنسټ او ګردو حرکتونو چورليز دی.

ان واکمنان هم پردې حقيقت پوه شوي او ليدل شوي نه دي، چې يو واکمن له نړۍ ولاړ شي؛ خو خپل ځايناستی يې معرفي کړی نه وي چې تر هغه وروسته يې دنده ترسره کړي او واکمنو ويل چې دا يې يو بې قيد او شرطه حق دی، په دې اړه د ابن خلدون خبرې ته ځير شئ:

(واکمن پر ژوندونې د خلکو پالندوی او امين دی او چارې يې څاري، ورباندې لازم دي، چې تر ځان وروسته يو څوک د خپل ځايناستي په توګه وټاکي، چې د خپل ځان په څېر دهغوی د چارو متولي وي او پر ولس او رعيت هم لازم دي، چې د مخکېني واکمن په څېر له نوي واکمنه هم اطاعت وکړي. [1])

که خليفه، خپل ځايناستی معرفي نه کړي؛ نو پړ بلل کېږي.

د عبدالله بن عمر (رض) خبرې ته ځېر شئ چې خپل پلار ته وايي:

(اميرالمؤمنينه! د محمد امت ته يو خليفه وټاکه؛ ځکه که ستا اوښ څری او شپون په بېديا کې ستا اوښان او رمه بې ساتندويه پرېږدي، تا به تپسوری او پړ کړې چې ولې دی امانت پرېښود چې ضايع شي؛ نو اميرالمؤمنينه! نه ښايي چې د محمد امت ضايع او له منځه ولاړ شي[2].

وګورئ چې ام المؤمنين، عايشه (رض) عبدالله بن عمر (رض) ته وايي:

زويه! عمر ته مې سلام وکړه او ورته ووايه: د محمد امت بې خليفه مه پرېږده، خليفه وټاکه او تر ځان وروسته يې مه سرګردانوه؛ ځکه له راتلونکيو فتنو يې ډارېږم.

عبدالله بن عمر خپل پلار ته ورغی او د عايشې (رض) خبره يې ورته وکړه، عمر (رض) وويل: وګورئ چې څوک راته امر کوي، چې خليفه وټاکم.[3]

ټولو خلفاوو درک کړې وه، چې د هر واکمن دنده ده، چې پر خپل ژوندونې ځايناستی وټاکي او ددې دندې پرېښوول له حکمت سره اړخ نه لګوي او ګډوډي او فتنې ترې راولاړېږي او واکمن ته د پړې ګوته نيول کېږي، لکه چې که يو شپون بې ساتندويه امه پرېږدي. ام المؤمنين عايشې دا مطلب درک کړی دی. دا مطلب مې د (مرجعيت) په باب کې ويلی دی.

---

[1] ابن خلدون، سريزه ۵، ۳۰ څپرکی.

[2] مروج الذهب ۳: ۳۵۳ مخ.

[3] ابن قتيبه، الامامة والسياسية ۲۳ مخ.

له اسلامه ځار؛ نو دا نو څنگه کېږي، چې ټول دا درک کړي؛ خو د خدای رسول یې درک نه کړي؟ دا نو څنگه کېږي، چې یو څوک خپل ځایناستی وټاکي، منل کېږي؛ خو که رسول الله صلی الله علیه و آله دا چار وکړي نه منل کېږي؟
هغوی چې په پټو سترگو روان دي دوه لارې ورته شته:
یا دې، د محمد صلی الله علیه و آله دین ومني، هاغسې چې خلکو ته یې څرگند کړی دي او یا هغه دین چې واکمن ترې پوهېدنې لري.
خو دوی د واکمنو لار ونیوه؛ ځکه د بریمن او غالب ترڅنگ ولاړ وو (او شعار یې دا وچې): (موږ د بریالي ترڅنگ یو) دا د عبدالله بن عمر (رض) خبره وه، چې په یو روایت واوړېده (ولا حول ولا قوة الا بالله) هر څوک چې واکمن وټاکي (چې څوک وی) سم دی، د محمد صلی الله علیه و آله پر امت واکمنېږي او چې هر څوک غالب او بریالی شي واکمنېږي!! (ولله عاقبة الامور).

## د امامت لېږد ته الهي تدبیر:

د دین په لارویانو کې، پخپله پیغمبر صلی الله علیه و آله تر ټولو غوره او ددین د لارویانو مشری ته خورا وړ دی. له همدې امله پیغمبر پخپله د بلنې مسوولیت پر غاړه واخېست او دا چې بلنه او ارشاد د دولت د جوړېدو لامل شو؛ نو محمد صلی الله علیه و آله د دولت د مشرۍ مسوولیت هم پر غاړه واخېست او دا ټکی مو هم په پام کې وي، چې د پیغمبر سیرت او دود د دین یوه برخه ده، که خبره یې وي یا کړنه یا تقریر او تایید، او په گرده نړۍ کې داسې څوک نشته چې په دې مهم چار کې یې نیابت وکړي او یا یې پر ژوندونې څوک ځای ونیسي.
محمد صلی الله علیه و آله بلنې او تبلیغ ته یو مرشد، د دولت لارښود، د کړی مرکز، مشر او په ټولو دنیوي او دینی چارو کې مرجع ده.

## څوک باید امام وټاکي؟

دا د خدای حق دی چې امام وټاکي؛ ځکه د اسلامي دولت ړومبی مشر حضرت محمد صلی الله علیه و آله و، چې د خدای له لوري ټاکل شوی و؛ ځکه تر ټولو پر اسلام پوه او له احکامو سره یې اشنا و او د اسلام تر ټولو لاریاتو غوره، د لارویانو مشرۍ او تر ټولو د اسلامي احکامو عملي کولو ته وړ و.
ځکه یوازې خدای په یقیني ډول پوهېږی چې څوک پورته ځانگړنې لري؛ خو ځکه د امام، مرجع او ولي د ټاکنې حق یې یوازې ځان ته ځانگړی کړی دی او په هر زمانه کې اختیار

ورکړای شوی چې: دین خلکو ته څرګند کړي، د خلکو مرجعیت وي، پر خلکو ولایت او په دین کې د مرجعیت چارې راټولې کړي او د دین د احکامو له مخې په خلکو کې قضاوت وکړي.

# امام څوک دی؟

په هره زمانه کې د نبوي کورنۍ مشر د اسلامي امت امام دی. ولې د اهل بیتو مشر؟ ځکه قرآن یو (ثقل) دی او اهل بیت بل ثقل دی او دا چې هدایت بې له دې دواړو ثقلینو ناشونی دی او له بې لارۍ هم چې ډډه کوې؛ نو پر دواړو به منګولې ښخوې او دا یو اجتهاد نه دی بلکې شرعی نص دی، چې په قرآن او سنتو کې ثابت شوې دی، چې سنت یې درې اړخونه لري: وېناوې کړنې او تاییدات.[1]

خدای راته څرګنده کړې چې اهل بیت د (نوح) بېړۍ ده، هرڅوک چې په هر وخت کې پر بېړۍ سپور شو؛ نو وژغورل شو او چې سرغړونه یې وکړه ډوب شو[2].

بل دا چې د وحي په اختلافاتو کې له غورځېدو د بچېدو لامل دي، چې دا یو الهي امتیاز دی[3].

اوبل دا چې دوی د پېغمبر څوځات او اولاده ده او خدای د هر پېغمبر ځوځات د همغه پېغمبر له صلبه کړی؛ خو بې د پېغمبر صلی الله علیه و آله ځوځات، چې د علي او فاطمې له صلبه یې کړي دي.[4]

## څوک پېغمبر صلی الله علیه و آله ته ځایناستی ټاکلای شي؟

بې له خدایه بل څوک په یقین تشخیصولای نشي، چې څوک پر دین پوه، له احکامو سره اشنا او د امت مشرۍ ته خورا وړ او د احکامو پلي کولو ته وړ دی؟

او یوازې خدای دی چې په دې ځانګړنو یو څوک پوره پېژني؛ نو ځکه خدای پخپله دا ذمه واري واخسته او دا چې پخپله د اختیار خاوند دی؛ نو حضرت علي بن ابی طالب یې تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته د امت مرجع او خلیفه وټاکه او خپل پېغمبر ته یې امر وکړ، چې خپل ځایناستی چمتو او لار ورته هواره کړه، چې په پېغمبرصلی الله علیه و آله پسې دویم پوه، پر احکامو اشنا او د حضرت صلی الله علیه و آله ځایناستی ته وړ وټاکل شي. حضرت علي،

---

[1] صحیح ترمذی ٥: ٣٢٨ مخ. الدرالمنثور تفسیر ٦: ٦ مخ . ابن سعد طبقات ٢: ١٩٤ مخ. . صلبیة سیرت ٣: ٣٢١ مخ.

[2] حلیة الاولیا ٤: ٣٠٦ مخ . صواعق المحرقه ١٨٤ مخ . مجمع الزواید ٩: ١٦٨ مخ او ...

[3] صواعق المحرمه ١٤٠ مخ . ذخائر العقبی ١٧ مخ . امام احمد حنبل مسند ٥: ٩٢ مخ او ...

[4] صواعق المحرمه ١١٢ مخ . حاکم، مستدرک ٣: ١٦٤ مخ.

بې له نبوته د پېغمبر صلی الله علیه و آله د ټولو دیني او دنیوي چارو د صلاحیت اخستو وړتیا درلوده.
او خدای د پېغمبر صلی الله علیه و آله له لوري څرګنده کړې چې حضرت علي له حق سره دی او حق له هغه سره دی، او چې چېرې حضرت علي وي حق همالته دی؛ نو حضرت علي (د ابن خلدون د وینا له مخې چې د سرېزې په ۳۰ څپرکې کې یې ویلې) ډاډمن او د اطمینان وړ دی.

## څوک له لومړي خلیفه وروسته خلیفه ټاکي؟

نو دا چې حضرت علي بن ابی طالب د پېغمبر پرحق او له حق سره خلیفه وي او دا چې حضرت علي له قرآن سره دی او قرآن له حضرت علي سره دی او تر هغې یو له بله نه جلا کېږي چې په حوض کوثر کې له پېغمبر سره یو ځای شي او دا چې حضرت علي د خدای او رسول پر ګواهۍ په مسلمانانو کې خورا پوه، باخبر، غوره او وړ تن دی او هر امام د مخکېني امام په وینا ټاکل کېږي؛ نو هغه تر ځان وروسته تر نورو د ځایناستي په ټاکنه کې وړ دی او د قرآن د نص له مخې (امامان) د پېغمبر اولاده ده د مباهلې آیت په دلیل چې خدای وایي:
فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْاْ نَدْعُ أَبْنَاءنَا وَأَبْنَاءكُمْ وَنِسَاءنَا وَنِسَاءكُمْ وَأَنفُسَنَا وأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَةَ اللّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ(آل عمران / ٦١)؛ (د مسیح په باب) چې وپوهېدې؛ نو (بیا) هم که څوك په دې اړه له تا سره شخړه کوي؛ نو ورته ووایه: ((راځئ چې موږ به هم خپل زامن راوبلو او تاسې هم خپل زامن، موږ به هم خپلې ښځې راوبلواو تاسې هم خپلې ښځې، موږ به پخپله راشو او تاسې هم پخپله راشئ؛ نو بیا به مباهله (او دعا) وکړو او پر دروغجنو د خدای لعنت وغواړو.))
د مباهلې آیت هر زور ته خوله ماتې ځواب دی. امت یوه خوله دی چې دا آیت پر پېغمبر د (علي) فاطمې، حسن او حسین په باب نازل شوی دی.[1]
لږ تر لږه اهل بیت له قریشو څنې دي او قریش هم د پېغمبر خپلوان دي او خلافت باید په قریشو کې وي، د روایت له مخې اهل بیت د قریشو څوښا ده او د هاشم څوښا د عبدالمطلب اولاده ده او د عبدالمطلب د اولادې څوښا، محمد او اهل بیت یې دي؛ ځکه خدای سپېڅلي کړي دي او د (تطهیر) آیت ټولو ته څرګند دی، که وواییي چې دا ایت د پېغمبر د مېرمنو په

[1] صحیح ترمذي ٤: ۲۹۳ مخ . حاکم مستدرک ۳: ۱۵۰ . احمد مسند، ۱: ۱۸۵ مخ . کشاف تفسیر ۱: ۲٦۸ مخ . واحدي الباب النزول ۵۹ مخ . فخر رازي تفسیر ٦۹۹ مخ. اسدالغابه ٤: ۲٦ مخ او ...

باب وی؛ نو دا څنګه شوني ده، چې د يو چا مېرمنې پاکې وي؛ خو اولاده يې داسې نه وي؟ يا لږ تر لږه د رد احسان له بابه (خلافت يې حق دی) څکه درې کاله د ابوطالب په دره (شعب) کې را ايسار شوي وو، دوی دولس ګوني امامان دي؛[1] دوی سپېڅلي امامان دي نه واکمنان، څکه قريشي واکمنان په سل ګونو تنه وو، نه دولس تنه.[2]

## په اهل بيتو کې د امامت د انحصار حکمت

د محمد صلی الله عليه و آله په څوځات کې د امامت د انحصار حکمت دادی، چې خدای پاک کړي او دې موخې ته يې چمتو کړي دي؛ نو څکه له لوري يې امت ته کوم خطر متوجه نه دی.

بل حکمت يې دادی چې د اختلافاتو جرړه به راوباسي او د هغوی لاسونه به لنډ کړي چې د خلافت تر لاسه کولو لپاره هڅه کوي؛ څکه که خلافت له بني هاشمو ووځي د غالب او برلاس په لاس کې به شي او له دين، پوهې، امانت او ژمنتوب يې صرف نظر شوی او پر امت به واکمن شي؛ نو څکه که امامت يوازې د اهل بيتو د مشر په ولکه او انحصار کې وي ټول پرې راضي کيږي؛ څکه واکمن به يې د پيغمبر صلی الله عليه و آله يو زوی وي؛ نو دلته دی چې ثبات، امنيت او سوکالي راځي، ولس خوشحاليږي، تمې له منځه ځي او ټول په آرامۍ کې وسي.

### د امام په ټاکنه کې د امت ونډه

مؤمن، جدي، رښتين، زيارکښ او آګاه امت تل د داسې چا په لټه کې وي چې پر دين او احکامو يې تر ټولو ښه پوهيږي؛ دا څکه دا دين هماغه الهي حقوقي نظام دی، چې د قانون ښه لري او امام د دې قانون د پلي کولو لومړی مسوول تن دی، که امام پر دين ښه پوه نه وي؛ نو ستونزې به راولاړې شي.

بلخوا، امت د خورا پوره په لټه کې وي؛ څکه د ټولو مصلحت پکې وی او وياړي چې يو غوره تن پرې واکمن دی.

او عقلمن، پوه او مؤمن امت د يو وړ تن په لټه کې دی، چې مشري يې وکړي.

---

[1] کنزالعمال ۱۲: ٢٤ مخ

[2] د قريشي واکمنو پر نو مونو د پوهېدو لپاره وګورئ: مروج الذهب.

هیځ وګړی یا ډله په یقین خورا پوه، غوره او وړ تن نه پېژني او دا چار یوازې د خدای له وسې پوره دی او د هغې لورنې له مخې چې پر مؤمنانو یې لري همدغسې یو وګړی وربښيي او پوهوي يې چې دا تن مو مشرۍ ته وړ دی.
او چې مؤمن امت د خدای له لوري ښودل شوی تشخیص کړي؛ نو خوشی لېږي؛ ځکه خپل مراد ته رسېدلی دی؛ نو ځکه د هغه خوا ته ورځي او په خپله خوښه ( نه زور) ورسره بیعت کوي او مشر کوي يې.
د خدای له لوري له ټاکل شوي مشر سره د بیعت په ترسره کېدو، هغه د امت شرعي او واقعي مشر کېږي او د الهي حقوقي نظام د منځ ته راوړو لپاره د امت لاسنیوی کوي.

**د واقعیت او مشروعیت ترمنځ بېلتون:**

خو امت چې د خدای غوره کړای شوی تن ونه مني او متقاعد نشي چې دا تن تر ټولو پوه، غوره او مشرۍ ته وړ دی او په بل تن پسې ولاړ شي چې د دوي په ګومان تر ټولو غوره او د امت مشرۍ ته وړ دی؛ نو دلته په عمل کې د شرعیت او حقیقت ( او واقعیت) ترمنځ بېلتون راځي.
هغه چې د چارو واګې يې په لاس کې نیولې یو ځوک دی او هغه چې خدای ټاکلی بل ځوک دی، چې واک ورسره نشته او پر هغو خلکو واکمني نشي کړای چې نه يې مني او دین ورته اجازه نه ورکوي چې واکمنۍ ته د رسېدو لپاره غیر شرعي لارو ته لاس وغځوي.
د وخت په تېرېدو، واکمن خپلې واګې لا ټینګوي او پر مرجعیت هم برلاس کېږي؛ نو هغه مهال خیال کوي چې د پیغمبر خلیفه او قایم مقام يې دی او چې ځوک مخالفت ورسره وکړي واکمن به په توندۍ ورسره وچلېږي.
حسین بن علي بن ابی طالب د پیغمبر د نص له مخې، امام، پالندوی، مرجع او په خپله زمانه کې بېلګه و؛ خو امت په خوښه یا زور یا ډار له یزید بن معاویه سره بیعت وکړ او یزید واقعي واکمن (خلیفه ) شو.
خو حسین، چې د نص له مخې، شرعي امام و، وس يې نه و، چې له خپلو اختیاراتو ګټنه وکړي؛ ځکه یزید په زور او غصب واکمن شوی و، امت هم چوپه خوله و او په هر صورت چې و بیعت يې ورسره کړی او شرعي امام ته شا کړې وه.
حسین ته دوه لارې دي: یوه دا چې څه چې پېښ شوي، و يې مني یا له هغه حکومت سره په جګړې لاس پورې کړي، چې په ټول زور غواړي امام له منځه یوسي.

حکومت امام حسين يا هر بل شرعي امام ته د شرعي ښځې په څېر دی، دا ښکلې ناوې له خپل مېړه سره خورا مينه لري؛ ځکه همدا د مينې وړ بولي.
که څه هم په اوسني حال کې واکمن ترې په زور نيولې او په زور يې اړ کړې چې معاشرت ورسره وکړي. واکمن پوهېږي، چې يوازې د مېرمن تنه يې په واک کې ده او بس؛ او زړه يې له خپل قانوني او شرعي مېړه سره دی. ددې واکمن زړه هله بې غمه کېږي چې شرعي مېړه يې مړ شي، چې بيا نو تنه او روح دواړه يې ورسره وي، هسې نه چې مېرمن پټ په پټه خپل شرعي مېړه ته ورستنه شي.
شرعي امامان: [ د شرعي نص له مخې دولس تنه دي چې دادي: ]
١ – علي بن ابی طالب. ٢ – حسن بن علي.
٣ – حسين بن علی. ٤ – زوی يې زين العابدين،
٥ – زوی يې محمد باقر، ٦ – زوی يې جعفر صادق.
٧ – زوی يې موسی کاظم. ٨ – زوی يې علی الرضا
٩ – زوی يې محمد جواد ١٠ – زوی يې امام هادی.
١١ – زوی يې حسن عسکری ١٢ – زوی يې محمد بن حسن، مهدي.
ځايناستي ته راتلونکې برسېرونې:
جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله امانت پوره کړ، خپل رسالت يې تبليغ کړ، ټول څيزونه يې وويل او د خدای د لارښوونې له مخې يې خپل ځايناستی وټاکه او امت ته يې اعلان کړ. بيا يې د خلافت د نصب مراسم د يو لک تنو مسلمانانو په مخ کې ترسره کړل. ټولو مسلمانانو حضرت علي ته مبارکي وويله او تر ټولو مهمه د عمر بن خطاب (رض) مبارکي وه او په ډاګه شوه، چې هر څيز په خپل ځای کې سم او صحيح دی او چارې به سمې شي او ښه باد به ولګي.
جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله پر دې بسيانه ونه کړه؛ بلکې خپلو اصحابو ته يې خپله انديښنه هم ور پر ډاګه کړه او له ځينو راتلونکيو ستونزو يې پرده پورته کړه.
حضرت جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله خپلو ته چې حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رض) هم پکې وو وويل: په تاسې کې يو تن به د قرآن د تاويل لپاره داسې هڅه وکړي، لکه چې ما يې د نزول لپاره وکړه، هر يو غاړې را پورته کړې، او ګومان يې کاوه چې زه به يم.
ابوبکر (رض) وويل: هغه زه يم؟ و يې ويل: نه.
عمر (رض) وويل: زه يم؟ و يې ويل: نه؛ بلکې هغه دی چې خپله څپلۍ ګنډي (يعني علي).

ابوسعید خدري (رض) وايي: موږ علي ته ددې زېرى ورکړ؛ خو هغه ان خپل سر هم را پورته نه کړ لکه چې مخکې يې له جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله اورېدلي و.[1]
جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله راتلونکې خپل خليفه ته ور پرډاگه کړه او حضرت علي ته يې وويل: ته به ترما وروسته په ستونزو کې راگېر شې. علي وپوښتل: ايا دين مې روغ رمټ پاتېږي؟
پېغمبر صلی الله علیه و آله وويل: هو.[2]
پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله يوازې پر دې هم بسيا ونه کړه؛ بلکې خپل ځايناستی يې خبر کړ، چې له وفات وروسته به يې امت ټگي برگي ورسره وکړي[3]. او ورته يې وويل: سرغړاندې ډله به درسره جگړه وکړي او ته به پر حق يې او که چا دې ملاتړ ونه کړ؛ نو له ما څخه نه دی[4].
پېغمبر صلی الله علیه و آله د امت د ويښتيا لپاره خورا هڅه وکړه. يوه ورځ يې ابو رافع (رض) ته وويل: ابا رافع! تر ما وروسته به يوه ډله ډېر ژر له علي سره جگړه وکړي، له هغوی سره جهاد لازم دی، د چاچې د لاس وس نه وي؛ نو په خوله دې جهاد ورسره وکړي او که ددې وس يې هم نه وي؛ نو په زړه دې جهاد ورسره وکړي.[5]

**د جاهلي سياسي نظام ډړي وړي کېدل:**
د دولت په رياست پورې اړوند الهي تدابيرو، گرد سره جاهلي سياسي نظامونه دړي وړي کړل؛ څکه د اسلام له اړخه مشرتوب يو بشپړ کار پوهيز او فني چار وی، او يوازې هغه د دولت رئيس کېدای شي، چې پر دين پوه او مشرۍ ته وړ وي او اسلام د دغسې يو تن په قوم او ټبر پورې څه کار نه لري، حال دا چې په سياسي جاهلي نظام کې، مشري، يوسهامي (برخوال) شرکت بولي، چې هر کورنۍ او ټبر پکې برخه لري؛ دوی دې پايلې ته رسېدلي چې سياسي

---

[1] صلية الاولياء ۱: ٦٧ مخ اسدالغابه ۳: ۲۸۲ مخ . ابن مغازلي مناقب. ۲۹۸ مخ . ذخائر العقبي ٦٧ مخ . ابن عساكر تاريخ ۳: ۳۷ مخ او ...
[2] حاكم، مستدرک ۳: ۱٤۰ مخ . زرندي حنفي، نظم در رالسلمين ۱۱۸ مخ.
[3] ابن كثير البداية والنهاية ٦: ۲۱۸ مخ . سيوطي تلخيص الشافي ۳: ٥۱ مخ . ابی الحديد شرح النهج البلاغه ٦: ٤٥ مخ.
[4] ابن عساكر ۳: ۱۷۱ مخ . د كنزالعمال غورچاڼ ٥: ۳۲ . اميني العذير ۳: ۱۹۳ مخ.
[5] مجمع الزوايد ۳: ۱۳٤ مخ . ابن عساكر تاريخ ۳: ۱۲۳ مخ.

منصبونه (لکه مشری، د خدای د کور د زیارت کوونکیو مېلمه پالنه، حاجیانو ته د اوبو ورکړه، بیرغچي، د کعبې د پردې ساتنه، بهرنۍ اړیکې او .... ) په خپلو کې وویشي.
دوی انګېرله، چې دا یو غوره نظام دی؛ ځکه په دې ویش کې غالب او مغلوب نشته (او ټول پکې برخوال دي) او د هیڅ کورنۍ پر ګټه او مصلحت نه وه، چې پردې جوړښت (او نظام) کې دې ادلون بدلون راشي او دا جوړښت د یوې عقیدې په بڼه او د تېرو میراث ورته پاتې شوی و؛ نو پر ضد یې راپاڅېدل روا نه و.
د مکې تېرونو هوډ وکړ چې له بني هاشمو څخه دې کوم پېغمبر رانشي او په دې لار کې یې ډېره هڅه وکړه؛ خو ګټه یې نه درلوده او په پای کې یې ماتې وخوړه ځکه د بني هاشمو په کورنۍ کې نبوت یو تقدیر و، چې تېښته ترې ناشونې وه، که له ناچارۍ نبوت په بني هاشمو کې وي نو ایا خلافت دې هم ورسره وي او دا باید ومنو؟
(داسې یې انګېرله) چې دا معقوله نه ده، چې خدای نبوت او خلافت دواړه بني هاشمو ته ورکړي؛ نو ځکه تر پېغمبر وروسته په خلافت پورې اړوند الهي تدابېرو یوازې قریش ولړزول او دا کینه یې پکې راوپاروله چې: ( نه ښایي چې نبوت او خلافت دواړه دې له بني هاشمو سره وي).
د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله پر مهال دا شعار د خلکو په زړونو کې و؛ خو د حضرت شتون یې د راښکاره کولو خنډ و او لازم فرصت ته سترګې پر لار و، چې رابرسېره یې کړي. دا موضوع مو له تاریخي پلوه څېړلې او تر کره کتنې لاندې نیولې چې په اړه یې په اذهانو کې یو پوره انځور ولرو او ښه پرې پوه شو.

## د شرعي مشرۍ د منځه وړو تاريخي لاملونه

**۱ - قريشي کورنۍ: #**

د قريش ټبر له (۲۵) خپلوانو او کورنيو څخه جوړ شوی و. (۱) اشرف يې د هاشم بن عبدمناف اولاده وه. (۲) او وروسته ترې دا وو: عبدالمطلب بن عبدمناف، حارث بن عبد مناف، امية بن شمس بن عبدمناف او د نوفل بن عبدمناف اولاده.

دوی د قريشو مشران دي، چې له عبدمناف وروسته په حرم او چاپيريال کې يې خپاره شول او ړومبي وګړي وو، چې قريشو ته يې امان واخست؛ هاشم د شام له پاچايانو، عبدشمس له نجاشي، نوفل له کسرا او مطلب د صمير له پاچايانو سره اړيکې ونيوې. او په دې توګه قريشو د نړۍ نورو سيمو ته تلل راتلل او دا چې پر نورو عربانو يې مشري او سيادت درلود، د سرو سپينو جامونو پر خاوندانو يادېدل. (۳).

**۲ - سياسي جوړښت:**

د قريشو سياسي جوړښت پر مناسبه ويش، ولاړ و، منصبونه لکه مشري، بيرغ درلودل، غونډې جوړول، د اوبو ورکړه، ميلمه پالنه، ټولنيز روابط، د کعبې د پردې ساتنه او ... په خپلو کورنيو او خپلوانو کې يې په مناسب ډول ويشلي وو، پر دې ويش خوښ وو، غالب او مغلوب؛ برلاس او ترلاس لاندې پکې نه و؛ نوځکه د هيڅ کورنۍ په مصلحت نه وه، چې په جوړښت کې بدلون رامنځ ته شي؛ ځکه ناڅرګنده وه، چې د بدلون پايلې به څه وي او شونې وه، چې ځينې به خپل حق له لاسه ورکړي.

پر دې سربېره د بيت الله الحرام چارې منظمې وې او ټول خېلونه پرشته سياسي جوړښت راضي وو، چې دا حالت د زمانې په تېرېدو له نېکونو د يوې عقيدې او ميراث په توګه پاتې شو، چې ځانګړې درناوی يې درلود، تر دې چې پکې بدلون راوستل هيڅا نه منل.

**۳ - د شته جوړښت د منځه وړو لپاره هڅې:**

د تنګلاسۍ، وچکالۍ، او سوکړې په کلونو کې يوازې هاشم و، چې له مکيانو سره يې مرسته کوله؛ نو ځکه يې د بطحا پلار ورته وايه، په تنګلاسۍ او سوکالۍ دواړو کې يې د ستر خوان خپور و، د مسافرو لاسنيوی يې کاوه او ورتښتېدلو ته يې پناه ورکوله. (٤).

امية بن عبدشمس د هاشم پر موقعيت رخه کوله او په ريا يې په ورکړه کې له هاشم سره سيالي راواخسته؛ خو پاتې راغی او قريشو ټپسوری کړ. نو له کينې يې هاشم مفاضرې او د وياړنې سيالۍ ته راوباله، هاشم ورسره ونه منله؛ خو د امية په ټينګار يې ومنله، که منځګړي هر يو

پرکړېل ته به پینځوس اوښان ورکوي اولس کاله به په مکه کې نه اوسېږي، په پایله منځګړي د هاشم په ګټه نظر ورکړ، چې تر امیه ښاغلی او اشرف دی. بیا نو امیه پینځوس اوښان حلال کړل او شام ته ولاړ.

دا د دښمنۍ لومړی تخم و، چې د اموي او هاشمي کورنیو ترمنځ وکرل شو. امیه ځکه په دې سیالۍ لاس پورې کړ، چې ډارېده، ښایي هاشم شته سیاسي جوړښت وګواښي؛ ځکه پر هغه مهال مشري د عبد شمس د اولادې په لاس کې وه او شونې وه، چې د هاشم په څېر ځلاند ستوری جوړښت او وضع ته تغییر ورکړي او خلک ترلاس لاندې کړي (۵).

**٤ - د نبوت اوازې:**

په مکه کې اوازه خپره شوه، چې د عبدمناف له کورنۍ به یو تن پېغمبر شي. یو هم ابوسفیان و، چې دا اوازه یې ټینګه ونیوه. ابوسفیان له امیه بن ابی صلت سره سخته مینه درلوده، او ګروهن و، چې دا پېغمبر به شته سیاسي جوړښت واړوي او سیاسي مشري به ترلاسه کړي. دې ته په پامنیوي چې په جاهلیت کې د اوږد وخت لپاره مشري له بني امیه و سره وه، چې د پېغمبر راتګ ورته یو ستر خطر و. ابوسفیان تر ډېر کړاو وروسته ډاډمن شو، چې پېغمبر به د عبدمناف له اولادې وي او ګومان یې کاوه، چې تر نورو همدا ورته وړ دی. (٦). او ګروهن و، چې ورته سترګې پر لار پېغمبر به همدا پخپله وي.

**٥ - د نبوت اعلان:**

هاشمي محمدصلی الله علیه و آله اعلان وکړ، دا هماغه پېغمبر دی، چې ورته سترګې پرلار وو او خدای تعالی بشر او په تېره د عربو لارښوونې ته رالېږلی دی. د نبوت پر ادعا یې دلیل د خدای کلام و. په دې اعلان پسې، لراندي، ځیرک شو او مظلو مو پر هاشمي پېغمبر ایمان راووړ.

**٦ - له پېغمبره صلی الله علیه و آله څخه د بني هاشمو ساتنه:**

بني هاشمو په خپل ټول زور د محمد صلی الله علیه و آله ساتنه کوله او د قریشو مشر، محمد صلی الله علیه و آله په ماته ګواښه، تر دې چې اوازه یې خپره کړه، چې محمد صلی الله علیه وسلم وژل شوی دی. له اوازې وروسته، ابوطالب بني هاشم راوغوښتل او هر یو ته یې توره ورکړه او له بني هاشمو او د مطلب له اولادې سره ورغلل. غږ یې کړ: قریشو! په هوډ مې خبر یاست؟

و یې ویل: نه. ورته یې وویل: اورېدلي مې دي، چې محمد صلی الله علیه و آله وژل شوی دی. بې درنګه یې ورسره ځوانانو او مېړنو ته وویل: تر څادرونو لاندې توري مو راښکاره کړئ، هر یو خپله توره را وایسته او د ابوطالب امر ته سترګې پرلار شول. ابوطالب قریشو ته وویل: پر

خدای قسم که محمد مو وژلی وي؛ نو یو به هم ژوندی رانه پاتې نه شئ، او تر مرګه به درسره جګړه وکړم. قریش ډېر خپه شول او تر ټولو (ابوجهل) مړاوی او خپه شو. (۷).
۷- له بوتانو سره مینه نه؛ بلکې کینه او د سیاسي جوړښت ساتنه وه:
د ابوسفیان په مشرۍ د قریشو ټولو خپلوانو او کورنیو د حضرت محمد صلی الله علیه و آله پر وړاندې ودرېدل او مقاومت یې وکړ؛ نو دا چې بني هاشم له حضرت محمد صلی الله علیه و آله سره ټینګ ولاړ وو او قریشو ته یې د حضرت محمد صلی الله علیه و آله له ورتسلیمېدو ډډه وکړه؛ نو بې استثنا ټولې قریشي کورنۍ یوه خوله شوې چې لاندې چارې به کوي:
۱- له بني هاشمو سره د هر اړخېزو اړیکو پرې کول. ددې هوډ له مخې ټولو کورنیو ان د عدی او تیم څوڅات هم له بني هاشمو سره اړیکه پرې کړه.
بني هاشم یې درې کاله د ابوطالب په دره (شعب) کې را ایسار کړل، تر دې چې له سختې لوږې یې د ونو پاڼې خوړې د کوچنیانو له تندې شګې څټلې. دا یو بربنډ واقعیت دی، چې څوک ترې منکرېدای نشي او نه یې په اړه شخړه کړای شي. خو بیا هم حضرت محمد صلی الله علیه و آله قریشو ته غاړه کېنښووه، بني هاشمو هم له ملاتړه لاس وانخست او تسلیم نه شول، خدای تعالی د قرشو دسیسه له منځه یووړه او محاصره ماته شوه.
۲- چې قریش خبر شول، حضرت محمد صلی الله علیه و آله په یثرب (مدینه) کې ځانته هډه جوړه کړې او په نژدې راتلونکې کې به ورشي؛ نو ټولو قریشي کورنیو او د مکې ټبرونو هوډ وکړ، چې حضرت محمدصلی الله علیه و آله ووژني؛ نو له هر یو ټبر یې یو تن وټاکه، چې په یوځل ورباندې برید وکړي او وینه یې په قبایلو کې خپاره شي او بني هاشم ونه کړای شي غچ یې واخلي او له ټولو قبایلو سره جګړې ته راولاړ شي؛ ځکه پوهېدل که حضرت محمد صلی الله علیه و آله ونه وژل شي او یثرب ته ورشي؛ نو هرومرو بریالی کېږي او مشري یې له لاسه وځي.
خو د خدای په امر چې حضرت محمد صلی الله علیه و آله کوم تدبیر سنجولی او پرځای یې په بستره کې حضرت علي ویده شوی و؛ نو چې قریشو د خپل هوډ عملي کولو ته راودانګل؛ هک پک شول؛ نو مشرانو یې په لېونتوب هغو ته انعام وټاکه چې حضرت محمد صلی الله علیه و آله ژوندی یا مړ راولي، بلخوا جناب نبي مکرم له خپل ملګری ابوبکر(رض) او سالم (چې یو تن مشرک و، او لار یې ښووه) سره د خدای په امر خپله لار وهله. چې دا هم یو څرګند مطلب دی، چې دلیل ته اړتیا نه لري. (۸).

**۸ - جګړه د سیاسي جوړښت، ساتنې ته وه نه د بوتانو پاسوالي:**
قریش او مشران یې د حضرت محمدصلی الله علیه و آله، بني هاشمو او نوي دین له ماتې نهیلي نه شول. حضرت محمد صلی الله علیه و آله او یاران یې هم د شرک او مشرانو له ماتې نهیلي نه شول. عربان درې ډلې شول: یوه دله له قریشو سره شول، ډېر لږ د حضرت محمد صلی الله علیه و آله ملګرې شول او دریمې ډلې اوضاع څارله، چې که څوک بریالی شو؛ نو ورسره به وي.
په بدر او احد کې د جګړې لمبې بلې شوې. د قریشو مشران له یهودو سره همږمني شول او د احزابو لښکر یې جوړ کړ او پر مدینې یې یرغل وکړ. پیغمبر صلی الله علیه و آله هم په مدینه کې سنګر ونیو او پر دفاع لګیا شو او په پای کې د احزابو لښکر ماتې وخوړه او مکې ته ستون شو. تر څه مودې وروسته قریش او مشران یې ناڅاپه د خدای له لښکر سره مخ شول، چې مکې (او د مشرکانو هډې) ته ورننوځي.
د مکې مشر غاړه کېښووه او له ناچارۍ یې اسلام ومانه. د مکې د مشر په تسلمېدو ټول عربان تسلیم شول او ټول عربي ټاپووزمي د حضرت محمد صلی الله علیه و آله پر دولت ایمان راووړ او ډلې ډلې عربان دین ته راننووتل.
**۹ - په بني هاشمو کې نبوت یو الهي تقدیر و:**
قریشو د امویانو په تېره د ابوسفیان په مشرۍ د هاشمي محمد صلی الله علیه و آله دین ونه مانه او دهغه پر وړاندې په خپل ټول زور ودرېدل؛ دا مقاومت بوتانو ته د وفا دارۍ لپاره نه؛ بلکې له بني هاشمو سره د کینې له امله و او لنډه دا چې نه یې غوښتل شته سیاسي جوړښت له منځه ولاړ شي.
د ابوسفیان ناڅاپي پام شو، چې د اسلام لښکر مکې ته نژدې دی او عباس بن عبدالمطلب اړ کړ، چې د خدای لښکر ووینې، ابوسفیان په لړزه شو او له خپلو مغزو یې د مقاومت فکر لرې کړ، د مشرک ګوند مشر د خپلو ګومانونو له حقیقته پرده لرې کړه او و یې ویل:
ماخو کله هم داسې سلطنت نه ولیدلی، نه د کسرا، قیصر او بني اصفر سلطنت او .... (۹).
عباس راښکوده چې رسول الله صلی الله علیه و آله ته یې بوځي ورته یې وویل: ابوسفیانه! افسوس دربان‌دې ایا ددې وخت نه دی رارسېدلی، چې پوه شې یو (الله) د نمانځنې وړ دی، ابوسفیان وویل: ګومان کوم که بل خدای هم وای، څه ګټه یې نه رارسوله. پیغمبر صلی الله علیه و آله وویل:
ابوسفیانه! ایا وخت یې نه دی رارسېدلی، چې پوه شې زه د خدای استازی یم؟

ابوسفیان وویل: پر خدای قسم چې لا تر اوسه یې په اړه شکمن یم، عباس غږ کړ: ابوسفیانه! پرتا افسوس مخکې تر دې چې سردې غوځ شي اسلام راوړه او د خدای پر وحدانیت شهادت ورکړه.
ابوسفیان له ډاره چې وبه وژل شي، او دا چې مسلمانانو را ایسار کړی و او ټولې دسیسې یې ناکامې شوې وې، د ځان ساتنې لپاره یې په ظاهره اسلام ومانه او خړخړ یې پېغمبر ته کتل او تر شنډو لاندې یې ویل، کاشکې پوهېدای چې په څه راباندې برلاس شو؟ خدای د ابوسفیان د سینې او مغزو راز پېغمبر ته وحې کړ. بیا نو جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله وویل: خدای درباندې برلاس کړم. قریش هم پوه شول چې د هاشمي نبوت مسئله له هغو مقدراتو ځنې دی، چې تېښته ترې ناشوني ده او د دوی پکې څه واک اختیار نشته.
ځکه که ډېر لږ اختیار هم ورسره وای؛ نو په بني هاشمو کې یې پېغمبري نه منله او دا چې پوه شول اوسنی سیاسي جوړښت پوره ونړید، نو هوډ یې وکړ، چې تر خپلې وسې وسې په گومان یې د هاشمي یرغل مخه ونیسي؛ یعنې نبوت او خلافت دې د بني هاشمو نه وي.
**۱۰ - امویانو هڅه کوله چې د بني هاشمو د نفوذ مخه ډب کړي:**
بې د مطلب بن عبد مناف له اولادې نور ټول قریش یوه خوله وو، چې د بني هاشمو نبوت اوسنی سیاسي جوړښت سخت لړزولی؛ نو ځکه ټولو نبوت ونه مانه؛ خو بني امیه وو ډېره هڅه کوله چې نبوت او خلافت دې دواړه د بني هاشمو نه وي او په څه دلایلو:
۱ - له بني هاشمو سره یې پخوانۍ کینه؛ ان له اسلام څخه له مخه.
۲ - د بني هاشمو د نبوت له وجهې بني امیه د خپله سیاسي مشري له لاسه ورکړه.
۳ - بني هاشمو د کفر پر ضد د اسلام په غزاگانو کې دبني امیه و مشران وژلي وو.
نو ځکه امویان نه یوازې له بني هاشمو خپه وو، بلکې لرغونې کینه یې هم ورسره وه، تر دې چې د ابوسفیان مېرمن او د معاویه مور هندې، خپله سخته کینه را څرگنده کړه او د حمزه سید الشهدا په وژنه یې بسیا ونه کړه؛ بلکې بدن یې مُثله او د هغه لړمون یې راوکېښ او په غاښونو یې وچیچه؛ خو امویانو د څو دلایلو له مخې په ډاگه ویلای نه شوه، چې نبوت او خلافت دواړه دې د بني هاشمو وي او دلایل دادي:
۱ - نبوت بریالی شو.
۲ - د اسلام رڼا هرې لورې ته خپره شوه.
۳ - امویانو ډېر په ځنډ اسلام ومانه.
٤ - د اسلام پر ضد یې د اوږدو هڅو وریادونه.
۱۱ - غښتلې څپه:

دا خبره ( چې نه ښايي نبوت او خلافت دې د بني هاشمو وي ) په يوې قوي څپه واوړېده، خو د پېغمبر او د نېکچاريو او رښتينو اصحابو د شتون او د پېغمبر په مشرۍ پر امت واکمن يوالی، ددې لامل وو، چې دا خبره په سينو کې پاتې شي او د راښکاره کولو وس يې نه درلود. او که له دې عواملو يو هم له منځه تله( او د معاويه په تعبير رښتين او نېکچاري اصحاب لکه په توره غوا کې چې يو سپين ويښته وي)؛ نو په دې بڼه کې واک د بړلاس گوتو ته ورتله.

**۱۲ - خپلوي د خلافت بنسټ دی:**

حضرت ابوبکر (رض) په دې دليل خلافت ته ورسيد، چې ځان يې د پېغمبر له خپلوانو وښود. هغه وخت چې درې تنه مهاجرين؛ حضرات ابوبکر، عمر او عبيده (رضی الله عنهما) د بني ساعده و څپرگي ته ورغلل، د انصارو پر خلاف يې د خلافت لاس ته راوړو ته دا استدلال وکړ چې:

حضرت ابوبکر (رض) وويل: موږ د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم له خپلوانو يو او تاسې د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله ملاتړي او په دين کې مو مرستندويان ياست.

حضرت عمر (رض) هم وويل: په يو غلاف کې دوه تورې نه ځايېږي، پر خدای قسم عرب ستاسې په امارت نه خوښېږي، سره له دې، چې پېغمبر يې ستاسې له ټبره نه دی او نه ښايي چې عرب خلافت هغوی ته پرېږدي، چې نبوت يې نه و، دا نورو عربو ته زموږ ځرگند دليل دی، څوک له موږ سره ( چې د پېغمبر دوستان او خپلوان يو ) د هغه د سلطنت، ، خلافت او ميراث پر سر شخړه کوي؛ خو هغه چې باطل پالی او گناهکار وي، چې ځان هلاکوي؟ (۱۰).

بيانو ټولو انصارو په يو غږ وويل: چې داسې ده؛ نو موږ يوازې له علي سره بيعت کوو او علي اوس دلته نشته، ځينو انصارو وويل: موږ يوازې له علي سره بيعت کوو. (۱۱).

په هر حال د ابوبکر (رض) چار په بېړه وشو او له علي کرم الله وجهه يې وغوښتل، چې له ابوبکر (رض) سره بيعت وکړي، حضرت علي ځواب ورکړ: ( خلافت زما حق دی او بيعت درسره نه کوم دا وړ ده، چې تاسې له ماسره بيعت وکړئ، دا چې په دې دليل مو له انصارو خلافت واخست چې د پېغمبر خپلوان يو او اوس يې له موږ نبوي اهل بيتو غصبوئ. ايا انصارو ته مو ونه ويل، چې خلافت ته وړ يو، دا ځکه چې حضرت محمد صلی الله عليه و آله له موږ څخې دی او انصارو هم مشري درکړه او امارت يې دروسپاره؟ اوس زه هماغه خبره درته کوم چې موږ په مرگ او ژوند رسول الله صلی الله عليه و آله ته خورا وړيو. . . . ).

**۱۳ - د انقلاب څپانده او غښتلې څپې:**

عمر بن خطاب (رض) په مرگوني حال د امت د راتلونکې په فکر کې و او د خلافت چار يې که هرې لورې څېړه، ناڅاپه يې وويل: که ابوعبيده (رض) ژوندی وای، خپل ځايناستی کاوه

مې او یا که خالد بن ولید ژوند وای، نو خلیفه کاوه مې، همدارز که سالم (د ابو حذیفه مریي) یا معاذ بن جبل وای، خلیفه کاوه مې، سره له دې چې سالم یو مریي و او عربي څوځاته نه و. معاذ (رض) یو انصاري و او د سقیفې پر ورځ یې وویل چې انصارو ته د خلافت مقام روا نه دی، خالد هم د بني مخزوم له ټبره او د اصحابو په لسمه پوړۍ کې و، ځکه د حدیبیې د سولې او د مکې د سوبې ترمنځ وخت کې یې مدینې ته مهاجرت کړی و؛ خو له دې ټولو ځانګړو سره سره بیا هم عمر (رض) په مرګوني حال افسوس کاوه، چې کاشکې له دوی یو وای او خلافت یې ورکړی وای.

حضرت عمر (رض) د مسلمانانو مصالحو ته فوراً پاملرنه درلوده او غوښتل یې چې یو چار وکړي چې ان ترمرګ وروسته یې هم څوک له بني هاشمو د محمد (ص) پر امت واکمن نشي!

په پای کې دا مفکوره (چې نبوت او خلافت دې د بني هاشمو نه وي) په یوې غښتلې څپې واوړېد او حقیقت ځان په داسې توګه وښود چې دولت او ډېری خلک قانع شول او باور یې وکړ، چې دا خبره د بني هاشمو د ویاړنې د مخنیوي غوره لار ده او په قریشو کې د خلافت لاس په لاس کول د نبوت په بدل کې د بني هاشمو لرې کول دي (یعنې نبوت د بني هاشمو او خلافت دې زموږ وي) او دا مفکوره او خبره د عمر (رض) په تعبیر د قریشو د هدایت او توفیق ښکاروندوی شوه.

په پای کې ابوسفیان چې دولتي سیستم ته لار و مونده او چې کوم صدقات یې پخپله راټول کړي وو، ورته یې ورکړل، په شام کې یې د ده زوی یزید د لښکر بولندوی کول او بیا یې ورور معاویه ځایناستی کول او د شام ولایت ورسپارل، دې ټولو چارو د واکمن سیستم او ازاد کړای شویو (طلقا) ترمنځ ټینګه اړیکه رامنځ ته کړه او دواړه یوه خوله وو، چې (نه ښایي نبوت او خلافت دې له بني هاشمو سره وي) په دې توګه د نبي کریم سپېڅلې کورنۍ ان د جاهلي وخت په سیاسي جوړښت کې چې له کو مو امتیازاتو برخمن وه، ترې واخستل شول او بې برخې شوه.

ابن عباس او بنی هاشمو (رضی الله عنهم) ته د عمر (رض) دې خبرې ته ځير شئ چې:

(پر خدای، ددې لپاره نه یو راغلي، چې درته اړ یو، بلکې ښه مه نه ایسي چې پر هغه چار (له ابوبکر سره بیعت) ټېسوري شی، چې ټول خلک پرې یوه خوله دي او ترمنځ مو دا تېروتنه او بېلتون پراخ او لاپراخ شي) (۱۲).

بني هاشمو ته سپکاوی تر دې برېده راورسېد، چې ان عبدالله بن زبير هوډ وکړ چې د بني هاشمو کورونه له اوسېدونکيو سره يې وسوځوي او ويجاړ يې کړي؛ خو خيرغواړيو يې مخه ونيوه!!

له دې مفکورې او چلنه گټنه کېږي، هر ټبر چې د ابوطالب په دره کې د بني هاشمو او محمد رسول الله صلی الله عليه و آله په محاصره کې گډون درلود او د اسلام پر ضد يې دريځونه سخت و او د پېغمبر صلی الله عليه و آله وژنې ته يې استازلي ولېږه؛ نو واکمنی ته وړ او له نېکمرغه له ټولنيز ژونده برخمن شو.

په بله وينا بی له بني هاشمو (د پېغمبر او اسلام د اصولو پاسوالان) نور هر يو عربي ټبر د دولت رياست او د امت خلاف ته خورا وړ دی!!!

يعنې خلافت او امامت ټولو ته جايز؛ خو پر بني هاشمو حرام دی.

هو (وهل جزاء الاحسان الا الاحسان)؟

١٤ – د بني هاشمو د بې برخې کېدو د خبرې پر وړاندې د شرع لید لوری:

دا خبره چې (نبوت او خلافت دې د بني هاشمو نه وي) له جاهلي دريځونو راولاړه شوې او له شعري نصوصو او له الهي اديانو د راولاړ شوي سياسي جوړښت سره په ټکر کې ده؛ ځکه داود عليه السلام د خدای پېغمبر و، چې زوی يې سليمان پېغمبري په ميراث يوړه او له دواړو سره حکومت او نبوت وو او پېغمبرانو او ځوځات ته يې نبوت، حکومت او کتاب ورکړای شوی دی او چا هم نيوکه پرې نه ده کړې؛ ځکه لورنه او غورای خوله خدای سره دی.

خلافت په ړومبي پړاو کې يو ديني منصب دی او په دويم پړاو کې دنيوي.

خليفه خپله د پېغمبر ځايناستی او قائم مقام دی. د پېغمبرانو له مهمو چارو، د احکامو څرگندول، د خلکو ترمنځ قضاوت او حکومت دی، چې دا کارپوهېز او فني چارې دي. چې څوک د اسلام له سياسي نظامه خبر وي؛ نو په لږه ځيرنه ورته څرگندېږي چې دې خبرې (نه ښايي چې نبوت او خلافت دواړه دې د بني هاشمو وي) له بيخه الهي اسلامي سياسي نظام رانړولی او له منځپانگې تش کړی دی او د يو بشري نظام په بڼه کړی يې دی، چې بې له ظاهري بڼې نور هيڅ توپير ورسره نه لري.

په دې سربېره د دولت رياست د ولجې او تمې بڼه مومي، چې هر څوک په هره لار چې برلاس شو، له ستونې يې تېر کړي او تر بريا وروسته د پېغمبر صلی الله عليه و آله پر څوکۍ يا پوزکي کېني، د اسلام چپن واغوندي او خليفه شي؛ يعنې که يو آزاد کړای شوي (چې د پوره محاصرې تر وخته د اسلام پر ضد جنگېده، د تېښتې لار يې نه وه، په ډار يا خوښې يې ايمان

راوړ) پر اوضاع برلاس شي؛ نو پر هغه مهاجر واکمني ولري چې له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره په ګردو غزاګانو کې و او د اسلام ته یې خورا سربښندنې کړې وې.
حال دا چې د خدای ولي، چې د شرعي نص له مخې د اسلامي دولت رئیس ټاکل شوی، د یو عادي هیوادوال په توګه باید ترې لاروي وکړي. یعنې ناپوه خبرې وکړي او پوه چوپ شي.
هغه چې پېغمبر او یاران یې محاصره کړي وو او هوډ یې درلود، چې پېغمبر ووژني باید د پېغمبر پر محاصره شویو یارانو ړومبی وي، دا ټولې نادودې او بې عدالتۍ ددې لپاره کېږي، چې انصاف وشي او نبوت او خلافت دې د بني هاشمو نه شي او یا په بله وینا تر اسلام له مخه سیاسي جوړښت دې په نوی بڼه راواوړي، (چې مخکې ورته اشاره شوې) خو د اسلام سیاسي نظام تر اسلام مخکې سیاسي نظام سره همغږي او جوړ جاری نه لري.

## له خلافته د بني هاشمو د منع پایلې

۱ – د رښتینو مجاهدینو او ورته د تسلیم شویو ترمنځ د امتیازاتو له منځه تلل: ددې مفکورې په پایله کې د هغو کسانو ترمنځ، چې څومره یې له وسې کېدل د اسلام پر ضد وجنګېدل او چې محاصره شول، نو له ناچارۍ یې د ځان بچولو لپاره ایمان راووړ او د هغو کسانو ترمنځ امتیاز له منځه ولاړ، چې په اسلامي ټولو غزاګانو کې یې ګډون درلود، تر هغې وخته چې خدای خپل دین ته عزت ورکړ او د پېغمبر پر مشرۍ اسلامي دولت جوړ شو.
په دې توګه دا دواړه ډلې مسلمانانې دي او له سیاسي پلوه یې ترمنځ کوم توپیر نشته او ټول جنتیان دي. بني هاشم چې درې کاله د قریشو په محاصره کې وو او د خدای لپاره یې کړاوونه زغمل، د هر هغه مشرک په څېر دي، چې د پېغمبر او بني هاشمو په محاصره کې یې برخه درلوده، ایا هغه مشرک مسلمان شوی نه دی؟ ایا اسلام تر اسلام له مخه ګناهونه نه بښي؟ نو ځکه که حمزه سید الشهدا را ژوندی شوی وای له عملي او سیاسي پلوه د خپل قاتل وحشي په څېر و. مهاجر د ازاد کړای شوي او ناپوه د پوه په څېر دی، که ناپوه غالب شو او پر اوضاع یې تسلط و موند؛ نو له سیاسي پلوه پوه دې یې متابعت وکړي؛ تر دې خورا مهمه، که حضرت علي بن ابی طالب د یو غیر هاشمي پر وړاندې ودرېږي چې د پوهې له پلوه تر حضرت علي په خورا ټیټه کچه کې وي او که څه هم غیر هاشمي وګړی له مهاجرینو څخه نه وي؛ خو بیا هم پر حضرت علي ړومبی دی، پر دې مطلب ګواه د عمر (رض) خبره ده چې د علي له شتون سره سره وایي:

له معاذ بن جبل (رض) وای، هغه مې خلیفه کاوه، که خالد بن ولید هم وای، خلیفه کاوه مې (هماغه خالد بن ولید چې په احد او ډېرو جګړو کې د کفارو ترڅنګ د اسلام پر ضد جنګېده، سره له دې چې حضرت علي له لومړی ورځې پر پېغمبر صلی الله علیه و آله سره و او تل د اسلام لپاره د کفارو په مقابل کې جنګېده؛ خو بیا هم تر حضرت علي، خالد خلافت ته وړ دی!!!) آن عمر (رض) وایي که د حذیفه (رض) مریي سالم (چې عربي څوځاتی نه دی) وای؛ نو خلیفه کاوه مې او پر حضرت علي مې امیر کاوه. سره له دې چې حضرت علي پر خپله عمر (رض) او سالم ولایت لري؛ ځکه پخپله عمر (رض) ویلي: (ته مې مولا او د هر مؤمن او مؤمنې مولا یې).

**۲ - د اختلاف د تخم کرل:**

نو چې د مهاجر او آزاد کړای شوي، محاصره کوونکي او محاصره شوي ترمنځ توپیر نه وي او هر څوک ځان ته حق ورکړي چې د اسلام په باب نظر ورکړي او خلک د خپلو پوهېدونو پر چورلیز راټول کړي، حتمي پایله یې داده، چې ګڼې مراجع او بېلا بېلې پوهېدنې رامنځ ته کېږي او هر ډله انګیري چې پرحق ده؛ نو له همدې امله یو ډله شمال ته بله جنوب ته بله ختیځ او بله لویدیځ ته روانېږي او هغه مرجع نه موندل کېږي، چې خبره یې شرعي او یقیني وي او ټول پرې منښته وکړي. په دغسې سیاسي او ټولنیز چاپېریال کې د اختلافاتو تخم کرل کېږي او رالوییږي. نو ځکه که علي کرم الله وجهه یوه خبره وکړي او که یو ازاد کړای شوی بله خبره وکړي؛ نو یوازې اورېدونکی دا دواړه خبرې ارزوي؛ ځکه په عمل کې د حضرت علي او ازاد کړای شوی ترمنځ هیڅ توپیر نشته، دواړه اصحاب، جنتیان او مسلمانان دي او اورېدونکی څنګه د دوو مساوي وګړیو ترمنځ یو غوره کړي؟ دا یو ټوټه سره زر دي چې د شکل، رنګ، حج، وزن او ارزښت له مخې د بلې ټوټې په څېر دي؛ یعنې هره یوه غوښتای شې، دا ظاهري یو شان ته کېدل د اختلافاتو د راټوکېدو او لوییدو لامل ګرځي، چې ژر یا وروسته پر سرطاني دانه اوړي، چې د اسلامي امت یو والی له منځه وړي، له شرعي پولو یې وباسي او ستونزو ته یې راکاږي.

**۳ - بې له بني هاشمو ټول حقوال دي:**

بې له بني هاشمو نور ټول خلک حق لري چې د دولت ریاست تر غاړې کړي، په دې مانا که هر مسلمانان په هره لار د دولت رئیس شي او ټول تسلیمېدو ته اړ کړي؛ نو مشری ته یې څه خنډ نشته، په دې شرط چې د بني هاشمو له کورنۍ نه وي؛ ځکه نبوت په دوی کې و.

دا مفکروه چې هرڅوک حق لري چارواکي شي، هر چاته یې د دولت د مشر کېدو لپاره وسوسه واچوله، له اسلامي امته ارامي لرې شوه او چارواکی ته د رسېدو لپاره یې د تجربو پر ډگر بدل او شرعي سیاسي نظام یې ډب کړ.
خو دا دولت رئیس له کوم ټبره وی؟ کار یې څه دی؟ چلن یې څه دی؟ دین یې څنگه دی؟ چه مخښه لري او کوم کسان به پر امت مسلط کړي؟ دا هغه چارې دي، چې اهمیت نه ورکول کیږي او څه ارزښت نه لري؛ ځکه د دولت رئیس پر خلکو لاسبری شوی او د مغلوبو وگړیو خوښي ترلاسه کول د غالب وگړي په هنر پورې اړه لري، چې پر اوضاع لاسبر او مسلط شوی دی.
د فاسق او فاجر یزید بن معاویه پر وړاندې څه خنډ و، چې د اسلامي دولت رئیس وي؟ ځکه د دولت د رئیس (معاویه) زوی و!
څه خنډ و چې حسین بن علي (چې د پېغمبر په وینا د جنتیانو ښاغلی ددې امت د گلو غونچه او امام دی) د یزید عادي رعیت وي؛ ځکه دواړه مسلمانان او جنتیان دي، یعنې قاتل او مجرم یزید او مقتول او شهید حسین په جنت کې دي او دواړه اصحاب دي!!
چې څوک دا مفکوره نقد کړي کافر دی او زندیق او نه باید خواړه ورسره وخوړل شي او یا څه ورسره وڅښل شي او نه ښایي پر جنازه یې لمونځ وشي.

**٤ – د حقایقو اوړېدل:**
بني هاشم او اهل بیت یې چې له خلافته منع کړل څلورمه پایله یې دا شوه، چې دام اچوونکی له غشي ایشتونکي، باطل له حق، خیر له شر او زهر له شاتو سره ورته شول، وړاندېني او وروستني، مخکښان او مجاهدین یا قاعدین او په ځند مسلمانان شوي، د خدای په لار کې شهیدان او قاتلان یې، محاصره کوونکي او محاصره شوي گرد سره یو رنگ شول، هغه چې په ټول وس د اسلام په جوړېږ کې و، له هغه سره مساوي شو، چې په ټول وس د اسلام پر ضد و، هغوی چې د اسلام پر ضد جنگېدلی وو، د هغوی په څېر شول چې د اسلام د دفاع لپاره جنگېدلي وو، هو ټول برابر او مساوي دي، ځکه ټول د اسلام په دین کې ننوتي او مسلمانان شوي دي، ټولو پېغمبر لیدلی او یا پېغمبر ټول لیدلي دي؛ نو اصحاب او ټول په جنت کې دي.
رښتین اصحاب ضایع او په ښارونو کې خپاره واره شول او د معاویه په تعبیر داسې شول لکه په توره غوا کې چې یو سپین ویښته وي.
اسلامي سیاسي نظام راونړېد، ړومبي وروستني شول او وروستني ړومبني شول( ولله عاقبة الامور )

# د اوړېدنې سريزې

**۱ – له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره په مړګونې حال کې:**

جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله په خپل کور کې دی او د ژوند روستۍ شېبې تېروي. حضرت جبرئیل امین یې همېش لیدو ته راځي، د امت له راتلونکې خبر دی، خپله ونډه یې پوره ترسره کړې او خلکو ته یې د خدای پېغامونه رسولي دي او په ټولیز ډول یې مسلمانانو ته هر څه ویلي دي او د خپل چاپېریال د پېښو په اړه پوره معلومات لري.

ښه پوهېږي، چې اوسنۍ چوپتیا، تر بوړبوکۍ او چاودنې مخکې چوپتیا ده، چې ژر به له منځه ولاړه شي او چې بوړبکۍ پیل شي او چاودنه وشي، د سیاسي نظام مشروعیت به له منځه ولاړ شي، شرعي سیاست به پوپنا شي او د اسلام کارسازه وسله ترې اخستل کېږي او د بلنې او اسلامي دولت آریز څرخ له کاره لوېږي.

خو د پېغمبر صلی الله علیه و آله په څېر یو شخصیت د پېښو د توپانونو او سیلیو پر وړاندې سره نږدي او چوپ نه کېني، چې چاودنه وشي او هېڅ څېز یې پر خپل امت باندې د لورنې مخه نشي نیوای. جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله غواړي خپل امت ته لار هواره کړي، چې تر رحلت روسته یې لار موندلې وي او بې لارې نشي.

غواړي له هغو پېښو یې بچ کړي، چې د پېغمبرصلی الله علیه و آله وفات ته سترګې په لاره دي، هغه پېښې چې خپلې خولې یې پرانستي، چې هرڅه ښوی تېر کړي او د اسلام ځلانده څېره توربخنه او تته کړي او د بهیر او یون خنډ یې شي.

ستر اصحاب د پېغمبرصلی الله علیه و آله لیدو ته راغلي وو او کور یې ترې ډک و. جناب نبي مکرم له فرصت نه په ګټنې امت ته په لنډو خپل دریځ وایي او د اسلام راتلونکی بهیر وریادوي؛ نو ځکه یې وویل:

کاغذ او قلم راوړئ، چې یو مطلب درته وکښم، چې تر ما روسته بیخي بې لارې نشئ.

د پېغمبر صلی الله علیه و آله په دې خبره کې څه تېروتنه وه؟ څوک له بې لارۍ بچېدل ردوي؟!

د څه لپاره او د چا د مصلحت لپاره یې ردوي؟

پردې سربېره، هر مسلمان حق لري، چې وصیت وکړي او د هر مسلمان حق دی، چې تر مرګ وړاندې خپلې خبرې وکړي او چې څوک یې خبرې اوري، آزاد دي، چې تر هغه روسته پرې عمل کوي که یې نه کوي. دا په داسې بڼه کې دي، چې فرض کړو، جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله یو عادي مسلمان دی، نه پېغمبر او د امت مشر.

حضرت عمر بن خطاب رامخې ته شو او حاضرینو ته یې وویل: پر پیغمبر درد ورزیات شوی او قرآن ورسره دی او هماغه راته بس دی.
په حاضرینو کې اختلاف راپیدا شو او چار یې تر شخړې ورسېد.
ځینو وویل: د پیغمبر وړاندیز ومنئ، چې یو څیز ولیکي، چې تر هغه وروسته بیخي بې لارې نشئ.
ځینو د حضرت عمر خبرې تایید کړې، داچې د جناب نبي مکرم پر وړاندې چټي خبرې زیاتې شوې او اختلاف زیات شو؛ نو و یې وویل: له ما څخه پاڅئ[1].
په دویم روایت کې راغلي: هغه وخت چې جناب نبي مکرم وویل: کاغذ راوړئ، چې یو څه ولیکم، چې بیخي بې لارې نشئ. شخړه پیل شوه، حال داچې د یوه پیغمبر په مخ کې شخړه روا نه ده. وویل شول: د خدای رسول پرتې (هذیان) وایي.
پیغمبر صلی الله علیه و آله وویل: ما پرېږدئ، پر کوم حال چې یم، ستاسې تر وینا غوره دی[2].
په درېیم روایت کې راغلي چې: جناب نبي مکرم وویل: کاغذ او دوات (یا تخته او دوات) راوړئ، چې یو څه ولیکم، چې تر ما روسته بیخي بې لارې نشئ. وویل شول: د خدای رسول صلی الله علیه و آله پرتې وایي[3].
په دې روایت کې د بخاري له خولې، راغلي چې: جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله وویل: یو کاغذ راوړئ، چې یو سپارښتنه درته ولیکم، چې تر ما وروسته بې لارې نشئ.
حضرت عمر بن خطاب وویل: پر پیغمبر درد ورزیات شوی دی، د خدای کتاب؛ قرآن، راسره دی او راته بس دی. اختلاف زیات شو او شورځوږ جوړ شو. جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله وویل: له ما څخه پاڅئ. دا ښه نه ده، چې زما په مخ کې شخړه وکړئ[4].
د بخاري په څلورم روایت کې: جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله وویل: یو کاغذ راوړئ، چې یو څه درته ولیکم، چې تر ما وروسته بیخي بې لارې نشئ، په شخړه یې لاس پورې کړ او حال داچې د پیغمبر صلی الله علیه و آله پر وړاندې اختلاف او شخړه ښه نه ده (په پایله کې یې) وویل:

---

[1] صحیح بخاري ۷: ۹ مخ، کتاب المرض، صحیح مسلم ۵: ۷۵ مخ . وصیت د کتاب په پای کې . امام احمد مسند ٤: ۳۵٦ مخ.
[2] صحیح بخاري ٤: ۳۱ مخ . صحیح مسلم ۲: ۱٦ مخ . احمد مسند ۱: ۲ مخ او ۲: ۲۸۱ مخ.
[3] صحیح مسلم ۲: ۱٦ مخ او ۱۱: ۹٤ مخ . (د نووي له شرح سره) احمد مسند ۱: ۳۵۵ مخ . طبري تاریخ ۲: ۱۹۳ مخ . ابن اثیر کامل ۲: ۳۲۰ مخ .
[4] صحیح بخاري ۱: ۳۷ مخ

څه شوي. ايا پرتې وايي؟ امتحان يې کړئ، بيا يې شورځوږ وکړ. پيغمبر صلی الله عليه و آله وويل: ځان ته مې پرېږدئ، کوم حالت چې لرم، تر هغه غوره دی، چې ما پرې يادوئ[1].

د بخاري په پينځم روايت کې: پيغمبرصلی الله عليه و آله وويل: د يو پسه لاس راوړئ، چې يو مطلب درته وليکم، چې وروسته ترې بيخي بې لارې نشئ. شورځوږ يې جوړ کړ، حال داچې د پيغمبر صلی الله عليه و آله په مخ کې شخړه ښه نه ده، وويل شول: څه پرې شوي، پرتې وايي؟ ازمېښت يې کړئ. جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله وويل: ځان ته مې پرېږدئ، پر کوم حال، چې يم، تر هغه غوره دی، چې تاسې مې پرې يادوئ[2].

د بخاري شپږم روايت: پيغمبر صلی الله عليه و آله وويل: راشئ، چې يو څه درته وليکم، چې وروسته ترې بيخي بې لارې نشئ. حضرت عمر وويل: پر پيغمبر درد زيات شوی، قرآن درسره دی، قرآن راته بس دی، په حاضرينو کې اختلاف پيدا شو او چار تر شخړې ورسېد، ځينو وويل: راوړئ، چې جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله يو څه درته وليکي، چې وروسته ترې بيخي بې لارې نشئ.

ځينو د حضرت عمر خبرې تاييد کړې؛ نو چې د جناب نبي مکرم پر وړاندې شورځوږ زيات او اختلاف ډېر شو، و يې ويل: له ما ځنې پاڅئ او ولاړ شئ[3].

په يوه روايت کې راغلي، چې حضرت عمر بن خطاب وويل: پيغمبر پرتې وايي[4].

حضرت عمر پخپله اعتراف کړی، چې ما پخپله پرېښنبود، ، چې جناب نبي مکرم يو څه وليکي، هسې نه خلافت علي ته ورکړي[5].

لومړی اړخ: د خدای رسول صلی الله عليه و آله او وروستی پيغمبر صلی الله عليه و آله چې د اسلامي دولت مشر او رئيس دی.

دويم اړخ: حضرت عمر بن خطاب دی، چې له سترو اصحابو د پيغمبر يو څرګند وزير او دويم خليفه دی.

د مقابلې ځای: د پيغمبر کور.

---

[1] صحيح بخاری ٥: ١٣٧ مخ . طبري تاريخ ٣: ١٩٢ مخ .

[2] صحيح بخاری ٢: ١٣٢ مخ . او ٤: ٦٥ مخ.

[3] صحيح بخاری ٨: ١٦١ مخ.

[4] ابن جوزي تذکرة الخواص ٦٢ مخ . ابی حامد غزالي، سرالعالمين و کشف ماضی الدارين، ٢١ مخ .

[5] ابن ابی حديد د نهج البلاغې شرح ٣: ١١٤ مخ د مصر لومړی چاپ او د بيروت چاپ يې ١٢: ٧٩ مخ او د محمد ابوالفضل له څېړنی سره د دارالفکر چاپ ٣: ١٦٧ مخ.

د مقابلې شاهدان: ستر اصحاب رضی الله عنهم.

**د مقابلې لومړنی پایلې:**

**۱ - ویشنه او ډلبندي:**

د پېغمبر په کور کې حاضرین په دوو ډلو وویشل شول:

لومړی ډله: د فاروق ملاتړ یې وکړ، چې جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله یې مطلب لیکلو ته پرېنښود.

ددې ډلې دلیل دادی، چې فاروق د پېغمبر یو لوی صحابي او یو وزیر دی او د اسلام او ناروغ پېغمبر زړه سواند و او څه اړتیا نه وه، چې په دې لیکنه به تکلیف شي او بیا نو قرآن په یوازې بسیا کوي او له بې لاری مو بچوي او د رسول الله صلی الله علیه و آله بلې لیکنې ته څه اړتیا نه وه.

دویمه ډله: هغه کسان وو، چې د تابع او متبوع، د پېغمبر او لاروي ترمنځ مقابله ردوي او نه ښایي د پېغمبر (چې خپلې ښوونې له خدایه اخلي) او لاروي (چې هڅه کوي، د پېغمبر پر لارښوونو عمل وکړي) ترمنځ مقابله رامنځ ته شي.

دا ډله په دې گروهه دي، چې نه باید د یو رئیس دولت، چې پېغمبر هم دی او د یو وزیر ترمنځ یې مقابله رامنځ ته شي.

دا ډله گروهنه ده، چې باید پېغمبر صلی الله علیه و آله ته فرصت ورکړی شوی وای، چې خپلې خبرې وکړي او ولیکي؛ ځکه هغه د وفات تر وخته او تر هغې د دولت رئیس دی، چې څوک یې پر ځای ناست نه وي. هغه لر تر لره یو مسلمان دی، چې د نورو په څېر له ازادی برخمن دی او حق یې دی، چې څه وایي یا لیکي او خورا مهمه خو دا چې دا مقابله خو د هغه په کور کې وه او د کور خاوند و او د هر انسان حق دی، چې په خپل کور کې هر څه ووایي.

**۲ - د ستر او نوي ځواک را پنځېدنه:**

فاروق د یو پیاوړي او نوي ځواک په توگه راښکاره شو، چې د پېغمبر د لیکلو مانع حق و او یوه ډله یې د ځان ملگرې کړه، چې مخامخ یې د پېغمبر مقابلې ته راوهڅوله[1].

حضرت عمر بن خطاب پېښې پخپله رادبره او پخپل کفایت او کار پوهی یې رهبري کړې.

---

[1] د (یوم الرزیه) سرچینو ته مراجعه وکړئ، چې څرگنده شي. چې عمر (رض) څنگه وویل: (حسبنا کتاب الله؛ د خدای کتاب راته بس دی).

لا تر اوسه څوک په يقيني توگه پوه شوي نه دي، چې چا انصار راهڅولي ول، چې په سقيفه کې راټول شي او نه پوهېږي، چې څنگه يې د هغوی غونډه تنظيم کړه او غونډې ته يې خلک راوبلل.
څوک نه پوهېږي، چې څنگه له مهاجرينو يوازې عمر (رض) له دې غونډې خبر شو، په ډاگه ده، چې له مهاجرينو يوازې درې تنه وو: ابوبکر صديق، عمر او ابوعبيده او هم ثابته ده، چې ابوبکر (رض) له نبوي کورنۍ سره پر تکفين لگيا و او هم جوته ده، چې عمر (رض) ابوبکر (رض) د سقيفې له غونډې خبر کړ او دا هم ثابته ده، چې ابوبکر او عمر (رض) ناڅاپه په لار کې له ابوعبيد (رض) سره مخ شول.
فاروق د پېښو په متن کې و او شېبه په شېبه يې چارې څارلې، په سقيفه کې هم آريز چورليز و او که غوښتل يې؛ نو خليفه کېده. د سقيفې تر وتو او له ابوبکر (رض) سره د ډېرى حاضرينو تر بيعت روسته، دا عمر و، چې د بيعت د تمامولو مشري يې وکړه. هغه چې پر مهاجرينو غږ وکړ، چې له ابوبکر (رض) سره بيعت وکړ او و يې ويل: انصارو بيعت وکړ او مهاجرينو هم بيعت وکړ.
عثمان او اموي ملگرى يې له ځايه پاڅېدل او بيعت يې وکړ، هغه او ډېرى امويان ړومبي کسان وو، چې له صديق سره يې بيعت و کړ.
عمر بن خطاب هغه و، چې په سقيفه کې يې بيعت کوونکي تنظيم او چمتو يې کړل، چې علي او پلويان يې د فاطمې (رض) له کوره راوباسي او له صديق سره بيعت وکړي[1].
علي ته يې وويل: که بيعت و نه کړې؛ نو وژل کېږې[2].
عمر (رض) و، چې ابوبکر (رض) ته يې سپارښتنه وکړه: کوم صدقات او مالونه چې ابوسفيان راټول کړي، ور و يې باښه، چې ملگرتوب او دوستي يې تضمين شي[3].
او ابوبکر (رض) ته يې سپارښتنه وکړه، چې د ابوسفيان زوى يزيد د شام لښکر مشر کړي، عمر (رض) ستر ځواک و، چې د ابوبکر (رض) واکمنۍ ته يې اوضاع ارامه کړه؛ خو د ابوبکر (رض) واکمني ډېره اوږده نه شوه او له نړۍ ولاړ او عمر (رض) يو امن او ټينگ حکومت ترې په ميراث يووړ او واکمني په اسانۍ او بې مخالفته ور ورسېده.

---

[1] ابن قتيبه الامامة والسياسة ٥ مخ.
[2] ابن قتيبه الامامة والسياسة ١٣ مخ.
[3] ابن ابى الحديد د نهج البلاغې شرح ١: ٣٠٦ مخ د حسن تميمي له څېړنې سره، دالحياة خپروندويه ټولنه .

دا لېږد په طبيعي توګه او ګام پر ګام و او څېړونکي ته به ژر يا وروسته په ډاګه کړي، چې فاروق په برنامه جوړونې او بېلګې ښوونې کې يو ستر ځواک و، چې په خپل کتار کې يې څوک سيال نه و.

فاروق د پيغمبر له زمانې وروسته پېر لپاره د يو بنسټګر ونډه درلوده، د اسلامي حکومت د راتلونکې لپاره يې هرڅه چمتو کړل، چې بني هاشم بيخي ونه کړای شي، پر نبوت سربېره، خلافت هم ورسره او خلافت وې، پاتې په پاتې له نورو خپلونو سره وي داسې، چې څوک پر اوضاع برلاس او مسلط شو، هماغه واکمن دی، که په شرعي يا غير شرعي لارو وي.

۳ – له پيغمبر صلی الله عليه و آله سره يې مقابلې پر امام او متبوع د تابع د ترجيح او يا د لارښود او لاروي د تساوي مفکوره رامنځ ته کړه او هم دا شک او سرګرداني يې رامنځ ته کړه، چې تابع پرحق دی که متبوع؟ لاروی پر سمه دی که لارښود؟

د فاروق دليل دا و، چې د پيغمبر ناروغي سخته شوې او په ناروغۍ کې د يو څه ليکل خطرناک دي، په دې خبره کې يو شمېر اصحاب له فاروق سره همغږي شول او د هغه خبره يې تاييد کړه، دا يو شک ) دی.

د بل خوا دليل دادی، چې: محمد تر اوسه پيغمبر دی او چې له نړۍ نه وي تللی؛ نو نبي دی او د ځاني غوښتنو او هوا او هوس له مخې خبرې نه کوي او دا د (يقين) حالت دی او پايله داچې د (يقين) پرېښوول او په (شک) پسې تلل يو نامعقول چار دی او ناروغي هم د ويلو خنډ نه ده.

**دوه ورته پېښې:**

لومړۍ پېښه: صديق ناروغ شو او ناروغي يې سخته شوه، چې پردې ټول مسلمانان يوه خوله دي، چې د ابوبکر (رض) سلامشورې پای ته ورسېدې؛ نو يوازې عثمان (رض) يې راوغوښت او ورته يې وويل: وليکه: اما بعد. . . . . بيا نو له سخت درده بې حاله شو، عثمان (رض) پخپله وليکل: عمر بن خطاب مې خپل خليفه کړ، او دا کار مو په خير دی.

چې ابوبکر (رض) په هوښ راغی، عثمان (رض) ته يې وويل: ( ليکلي دې) ولوله، عثمان (رض) ورته ولوستل. ابوبکر (رض) وويل: لکه چې وډار شوې که زه په دې بېهوشۍ کې ومرم، خلک به بې اتفاقه شي؟ عثمان (رض) وويل: بلې. ابوبکر (رض) وويل: خدای دې د اسلام او مسلمانانو له لوري خير درکړي او د هغه ليکنه يې تاييد کړه[1].

---

[1] طبري تاريخ ۳: ٤۲۹ مخ . ابن جوزي د عمر سيرت، ۳۷ مخ . ابن خلدون تاريخ ۲: ۸۵ مخ . قاسمي، نظام الحکم ۱۷٦ مخ.

دا یو حقیقت دی، چې ټول مسلمانان پرې یوه خوله دي.
دویمه پېښه: عمر (رض) ته په مرګوني حال کې طبیب وویل: ګومان نه کوم تر شپې ژوندی پاتې شې، که کوم کار لرې؛ نو و یې کړه. (عمر (رض) خپل زوی عبدالله ته وویل: یو کاغذ راوړه او له سخت درده یې وویل: پر خدای قسم پر څه چې لمر لړیږي او زما وای؛ نو د قیامت د ورځې له ډاره د ژغورنې لپاره مې ورکول[1].
سر یې د خپل زوی (عبدالله) په لمن کې و، و یې ویل: مخ مې پر ځمکه کېدئ؛ خو عبدالله یې د وضع په پامنیوي، له دې کاره ډډه وکړه.
عمر (رض) وروکتل او بیا یې ورته وویل: بې موره! مخ مې پر ځمکه کېده، که خدای عمر و نه بښي؛ نو پر عمر او مور یې افسوس[2].
ابوبکر (رض) سره له دې چې سخت ناروغ و، وصیت یې وکړ او چې څه یې غوښتل و یې لیکل.
عمر (رض) هم په مرګوني حالت وصیت وکړ او چې څه یې غوښتل و یې لیکل او (شورا) یې جوړه کړه او ډاډمن شو، چې عثمان (رض) به خلیفه شي او ډاډ یې درلود، چې یو بني هاشم به هم واکمنۍ ته ونه رسي، که څه لیاقت یې لري او امین وي.
ددې دواړو وصیت ښه پوره پلی شو او اجازه ورکړای شوه، چې خپلې خبرې او وصیت وکړي، سره له دې چې ناروغان هم وو او هر یو د وصیت لیکلو پر مهال د مسلمانانو خلفا هم وو او تر هغې پورې، چې ګوښه شوي نه وو، حق یې و، چې پر چارو احاطه ولري.
دا یو پرېکنده حقیقت دی، چې ټول پرې یوه خوله دي او څوک پکې څه ویلای نشي.
اوس دا پوښتنه رامنځ ته کېږي، څنګه ابوبکر او عمر (رض) ته (چې تر پېغمبره سخت ناروغان وو) اجازه ورکول کېږي، چې وصیت وکړي او چې څه یې خوښه وي و یې لیکي؛ خو رسول الله صلی الله علیه و آله له دغسې یو حق نه بې برخې کېږي؟
ایا څه چې ابوبکر (رض) او عمر (رض) ته جایز وو، حضرت محمدصلی الله علیه و آله جایز نه وو؟

[1] در عد سورت د ۱۸ آیت اقتباس دی .
[2] ابن قتیبه الامامة والسیاسه ۲۱ – ۳۱ مخونه . ابن سعد طبقات ۱۲۰ او ۱۲۱ مخونه . احمد حسین یعقوب النظام السیاسی فی الاسلام .

دا په داسې حالت کې دي، چې فرض شي (نعوذبالله) محمد د ابوبکر په کتار کې دی، چې دا یو مردود فرض دی؛ ځکه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خدای استازی او د خلکو مشر دی او ابوبکر او عمر (رض) یې له لارویانو څنې وو او محمد صلی الله علیه و آله ته وحې کېده او پخپله یې څو حل ویلي دي: (ډېری وخت پرې د ناروغۍ پرحال وحې راتله[1])

خدای تعالی وایي:

((مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاء مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ[2]؛ څه چې خدای ددغو کلیو له اوسېدونکیو خپل استازي ته راتاو کړي؛ نو هغه یوازې د خدای، استازي، (د رسول الله) خپلوانو، پلارمړیو، مسکینانو او پردېسانو لپاره دي، چې (دا ډېره شتمني) ستاسې د بډایانو ترمنځ لاس په لاس نشي او څه چې د (خدای) استازي درکړي، وا یې خلئ (او عمل پرې وکړئ) او چې له څه مو منع کوي؛ نو ډډه ترې وکړئ او د خدای له (مخالفته) ځان وساتئ، چې خدای سخت عذابی دی.))

((وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ[3]؛ او ستاسې ملګری [؛ پېغمبر] لېونی نه دی.))

څنګه شونې ده، چې د دغسې ځانګړنو او امتیازاتو یو شخصیت، د سترګو په رپ کې په داسې یو وګړي بدل شي، چې العیاذ بالله پرتې وایي او پر وصیت لیکلو یې اعتبار نه کېږي؟!

دې پېښې د اسلام راتلونکې بیخي ونړوله او یو تخم و، چې د مسلمانانو ټولې ستونزې او کړاوونه ترې راوټوکېدل؛ خو اهل سنت ددې پېښې پر وړاندې ځان پر ناپوهۍ وهي او انګېري، چې دا یوه کیسه ده (او حقیقت نه لري) او داسې شوه، چې په عمل کې د تابع (لاروي) وینا ته د متبوع (مشر او لارښود) پر وینا ترجیح او غوراوی ورکړای شو او تابع (لاروی) مرجع شوه او ټولو ورته رجوع کوله او متبوع ورته کتل.

څه چې تابع غوښتل هماغه وشول، غوښتنې یې پوره شوې او خلک پرې راټول شول او د لوړتیا غوښتنې مفکوره راوپنځېده او وده یې وکړه.

[1] ابن سعد، طبقات ۲: ۱۹۳ مخ .

[2] حشر ۷ آیت

[3] تکویر ۲۲ آیت

دا مساله راتلونکې ته پوه شرعي آر وشمېرل شوه او امت د ځواکونو په خپلمنځي شخړو کې یوازې یو کتونکی او څارن و او دې ته سترګې پر لار وي، چې له غالب او برلاس سره یو ځای شي، که غالب د هرې ځانګړنې او دین خاوند وي[1].

په پایله کې تابع (لاروي) د متبوع (لارښود) مقام ته سترګې ونیوې او تمه یې وکړه او مفضول پر افضل ورمخکې شو.

نو ځکه نه ښایي تعجب وکړو، چې ووینو معاویه چارواکی شوی، هغه معاویه، چې آزاد کړای شوی او د آزاد کړای شوي زوی دی او له هغوی دی، چې زکات ورکول کېده، چې مسلمانان شي (مولفة قلوبهم).

نه ښایي تعجب وکړو، چې معاویه له لومړني مسلمان او د خدای له ولي، چې د نص له مخې علي، د هر مؤمن او مؤمنې ولي دی) سره پر خلافت شخړه کوي او هڅه کوي مسلمانان قانع کړي، چې تر علي غوره او د امت مشرۍ ته وړ دی.

او نه ښایي تعجب وکړو، که ووینو چې (مروان بن حکم) خلافت غواړي، حال داچې د (حکم بن عاص) زوی دی، چې د پېغمبر او شیخینو په زمانو کې مدینې ته ممنوع الورود و؛ خو عثمان (رض) په خپل خلافت کې په درناوي مدینې ته راوست او زوی یې مروان خپل لومړی وزیر، مشاور او لومړی مرستیال کړ او خپله لور یې هم ورکړه.

کوم توپیرونه، چې د تابع او متبوع، ړومبي مسلمان او وروستي مسلمان ترمنځ وو، له منځه ولاړل؛ په دغسې یو حالت کې ولید بن عقبه پر حسین بن علي حکومت کوي، ولید وعظ کوي او حسین یې باید وعظ ته غوږ کېدي. ولید د جماعت امام و، یوه ورځ یې په نشه کې د ګهیځ لمونځ څلور رکعته وکړل او خپلو مامورنیو ته یې وویل، که خوښه مو وي، چې څو رکعته نور هم درکړم، دغسې یو تن د حسین (بن علي بن ابطالب) امیر شوی او یو مرجع شوه، چې حسین هر وخت دیني او دنیوي پوښتنې ترې کړای شي.

**٤ - غالب او برلاس بریالی دی:**

څوک چې پر نورو او اوضاع مسلط شو؛ نو بریالی دی، هغه د مسلمانانو مشر، د دولت رئیس، د خلکو د دیني او دنیوي چارو مرجع ده، چې د قدرت او واکمنۍ ټولې وزلې یې په لاس کې دي، پر ټولو دولتي چارو پوره لاسرسی لري، بیت المال هر چا ته ورکولای شي او که وغواړي بې برخې کوي یې.

---

[1] قاسمي، نظام الحکم، ۲٤٤ مخ. النظام السیاسي... ۱۵۳ مخ.

پر چارو يې هېڅ څارن نشته، هغه دی او خپل خدای او دین يې.
د اردو اعلی سر قومندان دی، چې اردو داخلي او خارجي امنیت او په خوښه یا ډار د ولس غاړې ایښوونې ته کار وي. په ډله ییزو رسنیو پوره برلاسي لري، تور سپینوي او سپین توروي، کوچني غټوي او غټ کوچني کوي، نره ګډولوي او ګډوله نروي.
پلویان يې چې پر (اهل حل و عقد) مشهور دي، د عقایدو او افکارو يې څرګندوونکي دي او بیا د زمانې په تېرېدو د مرجع په بڼه کېږي. دوی د غالب نظریات کاروي او مرجعیت ته يې وزلې چمتو کوي، دوی د ټولنې مشران او ستوري دي او چې څوک ورسره ملګری شي، هماغه چورلیز او ټکي ته يې ورسیخوي، چې د غالب واکمن په خوښه وي. دوی ولسي پرګنې د خپل مسلک پر خوا بوتلې او په دې توګه يې امت متحد کړ او کال تر کاله به دا سنت او دود لا ټینګېده او په پای کې د یو عمومي نظر، دود او عقیدې په توګه رادبره شو.

## د اهل بیتو څنډې ته کول:

په دې شرایطو کې سپېڅلي عترت (ځوځات) د شرعیت غږ پورته کړ او و يې ویل: په خپل شرعي حق پسې دي؛ خو خلکو پرېښوول، چې خپل شرعي حق ته ورسي. له ابوبکر (رض) سره د علي کرم الله وجهه اختلاف یو حضوري، شرعي او منطقي اړپېچ و؛ لکه چې له (ابوبکر (رض) سره لومړني بیعت کوونکي (بشیر بن سعد) علي کرم الله وجهه د خبرو تر اورېدو وروسته وویل: (که انصارو له ابوبکر (رض) سره تر بیعت د خپل حقانیت په اړه د وړاندې ستاسې خبرې اورېدلې وای؛ نو ان دوو تنو هم ستا د خلافت په اړه اختلاف نه کاوه[1].
په هر حال رژیم، رژیم دی او مخالفین، مخالف دي. په طبیعي توګه هر حکومت پر خپلو مخالفینو سیاسي اعتماد نه کوي او چمتو نه دي، چې خپلې اقتصادي لاس ته راوړنې ورپرېږدي؛ خو داچې فاطمه (رض) د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله لور، د علي پلوی وه، د علي وژنه په پام کې نه وه، سره له دې چې که بیعت و نه کړي، په وژنه وګواښل شو او د فاطمې د احترام لپاره تصمیم ونیول شو، چې: بیعت ته هم اړ نه کړای شي او د امام او مېرمن پر وړاندې يې سخت غبرګون ونه ښوول شو، سره له دې چې دوی د شپې شپې د انصارو کورونو ته تلل راتلل او مرسته يې ترې غوښته.

---

[1] الامامه والسیاسة، ۱۲ مخ.

انصارو ورته وویل: د رسول الله صلی الله علیه و آله لورې! موږ له دې سړي (ابوبکر) سره بیعت کړی او کار پای ته رسېدلی او که د تره زوی او مېړه دې ترې مخکې له موږه بیعت غوښتی وای، هرومرو مو بیعت ورسره کاوه.
علي ورته ویل: ایا ښه وه، چې د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله جنازه مې د هغه په کور کې پرېښې وای او د خلافت پر سره مې شخړه کوله؟
فاطمې (رض) هم ویل: له علي سره، چې څه وړ وو، و یې کړل، هغوی داسې چارې وکړې، چې خدای به حساب ورسره وکړي[1].
خوله دې ټولو سره سره، پایله داوه، چې د فاطمې تر وفات وروسته باید امام او ملگری یې گوښه کړای شي او ان غوښتل یې چې امام له بني هاشمو هم جلا کړي؛ نو ځکه رژیم عباس او اولادې ته یې په واکمنۍ کې د برخوالېدو وعده ورکړه، چې ځان ته یې راجذب کړي؛ خو عباس بیخي رد کړه.[2]
طبیعي ده که یو عادي وگړي ته وویل شي، چې د واکمن رژیم او دښمنانو یې، یو غوره کړي؛ نو هغه به د رژیم خوا ونیسي؛ ځکه چې ځواک دی، په تېره داچې د وخت له حکومت سره د اهلبیتو اختلاف همداسې دوام درلود او نژدې وه، چې د اهل بیتو او واکمن رژیم دوستي پرې شي.
رژیم پر ځان ډاډمن شو او دې پایلې ته ورسېد، چې نه باید له بني هاشمو سره نبوت او خلافت دواړه وي او دا یې د بني هاشمو د ویاړنې د مخنیوي لامل باله او پردې باور وو، چې قریش په دې حرکت کې بریالي او ښه کار یې کړی دی[3].
او مهمه خو داچې یو هاشمي حق نه لري، چې پرخلکو حکومت وکړي، که څه هم وړتیا او وس یې ولري. دا شرط د ابوبکر او عمر (رض) په وختو کې په ځیر پلی شو او عمر (رض) ډېر ټینگار درلود، چې تیار شی، د بني هاشمو پلویانو ته ونه سپارل شي؛ نو ځکه علي او لارویان یې څنډې ته کړل.

---

[1] الامامة والسیاسة ۱۲ او ۱۵ مخونه.

[2]. پورته سرچینه.

[3] ابن اثیر، الکامل ۳: ۲٤ مخ، د ۲۳ کال پېښې د عمر (رض) د سیرت وروستی برخه. ابن ابی الحدید، د نهج البلاغې شرح ۳: ۹۷، ۱۰۷ مخونه. امام احمد بن ظاهر، بغداد تاریخ. مسعودي، مروج الذهب ۲: ۳۵۳ مخ. النظام السیاسي فی الاسلام ۱٤۹ مخ.

امام او لارويانو يې له شيخينو (ابوبكر او عمر رضی الله عنهما) سره ښه راشه ورشه درلوده او د دوی په زمانه کې د ډاليو په ورکړه کې اهل بيت پر نورو ړومبي وو او د بيت المال ويش له اهل بيتو پيلېده او بيا پر نورو ويشل کېده، د اهل بيتو او لارويانو حال او ځان خوندي و او ان دواړو له امام سره مشوره کوله او ډېرې چارې يې ور ارجاع کولې.

اوضاع ښه مخې ته روانه وه، د بېلابېلو ښارونو سوبو او شهواتو ته د شيخينو مخه نه ورگرځول د اوضاع له ټينگښت سره مرسته وکړه؛ خو چې عثمان (رض) خليفه شو، اصحاب ترې خپاره واره شول او امويانو دربار ته لار و مونده او درباريان يې ټول امويان وو.

امويانو کوم نوی ځيز رانوړ، اهل بيت لکه څنگه چې د شيخينو په زمانه کې په چارو کې له برخمنتوب برخې وو او کوم کار نه ورکول کېده، د عثمان (رض) په زمانه کې هم همداسې وو.

امام او پلويانو ته يې دا يو ناشونی کار و، چې د عثمان (رض) د اموي مامورينو د ناکاره چارو پر وړاندې چوپ وي.

اهلبيتو چې پر نېکيو امر او له بديو منع کوله؛ نو دا له امويانو په مخالفت کې گڼل کېده، په دې دليل چې هغوی امويان دي؛ نو ځکه پر علي او لارويانو يې کړی را تنگه کړه.

دا مخالفتونه د بني هاشمو او بني اميه و ترمنځ له پخوانيو تربگنيو او کينو سره يو ځای شول او په پای کې امويانو (د شام د والي) معاويه په مشری د امت له امام علی کرم الله وجهه سره وسلواله نښته پيل کړه او په پايله کې (زور) پر (شرم) برلاس شو او معاويه چارواکی شو او هغه کال يې د يو والي او جماعت پر کال ونوماوه.

تر دې وروسته د نبوي کورنۍ او لارويانو د شړلو لپاره نوی په وينو او غم لړلی پېر پيل شو، ډېر لږ ژوندي پاتې شول او نور ووژل شول او په ښارونو کې کنځل ورپسې پيل شول او امت هم په کنځلو کې د اموي واکمنو خوا ونيوه.

نبوي کورنۍ او لارويان يې داسې وشړل شول، چې گواهي يې نه منل کېده او د بيت المال له دفتره يې نو مونه لرې کړای شول، چې ډالۍ او معاش پرې بند شو[1].

**د قدرت ترلاسه کول:**

**۱ - ياد اوري او د پېښو ارتباط:**

مخکې مو وويل چې جناب نبي مكرم صلی الله عليه و آله خپلو اصحابو ته وويل: راشئ، چې يو مطلب درته وليکم، چې تر ما وروسته بيخي بې لارې نشئ، د پېغمبر صلی الله عليه و آله

[1] ابن عساکر تاريخ ۲: ۲۰۷ مخ. عقاد (المعاوية فی الميزان) ۱٦ مخ. محمود ابوريه، شيخ المغيره، ۱۸۰ مخ.

خبرې چې پای ته ورسېدې، فاروق حاضرینو ته وویل: پېغمبر سخت ناروغ دی او قران درسره دی او د خدای کتاب راته بس دی.
حاضرین سمدستي په دوو برخو وویشل شول:
لومړۍ ډلې ویل: د پېغمبر غوښتنه پوره کړئ، چې یو څه درته ولیکي.
دویمې ډلې د عمر (رض) خبرې تایید کړې؛ نو د پېغمبر په مخ کې یې اختلافات سره وکړ، تردې چې د عمر (رض) پلویانو ځان ته جرائت ورکړ او و یې ویل: د خدای رسول پرتې وایي (رسول الله له دې توره پاک).
جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله چې دا ټول ځیزونه اورېدل او لیدل و یې ویل: پرځېل حال مې پرېږدئ، پر کوم حال چې یم، تر هغه غوره دی، چې تاسې مې پرې یادوئ[1].
(او وایي چې: هغه پرتې وایي).

**۲ - د اکثریت بریا:**

فاروق پر دې بریالی شو، چې د پېغمبر په کور کې حاضرین په دوو برخو وویشي:
۱ - هغې ډلې، چې (عمر) یې تاییداوه او د ولی تابع (لارویان) وو.
۲ - هغې ډلې چې رسول الله صلی الله علیه و آله تاییداوه، چې هغه متبوع (لارښود مشر) و.
فاروق د تابع او متبوع ترمنځ توپیرونه له منځه یووړل، فاروق او پلویان یې بریالي شول، چې د رسول الله صلی الله علیه و آله د لیکنې مخه ونیسي.

**دوه ټاکنې:**

که یو خوا، پېغمبر اکرم د یو لیک پر لیکنې ټینګار درلود، د فاروق پلویانو انګېرله، چې (العیاذبالله) پېغمبر (پرتې) وایي، چې دې مفکورې دین ته ستر خطر متوجه کاوه او له اعتباره یې غورځاوه.

---

[1] موږ اهل سنت صحیح بخاري او صحیح مسلم له اعتیاري کتابونو ګڼو، بخاري دا دردناک حالت په شپږو روایاتو کې روایت کړی، چې د ټولو مضمون یو دی او مسلم هم روایت کړی دی؛ نو وګورئ: صحیح بخاري ۷: ۹ مخ . صحیح مسلم ۵: ۷۵ مخ او ۱۱: ۹۵ مخ د نووي له شرح سره .

بلخوا که جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله له لیکنې لاس پر سر شي؛ نو د فاروق لارویان وايي، اوس د پېغمبر ناروغي سخته شوې او خدای کتاب راته بس دی او په پایله کې د خدای کتاب او چې څه پېغمبر صلی الله علیه و آله مخکې ویلي، پر خپلې سپېڅلتیا پاتېږي.
دې اړخونو ته په پامنیوي، پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله د لیک له لیکلو لاس پر سر شو، چې پخپله دین ته کوم خطر ورمتوجه نشي او داچې پر (پرتو) یې تورن کړ؛ خو خورا خپه شو او و یې ویل: (رانه پاڅئ او ما پرېږدئ...).

**شرعي جامې:**
فاروق په دې حرکت کې د شرعې له ظاهري چوکاټه ونه ووت او باطله خبره یې ونه کړه، حاضرینو ته یې وویل:
قرآن درسره دی او د خدای کتاب راته بسیا دی، چې د ټولو اړتیاوو ځوابوونکی دی او رسول الله هم له سختې ناروغی کړېږي (د لیک لیکل یې تکلیفوي) بلخوا فاورق ټینګار درلود، چې د خدای رسول لیک و نه لیکي او بلخوا یې هڅه کوله، چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله ظاهري درناوی هم وساتي؛ نو له همدې امله یې وویل: د پېغمبر ناروغي سخته شوې او په همدې حال کې یې پر قرآن د منګولو لګولو ټینګار درلود او داچې قرآن په یوازې ځان بس دی او د جناب نبي مکرم لیکنې ته څه اړتیا نشته. دې ټولو ویناوو او کړنو، غولوونکی ظاهر او شرعي جامې اغوستې وې او حق په جانب بڼه یې درلوده او کټ مټ د عمر بن خطاب دپلویانو دریځ و.
**۹ - د فاروق موخې:**
د قریشو خېلونه په بني هاشمو کې د نبوت پر وړاندې ودرېدل او له جلا جلا لارو یې دښمني ورسره وکړه او په وژلو ورسره بوخت شول.
دښمني یې له دې امله نه وه، چې له بوتانو سره مینه لري او یا له اسلامه یې کرکه کېږي (ځکه په اسلام کې داسې څیز نشته، چې فطرت ترې کرکجن وي او بیا یې ترې کرکه وشي)؛ بلکې نه یې غوښتل اوسنی سیاسي جوړښت یې له منځه ولاړ شي او خوښ نه وو، چې بني هاشم دې پر نورو خېلونو امتیاز او سیادت ترلاسه کړي.
قریشو انګېرله، بني هاشم چې پر پېغمبر را ټول شوي او د مرګ تر بریده یې دفاع کوي، مطلب یې د امتیازاتو ترلاسه کول دي؛ نو ځکه ټولو قریشو بني هاشم محاصره کړل او د پېغمبر وژنې ته یې غونډه وکړه او له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره د جګړې لپاره یو لاس شول؛ خو د خدای په فضل محاصره ماته شوه او دسیسه خنثی شوه، قریشو په جګړه کې ماتې وخوړه او

مغلوب شول؛ نو له ناچارۍ یې اسلام راووړ او پوه شول، چې په بني هاشمو کې نبوت یو حقیقت او یو تقدیر دی، چې تېښته ترې نشته او بې له تسلمیدو بله چاره نه لري.
قریشو له ځان سره سوچ وکړ، داچې هاشمي نبوت یو تقدیري چار دی او د مقابلې وس ورسره نه لري؛ نو نبوت یوازې د بني هاشمو دی او څوک دې په نبوت کې ورسره برخوال نه وي؛ خو باید د نورو پر حقوقو د بني هاشمو د پرمختګ مخه ونیسو، چې لاندې یې نه کړي. پېغمبر د وزلو او سریزو په چمتو کولو کې و، چې خلافت علي ته ورسي ( چې له بني هاشمو و) او وروسته یې په ځوځات کې وغځېږي؛ ځکه خدای پوهېده چې هغوی ټول پر اسلام ښه پوه او له احکامو سره یې بلد دي او تر ټولو مسلمانانو غوره دي، د امت مشرۍ ته وړ او ټول خلک په دې چار خوشحاله دي.
**ارماني حل لار:**
د قریشو ټولو خېلونو ایمان راووړ، د اسلام دین د وګړیو وړاندې کړنې نالیدلي ګڼي، مسلمان تر اسلام له مخه کړنو په هکله نه نیول کېږي، د اسلام تر سیورې لاندې د قریشو یووالی، یو شرعي مصلحت او په نورو سیمو کې د اسلام د بریا یو لامل و؛ خو دا څیزونه په لاندې شرایطو پلي کېدل:
۱ – نبوت دې یوازې د بني هاشمو وي او بل څوک دې پکې برخوال نه وي.
۲ – د پېغمبرصلی الله علیه و آله خلافت دې په نوبت د قریشو په خېلونو او ان په انصارو او امویانو کې لاس په لاس شي او بیخي دې بني هاشم پکې نه برخوالېږي؛ ځکه برخوالي به یې د امتیاز لامل شي.
او په پای کې ګروهن شول، چې نه ښایي نبوت او خلافت دې دواړه د بني هاشمو وي او پایله یې دا شوه، چې دې مفکورې د خلکو په اذهانو کې د یوې ویجاړوونکې څپې په توګه ځای ونیو.

**د حل لارې په لټه کې:**
قریشو په یوه خوله پر بني هاشمو کې نبوت ومانه؛ ځکه بله چاره یې نه درلوده؛ خو په زړه کې یې هیله درلوده، چې خوب یې په یوې مناسبې حل لارې تعبیر شي؛ چې بني هاشم و نه کړای شي، نبوت او خلافت یې دواړه وي او لاسونه یې یو مخې له خلافت پرې شي؛ خو دا هیله یې د پېغمبر پر ژوندونې پټه پاتې شوه او د راښکاره کېدو وس یې نه درلود؛ خو د آنحضرت صلی الله علیه و آله تر رحلت وروسته یې پلي کېدل شوني وو.

**فاروق دا نظریه ومنله او بشپړه پریکړه:**

متاسفانه فاروق نه یوازې دا مفکوره او د قریشو خبره (نه ښایي نبوت او خلافت دې دواړه د بني هاشمو وي) باور کړه او ومنله؛ بلکې هغه د قریشو په سینو کې له دې غښتلې څپې سره ملګرى او همغږی شو او شرعي جامې یې ورواغوستې او هغه یې د قریشو یو سم کار او ستره بریا وګڼله. فاروق وویل:

ددې یون موخه داده، چې پر نورو قریشو د بني هاشمو د امتیاز مخه ونیول شي.

په دې توګه حضرت عمر بن خطاب له دې مفکورې ملاتړ وکړ، دود یې کړه او شرعي جامه یې ور واغوسته. خپله لار یې په اسانۍ ووهله او حال داچې خپل جاهلي احساساتو ته یې جاهلي جامې اغوستې وې؛ په کبر چلېده؛ ځکه دا شعار (خلافت او نبوت دې د بني هاشمو نه وي) له هر پلوه یو جاهلي شعار دی، چې ریښې یې له اسلام مخکې پر مکې واکمن نظام کې ځغلېدلې وې. بلخوا پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله چې علي کرم الله وجهه خلافت ته معرفي کړ؛ نو دا چار پر قریشو سخت پرېووت او زړونه یې تېپیان شول؛ ځکه علي ترې په هره کورنۍ کې وژنه کړې وه، علي په بدر کې د اموي مشرانو وژونکی و، علي د حنظلة بن ابی سفیان او عاص بن مغیر ( د عمر بن خطاب ماما) قاتل و[1].

علي هماغه و، چې د خدای د رسول ملاتړ یې وکړ او په خپله توره او نېزه یې د عربي کفارو له شره بچ کړ؛ خو ابوسفیان څنګه د خپل زوی او تره زامنو له قاتله تېر شي؟ څنګه هنده او زوی یې معاویه د خپلوانو د قاتل مشري ومني؟ داچې د فاروق په زړه کې ایمان ننوتی، ښایي د خپل ماما له وژنې تېر شي او ترې راضي شي؛ خو نور یې نه مني.

دې موضوع د حضرت پېغمبر صلی الله علیه و آله په اړه توپیر درلود، حضرت جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله چې تېپسوری نه و؛ ځکه حضرت خو پخپل لاس د هغوی خپلوان نه وو وژلي؛ بلکې قاتل یې حضرت علي و او قریشو له علي کسات اخسته. هغوی سره له دې، چې د خپل اسلامي هویت یې ساته او له نبي کریم سره مینه ښووله؛ خو حضرت علي یې تېپسوری و؛ نو ځکه (فاروق انګېرله چې) که قریش د حضرت علي هغه ځانګړنې ومني، چې پېغمبر صلی الله علیه و آله یې په باب ویلي او خلافت یې ور تسلیم کړی وای؛ نو قریشو د علي د حکومت تر سیورې لاندې نه یو کېدل او خپاره واره کېدل، چې دې اختلاف د اسلام پر راتلونکې او له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره پر مینې اغېز درلود او ګډوډې او فتنه راولاړېده او اسلام او مسلمانانو ته بې ناوړې پایلې درلودې.

---

[1] ابن سعد، طبقات ۲: ۱۷ او ۱۸ مخونه.

ښايي دا د فاروق يوازېنۍ مخونه او تفسير وي، چې ځان يې قريشو ته ورمات کړ، چې د علي کرم الله وجهه د مشرۍ مخه يې ونيوه. د قريشو او حضرت عمر بن خطاب ترمنځ ګډ ټکی په دې شعار کې و چې: نه ښايي نبوت او خلافت دې دواړه د بني هاشمو وي، تردې چې فاروق ددې اندود يوازېنی برنامه ساز، طراح او حقيقي څارونکی راووت.

**د (ولي) پر ضد د قريشو يو والی؛ لکه د (نبي) پر ضد يې يو والی:**

د ټولو قريشو يوه موخه دا وه، چې دا نه ښايي نبوت او خلافت دواړه دې د بني هاشمو وي) بې استثنا [1]د قريشو ټول خېلونه د بني هاشمو د نبوت پر وړاندې ودرېدل او د آنحضرت صلی الله عليه و آله د نبوت د منځه وړو لپاره يې له بني هاشمو سره بېخي اړيکه پرې کړه او درې کاله يې د ابوطالب په دره کې را ايسار کړل، چې محاصره ماته شوه؛ نو قريشو د پېغمبر صلی الله عليه و آله د وژنې برنامه جوړه کړه او په اتفاق يې له هر خېله يو يو تن په وژنې کې د ګډون لپاره ولېږه؛ خو دا دسيسه هم ماته شوه او پېغمبر روغ رمټ ووت. بيا ټولو قريشو له پېغمبر صلی الله عليه و آله سره د مبارزې لپاره لښکر جوړ کړ؛ خو په دې چل کې هم مات شول او په پای کې د اسلام تر محاصرې لاندې راغلل او پوه شول، چې د نبي کريم نبوت له الهي مقدراتو څخه دی، چې هرومرو يې بايد ومنو او جګړه ورسره نشي کېدای؛ نو له ناچارۍ يې اسلام ومانه او د بني هاشمو دا مقام يې ومانه.

قريشو په عين حال کې هوډ وکړ، چې بني هاشم پرېنږدي، چې خلافت او نبوت يې دواړه شي؛ نو په يوه ليکه کې د علي پر وړاندې ودرېدل؛ لکه چې د اسلام د پېغمبر صلی الله عليه و آله پر وړاندې ولاړ وو.

---

[1] ابن قتيبه الامامة السياسة ۷۰ – ۷۲ مخونه.

# د قریشو دسیسه او د بني هاشمو مصیبت

قریش پوهېدل، چې پیغمبر اکرم په دې ناروغۍ کې له نړۍ ځي؛ ځکه پخپله آنحضرتصلی الله علیه و آله خبر کړي وو، چې اجل یې رانژدې دی او پیغمبر صلی الله علیه و آله یې رښتین ګاڼه.

ښه پوهېدل که چارې په طبیعي او عادي ډول پرمخ ولاړې شي، هرمرو د حضرت علي پر خلافت پای مومي او بني هاشم به خلافت او نبوت ځان ته ځانګړی کړي؛ نو ځکه یې په پټو فعالیتونو پیل وکړ، چې ددې پېښې د پېښېدو مخه ونیسي.

بني هاشم او په تېره علي په دې غم کې اخته وو، چې پیغمبر صلی الله علیه و آله به له همدې ناروغۍ له نړۍ ولاړ شي؛ نو د پیغمبرصلی الله علیه و آله درد و رنځ یې خپل درد و رنځ و؛ ځکه هغه یې پیغمبر او مشر و او دوی یې نږه لارویان وو. د پیغمبر او علي په څېر خپلوي او دوستي د هېچا نه وه او نه یې څوک ځای نیوای شي؛ ځکه یو هم هاغسې ځانګړنې نه لري؛ نو ځکه د بني هاشمو ټول پام پیغمبر اکرم ته و او ګومان یې کاوه، چې د نورو هم ټول پام حضرت رسول الله ته دی.

**ځیرکه دسیسه:**

اوس دا پوښتنه رامنځ ته کېږي، چې حضرت عمر بن خطاب (رض) له کومه ځایه او څرنګه خبر شو، چې پیغمبر صلی الله علیه و آله به پر هغې ټاکلې ورځې وصیت وکړي او یو لیک به ولیکي؛ نو ځان یې د پیغمبر کور ته حاضر کړ؟ چا خبر کړ؟ او څنګه هلته د فاروق پلوې ډله راټوله شوه او چمتو وه، په مازې چې پیغمبر اکرم وویل: (راشئ یو لیک درته ولیکم، چې وروسته ترې بې لارې نشئ) فاروق بې درنګه او سمدستي د پیغمبر صلی الله علیه و آله خبری ردوي او حاضرینو ته وایي:

د پیغمبر صلی الله علیه و آله ناروغي سخته شوې او د خدای کتاب راته بس دی او سمدستي یې پلوي ډله خبره تکراروي؛ بلکې اضافه یې کړل او و یې ویل: د خدای رسول الله صلی الله علیه و آله پرتې ) وایي!!

لرې برېښي، چې د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله خبره به دغسې سمدستي غبرګون راوپنځوي، چې د فاروق درد لامل وګرځي او یو ډله هم سمدستي د فاروق په وینا قانع شي او خبره یې تکرار کړي، چې د پیغمبر په مخ کې د اصحابو په شخړه پای ته ورسي.

څه چې ذهن ته راځي او له عقل او منطق سره اړخ لګوي، دا دي، چې دوی لا وړاندې د جناب نبي مکرم د لیک له موخې خبر شوي وو او یو لاس شول، چې پیغمبر د لیک لیکلو ته

پرېښودي، که څه پخپله له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره د مقابلې او هم ددې لامل شي، چې ووايي: د خدای رسول الله صلی الله علیه و آله پرتې وايي.
او بیا هم لرې نه ده، چې د هغې ډلې ترمنځ یو تړون و، چې د هغوی د یوالي ضامن و، تر دې چې ان له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره مخامخ شخړه وکړي؛ خو ایا دا تړون او ژمنه یو تصادفي چار و یا د مخکېنۍ دقیقي، سنجول شوې نقشې له مخې وه؟ یوازې خدای پوهېږي؛ خو په واقع کې دې شخړې د (شرعیت) ملا ماته کړه.

**د دسیسې لومړۍ پایله:**

دې ډلې وکړای شول چې پېغمبر اکرم د لیک له لیکلو منع کړي او حضرت عمر بن خطاب (رض) په دې ډله کې د یوې غښتلې څېرې په توګه وځلېد او حاضرینو ته یې وویل: د پېغمبر ناروغي سخته شوې او درد پرې غلبه کړې.
(حسبنا کتاب الله) د خدای کتاب راته بس دی او د پېغمبرصلی الله علیه و آله لیک ته څه اړتیا نه لرو او چې څه ته اړتیا ډېره وي، چتې دي او اړتیا ورته نشته.
د فاروق دې خبرو خپلو ملګرو ته جرات ورکړ، چې ووايي: (نعوذبالله) جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله پرتې وايي.
لنډه داچې ددې برنامې لومړۍ پایله دا وه، چې پېغمبر صلی الله علیه و آله یې پرېښنبود، چې لیک ولیکي. اوس فرضوو، چې نبي کریم صلی الله علیه و آله پر خپل نظر ټینګار کاوه او په لنډو یې ویل: هېر مو نشي، چې علي تر ما وروسته خلیفه دی)؛ نو بیا خو دې خبرې اهل سنتو ته یو مهمه ستونزه را پنځوله او اړ کول یې، چې وروسته یې د پرتو ویل اثبات کړي. چې دې چار دین ته خورا ستر او سپېره خط رامنځ ته کاوه او که تر دې وروسته یې د (پرتو) شعار جیګ کړی وای، پخپله دین په خطر کې و او د پېغمبر ددې حال د ویلو او نورو خبرو ترمنځ توپیر نه کېده؛ نو ځکه پېغمبر صلی الله علیه و آله دا غوره وګڼله، چې د لیک له لیکلو لاس پر سر شي، چې د مهم پر ځای (د علي خلافت) خورا مهم (اسلام) خوندي او بچ پاتې شي او د شخړې د پای ته رسېدو لپاره یې هغې ډلې ته وویل: پاڅئ او له ماځنې لرې شئ، کومه روحیه چې لرم، تر هغې غوره ده، چې تاسې مې پرې تورنوئ. دا ډله بهر ووته او ګومان یې وکړ، چې بریالۍ شوه او د خپلې برنامې خوږه مېوه یې وواښله او موخې ته د رسېدو لپاره یې ستر خنډ له منځه یووړ.

# د بني هاشمو د ماتې لپاره دسیسه

د قریشو او بني هاشمو ترمنځ په برابره، عادلانه او شرافتمنه جګړه او مبارزه کې حقیقي سوبمن بني هاشم وو، چې دا حقیقت تاریخي پېښو جوت کړی دی. د قریشو ټولو خېلونو بني هاشم درې کاله محاصره کړي وو، چې وروسته محاصره ماتې شوه او بني هاشم غالب شول.
د قریشو ټول خېلونه د پېغمبر صلی الله علیه و آله وژنې ته یو لاس شول او یو یو تن یې په وژنه کې د ګډون لپاره ولېږه، چې وروسته یې بني هاشم کسات وانخستای شي، چې دا دسیسه هم ناکامه شوه، پېغمبر اکرم روغ رمټ ووت او بني هاشم بریالي شول، بیا یې پر وسلوالې مبارزې لاس پورې کړ؛ خو بیا هم محمد صلی الله علیه و آله بریمن شو او د حضرت په بریا بني هاشم بریالي شول، قریش وتنبتېدل او په پایله کې مغلوب شول، بیا یې نو اسلام راووړ او د آنحضرت صلی الله علیه و آله رسالت یې ومانه او پوه شول، چې د آنحضرتصلی الله علیه و آله نبوت، الهي او تقدیري دی، چې څه چاره ترې نه لرو (او باید و یې منو).
قریشو له ناچارۍ له بني هاشمو سره د جوړجاړي لار ونیوه او اعتراف یې وکړ، چې نبوت په بني هاشمو پورې ځانګړی دی او په بدل کې باید قریش خلافت ځانته ځانګړی کړي او په نوبت یې لاس په لاس کړي. قریش چمتو وو، چې د لنډ مهال لپاره دې یې مشري نه وي؛ خو په دې شرط، چې په راتلونکې کې مشري بني هاشمو ته په لاس ورنشي؛ ځکه ګروهمن وو، که خلافت بني هاشمو ته ورسي؛ نو بیا یې دوی لاس په لاس وي او دباندې به ترې ونه ووځي؛ خو تاریخي پېښو جوته کړه، چې بني هاشم په هره مقابله او مخامخېدنه کې بریالي وو.

**د موخو د بریا لاملونه:**

قریش پوه شوي وو، چې پر دوی د بني هاشمو د بریا راز دادی، چې د خدای مرسته ورسره ده او خدای ورته د بریا لارې چارې برابروي.
له بني هاشمو سره د قریشو د اړیکو یو ښکاره تېری و، چې ټولنه یې بې انډوله کړه او خدای بني هاشم د زغم په توښې ماړه کړل او مرسته یې ورسره وکړه. خدای تعالی په قریشي محاصره کوونکیو کې ځینې اړ کړل، چې د محاصرې لغوه وغواړي، چې دا د محاصرې د ماتې یو مهم لامل و.
د پېغمبر صلی الله علیه و آله د وژنې دسیسه یوازې د فساد د راولاړېدو لامل و؛ ځکه بې موجبه وژنه پر ځمکه فساد دی؛ د پېغمبرصلی الله علیه و آله پر ځای د علي بن ابطالب ویده کېدل، هجرت او په مدینه کې یې هستوګن کېدل، هغه لاملونه وو، چې د پېغمبر د وژنې دسیسه یې ناکامه کړه.

له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله سره د قریشو وسلوالې جګړې يو ډول باطل پالي او پرې ټينګار و، داچې انصار پر نبي کريم راټول شول، د آنحضرتصلی الله علیه و آله ساتنه او ملاتړ يې وکړ، بني هاشم د پېغمبر په ملاتړ د قریشو او مشرکانو سره وجنګېدل؛ د مشرکانو مشرانو ماتې وخوړه، وځپل شول او د اسلام او بني هاشمو پر وړاندې يې غاړه کېښووله.

**مناسب فرصت:**

که د بني هاشمو او قریشو د اندنو ارزونې ته يو مناسب فرصت رامنځ ته شي؛ نو جوته او څرګنده به شي؛ چې د بني هاشمو اند، سم، ګټور او وړ دی.

که مناسب شرایط برابر شي، چې هر لوری خپل دلیل ووايي؛ نو تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته (ولي) په څرګندو دلایلو مقابل لوری مات کړي؛ ځکه له (ولي) سره قرآن دی او قرآن له ولي سره دی، ولي او د پېغمبر خلیفه له حق سره دی او حق له ده سره دی؛ لکه چې مخکې مو دا نصوص وويل.

نو ځکه که د ولي او مخالفینو ترمنځ شرافتمنه مبارزه وشي؛ نو هرومرو ولي بریالی کېږي؛ ځکه د خدای له لوري يې ملاتړ کېږي؛ البته ولي د خپلو مخالفینو په ځېر دسیسه نه کوي او د بې ګناه وګړيو وژنې ته نقشه نه کاږي او د خدای سرغړاندي نه کوي.

**د ماتې غوره وزله:**

قریشو د خدای د ولي او خپل سیال د ماتې وزله وپېژانده او پوه شول، که انصار د ځان ملګري کړي؛ نو غوڅه بریا يې په برخه شوې او خپلې موخې (؛ یعنې نبوت او خلافت دې د بني هاشمو نه وي) ته به رسېدلي وي. که نه، که علي خلیفه شي؛ نو تر ځان وروسته امام حسن خلیفه کوي او هغه هم يو امام دی، چې د خدای او پېغمبرصلی الله علیه و آله له لوري نو مول شوی دی او بل څوک نشته، چې د جناب نبي مکرم د لور د زوی په څېر ټولنیز مقام ولري، چې تر نوماندۍ وروسته ورسره مخالفت وکړي؛ نو ځکه په پای کې تر خپل پلار وروسته خلیفه کېږي او چې حسن خیلفه شو، بیا نو خپل ورور امام حسین امامت ته ټاکي او څوک هم نیوکه پرې نشي کړای؛ نو ځکه خلافت د بني هاشمو په لاسونو کې لوېږي، نبوت او خلافت دواړه به يې شي او پر قریشو او نورو ټبرونو به يې پوره بریا ترلاسه کړې وي.

نو ځکه ددې چارو د مخنیوي لپاره په بیړه له فرصتونو کار اخستل، زغم او خواله ساتل دي؛ نو د قریشو د بریا لاملونه دادي:

١ د انصارو ملاتړ هغه ستره ډډه وه، چې اوضاع يې د قریشو پر ګټه څرخوله.

که انصار له علي سره وای؛ نو هرومرو قریشو ماتې خوړه او (نبوت او خلافت دواړه د بني هاشمو کېدل او که انصار د قریشو ملګري شي؛ نو بني هاشم هرومرو (قریشو په کچو) ماتې

خوري؛ نو ځکه که قريشو کړای شول، چې انصار له علي جلا کړي؛ نو پخپله يو ډول بريا ده او شونې وه، چې قريش خپلو موخو ته رسېدلي وای.
۲ – د يو رنگ او مساوي فرصتونو له منځه وړل: که د پېغمبر خليفه علي بن ابطالب د قريشو له هر يو مشر سره په يو رنگ فرصت او فضا کې مخ شوي وای؛ نو بريا د علي پر برخه وه او قريشو ته يې شرعي برهان وروړاندې کاوه؛ نو په دې شرايطو کې غوره ده، چې د قريشو مشر په خپل نوم خبره و نه کړي؛ بلکې د ډلې؛ يعنې مهاجرينو او اکثريت په نوم خبرې وکړي؛ نو که د قريشو مشر داسې کړی وای؛ نو شونې وه، چې ولې د قريشو د کچو له مخې ماتې خوړلې وای.
۳ – په چار کې برېره: په داسې حال کې، چې نبوي کورنۍ د کفن او ښخولو پر چارو بوخته ده، په چار کې برېره دومره زياته وي، چې د خلافت مساله پای ته ورسي او د نبوي کورنۍ يو تن هم د خليفه په ټاکنه کې نه وي او په غيابو کې يې خليفه وټاکل شي او څه پلمه ورته پاتې نشي او نيوکې ته يې هم څه لار نه وي پاتې؛ خو که داسې وکړي؛ نو له يوه حکومت سره به مخ وي، چې رئيس، مرستيال او لښکر لري او ټول ولس د خليفه تابع دی او بيعت يې ورسره کړې، چې په دې بڼه کې مخامخېدنه د فتنې راولاړول او سرغړونه ده، چې پايله يې ماتې ده.

## د سقيفې غونډه

جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله له نړۍ ولاړ، هغه لمر، چې گرده نړۍ يې رڼا کړې وه. د وفات خبر يې خپور شو، مدينوال په خپگان د پېغمبر صلی الله عليه و آله کره راټول شول او ژړل يې، اهل بيت او مشر يې (د پېغمبرصلی الله عليه و آله خليفه، علي کرم الله وجهه پر مصيبت اخته وو او د کفن او ښخولو پر چارو بوخت وو؛ خو په همدې حساس وخت کې د بني ساعده و په څېرگي کې غونډه جوړه شوه.

**بې ځوابه پوښتنې**

ولې په هغه ځانگړي او حساس وخت کې داستره غونډه جوړه شوه او د څه مطلب لپاره؟ څوک يې بلونکي وو؟ پر هغه مهال ددې غونډې جوړول څنگه شوني شول؟ سقيفې ته د خلکو حاضرول له څه وخته پيل شول؟ په يقيني توگه، له انصارو کوم يو تن يا کوم کسان په سقيفه کې حاضر شول؟ ځکه سقيفه څېرگی؛ خو دومره پراخه نه وه، چې ټول انصار پکې ځای شي؛ ځکه يو زيات شمېر يې د پېغمبرصلی الله عليه و آله په کور يا چاپېريال کې وو؛

ځکه محال وه، چې انصار به پر هغه مهال ټول غایب وي او د خدای رسول صلی الله علیه و آله به یې ځانته پرېښی وي.
چا خلک خبر کړل، چې سقیفې ته راشئ؟ او دې پلنې څومره وخت ونیو؟ ولې له مهاجرینو یوازې حضرت عمر (رض) له غونډې خبر شو، نه بل څوک؟ چا خبر کړ؟؛ ځکه عمر (رض) خو نه د پیغمبر صلی الله علیه و آله په کور کې و؛ بلکې په بل ځای کې و او پوهېده، چې ابوبکر (رض) هرومرو د پیغمبر په کور کې دی.
عمر (رض) په ابوبکر (رض) پسې یو تن ولېږه، چې راشي، ابوبکر (رض) ځواب ورکړ، چې خپه یم او د پیغمبر په کفن او ښخولو بوخت یم.
عمر (رض) بیا څوک ورپسې ولېږه، چې یوه نوې پېښه شوې ده او لازم دي، چې یو ځل راشي، ابوبکر (رض) عمر (رض) ته ورغی، عمر (رض) وویل: ایا نه پوهېږې، چې انصار د بني ساعده و په سقیفه کې را غونډ شوي او سعد بن عباده خلیفه کوي؟ او غوره خبره یې داده، چې یو امیر دې له انصارو څخه وي او یو امیر له قریشو (هر ډله دې ځانته مشر ولري) دواړه په بیړه سقیفې ته ورغلل، په لار کې ابوعبیده جراح ورسره مخ شو او له ځان سره یې بوت [1].

## چا د سقیفې خبر راووړ؟

طبري وایي: حضرت عمر (رض) لومړنی تن و، چې د سقیفې له غونډې خبر شو[2] په بل ځای کې وایي، چې حضرت ابوبکر (رض) و[3].
ابن هشام وایي: یو تن ابوبکر (رض) او عمر (رض) ته راغی؛ خو داچې څوک و؟ څوک یې نه پېژني؛ ځکه نوم او نښه یې له منځه تللې او هېر شوی دی[4].

**د دوو انصاري تنو خبره:**

چې هغه درې تنه مهاجرین د سقیفې مخې ته ورسېدل؛ نو له (عویم بن ساعد انصاري) او (معن بن عدي) سره مخ شول[5] چې دواړه د انصارو مشران وو.

---

[1] طبري تاریخ ۳: ۲۱۹ مخ.
[2] هماغه سرچینه.
[3] طبري تاریخ ۳: ۲۱۹ مخ.
[4] ابن هشام سیرت ۲: ٦٥٦ مخ.
[5] طبري تاریخ ۳: ۲۰٦ مخ.

د طبري په بل روايت کې: (عاصم بن عدی) او (عديم بن ساعد) ورسره مخ شول، چې دا دواړه بدريان وو.
په يو روايت کې راغلي، چې دې دوو تنو، هغو دريو تنو ته وويل: وگرځئ او چار په خپلو کې پای ته وروسوئ.
په بل روايت کې: وگرځئ، چې څه غواړئ، وبه نشي (؛ يعنې خپلې موخې ته ونه رسئ) جالبه خو داده، چې: هغه دوه تنه انصاري وو او د بدر په جگړه کې يې برخه هم اخستې وه (چې دا پخپله يو ستر امتياز دی) سره له دې چې د سقيفې له غونډې خبر وو؛ خو ورنغلل او د لارې لوری يې د هغو دريو تنو پر خلاف و.
هغوی يو له بل سره خبرې اترې وکړې او بيا هرې ډلې خپله لار ونيوه؛ څکه هيڅا نه دي ويلي، چې دا پينځه تنه يو ځای سقيفې ته ورغلل او موږ ته ددې ډلو ترمنځ خبرې په دوو رواياتو کې رارسېدلي، چې کوم يو روايت يې ومنو؟

**لومړی روايت:**
(وگرځئ او چار په خپلو کې سر ته ورسوئ) دا روايت راښيي، چې انصار له خلافت سره څه مينه نه لري.
او په دويم روايت کې: وگرځئ، خپلې موخې ته به و نه رسئ، مانا يې داده، چې انصار به خلافت درپرېنږدي.
نو په دې کې کوم روايت ومنو؟

## موضوعي څېړنه او د تصادف نفې

د اهل سنتو تاريخپوهان يوه خوله دي، چې حضرت عمر (رض) لومړی تن و، چې د سقيفې له غونډې خبر شو[1].
او په بل روايت کې يې حضرت ابوبکر (رض) ښوولی دی[2].
په هر حال د ابوبکر (رض) خبرېدل، دا نه نفې کوي، چې خبر به ړومبی عمر (رض) اورېدلی وي.

---

[1] طبری تاريخ ۳: ۲۱۹ مخ.
[2] طبري تاريخ ۳: ۲۰۱ مخ.

د ابن هشام په روایت کې راغلي چې: یو تن حضراتو ابوبکر او عمر (رض) ته راغی او و یې ویل: . . . . . . [1]
او تر اوسه د خبریال نوم ناپېژاندی پاتې دي!!! البته د خبریال د نوم پټول یو تصادفي چار ګڼلای نه شو؛ ځکه شک نشته، چې خبریال له مخورو څنې و؛ ځکه د پردې تر شا مسایلو خبر و، چې عمر او ابوبکر (رض) یې له شورا خبر کړل او داچې عمر او ابوبکر (رض) یې خبر ته غوږ ایښی، خبرې یې ورسره کړي او تصدیق کړی یې دی؛ نو معلومېږي، چې یو مخور تن و؛ نو ځکه باید ووایو: څنګه شونې ده، چې یو مخور تن دې د دغسې یوې مهمې مسالئ خبر ورکوي؛ خو نوم دې یې د تاریخ په پاڼو کې پټ وي؟ دا مساله پخپله د دغسې یو واقعي خبریال شتون شکمنوي.
او بیا نو دا څنګه یوازې یو تصادف ګڼلای شو، چې یوازې انصار (؛ یعنې د اسلام د پلازمېنې (مدینې) غوڅ اکثریت) په غونډه کې برخوال وو او په مهاجرینو کې یوازې عمر (رض) له غونډې خبر شو.
پردې سربېره، حضرت عمر (رض) ولې په ټولو مهاجرینو کې یوازې حضرت ابوبکر (رض) خبر کړ؟ حال داچې ټول مهاجرین د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله له جنازې راټول او له کورنۍ سره یې غم رازي کوله؛ نو دا هم یوازې یو تصادف نه و.
له دې سره سره، فاروق چې د پېغمبر صلی الله علیه و آله له وفاته خبر شو؛ نو زغم یې له لاسه ورکړ او ګواښ یې وکړ، چې که څوک د پېغمبر صلی الله علیه و آله د مړینې خبره وکړي؛ نو و به یې وژني او یا به یې لاسونه او پښې غوڅې کړي[2]؛ نو پر هغه مهال چېرې و؟
که فرض کړو، چې حضرت عمر (رض) د پېغمبر صلی الله علیه و آله له وفاته ډاډمنېږي او بیا د پېغمبر کور ته ځي، چې د وروستي ځل لپاره یې وګوري او د اسلامي امت په غم کې ګډون وکړي؛ که یې داسې کړي وي او د پېغمبر کره تللی وي؛ نو څنګه په ټولو خلکو کې یوازې همدا خبرېږي؟ چا خبر کړ؟ خبریال څرنګه بریالی شو، چې د پېغمبر په کور او چاپېریال کې په زرګونو را غونډ شویو خلکو کې یوازې حضرت عمر (رض) ته ورغی؟
نو څرګندېږي، چې دا یو تصادفي چار نه و.
او د انصارو په هکله باید ووایو، چې ټولو په دې غونډه کې برخه نه درلوده؛ بدریان چې د شریعت د خاوند د نص له مخې د انصارو غوره وګړي وو) پکې نه وو او شونې نه وه، چې بې

[1] ابن هشام، سیرت ۲: ٦٥٤ مخ.
[2] طبري تاریخ ۳: ۱۹۷ مخ.

د دوی له شتونه دې د انصارو غونډه په یوې پایلې پای ته رسېدلې وي؛ ځکه بدریان د انصارو نېکچاري وو، هغه دوه تنه، چې له هغو درېیو تنو مهاجرینو سره مخ شول، بدریان وو، که د غونډې موخه دا وه، چې تر پېغمبرصلی الله علیه و آله وروسته د خلیفه ټاکل وي؛ نو هرمرو یې پکې برخه اخسته او یا لږ تر لږه په هغه حساس وخت کې له خلکو نه لرې کېدل.
بلخوا، جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله له نړۍ ولاړ، کفن کړای شوی په خپل کور کې پروت و؛ نو ایا دا عقل مني، چې ټول اصحاب به حضرت صلی الله علیه و آله پر همدې حال پرېږدي او په داسې حال کې چې اهل بیت یې ځان د سپېځلي بدن خاورو ته د ورسپارلو ته تیاری نیسي؛ نو له انصارو به څوک د جنازې لیدو او خدای پامانۍ ته ورغلي نه وي؟
نه، دا یو ناشونی چار دی او باور پرې کېدای نشي؛ خو داچې په پټو سترګو یې ومنو. او بیا فرض داچې ټول انصار د خلیفه ټاکنې ته راغونډ شوي وي؛ نو هغوی خو د اسلام پر احکامو پوهېدل، چې پېغمبر له قریشو دی او باید ځایناستی یې هم له قریشو څنې وي، د اهل بیتو په اړه له روایاتو خبر وو، د غدیر پر بهیره شاهدان و او د علي او اهل بیتو په اړه یې د جناب نبي مکرم سپارښتنې اورېدلې وې.
البته پر یاد یې وو، چې یوه ورځ ورته جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله وویل: انصارو! ایا یو داسې څیز دروښیم که منګولې پرې ولګوئ؛ نو بیخي به بې لارې نشئ؟
وویل شول: هو یا رسول الله!
و یې ویل: دا علي دی، زما په دوستۍ ورسره دوستي وکړئ او زما په درناوي یې درناوی وکړئ، چې څه مې درته وویل، جبرئیل راته د خدای له لوري امر کړی و[1].
ایا بیا هم انصار هېروي او یا ځان ناګاره ګڼي؟ څنګه د خلیفه د نصب او ټاکنې جریان هېرولای شي؟ څه لامل شول، چې ددې شعار (نه ښایي له بني هاشمو سره دې نبوت او خلافت دواړه وي) پلوي یې وکړه؟
انصار خو څه قریش نه وو، د بني هاشمو خلافت او نه خلافت ورته څه توپیر نه درلود.
ایا انصارو د علي په اړه د پېغمبر صلی الله علیه و آله دا ویناوې هېرې کړې وې چې:
هغه تر ما وروسته ستاسې ولي دی، هغه تر ما وروسته د هر مؤمن او مؤمنې مولا دی، په ناګار ګڼلو کې یې څه ګټه وه، چې له دې څرګندو دلایلو انکار وکړي؟ نو ځکه انصار د خلیفه د ټاکنې لپاره راټول شوي نه وو، د یو دغسې څیز باورول ډېر سخت دي؛ ځکه هغوی خپل ولي

---

[1] ابن ابی الحدید، د نهج البلاغې شرح ۹: ۱۷۰ مخ . حلیة الاولیا ۱: ۶۳ مخ . مجمع الزواید ۹: ۱۳۲ مخ . کفایت الطالب ۲۱۰ مخ . مطلب السوول ۱: ۶۰ مخ .

او پالندوی پېژانده، له واقعي او حقيقي خليفه پوره خبر وو، دا ځکه هغوی د علي په غيابو کې او داچې ورځرګنده شوه، چې چارې به يې له لاسه ووځي، و يې ويل: موږ يوازې له علي سره بيعت کوو.

په بل روايت کې راغلي، چې ځينو انصارو وويل: موږ يوازې له علي سره بيعت کوو[1].

او که دا روايت ومنو؛ نو معلومېږي، چې ځينو انصارو غوښتل، بې له علي سره بيعت وکړي؛ خو هرومرو په دې دوو رواياتو کې يو يې سم دی. هغه وخت چې د انصارو غوښتنې پوره نه شوې او فاطمة الزهرا ورغله، چې ملاتړ يې راجلب کړي؛ نو انصارو ورته وويل: د رسول الله صلی الله عليه و آله لورې! موږ له ابوبکر (رض) سره بيعت کړی او ژمنه مو ورسره کړې، که مېړه او د تره زوی دې تر ابوبکر (رض) مخکې له موږه بيعت غوښتی وای؛ موږ يوازې له هغه سره بيعت کاوه او بس.

على کرم الله وجهه ويل: ايا دابه ښه وای، چې د رسول الله جنازه مې د هغه په کور کې پرېښې وای او خاورو ته مې نه سپارله او له خلکو سره پر شخړو لګيا شوی وای؟ فاطمې (رض) هم ويل: له علي سره چې څه وړ وو، و يې کړل. پر خدای قسم نورو داسې يو چار وکړ، چې خدای به ورسره حساب وکړي او پوښتنې ګروېګنې به ترې وکړي[2].

بشير بن سعد (رض) (چې له انصارو رابېل شو او لومړی تن و، چې له ابوبکر (رض) سره يې بيعت وکړ) چې د امام استدلال يې واورېد؛ نو يې وويل: که انصارو له ابوبکر (رض) سره تر بيعت وړاندې ستا دا استدلال اورېدلی وای؛ ان دوو تنو هم ستا د خلافت په اړه اختلاف نه کاوه[3] (او ټولو درسره بيعت کاوه).

هغوی چې دغسې اندود درلود، معقوله نه وه، چې د خليفه د ټاکنې لپاره راټول شي او هغه هم د ولي په غيابو کې، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله په خم غدير کې د هغوی په مخکې نصب کړی و او پخپله يې مبارکي ورته ويلې وه او په څو حلو يې له پېغمبر صلی الله عليه و آله اورېدلي وو، چې: علي تر ما وروسته ستاسې ولي دی؛ هغه د هر مؤمن او مؤمنې ولي دی او بيا نو سعد بن عباد (رض) چې د خزرج مشر، جليل القدر ستر صحابي او ستر شخصيت يې درلود، دا يې له شانه لرې وه، چې د پېغمبر د وصي او ولي، اهل بيتو او سترو مهاجرينو په

---

[1] ابن قتية دنيوري، الامامة والسياسة ۸ مخ . ابن ابی الحديد د نهج البلاغې شرح ۲: ۲۶۶ .

[2] د نيوري، الامامة والسياسة ۱۲ مخ.

[3] دنيوري، الامامة والسياسة ۸ او ۱۲ مخونه.

شتون کې ځانته خلافت وغواړي، د ټولو د وینا له مخې؛ نو موږ ی ناروغ و او د خوځېدو وس یې نه درلود او که وس یې وای؛ نو هرمرو د پېغمبر صلی الله علیه و آله جنازې لیدو ته ورتله. په حقیقت کې د سعد بن عباده (رض) کور د سقیفې ترڅنګ و؛ ځکه د ابن قتیبه د روایت له مخې، په غېږ کې یې کور ته بوت او شونې ده، چې دا شمېر اصحاب به د سعد (رض) پوښتنې ته راغلي ول او دی به یې د پېغمبر له رحلته خبر کړی و او لرې نه ده، چې د پېغمبر تر وفات وروسته حالاتو په اړه د برخوالو ترمنځ خبرې اترې شوې وي.

**د درېیو تنو مهاجرینو راتلل:**

درې تنه مهاجرین (ابوبکر، عمر، ابوعبیده رضی الله عنهم) چې سقیفې ته راغلل؛ نو غونډې ځانته ځانګړی حالت پیدا کړ، طبیعي ده، چې په راتلو یې خبرې پرې کېږي، داچې بیا چا خبرې پیل کړې؟ په یقیني توګه هېڅک یې نه پېژني.

فاروق انګېرله، چې انصار غواړي د دوی جرړه غوڅه کړي او خلافت ترې واخلي[1] او له همدې سوچونو سره د نورو وګړیو د راتلو انتظار یې هم ایسته، چې له دې غونډې سره یوځای شي، چې ناڅاپه د (اسلم) ټول ټبر راغی او خلک دومره ډېر شول، چې سقیفه او د شاوخوا لارې یې ډکې شوې او بیا یې له ابوبکر (رض) سره بیعت وکړ. عمر (رض) وایي، زه ړومبی په تشویش کې وم؛ خو مازې چې سترګې مې د (سلم) په ټبر ولګېدې؛ نو ډاډه شوم، چې بریالي یو[2].

ددې خبرې مانا داده، چې عمر (رض) له وړاندې پوهېده، چې څوک یې تاییدوی.

اسلم د انصارو یو ستر ټبر و، چې ګڼ شمېر وګړي یې درلودل او په عین حال کې د سقیفې په غونډه کې نه وو او دا راښیي، چې په سقیفه کې د انصارو راټولېدو بیخي سیاسي رنګ نه درلود. د عمر (رض) ددې وینا مطلب څه دی، چې: (ډاډمن شوم، چې بریالي یو) پر چار بریا؟ په کومه وزله؟ دا ټولې چارې پردې ټکي ټینګار کوي، چې پر انصارو بیعت تپل شوی دی او غونډې یې سیاسي اړخ نه درلود.

**د درېیو تنو مهاجرینو موخه:**

بېشکه سقیفې ته د هغو درې تنو مهاجرینو ورتلل ددې لپاره وو، چې پېغمبر ته خلیفه وټاکي. دا ټاکنه د قریشو او نورو مهاجرینو په شتون کې وشوه او لکه چې د ټولو قریشو نظر همداو؛

[1] طبري تاریخ ۳: ۲۰۱ – ۲۱۸ مخونه.

[2] طبري تاریخ ۳: ۲۲۲ مخ.

ځکه ټول په یو فکر کې ول، چې نه ښايي له بني هاشمو سره دې نبوت او خلافت دواړه وي؛ نو په دې وضعیت سره د قریشو شتون ته څه اړتیا نه وه؛ ځکه قریش په همدې درېیو تنو او په تېره په عمر (رض) کې انځور شوې وه، چې په دې شعار یې پوره ایمان درلود: (نه ښايي له بني هاشمو سره دې نبوت او خلافت دواړه وي) او هم موخه داوه، چې د خلیفه ټاکنه دې د اهل بیتو په تېره بیا د علي کرم الله وجهه په نشتون کې ترسره شي؛ ځکه له اهل بیتو شتون درلوداى؛ نو وضع بدلېده او پایله یې اپوټه وه؛ ځکه د هغو درېیو تنو او نورو قریشو پر وړاندې یې څرګند دلایل راوړل او انصار یې قانع کول.

نو ځکه که اهل بیت او مشر یې نه وي؛ نو میدان به درېیو تنو مهاجرینو او قریشو ته خوشې وي) او له خپلو یو تن خلیفه کولاى شي او یو شمېر انصار یې چې د ځان ملګري کړي، بیعت ته به یې اړ کړي او خپلې موخې ته به ورسي.

که د (اوس) ټبر بیعت وکړي، د (خزرج ) ټبر هم بیعت کوي، چې له خلیفه سره د بیعت ویاړنه یې ترمنځ وویشل شي.

په دې توګه هغوى د بني هاشمو پر وړاندې یوه بریالۍ وزله ترلاسه کړه، چې د انصارو بیعت و او که انصارو بیعت وکړ؛ نو نه ترې ګرځي او تر دې بیعت وروسته له ابوبکر، عمر او عبیده سره د بني هاشمو یا یې د مشر علي کرم الله وجهه مخامخېدل یو شخصي چلن نه و؛ بلکې د واکمن خلیفه او عادي رعیت ترمنځ چلن و، یا داچې یو مرستیال او مشاور یې چې له عادل ولسي وګړي سره چلېږي، چې پایله یې په ډاګه ده.

که دبني هاشمو او مشر سره یې د قریشو او مهاجرینو مخامخېدنه منطقي او په سالمه فضا کې واى؛ نو فاروق د شرعي ولي پر وړاندې د مخامخېدنې وس نه درلود او ماتې یې خوړه.

ځکه د مؤمنانو ولي؛ علي د پېغمبر د ښار او د لدني حکمت ور و او په غزاګانو کې د عمر (رض) چارې د علي کرم الله وجهه په څېر نه وې؛ لکه د خندق په غزا کې (عمرو بن عبدو ) سیالۍ ته ورتګ، چې اواز یې کېناست، ټولو اصحابو او فاروق یې غږ اورېده او هیڅا جرات نه کاوه، چې ورودانګي؛ خو علي ولي الله و، چې یې ور ودانګل. خو چې عمر (رض) د ابوبکر (رض) مرستیال کېږي؛ نو څه لزوم نه و، چې پخپله له علي کرم الله وجهه سره مخ شي؛ بلکې یوه ډله ورپسې ورلېږي، چې په راښکلو راښکلو یې ورته حاضر کړي؛ نو دې درېیو تنو مهاجرینو، د خلیفه ټاکنې ته ښه مناسب وخت ټاکلى و؛ یعنې اهل بیت او مشر به یې د پېغمبرصلی الله علیه و آله پر کفن او ښخولو لګیا وي او ان له ځانه به هم خبر نه وي او د نورو مسلمانانو حال هم همداسې و؛ نو ځکه دا یو مناسب فرصت و، چې قریشو د خپلې خوښې خلیفه ټاکلى واى او پر خپله ګټه د وضعیت د بدلون لپاره د انصارو له ځان سره ملګري کول،

يو سنجول شوی حسابي چار و؛ ځکه د قريشو موخه دا وه، چې (نه ښايي بني هاشم دې د نبوت او خلافت دواړو خاوندان وي) نور ورته مهم نه و، چې څوک دې خليفه وي، څه چې مهم وو، چې له بني هاشمو دې نه وي او له نورو سره د قريشو شخړه بې ځايه وه؛ نو ځکه چې کله له سقيفې راووتل او جومات ته ولاړل؛ نو لومړي تن، چې خليفه سره بيعت وکړ، حضرت عثمان بن عفان اموي او ملګري يې وو او بيا سعد بن وقاص (رض) او عبدالرحمان بن عوف (رض) او له بني زهره و يې ملګري[1].

د کارګرڅو ځيرکي په دې کې وه، چې لومړی يې له انصارو بيعت واخست؛ ځکه که يوازې ټولو قريشو بيعت کړی وای؛ نو بې د انصارو له بيعته يې بيعت څه ارزښت نه درلود؛ ځکه شونې وه، چې وروسته د اهل بيتو مشر د قريشو پر وړاندې دليل راوړي او خپله وينا به يې د انصارو په نه بيعت کولو تاييد او ټينګار به يې پرې کاوه.

نو ځکه په سقيفې کې د قريشو ګډون ته څه اړتيا نه وه؛ ځکه دا درې تنه (ابوبکر، عمر او ابوعبيده رضی الله عنهم) د قريشو د موخو پلي کوونکي وو.

نو ځکه بني هاشم او په ټېره اهل بيت په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره بې ملاتړه پاتې شول، چې پر قريشو بريالي شي؛ ځکه هغو درېيو تنو وکړای شول، چې انصار قانع کړي او د قريشو د کورنيو پر ځای عمل وکړي او وکاربړي او بني هاشم له راتلونکي خلافت او ولايته لرې کړي.

د غونډې برخوال چې له سقيفې راووتل؛ نو نبوي شريف جومات ته ننووتل او ابوبکر، عمر او ابوعبيده (رض) يې په مخ کې روان وو (مخکې خو انصارو بيعت کړی و) عمر (رض) حاضرينو ته وويل: ولې کړئ کړئ ناست ياست، راپاڅئ او له ابوبکر (رض) سره بيعت وکړئ. موږ هم ورسره بيعت کړی او انصارو هم. له عثمان (رض) سره، چې څه امويان وو، بې درنګه راپاڅېدل او بيعت يې ورسره وکړ. سعد بن وقاص او عبدالرحمان بن عوف د بني زهره له وګړيو سره راپاڅېدل او بيعت يې وکړ؛ علي، عباس بن عبدالمطلب، بني هاشمو او له دې نه زبير بن عوام (رض) بيعت و نه کړ او خپلو کورونو ته ولاړل، بيا نو عمر (رض) له يوې ډلې سره ورغی او و يې ويل: (بهر راووځئ او له ابوبکر (رض) سره بيعت وکړئ) خو هغوی ونه منله (په بيعت اخستو کې د عمر بن خطاب (رض) دود او لهجې ته ځير شئ!).

---

[1] دنيوري، الامامه والسياسة ۱۱ مخ.

# په سقيفه کې ګډونوال

په سقيفه کې يوازې يوه ډله انصار وو او نه ټول يې، ان نيمايي يا درېيمه برخه او ان لسمه برخه انصار هم نه وو؛ ځکه اکثريت ته نژدې مدينوال انصار وو او د دود، عادت، عقل او منطق له مخې ډېرى يې د پېغمبر په کور او شاوخوا کې وو، ان هغوى چې سعد بن عباده (رض) او ملګري يې په سقيفه کې وليدل، ورسره يو ځان نه شول؛ لکه هغه دوه تنه صالح او بدري انصار؛ يعنې: عاصم بن عدى او عويم بن ساعده او په بل روايت عويم بن ساعد او معن بن عدى[1] که غونډه د ټولو انصارو واى؛ نو دې دوو تنو نه پرېښووه.

د (اسلم) ټول ټبر، چې راغى او د مدينې کوڅې ترې ډکې شوې، چې ان د درېدو ځاى پکې نه و؛ نو دوى هم د سقيفې غونډې ته ورنغلل؛ بلکې له قراينو معلومېږي، چې د هغوى د راتلو انتظار يې درلود او ډاډمن وو، چې د قريشو ملاتړ به وکړي؛ ځکه عمر (رض) په ډاګه وويل: چې دا مسلم ټبر مې وليد په خپلې بريا يقيني شوم.

د اسلم ټبر له ابوبکر (رض) سره تر لومړي بيعت وروسته راغلل او له دې پېښې معلومېږي، چې د خليفه د ټاکنې موضوع د هغو درې تنو په راتلو مطرح شوه او دې درېيو تنو بيعت لازم وګاڼه.

هغه خبريال، چې د انصارو د راغونډېدو خبر يې راووړ، تر اوسه ناپېژاندى پاتې دى، همدغسې هغه هم، چې سقيفې ته درېيو تنو تر وتلو وروسته يې بحث او خبرې پيل کړې.

طبيعي ده، چې هغه درې تنه سقيفې ته ورغلل، تر سلام وروسته، بايد خبرې پيل شي؛ نو د لومړي ځل لپاره څوک ويوونکى و؟ او چا د مناظرې باب پرانست؟

دا وګړى د هغه په څېر دى، چې د سقيفې خبر يې راووړ او همېشه يې پټ ساتلى دى، سره له دې، چې هغه وګړي پېژندل شوي دي، چې تر دوى يې ونډه لږه وه.

دا ټول موضوعات ثابتوي، چې په هغه پېښه او روايتولو کې يې ځينې واقعيات حذف او لرې کړاى شوي دي، ناقص او نيمګړي روايات روايت شوي دي، سره له دې چې ګڼ شمېر روايات او راويان شته.

حقيقت دادى، چې د سقيفې د غونډې داستان د حضرت ابوبکر او عمر (رض) د پلويانو تر څارنې لاندې کښل شوى دى او داسې تنظيم او طرح شوى، چې د واکمنو راز رابرسېره شي

---

[1] طبري تاريخ ۳: ۲۰۵ – ۲۰۶ مخونه.

او د مویدینو د ځورنې او تشویش لامل نشي او په عین حال کې داسې وي، چې دا درې تنه د داستان اصلي اتلان انځور شي.
دا موضوع له دې ځایه ترلاسه کېږي، چې د سقیفې په اړه یو له بل سره په ټکر کې ګڼ شمېر روایات راغلي دي.
لکه: د هغو دوو نېکچاریو بدري انصارو ویناوې، په دوو سره په ټکر کې روایاتو کې روایت شوي[1] او یا حضرت سعد بن عباده (رض) په یو روایت کې د خلافت غوښتونکی او د هغو درېیو تنو مهاجرینو سرسخت سیال ښوول شوی، چې ټول یې غوسه کړي او نژدې و، چې ووژل شي[2].
او په بل روایت کې یو وګړی دی، چې عمر (رض) پرې غاړه خلاصه کړې او دلیل یې ورته ویلی او قانع شوی او بیعت یې کړی دی[3].
د چا له لوري هېڅ ډول سرغړاندي نه لیدل کېږي او چارې په مطلوب ډول پرمخ تللي او ټول څېزونه پر خپل ځای وي.
**د انسان ستره فکري پانګه**
که هغو درېیو تنو د پیغمبر صلی الله علیه و آله له کورنۍ سره او نورو مسلمانانو سره د پیغمبر صلی الله علیه و آله په تجهیز او تدفین کې ګډون کړی وای او د ښخولو تر مراسمو وروسته ټول جومات ته راغلي وای او د خپل مولا په امامت یې (چې ددې درېیو تنو په اعتراف د هر مؤمن او مؤمنې مولا دی) فرضي لمونځ کړی وای او تر لمانځه وروسته درې واړو وګړیو خپل نظریات اورولي وای او ورپسې علي کرم الله وجهه خپل نظریات وړاندې کړي وای او د اسلام لیدلوري یې ویلې وای (؛ ځکه هغه د شرعي نص له مخې، د امت لارښود او تر پیغمبر وروسته د امت د اختلافي موضوعاتو بیانوونکی دی)؛ نو بیا انصارو او ګردو مسلمانانو یې خبرې اورېدې، ذهن ته یې سپارلې، ځانګړنې یې په پام کې نیوې، بیا یې د خدای له لوري ټاکل شوي امام سره بیعت کاوه.
که فرض کړو، د سقیفې غونډه په همدې بڼه وای؛ نو دا غونډه او خبرې اترې به په نړۍ کې یوه ستره انساني فکري پانګه شمېرل شوې وای او هرومرو یې په ټولیز ډول د تاریخ بهیر اړاوه او شونې وه، چې د اسلام سیاسي برنامه، چې د خدای له لوري پر خپل بنده نازله شوې وه،

---

[1] طبري تاریخ ۳: ۲۰۵ مخ.
[2] الامامة والسیاسة ۱۰ مخ
[3] طبري تاریخ ۳: ۲۰۳ مخ.

اجرا شي او حق حقوال ته ورسي؛ نو هغه مهال له بشريت سره لاسنيوی کېده، چې پر ځمکه باندې د اسلام له مخې، يو نړيوال دولت جوړ شي.
البته دا يوه هيله ده، چې لا تر اوسه پوره شوې نه ده؛ ځکه موږ مسلمانانو د خدای او رسول نص شاته غورځولی او په خپل بشري نيمګړي عقل او فکر مو د نص پر وړاندې اجتهاد او استنباط کړی.
او دا يو دود او سنت دی، هر قوم او ملت، چې د شرعي نص او د شرع د خاوند ويناوې شاته کړي او په خپل اجتهاد او شخصي نظر وچلي؛ نو ورکېږي او د خپل کار پايله او د الهي نعمت د کفران سزا به و مومي؛ ځکه څرګند الهي لارښوونې او اوامر يې يوازې د ځاني غوښتنو لپاره تاويل کړې او مخونه يې ورکړه.

## د سقيفې په غونډه کې شرعي دلايل

ژر يا وروسته به څېړونکي و مومي، چې له حضرت سعد بن عباده (رض) سره د انصارو ليده کاته، له هر پلوه يو عادي او معمولي ليده کاته وو او هېڅ سياسي اړخ يې نه درلود او که فرض کړو، چې سياسي خبرې اترې پکې شوې؛ نو يوازې د نظرياتو تبادله وه، هغوی يوازې د ناروغ پوښتنې ته راټول شوي وو او يوازې د هغو درېيو تنو مهاجرينو ورتګ ورته سياسي او تشکيلاتي رنګ ورکړ.
هغوی صحنه بدله کړه او ساده غونډه يې پر سياسي او ښکيلاکي غونډه واړوله او چې څنګه يې غوښتل، د خليفه نصب ته يې يو بنسټ او سرچينه کړه او دا غونډه د اوږدې مودې لپاره په سياسي او تشکيلاتي نوم پاتې شوه.
په سقيفه کې کوم استدلال وشو، چې له مخې يې بريا پر برخه شوه؟

## په سقيفه کې دشته انصارو دليل

کوم انصار، چې په سقيفه کې راټول شوي وو، مقصد يې د خليفه ټاکل نه و او هغه روايات سم نه دي، چې غونډه د خلافت لپاره جوړه شوې وه؛ ځکه ټول انصار پوهېدل، چې خلافت يې حق نه دی او په داسې حال کې چې تر اوسه د نبي کريم صلی الله عليه و آله جنازه خاورو ته سپارل شوې نه ده، د خدای او رسول سره ژمنې ته شا کړي.

هغوی خو خبر وو او پوهېدل، چې پېغمبر خو خلیفه ټاکلی او نصب کړی دی او له هغو مبارکیو هم پوره خبر وو، چې د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله پر ژوندوني يې د پېغمبرصلی الله علیه و آله وصي ته ورکړې وې. ټول مسلمانانو او ان هغه درې تنه (ابوبکر، عمر، ابوعبیده رضی الله عنهم) هم پوهېدل، چې علي تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته د مؤمنانو ولي او پخپله د همدوی او د هر مؤمن او مؤمنې ولي دی؛ نو ځکه په ډاګه ده، چې انصارو کومه ځانګړې موخه نه درلوده او خلافت ته يې هم تمه نه درلوده او اصلاً دا موضوع د هغو درېیو تنو له راتګ وړاندې چا مطرح کړې هم نه وه او طبیعي ده، چې دې چار ته يې کوم دلیل هم نه درلود او په حقیقت کې کوم دلیل، چې په انصارو پورې تړل شوی، یوازې د داستان د ننداري وزلې او ددې داستان د اتلانو غبې ښوونه ده.
د داستان اتلانو امت ته پخپله خوښه، داستان په رسمي تبلیغاتي وزلو مطرح کړ او کوم روایات، چې د دوی له مطرح سره په ټکر کې وو، څنډې ته يې کړل او راتلونکیو نسلونو دا داستان یو ثابت حقیقت او سم واقعیت د یو رسمي او ولسي حکومت له لوري وګاڼه او چې چا د سقیفې پر بهیر نیوکه کوله، د امت لخوا شړل کېده؛ ځکه د اسلامي امت د اجماع پر خلاف و.

**په سقیفه کې د درېیو تنو مهاجرینو کړنې**

۱ – په دې ځانګړي وخت کې چې اهل بیت د پېغمبر صلی الله علیه و آله په تجهیز او تدفین بوخت دي، د خلیفه ټاکل.
۲ – په سقیفه کې له حاضرو وګړیو بیعت اخستنه؛ ځکه که د (اوس) ټبر یو شمېر وګړي بیعت وکړي؛ نو بېشکه په سقیفه کې به د (خزرج) ټبر وګړي هم بیعت وکړي، چې دا ویاړنه یوازې د (اوس) نه وي، تر بیعت وروسته، د بیعت کوونکیو مصالح او ګټې ایجابوي، چې له خپل نوي ټاکل شوي خلیفه څنې ملاتړ وکړي.
نو ځکه له چا سره، چې په سقیفه کې بیعت وشو، د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله د خلیفه او رسمي ځایناستي په څېر به راوځي او هغه دوه تنه مهاجر به هم د خلیفه دوه مرستیالان وي او بیعت کوونکي به يې تیار سئ لښکر وي او که څوک پر منصوب سړي برید وکړي او یا ورسره مقابله وکړي؛ نو لوری به يې یو معمولي تن نه وي؛ بلکې د پېغمبر له خلیفه سره به مخ شوی وي او د خپل چارواکي له حکمه به وتلي وي او چې څوک د خلیفه پر ضد راپاڅي؛ نو مرګ يې سزا ده او که خلیفه يې ووژني؛ نو څه توپیر نه لري؛ ځکه د مسلمانانو د جماعت پر وړاندې راپاڅېدلی دی، حکومت ته يې سترګې نیولي، واکمنۍ ته حریص دی او د داسې چا په باب، د شرع حکم څرګند دی، دا دقیقاً هماغه څه وو، چې پېښ شول.

**د درېيو تنو مهاجرينو شرعي دلايل:**

اوس دا پوښتنه مطرح ده، چې د درېيو تنو مهاجرينو څه استدلال و، چې انصارو ورته خلافت او مشري ورپرېښووه؟ ايا شرعي دليل يې درلود؟؛ يعنې د ليل يې پر کتاب او سنتو ولاړ و؟ حضرت ابوبکر او عمر (رض) د انصارو پر وړاندې استدلال وکړ، چې موږ د پېغمبر صلی الله عليه و آله خپلوان يو او خپلوان يې خلافت ته وړ دي.

## په سقيفه کې د انصارو پر خلاف د حضرت ابوبکر (رض) د استدلال لنډيز

حضرت ابوبکر (رض) انصارو ته وويل: (موږ مهاجرين يو، لومړني خلک يو، چې اسلام مو راوړ او نور په موږ پسې راغلل، موږ د رسول الله خپلوان او کورنۍ يو، د نسب له مخې، د عربو جرړه يو او د عربو په هر ټبر کې زموږ جرړه غځېدلې ده[1]).

## په سقيفه کې د انصارو پر خلاف د حضرت عمر (رض) د استدلال لنډيز

حضرت عمر بن خطاب (رض) وويل: (پر خدای قسم! عرب نه راضي کېږي، چې تاسې خپل اميران کړي، حال داچې پېغمبر يې بې له تاسې دی، هو! له عربو سره ښايي، چې خلافت هغو ته پرېږدي، چې نبوت يې په ټبر کې وي... هغه عربي وګړي، چې له موږ سره مخالفت کوي [ او زموږ پر خلاف نيوکه کوي ] موږ يې پر وړاندې ځرګند دليل لرو [ او هغه دادی، چې موږ د پېغمبر خپلوان يو ] او که څوک له موږ سره په خلافت او ميراث کې شخړه وکړي يا په باطلو کې ډوب شوی او ګناه ته راښکوول شوی دی او ياې ځان هلاک کړی دی[2].

**د انصارو ځواب:**

ټولو انصارو حضرت ابوبکر او عمر (رض) ته وويل: موږ يوازې له علي سره بيعت کوو.

او په بل روايت کې ځينو انصارو وويل: موږ يوازې له علي سره بيعت کوو[3].

دا جريان هله پېښ شو، چې د امت په اجماع، علي په غونډه کې نه و. ښه نو که علي وای، څه به شوي وای؟

که هغو درېيو تنو مهاجرينو د علي خلافت منلی وای، هېڅ ستونزه نه رامنځ ته کېده او اسلامي سياسي نظام خپل طبيعي بهير ته دوام ورکاوه؛ خو دا چا ورته ستونزمن و؛ ځکه هغوی ددې

---

[1] الامامة والسياسة ٦ مخ.

[2] الامامة والسياسة ٦ مخ.

[3] طبري تاريخ ٣: ١٩٨ مخ. ابن ابی الحديد، د نهج البلاغې شرح ٢: ٢٥٦ مخ .

مخالف وو، چې له بني هاشمو سره دې نبوت او خلافت دواړه وي، ويل يې، چې نبوت يوازې د بني هاشمو دی او څوک دې پکې نه ورګډېږی او خلافت بايد د قريشو وي او يو بني هاشم دې هم پکې نه ورګډېږي.

**له درېيو دې يو تن خليفه وي:**

دې درېيو تنو، د انصارو دا خبره( موږ يوازې له علي سره بيعت کوو) ناليدې وګڼله. حضرت ابوبکر (رض) وويل: زه مو خير غواړم، صلاح مو په دې کې ده، چې له دې دوو تنو (عمر يا ابوعبيده رض) يو تن خلافت ته وټاکئ، چې هر يو تن غواړئ، بيعت ورسره وکړئ.

حضرت عمر (رض) وويل: خدای ته پناه وړم، چې ستا په شتون کې خليفه شم، لاس دې راکړه، چې بيعت درسره وکړم[1]

## لومړنی بيعت کوونکی

چې بشير بن سعد (رض) وليدل، چې هغه درې تنه له علي (رض) سره بيعت نه کوي؛ نو پوه شو، چې هرومرو به بيعت وشي؛ نو و يې غوښتل د لومړي بيعت کوونکي وياړ يې پر برخه شي؛ نو يې وويل: محمدصلی الله عليه و آله له قريشو څنې و او ميراث ته يې خپلوان وړ دي له ځايه راپاڅېد او لومړی تن و، چې له حضرت ابوبکر (رض) سره يې بيعت وکړ.[2]

د يادونې وړ ده، چې وروسته دا بشير انصاري و، چې معاويه ته ورغی او د علي د دښمنانو په ليکه کې ودرېد.

**د خليفه نصب او ورسره بيعت**

چې د (اوس) ټبر د خزرج د ټبر د مشر (سعد بن عباده) (رض) دريځ وليد او د هغو درېيو تنو مهاجرينو پر دريځ هم خبر شول او و يې ليدل، چې د انتظار پر خلاف وضعيت رامنځ ته شوی؛ اسيد بن حضير (رض) و موند چې ژر به حضرت ابوبکر (رض) خليفه شي؛ نو خپلو ملګرو ته يې وويل: راپاڅئ او بيعت ورسره وکړئ.

په پايله کې د (اوس) ټبر بيعت وکړ، د (خزرج) ټبر هم، چې د بيعت له وياړنې بې برخې شوی نه وي، له حضرت ابوبکر (رض) سره يې بيعت وکړ.

---

[1] الامامة والسياسة ٨ – ٩ مخونه.

[2] الامامة والسياسة ٨ – ٩ مخونه.

**د همکارۍ بدله:**

بشير بن سعد (رض) د خليفه له نژدې مشاورينو څنې شو او حضرت ابوبکر او عمر (رض) ته يې وويل، چې سعد بن عباده (رض) مه وژنئ.

اسيد بن حضير (رض) (که دا تعبير سم وي) د داخلي امنيت د ځواک بولندوی شو، حضرت عمر (رض)، چې د يوې ډلې په مشرۍ د بني هاشمو، زبير بن عوام (رض) او هغوی چې له بيعته يې سرغړولی و، بيعت اخستو ته ورغی؛ نو په دې چار کې اسيد بن حضير يې مرسته وکړه او هغوی يې په زوره له خپلو کورونو راوويستل، په دې چار کې سلمة بن اسلم هم له اسيد سره لاسنيوی وکړ[1].

**د خبر خپرېدل او بيعت کول:**

حضرات ابوبکر، عمر او ابوعبيده (رضی الله عنهم) جومات ته ورغلل، حال داچې څينو وګړيو له حضرت ابوبکر (رض) سره بيعت کړی و، خلک هم په نبوي جومات کې وو. حضرت عمر (رض) پر خلکو غږ کړ: ولې کړی کړی ناست ياست، راپاځئ له حضرت ابوبکر (رض) سره بيعت وکړئ، ما ورسره بيعت کړی او انصارو هم بيا عثمان (رض) او اموي ملګري يې راپاڅېدل او بيعت يې وکړ، ورپسې سعد بن ابی وقاص، عبدالرحمان بن عوف او د بني زهره د قوم وګړيو ورسره بيعت وکړ. طبيعي ده، د انصارو د بيعت کولو خبر، چې خپور شو؛ نو په جومات کې ناستو انصارو هم بيعت وکړ، په تېره داچې ليدل يې، چې بشير بن سعد، اسيد بن حضير او سلمة بن اسلم داسې فعاليتونه کوي، چې ته وا د نوي حکومت غړي دي.

خو علي، عباس او بني هاشم (رضی الله عنهم) خپلو کورونو ته ستانه شول. زبير بن عوام (رض) هم له بني هاشمو سره و. حضرت عمر بن خطاب (رض)، چې د خليفه د مرستيال او نايب ونډه يې درلوده، له يوې ډلې ملګرو سره، چې اسيد بن حضير او سلمة بن اسلم هم پکې وو، بني هاشم يې په زور بيعت ته له خپلو کورونو راوايستل. هغوی چمتو وو، که لازم شول؛ نو د جناب نبي مکرم د لور (فاطمة الزهرا) کور، چې بني هاشم پکې راټول شوي وو، وسوځوي؛ خو خدای يې کور وساته.

په کور کې راټول شويو، چې خس وليدل او حضرت عمر (رض) يې هوډمن و موند، چې کورته اور اچوي، له ناچارۍ راووتل او بيعت يې وکړ. موږ د فاطمې د کور سېځلو پېښنه په څو ځلو جوته کړې، چې پوه شئ، دا د حيرانتيا نه ده؛ ځکه فاطمه خو له خپل پلار محمد رسول الله صلی الله عليه و آله څخه څه ستره او اوچته نه وه، چې عمر (رض) پېغمبر صلی الله عليه

[1] الامامة والسياسة تر ۹ مخ وروسته.

و آله د لیک له کښلو منع کړ، پیغمبر یې په (پرتو) ویلو تورن کړ او پوښتنې کېدې، چې ایا پرتې وایي؟

## د پیغمبر د ځایناستي او نوي رژیم ترمنځ نا انډوله مخامخېدنه

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله تر رحلت وروسته، علي کرم الله وجهه د پیغمبرصلی الله علیه و آله ځایناستی له ټولو امکاناتو او ځواکه بې برخې شو او په زور یې ابوبکر (رض) ته راوست. علي وویل: (زه د خدای بنده او د رسول الله ورور یم) خو هغوی د علي دې خبرې ته څه توجه نه کوله او ویل یې چې بیعت وکړه. علي وویل: ( تر تاسې خو زه خلافت ته وړ یم او درسره ښایي له ماسره بیعت وکړئ، تاسې د پیغمبرصلی الله علیه و آله د خپلوۍ په استدلال له انصارو خلافت واخست او اوس یې له موږ اهلبیتو په زور اخلئ؟ اوس زه هماغه دلیل تاسې ته وایم، چې موږ د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله پر ژوندوني او مرگ تر هر چا ورته وړ یو؛ نو که ایمان لرئ، په انصاف راسره وچلئ، که نه په لوی لاس به مو تېری او ظلم کړی وي).

نوي رژیم ته لازمه نه وه، چې د علي کرم الله وجهه دا خبره رد کړي؛ خو حضرت عمر (رض) سمدستي علي کرم الله وجهه ته وویل: چې بیعت و نه کړې، نه دې پرېږدو. علي: کرم الله وجهه ورته وویل:

د خلافت (دغوا) تیونه ولوشه، چې یوه برخه به یې ستا شي، نن یې د ابوبکر (رض) کار وکړه، چې سبا یې درکړي. بیا یې وویل: عمره! خبره دې نه منم او بیعت درسره نه کوم. بیا ابوعبیده جراح، حضرت علی کرم الله وجهه ته وویل: د تره زویه! ته ځوان او کشر یې او دوی د قوم مشران دي. ته د دوی تجربه نه لرې او په څېر یې چارې نه پېژنې. گومان کوم، چې تر تا ابوبکر په خلافت کې غښتلی او زغمناک دی.

اوس له ابوبکر سره بیعت وکړه، که عمر و؛ نو په فضیلت، دین، پوهې او له پیغمبرصلی الله علیه و آله سره د خپلوۍ له پلوه خلافت ته وړ یې.

علي کرم الله وجهه وویل: (مهاجرینو! له خدایه ځان وساتئ، د محمد صلی الله علیه و آله واکمني له کوره یې مه باسئ او خپلو کورونو ته یې مه وړئ او اهل بیت یې چې په ټولنه کې له کوم مقامه برخمن دي، مه څنډې ته کوئ او له خپل مسلم حق یې مه بې برخې کوئ. مهاجرینو! پر خدای قسم، زه تر نورو خلافت ته وړ یم، هغه په موږ کې دی، چې د کتاب الله پاسوال دی، په دین کې فقیه، د رسول اکرام په سنتو پوه، زغمناک، د امت پر مصالحو پوه، له

امته د بدیو او سختیو لرې کوونکی او پر عدالت ویشوونکی دی. په ځاني غوښتنو پسې مه ځئ او د خدای له لارې مه کږیږي؛ ځکه تر دې به هم له حقه لرې شئ[1])

**د انصارو د لومړي بیعت کوونکي قضاوت:**

ښکاره ده، چې نوي رژیم د امام د پخو دلایلو پر وړاندې څه ځواب نه درلود.

بشر بن سعد (رض)؛ یعنې لومبې تن، چې له حضرت ابوبکر رض) سره یې بیعت کړی و او د امام په دې خبرو اترو کې حاضر و، وویل: که انصارو له حضرت ابوبکر (رض) سره تر بیعت وړاندې ستا دا خبرې اورېدلې وای؛ نو ان دوو تنو هم ستا د بیعت په هکله درسره اختلاف نه کاوه او ټولو بیعت درسره کاوه[2].

**سیاسي خوځښت:**

علي کرم الله وجهه به شپه فاطمة الزهرا پر سپرلۍ سپروله او انصارو ته به یې بوتله، چې مرسته ترې وغواړي، انصارو زهرا ته ویل: موږ له دې سړي سره بیعت کړی، که ستا مېړه او د تره زوی دې تردې وړاندې موږ ته راغلی وای؛ بیعت مو ورسره کاوه. او علي ویل: ایا لازم وو، چې جناب نبي مکرم مې یې په کور کې پرېښی وای او پر تکفین او تدفین یې لګیا نه وای او د خلافت د شخړې لپاره دباندې راوتلی وای. او فاطمې وویل: له ابوالحسن سره چې څه ښاییدل و یې کړل. خدای د نورو د چارو پوښتونکی دی او حساب به ورسره وکړي.[3]

امام علي هملته پوه شو؛ لکه چې څنګه جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله خبر کړی و، امت غولېدلی دی.

**د وژنې ګواښ**

مخکې هم وویل شو، چې نوې واکمنۍ ګواښ وکړ، هغه کسان، چې له علي کرم الله وجهه سره د فاطمې په کور کې راټول شوي، که دباندې راونه وځي، کور به له اوسېدونکیو سره وسوځوي. حضرت عمر (رض) چې دغسې ګواښ کړی و، ورته وویل شول: فاطمه په کور کې ده. و یې ویل: که څه فاطمه پکې وي!!!

بیا نو چې کورمېشتي پوه شول، حضرت عمر (رض) د کور سوځونې ټینګ تصمیم نیولی، له کوره راووتل او په زور یې بیعت وکړ؛ خو علي بیعت ونه کړ.

---

[1] الامامة والسیاسة ۱۱ – ۱۲ مخونه.

[2] الامامة والسیاسة ۱۱ – ۱۲ مخونه.

[3] الامامة والسیاسة ۱۱ – ۱۲ مخونه.

فاطمه (رض) د کور پر وره ودرېده او عمر (رض) او ملګرو ته يې وويل: تر تاسې مې ناوړه خلک ليدلي نه دي، درسول الله صلی الله عليه و آله جنازه مو راته پرېښووه او پخپلو کې مو بې زموږ له مشورې خليفه وټاکه او حق مو رانه کړ.
بيا ابوبکر (رض) په علي کرم الله وجهه پسې يو تن ولېږه، چې ورشي؛ خو علي ولاړ نشو.
بيا حضرت عمر (رض) راپاڅېد او له يوې ډلې سره د فاطمې (رض) کورته ورغلل او ور يې وواهه، چې فاطمې (رض) يې غږ واورېد، په لوړ غږ يې وويل:
ای پلاره! ای رسول الله! تر تا وروسته پر موږ د عمر بن خطاب او ابی قحافه د زوی له لاسه څه راغلل او څومره کړاوونه مو وګالل؟! ډلې چې د فاطمې (رض) چغې او ژړاګانې واورېدې، په خپګان او ژړا ستانه شول؛
خو عمر (رض) چې سخت زړی و، له يو شمېر کسانو سره يې مقاومت وکړ، علي کرم الله وجهه يې له کوره راوايست او ابوبکر (رض) ته يې راوست او ورته وويل شول: بيعت وکړه.
علي وويل: څه به وشي، که بيعت و نه کړم؟ وويل شول: پر هغه خدای قسم، چې يوازې د نمانځنې وړ دی، غاړه دې پرې کوو.
علي کرم الله وجهه وويل: نو په دې حال کې خو به مو د خدای بنده او د رسول الله ورور وژلی وي. عمر (رض) وويل: د خدای بند هو؛ خو د رسول الله صلی الله عليه و آله ورور نه (يعنې ته د رسول الله ورور نه يې، سره له دې چې له جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله سره د علي وروري جوته ده) بيا حضرت عمر (رض) ابوبکر (رض) ته وويل: په هکله يې څه امر نه کوې؟ ابوبکر (رض) وويل: چې تر هغې فاطمه ورسره وي، په زور پرې څه کړای نشم. بيا علکرم الله وجهه د رسول الله صلی الله عليه و آله له قبره لاسونه راتاو کړل او په چغو يې وژړل او و يې ويل: يابن ام ان القوم استضعفوفی وکادوا يقتلونني؛ ای د خپلې مور زويه! دې قوم کمزوری کړم او نژدې وو، چې مې ووژني).

## د فاطمې (رض) پخلاینې ته هڅې

د فاروق او صديق تر ډېر ټينګار وروسته، فاطمة الزهرا (رض) ورته د ليدو اجازه ورکړه، فاطمې (رض) ورته وويل: پر خدای قسم درکوم، چې ايا اورېدلي مونه دي، چې جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله وويل: د فاطمې خوشحالي، زما خوشحالي ده او چاچې فاطمه خوشحاله

کړه؛ نو زه يې خوشحاله کړی يم او چې چا فاطمه غوسه کړه؛ نو زه يې غوسه کړی يم؟) ويل شول: هو.
فاطمې (رض) وويل: (اوس نو خدای او پرښتې گواهانې نيسم، چې تاسې دواړو غوسه کړې يم او خوشحاله کړې مو نه يم، چې پيغمبر مې وليد، ستاسې له لاسه به ورته شکايت وکړم).
د فاطمې (رض) تر خبرو وروسته ابوبکر (رض) په لوړ غږ وژړل او فاطمې (رض) ادامه ورکړه: (پر خدای قسم، په ټولو لمونځونو کې به درته ښېرې کوم) او ابوبکر (رض) په ژړا راووت[1].

## د ابوبکر (رض) هوډ

چې حضرت ابوبکر (رض) د فاطمې رضی الله عنهما له کوره راووت، خلک پرې راټول شول، حضرت ابوبکر (رض) ورته وويل: تاسې هر يو د شپې له خپلې مېرمنې سره په خوشحالۍ سملئ او زه مو په دې مهم چار کې ځانته پرېښی يم، زه ستاسې بيعت ته څه اړتيا نه لرم، خپل بيعت بېرته واخلئ.
طبيعي ده، چې شاوخوا يې بايد دا هوډ و نه مني او لاملونه ورته وتوږي[2].
نوي واکمني، چې پر اوضاع مسلط شوه، د پيغمبر خليفه يو عادي وگړی شو، چې هېڅ ځانگړی حق ورته نه و، واکمن غونډال ځان ته نژدې کولای او لرې کولای شو. هو، واکمن نظام په غلبه، د واقعي حق خاوند شوی او په دې توگه د علي خلافت (چې خدای اور سول ورکړی و) ضايع شو او له واکمن نظام سره مقابله شونې وه، چې د سرغړونې تور پرې ولگوي، چې د نظام د مشرانو پر ضد يې شورښ کړی او غواړي خلافت يې له وړو واخلي او له علي کرم الله وجهه سره بې له اهل بيتو نور څوک نه وو، پر هغه مهال، خپل حالت داسې انځوروي: (و مې کتل چې (د خپل حق اخستو لپاره) بې له اهل بيتو مې نور هېڅوک راسره نشته، پر مرگ يې راضي نه وم، له خاشاکو ډکې سترگې مې وتړلې او په هماغه ستوني مې د پيښو گوټ تېر کړ، چې هډوکی پکې نښتی و او د غوسې په زغملو مې تر مړغونې تريخ صبر وکړ[3].
حضرت علي کرم الله وجهه يوه ورځ وويل: خدای دې قريشو ته د خپلو کړنو سزا ورکړي، د خپلوۍ اړيکه او پيوند يې راسره پرې کړ او زما د مور د زوی (پيغمبر) واکمني رانه واخسته[4] علي ډاډمن دی چې پر حق دی.

---

[1] الامامة والسياسة ۱۱ – ۱۲ مخونه.
[2] الامامة والسياسة ۱۱ – ۱۲ مخونه . النظام السياسي فی الاسلام.
[3] نهج البلاغي ۲۶ خطبه.
[4] نهج البلاغه ۳۶ خطبه.

(او په بل ځای کې وايي: ) قريش له ماسره په مبارزه او زما د حق په غضب کې همغږي شول، يو چا راته وويل: ( د ابوطالب زويه ) ته خلافت ته خورا حريص يې، ورته مې وويل: سره له دې چې تاسې له پېغمبره لرې ياست؛ خو ډېر ورته حريص ياست؛ (خو ) زه ورته وړ او نژدې يم او يوازې خپل حق غواړم او تاسې زما او زما حق ترمنځ خنډېږئ، پر خدای قسم، له هغې ورځې، چې پېغمبر وفات شوی، حق مې رانه واخستل شو.[1]

علي بې د خپل حق له ساتلو بله چاره نه درلوده او په عين حال کې پر هغه هم نيوکه وکړي او غاړه پرې خلاصه کړي، چې حق يې ترې اخستی او بل ته يې ورکړی و؛ خو د نيوکې ډول يې داسې وي، چې د مسلمانانو يو والی له منځه ولاړ نشي او داسې فتنه ترې راولاړه نشي، چې دښمن ترې ګټنه وکړي؛ نو ځکه کورمېشتی شو، تردې چېه زور يې له کوره راوايست او که پخپله په هغوی پسې تللی وای؛ نو د ځان د حقانيت لپاره يې څه دليل راوړای نشو او لارويانو يې هم څه دليل نه درلود.

خو علي د دين پاسوالي او د (خپل حق د ساتنې) ترمنځ يو تړاو رادبر کړ؛ نو ځکه يې د اسلام د ساتنې او د دښمنانو د دفع لپاره، شخړه پرېښووه او د جوړ جاړي لار يې ونيوه؛ يعنې: د امت دساتنې، د احتياط په پام کې نيوو او شرعي او عقلي دندو پرځای کولو لپاره يې (اهم) پر (مهم) ړومبی وګاڼه او له چارواکيو سره يې جوړ جاړی وکړ[2].

## د علي پرخلافت د قريشو د خپګان لامل

د قريشو خپګان د جاهليت په زمانه کې د هغوی په سياسي روزنه کې متولای شو؛ ځکه نظام يې يو سهامي شرکت و، چې هرې کورنۍ پکې ونډه درلوده او له سياسي امتيازه برخمنه وه.

په ټولنه کې هاشمي نبوت راڅرګند شو او د قريشو سياسي نظام يې دړې وړې کړ. سره له دې چې ددې پېغمبرۍ دمنځه وړو لپاره يې خورا هڅې وکړې؛ خو د هاشمي کورنۍ نبوت يو تقدير و، چې د تېښتې لار ترې نه وه او له ناچارۍ ورته غاړه کېښووه. بني هاشمو په يوازېتوب د نبوت مقام ترلاسه کړ او خاوندان يې شول. د خدای رسول، پر ژوندونې د خدای په امر علي کرم الله وجهه خپل ځايناستی او د خلکو مشر کړ؛ ځکه تر ټولو پوه، غوره او داسلام د بېړۍ چلولو ماڼو والي ته وړو.

---

[1] نهج البلاغه ١٧٢ خطبه.

[2] شرف الدين عاملي، المراجعات ٣٣٢ – ٣٣٤ مخونه. النظام اسياسي فى الاسلام ٣٣ مخ .

**له پېښېدونکي چار ډار:**

که له علي سره د پېغمبر صلی الله علیه و آله د خلیفه په توگه بیعت شوی وای؛ نو بیا خو بني هاشم د نبوت او خلافت دواړو خاوندان کېدل او له گردو امتیازاتو برخمنېدل او نور قریشو ته څه امتیازات نه پاتې کېدل او دا هغه څه وو، چې د قریشو په کچو د منلو وړ نه وه او په هېڅ بیه یې ورته غاړه نه اېښووه.

**عادلانه وېش:**

بني هاشمو ځانته د نبوت مقام ځانگړی کړ او یوې قریشي کورنۍ پکې گډون نه درلود او په راتلونکې کې هم داسې یو څیز ناشونی دی، نبوت یو داسې شرافت دی، چې ور پورته پرې بل نشته، اوس چې بني هاشم او قریش سره ورونه او برابر دي؛ نو څه ممانعت دی، چې د قریشو نورې کورنۍ خلافت ځانته ځانگړی کړي او یو هاشمي هم له ځان سره پکې گډونوال نه کړي؟

دا ډول ویشنه د حل یوازېنۍ لار او عدالت ته د ورسېدو نژدې لار ده؛ (نبوت) دې یوازې د بني هاشمو وي؛ خو بې د قریشو له گډونه او (خلافت) دې یوازې د قریشو وي؛ خو بې د بني هاشمو له گډونه.

**د قریشو خېلونه د یوې کورنۍ په څېر دي:**

له دې ځایه د تاریخ په اوږدو کې د قریشو د ټولو خېلونو د یوې ډلې (او کورنۍ) په څېر وچلېدل، داسې چې یوې کورنۍ پر بلې غوراوی نه درلود؛ ځکه موخه یې یوه وه او هغه داچې بني هاشم دې خلافت ته ونه رسي.

د بني ساعده و په څېرگي (سقیفه) کې حضرت ابوبکر (رض) انصارو ته وویل: زه خیر غواړم، ستاسې مصلحت په دې کې وینم، چې عمر یا ابوعبیده پر خلاف وټاکئ او چې کوم مو خوښ وي، بیعت ورسره وکړئ.

حضرت عمر (رض) وویل: خدای ته پناه وړم، چې ستا په شتون کې خلیفه شم[1].

ښکاره ده، چې د ابوعبیده هم همدا دریځ و، ددې درېیو تنو ترمنځ څه توپیر نه و، ټول سره ورونه او د یوې کورنۍ وو؛ خو چې انصارو وویل:

موږ یوازې له علی کرم الله وجهه سره بیعت کوو، درې واړو یو ځای داخبره ومنله[2].

[1] الامامة والسیاسة ۹ مخ.

[2] الامامة والسیاسة ۹ مخ.

هغه مهال چې حضرت ابوبکر (رض) له خلافته د ګوښه کېدو هوډ وکړ، ټول قریش یې مخې ته شول او له دې کاره یې منع کړ[1].
د علي کرم الله وجهه خبرو ته پام وکړئ: خدای دې قریشو ته د خپلو کړنو سزا ورکړي، زما د خپلوۍ اړیکه یې پرې کړه او د خپلوۍ ملحوظات یې په پام کې و نه نیول او زما د ورور میراث یې رانه واخست[2].
بل ځل وایي: خدایه! پر قریشو او مرستندویانو یې د برلاسۍ لپاره درنه مرسته غواړم، هغوی د خپلوۍ اړیکه پرې کړه؛ زما خپلوي یې نالیدلې وګڼله، زما مقام ته یې ټیټ وګڼل او زما د مسلم حق پر وړاندې یې په یوه خوله دښمني راسره وکړه[3].
هغه مهال چې ابوبکر (رض) تصمیم ونیو، چې خپل ځایناستی وټاکي، وصیت پاڼه یې عثمان (رض) ولیکله:
ابوبکر (رض) وویل: ولیکه او ددې کلمې تر ویلو وروسته بې هوښه شو. عثمان (رض) پخپله ولیکل: ما عمر بن خطاب خپلې ځایناستۍ ته ټاکلی دی او ادعا نه کوم، چې یو غوره تن مې درته ټاکلی دی. چې خلیفه په هوښ راغی، عثمان (رض) ته یې وویل: لیکلي دې راته ولوله.
....
ابوبکر (رض) وویل: که د عمر پر ځای دې، خپل نوم هم لیکلی وای، دې مقام ته وړ وې.
(معلومېږي، چې) په مطلق ډول د حضرت عمر (رض) او حضرت عثمان (رض) ترمنځ کوم توپیر نشته؛ ځکه دواړه وروڼه او له یوې (قریشي) ډلې وو او عمر (رض) تر خپل مرګ لږ وړاندې وویل: که ابوعبیده جراح ژوندی وای، هغه مې درته خلیفه کاوه، که معاذ بن جبل یا خالد بن ولید یا سالم د ابو حذیفه مریي وای؛ نو یو مې در ته خلیفه کاوه.
څرګندېږي، چې د ابوعبیده او خالد ترمنځ توپیر نشته، دواړه قریشي دي او موخه یې یوه ده، که معاذ خلیفه کړي، بیا هم خنډ نشته، که څه انصاري دی او (مخکې) روانه وه، چې انصاري خلیفه شي؛ ځکه په هغه وخت کې د عمر (رض) له نظره هغه څوک خلیفه کېده، چې د پیغمبر له قوم او ټبره وي، څه ممانعت خو نشته، چې د سالم په څېر یو مریی هم خلیفه شي؛ خو مهمه دا ده، چې له بني هاشمو په ټبره علي خلیفه نشي.

---

[1] طبري تاریخ ۳: ۱۹۸ مخ. ابن ابی الحدید د نهج البلاغې شرح ۲: ۲۶۵ مخ.
[2] د نهج البلاغې شرح ۳: ۶۷
[3] د نهج البلاغې شرح ۲: ۱۰۳ مخ او ۱: ۳۷ مخ.

پر هغه ورځ چې شورا د عمر (رض) د ځايناستي په اړه خبرې کولې؛ نو طلحه (رض) غايب و او که (په ظاهر کې) علي هم د شورا غړی نه وای؛ نو په چارو کې څه ځند نه راتله او نه يې څه ستونزه پيدا کوله او سمدستي يې له عثمان (رض) سره بيعت کاوه.
عثمان (رض) پخپله له عمر (رض) او ابوعبيده (رض) څخه وروسته لومړی تن و، چې له انصارو يې صديق ته بيعت واخست. عثمان (رض) هغه و، چې د ابوبکر (رض) د وصيت ليکلو پر مهال يې وليکل: ما عمر خپل ځايناستی کړ، هغه يوازينی تن و، چې د عمر (رض) د خلافت وړانديز يې وکړ. د عمر (رض) په زمانه کې د عثمان (رض) نوم په خولو کې و، چې د عمر (رض) ځايناستی دی. که څوک د عمر (رض) په وصيت پانه کې ځير شي؛ نو ورڅرگنديږي، چې په هره بڼه عثمان (رض) گټله.
چې طلحه (رض) غوندې ته را ستون شو؛ نو عثمان (رض) اعلان وکړ، که طلحه (رض) يې مني؛ نو زه چمتو يم، چې پرگټه يې ځنډې ته شم. ولې دا چار و نه کړي؟ ټول ورونه دي او يوه موخه لري، چې بني هاشمو ته فرصت په لاس ورنشي، چې نبوت او خلافت دواړه ورسره وي؛ بلکې څه خنډ نشته، چې عبدالله بن عمر، تر خپل پلار وروسته خليفه شي، يو شمېر کسانو پخپله عمر (رض) ته سپارښتنه وکړه: اميرالمؤمنينه! عبدالله خليفه کړه؛ ځکه وړ يې دی.
په واقع کې گرد سره قريش يوه کورنۍ ده او له آره يو له بل سره څه توپير نه لري.

## بني هاشم له ټولو سياسي حقوقو بې برخې شول

قريشو د علي او اسلامي دولت د رياست ترمنځ يوازې پر بېلتون بسياينه و نه کړه؛ بلکې بني هاشم يې له سياسي او دولتي چارو منع کړل، ابوبکر، عمر، عثمان (رضی الله عنهم) يو بني هاشم هم پر کارونه گوماره[1].
عبدالرحمان بن عوف (رض)، چې د شپږ تنيزې شورا غړی او د غوراوي او لومړيت کچه وه، علي ک ته وويل: په دې شرط درسره بيعت کوم، چې يو بني هاشم به هم پر دولتي څوکۍ نه گومارې.
علي کرم الله وجهه ورته وويل: چې خلافت راپرېږدي؛ نو نه ښايي په دې چارو پورې څه کار ولرې؛ زه بايد امت ته هڅه وکړم، په چا کې مې چې استعداد، وړتيا، رښتينتوب او امانت وليد، د اسلام د گټې لپاره ترې مرسته غواړم، که بني هاشم وي که نور.
عبدالرحمان بن عوف (رض) وويل: قسم پر خدای، چې دا شرط و نه منې، بيعت درسره نه کوم. علي کرم الله وجهه وويل: پر خدای قسم، زه که دا شرط نه منم[2]؛ يعنې د عبدالرحمان د خبرې مانا داده، چې خليفه نه ښايي له بني هاشمو څوک وگوماري، که څه قوي مدير او سمکاری وي او دا د بې برخې کېدو وروستی بريد دی او عبدالرحمان بن عوف په خورا ځير او احتياط د عمر (رض) وصيت پلی کاوه.

## ولې يې بني هاشم پر چارو نه گومارل؟

دا پوښتنه پخپله فاروق ځوابوي. يوځل يې هوډ ونيو، چې ابن عباس پر يو چار وگوماري؛ خو شکمن شو او له خپل شکه يې ابن عباس هم خبر کړ، ابن عباس ترې وپوښتل چې ولې ترې ډارېږې؟ او ولې شکمن يې؟
فاروق وويل: د عباس زويه! ډارېږم، چې مرگ مې راورسي او ته پر کار وسې.
او خلک ځان ته رابولې او بې له تاسې نور څوک درپسې در نشي[3].

---

[1] الامامة والسياسة ٢٤ مخ .
[2] الامامة والسياسة ٢٦ مخ.
[3] مروج الذهب ٢: ٣٥٣ – ٣٥٤ مخونه. پوره متن يې د مرجعيت په باب کې ويل شوی دی .

ددې خبرې مانا داده، چې عمر (رض) ځان ډاډمنوي، چې ان تر مرګ وروسته يې هم خلافت علي يا کوم هاشمي ته ورسي او دا هغه دوديز شعار ته پابندي وه، چې يې وويل: (نه ښايي له بني هاشمو سره دې نبوت او خلافت دواړه وي.).

**پټ راز، رابرسېرېږي:**

قريشو په خپلو کې يو بهرني ويش وکړ، چې نبوت يې بني هاشمو ته ځانګړی کړ او هېڅوک به ورسره برخوال نه وي.

د ويش له مخې، خلافت په قريشي خېلونو پورې ځانګړی شو، چې په خپلو کې يې لاس په لاس کړي او يو بني هاشم هم پکې برخوال نه وي او ګومان يې کاوه، چې دا يو عادلانه ويش دی. دوی په يوه خوله وو، چې بني هاشمو ته دې فرصت ورنه کړای شي، چې نبوت او خلافت دواړه ورسره وي؛ خو نه پوهېدل، چې دا ويشنه ټول قريشي خېلونو مني که نه؟ او هم د نقشې په عملي کولو هم نه پوهېدل؛ ځکه قريش تر نورو وروسته مسلمانان شوي وو او په اسلام کې د ړومبېتوب له وياړنې بې برخې وو؛ نو طبيعي ده، چې تر نورو وروسته پاتې وو. قريش په خپل چار کې حيران او سرګردان وو، نه پوهېدل څه وکړي، د قريشو لايق زوی عمر بن خطاب راښکاره شو او د قريشو د زړه خواله يې را برسېره کړه او ددې مفکورې شرعي والی يې لاسليک کړ او په حق ورسره ښايي چې د (قريشو نېکچاری زوی) دی.

عمر (رض) وکړای شو، چې پېغمبر (رض) په دې پلمه د ليک له ليکلو منع کړي، چې د رسول الله صلی الله عليه و آله ناروغي سخته شوې او د خدای کتاب (قرآن) په يوازې ځان راته بس وی او د پېغمبر ليکنې ته څه اړتيا نشته.

ياران او پلويان يې هغوی وو، چې د هغه نظر يې تثبيت کړ او ددې نظريې په تاييد د منځلاري له پولې ووتل او ان تر دې چې رسول الله ته يې وويل: د خدای رسول پرتې وايي، پخپله ترې وپوښتئ، چې پرتې وايي؟ او له هغوی سره يې په شخړه لاس پورې کړ، چې د رسول الله خبره يې تاييدوله، قريشو په دې پوره ډاډمن وو، چې فاروق د رسول الله د وصيتپاڼې له ليکلو خبر دی؛ نو ځکه يې ځان ته ددغسې چارو جرائت ورکړ.

عمر (رض) د خورا ځيرک او غښتلي ليد خاوند و او پوه شوی و، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله هوډمن دی، چې د علي ولايت او وصايت تجديد او تاييد کړي؛ نو ځکه يې د ليکلو خنډ شو، په دې پلمه، چې پېغمبرصلی الله عليه و آله سخت ناروغ دی او داسې يې صلاح وليده، چې سمه نه ده، چې رسول الله په دې سخته ناروغۍ کې وصيت وليکي؛ خو پخپله عمر (رض) دا نيوکه په ابوبکر (رض) و نه کړه، چې د سختې ناروغۍ په حال کې يې (چې ناروغي يې تر پېغمبره سخته وه) وصيت وکښه.

دا چې عمر (رض) پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله د لیک لیکلو ته پرېنښود؛ نو دا یوه څرګنده پېښه ده، چې هېڅوک ترې منکرېدای نشي.

همدغسې، ابوبکر او عمر (رض) دواړه د ناروغۍ په حال کې وصیت وکښه او دا مساله هم د عمر په څېر څرګنده ده، چې دا دواړه وصیتپاڼې د اسلام په تاریخ کې د خلافت د نظام بنسټ شوې.

**د فاروق اعتراف:**

یوه ورځ حضرت عمر (رض) له حضرت ابن عباس (رض) سره خبرې اترې کولې او ورته یې وویل: د تره زوی دې څنګه دی؟ ابن عباس وایي: ګومان مې وکړ، چې مطلب یې عبدالله بن جعفر دی؛ نو ومې ویل: له همزولیو سره لوبې کوي.

- هغه نه ښیم، مطلب مې ستاسې د اهل بیتو مشر دی.

- له څاه بوکې راباسي او په هماغه حال کې قرآن هم وایي.

عبدالله! د اوښانو وینې دې ستا پر غاړه وي، چې درنه ستا د تره زوی په اړه پوښتم او درښتیاوو ځواب یې رانه کړې او حقیقت رانه پټ کړې. ایا په زړه کې خلافت ته لېوالتیا شته؟

هو.

ایا ګومان کوي، چې رسول الله خلافت ته ټاکلی دی؟

تر دې زیات درته ووایم، له خپل پلاره مې پوښتل، چې علي ادعا کوي، چې د پیغمبرصلی الله علیه و آله د نص له مخې، خلیفه دی. پلار مې وویل: علي رښتیا وایي.

(هو) د هغه په شان کې د رسول الله مهمې او اوچتې خبرې شته، چې کوم څیز ورته نه جوتوي او څه پلمه (او عذر) له منځه نه وړي (او یوازې یې د عظمت په اړه دي او بس).

کله کله رسول الله، خلک د علي په اړه ازمېیل، هوډ یې درلود، چې د ناروغۍ په حال کې نوم یې څرګنده کړي او خلافت یې په ډاګه اعلان کړي، چې زه یې مانع شوم او پرېمېنښود (٤).

**د شعار په وفا کې افراط:**

فاروق نه یوازې په خپله واکمنۍ کې په دې شعار (نه ښایي چې له بني هاشمو سره دې نبوت او خلافت دواړه وي) قانع نشو؛ بلکې ټولې هڅې یې وکارولې، چې تر مرګ وروسته یې همدا لیکه وځغلي؛ څکه ډېر حریص و، چې تر مرګ وروسته یې د اسلامي دولت ریاست علي یا کوم بل هاشمي ته ونه رسي، همدغسې په دې هم حریص و، چې یو هاشمي دې هم بیخي پر دولتي څوکۍ ونه ګومارل شي، که څه وړ او کارپوه وي.

په شپږ تنیزه شورا کې، چې عبدالرحمان بن عوف (رض) کوم شرط وړاندې کړ، چې بني هاشمو ته به څوکۍ نه ورکوې؛ نو دا خو یې خپله خبره نه وه؛ بلکې د عمر (رض) وصیت یې ټکی په ټکی عملي کاوه.
موږ دا مطلب په بیا بیا ویلی او دا دریغ له دې شعار (چې نه ښایي نبوت او خلافت دې د بني هاشمو وي) سره تر وروستي بریده وفا ده او دا شرط یوازې بني هاشمو ته و نه نورو ته.

**ایا دا یو الهي شعار و؟**

دا شعار له هر لوري یو جاهلي شعار و؛ لکه چې په څو ځلو مو جوت کړی دی، نه خدای پرې امر کړی، نه یې استازي او نه یې د اسلام دین مني. دا شعار له هغو نصوصو سره په ټکر کې دی، چې علي یې د پېغمبرصلی الله علیه و آله د ځایناستي په توګه معرفي کړی دی او هم له هغو نصوصو سره په مخالفت کې دی، چې له اهل بیتو لاروي وکړئ او اهل بیت یې یو له ثقلینو څخې ښوولي، چې پېغمبرصلی الله علیه و آله راته پرېښي دي، د ژغورنې بېړۍ او د خدای ګوند دی او له اختلافه د امت ساتندویان دي.
دا شعار له دې سره هم په ټکر کې دی، چې شرافت او ریاست یوازې د (محمد او آل محمد) دی او پردې حقیقت د ټینګار لپاره خدای په هر فرض لمانځه کې درود پرې د لمانځه له ارکانو څخې ګڼلی دی.

**فاروق ولې په دې شعار پسې و؟**

دا ځکه چې فاروق پخپل ګومان انګېرله که نبوت له بني هاشمو سره او خلافت له نورو قریشي کورنیو سره وي؛ نو دا یوه عادلانه ویشنه ده او که قریش دا ویشنه عملي کړي؛ نو ژغورل شوي، موخې ته رسېدلي او په ژوند کې بریالي دي، چې ددې موضوع په هکله مخکې مو معلومات ورکړی دی او بل داچې د بني هاشمو د تېري مخه به ونیول شي؛ ځکه که له بني هاشمو سره نبوت او خلافت دواړه وي، دا یې د ظلم لامل کېږي او پایله یې، پر نورو قریشو د بني هاشمو تېری دی، په اسلام کې ظلم نشته او اسلام له ظلم سره مخالف دی؛ خو په تېره علي تر نورو کشر دی او تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وروسته د مسلمانانو د ولایت او مشرۍ صلاحیت نه لري.
د تېرو علتونو له مخې، چې مو وویل او پر اسلام د فاروق زړه سوی او حرص ددې لامل شول، چې دا شعار یې بنسټیز کړ او په اخلاص یې د هغه په پرمختګ کې هڅه وکړه. سره له دې چې پوهېده، دا شعار د نصوصو او ادله و له ظواهرو سره په ټکر کې دی او دا یې هم له دې امله وو، چې ظواهرو ته یې څه اهمیت نه ورکاوه؛ بلکې واقعیتونو او د چارو پایلو ته یې سوچ او فکر و.

**له اهل بیتو سره د فاروق چلن:**

حضرت عمر (رض) د اسلام او مسلمانانو د راتلونکې په اړه حساس و او ان چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وزیر و، څه وخت چې نبي کریم وصیتپاڼه کښله او هغه ولیده، چې دا وصیت د اسلام او مسلمانانو راتلونکې ته خذر پیدا کوي، پېغمبر اکرم پر وړاندې ودرېد او د لیکلو یې مخنیوی وکړ او یو زیات شمېر هم اندي یې پر ځان راټول کړل او له پېغمبر صلی الله علیه و آله سره مقابله یې تردې ورسوله، چې د هغه پر وړاندې یې ورته وویل: د خدای رسول مهجور شوی او پرتې وایي، ازمېښت یې کړئ، چې ایا پرتې وایي؟

فاروق د خلیفه د ټاکنې چار تر مخه پرانسته او جریانات یې شېبه په شېبه څارل، تردې چې د ټولو قریشو، بني هاشمو او د نبوي کورنۍ د مشر (علي) په غیابو کې یې خلیفه وټاکه او دا ټول یې د مسلمانانو د خیر او یووالي لپاره وکړل او داچې نبوت او خلافت دې له بني هاشمو سره نه وي، چې پر خپل قوم (قریشو) تېری وکړي؛ نو طبیعي ده، چې د فاروق ظلم ښه نه ایسېده.

فاروق د اسلامي دولت د امنیت او د مسلمانانو د یووالي په چارو کې جوړجاړی نه کاوه او له ځانه یې غبرگون ښووه. د دولت امنیت او د امت یووالی تر هر څیز اوچت دی، که پام یې شي او وپوهېږي، چې (ان ) د جناب نبي مکرم صلی الله علیه و آله د لور فاطمې (رض) کور د دولت داخلي امنیت او یا د مسلمانان یووالي ته څه خطر پېښوي؛ نو مقابلې ته یې راپاڅي او څه یې پر وړاندې خنډ نشته، چې کور او کورمېشتي وسوځوي؛ ځکه په قانون کې ټول ان فاطمه هم رانغاړلېږي. هو! فاروق په رښتیا هوډ کړی و، چې د فاطمې کور وسیځي او خس یې راوړل؛ خو داچې مخالفین له کوره راووتل؛ نو له سېځولو یې تېر شو؛ خو بیا هم فاروق، حضرت ابوبکر (رض) ته وړاندیز کوي، چې له فاطمې کره ولاړ شي او عذر یې وکړي.

(باید پوه شو چې ) فاروق د بیعت له مخالفینو سره ( چې که هر څوک و) جوړجاړی و نه کړ، ان که پخپله د پېغمبر له لوري منصوب ولي وي او هغه مهال، چې علي کرم الله وجهه له ابوبکر (رض) سره بیعت رد کړ، فاروق په مرگ وگواښه او ورته یې وویل: که بیعت و نه کړې، وژل کېږې او په عین حال کې، چاچې د خدای د ولي شان ته تیټ کتل، ویل یې: هغه مې مولا او د هر مؤمن او مؤمنې مولا دی او په ډېری چارو کې یې ورته مراجعه کول او مشوره یې ورسره کوله، ډېر وختونه یې وویل: خدایه د هغه ستونزې د رامخې کېدو ځنې پناه در وړم، چې هلته (ابوالحسن) نه وي. دا ټول مطالب مو په همدې کتاب او په خپل کتاب (النظام السیاسي فی الاسلام) کې جوت کړي دي.

فاروق پخپله شرط کېښود، چې نه باید بني هاشم پر دولتي چارو وگومارل شي او پر خلکو واکمني وکړي؛ که څه دا هاشمي وگړی امین، کارپوه، ژمن او مدیر وي او دا د هغو لارو چارو

تړل و، چې د فاروق په گومان، نه ښايي نبوت او خلافت دواړه دې له بني هاشمو سره وي، چې دا چار يې پر نورو قريشي کورنيو د تېري لامل شي.
خو له دې سره سره بيا هم په (فتوح البلدان ) کې د بلاذري د روايت له مخې، فاروق به د ډاليو ويش د پيغمبرصلی الله عليه و آله له کورنۍ پيلاوه او بيا به يې خپلې او د ابوبکر (رض) کورنيو او نورو ته ورکولې.
لنډه داچې فاروق د دين په پوهېدو او عملي کولو کې ځانته يوه ځانگړې سلفه درلوده، چې په ښکاره کولو او ويلو کې يې کوم باک نه درلود، ان که له پيغمبر صلی الله عليه و آله سره پر مقابلې هم پای ته ورسي. د حضرت ابن عباس په تعبير، د جناب نبي مکرم صلی الله عليه و آله د وفات د ورځې پېښه، ددې مطلب غوره بېلگه ده، فاروق کله چار تردې رساوه، چې په خپل اجتهادي دود يې قرآني نص هم شاته غورځاوه؛ د بېلگې په توگه دې ځای ته پام وکړئ: خدای د توبې سورت په ٦٠ ايت کې وايي: ((إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ؛ ٦٠ زکاتونه يوازې ځانگړي شوي دي: فقيرانو او مسکينانو او د زکات د راټولولو کارکوونکيو او هغوی ته چې د زړونو لاس ته راوړل يې موخه وي او(همداراز) د مريانو (ازادولو) له پوروړيو سره د مرستې او د خدای د لارې غښتلتيا او مسافر پالنې ته. دا ( زکات) يو(مهم) الهي فرض دی او خدای پوه حکيم دی.))
خدای په دې آيت کې د زکات لگولو ځايونه ښوولي او دا ټاکنه يې يوه الهي فريضه شمېرلې ده؛ خو فاروق داسې تشخيص کړه، چې د مؤلفة قلوبهم ) برخې ته څه اړتيا نشته او دا برخه لازم نه ده او کفار د دغسې مينې استحقاق نه لري او ددې برخې ورکړه، د خدای د حال ضايع کول دي. (او داسې استدلال يې کاوه چې) خدای داسلام لاسنيوی کړی، خپل دين يې غالب شوی او څه اړتيا نشته، چې د مال په ورکړې، د کفارو زړونه نرم کړو؛ نو ځکه پردې برخې يې قلم راښکود او د زکات لگولو له ځايه يې لرې کړ او کوم حق، چې خدای ورکړی و، ترې يې واخست. سره له دې، چې پوهېده پيغمبر اکرمصلی الله عليه و آله د الهي بريا او د اسلام د عزت او بريا سره سره دا برخه يې خپلو خاوندانو ته ورکوله؛ خو بيا هم يې په داسې چار لاس پورې کړ.
د خمس (پينځمه) برخه يې هم يوه بله بېلگه ده، چې له قرآني نص سره د فاروق مخالفت راښيي. بل مثال يې د جناب نبي مکرم په زمانه کې (تمتع حج) تشريع او فرض شو او د فاروق تر زمانې پورې دود و؛ خو فاروق منع کړ، همداراز د پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله او ابوبکر

(رض) په زمانو کې درې طلاقه، په درې جلا جلا غونډو کې تر سره کېدل؛ خو فاروق وویل: مسلمانان بېړه لري او غوره ده، چې په یوه غونډه کې درې ځل طلاق تر سره شي.
او (انت طالق ثلاثا) یې د طلاق صیغه کړه، چې د درې ځلو طلاق پر ځای به یې ویله.
فاروق د بوړېکۍ په څېر پرمخ تله، پر وړاندې هېڅ څیز د لارې خنډ نه و او نه ورته درېدای شو، که د یوه څیز په اړه یې عقیده پیدا شوه، چې حق دی؛ نو هر چاته به یې ویل او هېڅ څیز یې خنډېدای نه شو.
د ابوبکر (رض) په زمانه کې یې خبره منل کېده؛ ځکه صدیق ته خو ده خلافت ګټلی و، چې مدیون یې و او که فاروق غوښتای؛ نو پخپله خلیفه کېده.
د فاروق خبره ټولو قریشو اورېده او منله؛ ځکه پوهېدل؛ چې یوازې عمر (رض) و، چې د بني هاشمو مخه یې ونیوه، چې نبوت او خلافت یې دواړه نشي ( او عمر (رض) نه وای نو بني هاشمو خلافت نیوه).
امویانو هم د فاروق خبره منله، دا ځکه چې فاروق یزید بن ابوسفیان او ورور یې معاویه پر شام واکمن کړل او په عمل کې یې داسې وصیت وکړ، چې عثمان (رض) خلیفه شي؛ نو ځکه مینه یې د قریشو په زړونو کې ځای شوه او وروسته په اسلامي ټولنه کې خپره شوه، د امام عاملي په وینا: د فاروق د محبوبیت یو لامل دا و، چې په شهواتو او ځان غوښتو ککړ نه شو.

**د دوه لارې پرسر:**

سره له دې چې نبي کریم صلی الله علیه و آله په مرګوني ناروغۍ کې و، پر مؤمنانو ځمکه ولړزېده او یو لړ مهمې او پرله پسې پېښې رامخې ته شوې، هرې پېښې او ماتې هرومرو په ځان پسې یوه بله ماتې درلوده؛ خو دا پوښتنه چې پوره ماتې به څه وخت وي، یوازې خدای پوهېږي. دا ماتې د جناب نبي مکرمصلی الله علیه و آله د وصیتپاڼې د کښلو له مخنیوي پیل شوې. د آنحضرت صلی الله علیه و آله په وفات او تر ښخېدا وړاندې، هغوی چې د لیک د کښلو مانع شوي وو، خپلې چارې یې مضبوطې کړې او د قریشو په غیابو او د اهل بیتو مشران ان د پرېکنده اکثریت مسلمانانو له سترګو وړاندې یې خلافت ترلاسه کړ.
او د یو حقیقي دولت په توګه رامخې ته شول، چې د پوره شریعت جامې یې پر تن وې او په یو پای ته رسېدلي کار له خلکو سره مخ شول.

# حکومت او مخالفان

هغوی چې د خلافت لاس ته راووړو لپاره راپاڅېدلي وو، دادی واک ورسره دی، واکمني يې ټينګه ده او لارويانو ورسره بيعت کړی دی، چې دوی د ټولنې واقعي واکمن دي.
تر حضرت پېغمبر صلی الله عليه و آله وروسته خليفه، علي کرم الله وجهه ځان له قرآن سره يوازې و موند، هر چېرې چې به د خدای ولي تله، قران ورسره و[1] هغه له حق سره او حق ده سره و او چې چېرې ولاړ شي، حق ورسره وي.[2] خدای تعالی د امت لارښود وټاکه[3]. علي تر پېغمبرصلی الله عليه و آله وروسته مرجع اوپه امت کې د اختلاف څرګندوونکی دی[4] او د قيامت پر ورځ د پېغمبر په څېر پر مسلمانانو حجت دی[5]. علي، بې له نبوته د هارون (د موسی عليه السلام ورور) له ټولو امتيازاتو برخمن و[6]. هو، څوک چې د شرعي نص له مخې تر حضرت پېغمبر وروسته د مؤمنانو ولي دی. له دې ټولو اوصافو او ځانګړنو سره سره، تر پېغمبر وروسته ځان يوازې اوله ګردو امکاناتو او ځواکونو خلع شوی و موند. هېڅوک نه و، چې خبرې ته يې غوږ کېدي، يو عادي هېوادوال و، چې يوازې اهل بيت او بني هاشم يې ملاتړي وو، هغه بني هاشم، چې د عربو شخړو او جنجالونو کمزوري او ستړي کړي وو.
دا يې پوره نه و؛ خو خدای غوره او تاييد کړی و، چې دين؛ لکه چې څنګه دی، هماغسې راته شرح او بيان کړي.

---

[1] خوارزمي مناقب، ۱۱۰ مخ طبراني، المعجم الصغير ۱: ۵۵ مخ . سيوطي، الجامع الصغير ۲: ۵٦ مخ . سيوطي تاريخ الخلفا ۲: ۵٦ مخ .

[2] خطيب بغدادي، بغداد تاريخ ۱٤: ۳۲۱ مخ. ابن عساکر دمشق تاريخ ۳: ۱۱۹ مخ، ۱۱٦۲ ګڼه حديث. غاية المرام ۵۳۹ مخ . د کنزالعمال غوره چاپ (۵: ۳۰ مخ) د امام احمد د مسند په لمنليک کې .

[3] ابن عساکر، دمشق تاريخ ۲: ٤۱۷ . امام احمد حنبل ۵: ۳٤ مخ. طبري تفسير ۱۳: ۱۰۸ مخ . ابن کثير تفسير ۲: ۵۰۲ مخ . شوکاني تفسير، ۳: ۷۰ مخ . رازي تفسير ۵: ۲۷۱ مخ . حاکم مستدرک ۱۳: ۱۲۹ – ۱۳۰ مخونه. سيوطي الدرالمنثور ٤: ٤۵ مخ.

[4] خوارزمي مناقب ۲۳٦ مخ . ابن عساکر تاريخ ۲: ۸۸ مح . د کنز العمال غورچاپ ۵: ۳۳ د امام احمد د مسند په لمنليک کې .

[5] ابن عساکر تاريخ ۲: ۲۷۳ مخ ( ۷۹۳ _ ۷۹٤ ګڼې احاديث ) . امام احمد مسند ۵: ۹٤ مخ . ابن مغازلي مناقب. ذهبي المزيان ٤: ۱۲۸ مخ .

[6] دا روايت څو ځل راغلی، ان معاويه بن ابوسفيان هم روايت کړی دی .

# مخالفین د دوه لارې پر سر

مخالفینو ته یوازې دوه لارې وې، چې باید غوره یې کړي:
اوضاع پر خپل حال پرېښوول یا مقابله. د امت په هغو شرایطو کې نښته او مقابله حقیقي ځان وژنه وه؛ ځکه په پایله کې یې پخپله دین له منځه تله او شونې وه، چې پخپله (ولي) او د پېغمبرصلی الله علیه و آله اولاده هم ووژل شي؛ نو ځکه علي (اهم) پر (مهم) ړومبی وباله او د جوړ جاړي لار یې ونیوه او له رژیم یې د دیني مسایلو څرګندول دریغ نه کړل.

**امت ته دوه لارې دې:**

د نبي کریم صلی الله علیه و آله تر وفات وروسته امت ولیدل، چې:
۱ – واقعي حکومت او مسلط ځواک، چې ستر اصحاب او د نبي کریم یاران او مشاورین یې مشري کوي او وایي، چې موږ پر حق یو.
۲ – مخالفه ډله، چې له خپل حق څخه بې برخې شوې. ددې ډلې مشر د پېغمبر (واقعي) ځایناستی دی او یوازې اهل بیت او بني هاشم (چې ۲۳ کاله یې د عربو پر وړاندې مقاومت وکړ) یې ملاتړي دي او دوی هم وایي چې پر حق یو.

**خلک په دوو ډلو وویشل شول:**

لومړۍ ډلې سوکالي او ارامي غوره کړه او داسې پوه شول، چې له واکمنو سره مخالفت کول څه ګټه نه لري؛ نو ځکه له رژیم سره یې جوړ جاړی وکړ، چې دوی (اهل سنت) دي. دوی د واکمنو مینوال دي؛ ځکه خپل ولي نعمت یې بولي او ځواک ورسره دی او د مسلمانانو د یووالي رمز یې ګڼي.

هغه وخت چې معاویه پر علي کرم الله وجهه بریالی شو او حق له زوره ماتې وخوړه؛ نو هغه کال یې د یووالي کال (عام الجماعة) ونوماه. هغوی چې د معاویه یا هر بریالي پلویان وو، پر اهل سنتو مشهور شول.

په دې ډله کې جلا جلا ګوندونه او فرقې دي، چې د رژیم د لاروۍ او د رژیم د کړنو د مخونو په باب بېل بېل نظریات لري او هم د مخالفینو د پېژندنې او ورسره د معاشرت په اړه یو له بل سره توپیر لري. ډېری یې داسې فکر کوي، چې واکمن او مخالفین یې د پېغمبر اصحاب دي، چې ګرد سره جنتیان دي، مجتهدین په خپل اجتهاد کې اجر او ثواب لري، که په خپل اجتهاد کې سم وخېژي که ناسم. دا ډله په دې حل لارې خوشحاله شوه او یا داچې خپل بهیر یې د واکمنو له بهیر سره ونښلاوه؛ نو ځکه له واکمنو یې پړه لرې کړه؛ البته نه د خپله واکمنو لپاره؛

بلکې ددې لپاره، چې خپل ځان له پړې بچ کړي؛ ځکه که واکمن پړه وي؛ نو د لارویانو به یې هم همدا برخلیک وي.

دا ډله د اسلامي دولت د ریاست په اړه ځانګړی نظر لري او وایي:

مورږ له هغه سره یو، چې پر اوضاع مسلط شي، چې هر څوک وي او دلیل یې د حضرت عبدالله بن عمر (رض) خبره ده، چې د خبرې د پیښې پر ورځ یې وویل: مورږ له هغه سره یو، چې بریالی شي، چې بیا دا خبره یوه شرعي قاعده شوه.

**دویمه ډله: شیعه**

شیعه هغه ډله ده، چې د خدای د ولي او د حضرت پیغمبر د ځایناستي لاروي یې وکړه؛ دوی ګروهن دي، چې حق له علي سره دی او همېشه ورسره دی، علي له قرآن سره دی او قرآن له هغه سره دی.

دا ډله د علي، اهل بیتو او نبوي ځوځات لاروی ده او جناب نبي مکرم وینا یې تصدیق کړې چې:

(قرآن ثقل اکبر دی او اهل بیت او ځوځات یې ثقل اصغر دي. هدایت یوازې هله ترلاسه کېدای شي، چې پر دوو ثقلینو د قرآن – عترت) منګولې ولګوئ.

په هره زمانه کې یې مشر د نبوي کورنۍ مشر دی، چې څوک امامان ښه بولي؛ نو دوی یې هم ښه بولي او چې څوک یې دښمنان ګڼي، دښمن یې بولي. د شیعه و له نظره امامان دولس تنه دي.

شیعه په پوره شریعت پابند دي او بیخي د شرع له کړۍ نه ووځي، که څه هم تکلیفونه یې سخت او درنې سربښندنې ولري. د شیعه ستره صوفه د اهل بیتو د مشر تر بیرغ لاندې د اسلامي امت یووالی دی، هغه چې ژر به د اسلام احکام ځرګند او پلي کړي او نړیوالو ته به د اسلام پیغام ورسوي، چې له بې لاریو او تیارو یې رڼا او نېکمرغی ته راوکاږي.

شیعه و، چې د تاریخ په اوږدو کې کومه لار نیولې، د کړاوونو او رنځونو ډکه لار ده او دا بیه باید شیعه ورکړي، چې د خدای رضا یې پر برخه شي او هغه مقام ته ورسي، چې حضرت پیغمبر یې ورته زېری ورکړی دی.

((إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُوْلَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ (بینه ۷ آیت)؛ په رښتینه کې هغوی چې ایمان راوړی او ښې [چارې] یې کړې همدوی (د خدای) غوره مخلوقات دي.))

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله ددې آیت تر نازلېدو وروسته علي ته وویل: هغوی ته او ستا لارویان دي[1].

(د تاریخ په اوږدو کې همېشه شیعه د رژیم مخالفه ډله وه او هغه حکومتونه، چې مشر به یې د حضرت پېغمبر له کورنۍ څخه نه و، پر هغوی شکمن وو؛ نو ځکه د علي کرم الله وجهه د لارویانو او واکمن رژیم ترمنځ یوه بدګوماني وه او دې دومره رېښې ځغلولي، چې پر کینې او دښمنۍ اوړېدلي دي.

نو ځکه د تاریخ په اوږدو کې د دواړو اړخونو (حکومت او شیعه) ترمنځ د کینې پربنسټ یوه دښمني وه.

شیعه و په وګړیز او ډله ییز ډول هڅه کړې، چې ثابته کړي، واکمن رژیم یو ظالم ځواک دی، چې خلافت یې په زور له خپل اصلي خاونده اخستی او ځان یې په زور پر امت تپلی دی او له ریاست سره د مینې او داچې دنیا یې پر آخرت غوره ګڼلې، ګرد سره مسلمانان او ان انسانیت یې د الهي حکومت له ګټنې بې برخې کړی دی.

شیعه و د تاریخ په اوږدو کې د خپلو افکارو د جوتولو لپاره له وګړیزو او پټو وزلو ګټنه کوله؛ ځکه رژیم خو د تاریخ په اوږدو کې له شیعه و ازادي اخستې وه، دوی تر څارنې او برید لاندې وو او ټولې لارې یې پرې ورتړلې وې.

هغه رژیم، چې د ټولنې چارې یې په دواړو لاسونو کلکې نیولې وې او د شیعه و د افکارو د خپرېدو او ښکاره کېدو یې مخه نیوه، پر شیعه و تور لګاوه، چې د مسلمانانو له جماعته وتلي دي او د خلیفه اطاعت نه کوي او کله یې ویل: چې له اسلامه وتلي، رافضي، منافق او کافر دي.

واکمنو د خپلو تبلیغاتي وزلو له لارې په شیعه و پسې ناوړه تبلیغات کول او هغه عالمان، چې د رژیم همکاران وو، دا ناوړه تبلیغات یې خپرول او خلک هم په همدې تبلیغاتو پسې ولاړل.

په دې تبلیغاتو کې د شیعه خورا ناوړه څېره انځورېده، چې د شیعه و او امت ترمنځ واټن ډېر شو. نسلونه له منځه ولاړل او نور راغلل او نوي کهول انګېرله، کوم تبلیغات، چې واکمنو کړي، بیخی سم دي او په هماغو پسې ولاړل.

---

[1] ابن حجر شافعي، الصواعق المحرقه، ۹۶ مخ . سیوطي الدرالمنثور ٦: ۳۷۹ مخ. . طبري تفسیر ۳: ١٤٦ مخ. شوکاني فتح القدیر ٥: ٤٧٧ مخ. . الوسی روح المعاني ۳۰: ۲۷۰ مخ . غایة المراجع، ۲۸ مخ، دویمه برخه ۳۲۸ مخ . حمویني، فراید المسمطین ۱: ١٥٦ مخ. . خوارزمي مناقب ٦٢ او ۱۸۷ مخونه . ابن صباغ مالکي والفصول المهمة ۱۰۷ مخ او. .

شیعه د هغو د ناسمو او غلطو کارونو د ردولو په ترڅ کې له زغمه کار واخست، همېشه هڅاند او ډاډمن دي. چې هغه ورځ لرې نه ده، چې حقایق به پکې څرګند کړای شي.

پای

(د هغې ورځې په هیله)

د کتاب سرچینې